فولکلور پېژندنه

سرمحقق محمد صدیق روهي

دفولکلور پوهنی سیمپوزیم

فولکلور پېژندنه

لیکوال

کاندید اکادیمیسین محمد صدیق روهی

خپروونکی

د افغانستان د علومو اکادیمی

د ژبو او ادبیاتو مرکز

پښتو ټولنه

کابل مجله

۱۳۶۵

PROPERTY OF ACKU
2311

فهرست

مخ

سریزه

لومړی څپر کی

فولکلور پیژندنه

(۱) د فولکلور لغوی معنی ۷

(۲) د فولکلور اصطلا حی معنی ۱۰

(۳) د فولکلوری موضو عگانــو تصنیف ۱٤

(٤) د فولکلور اهمیت ۳۲

دوهم څپر کی

د فولکلور پیژندنی پس منظر

(۱) په لویدیځ کی ۳٤

(۲) په افغا نستان کی ٤۳

دریم څپرکی

د فولکلور څیړنې نظریې ۵۳

(۱) اساطیری نظریه ۵٤

(۲) مقایسوی تاریخی نظریه ۵۷

(۳) تاریخی نظریه ٦۰

(٤) د بشر پیژندنې نظریه ٦۳

(۵) فولکلور د علمی نړی لیدله نظره ٦۵

څلورم څپرکی

فولکلوری مقولې

(۱) میتود لوژی ٦۸

(۲) جادو ۷۳

(۳) د خلکو هنرونه ۸۱

(٤) دودونه ۸۸

(۵) د فولکلوری ادبیاتو شکل او مضمون ۹۲

پنځم څپرکی

دفولکلور څیړنې میتود ۱۰۱

(۱) د څیړنې مهم میتودونه ۱۰٦

(۲) د فولکلور څیړنې میتود او تکنیکونه ۱۱۸

شپږم څپرکی

پښتنې فولکلور

(۱) د پښتنې فولکلور ځانګړنې ۱٤۷

(۲) د پښتو فولکلوری ادبیاتو ژانرونه ۱۵٦

نتیجه او پیشنهادونه ۱۸۱

سریزه

ترکوم ځایه چې لیکلی اسنادلاس ته راغلي دي د پښتو فولکلور ټولو نی او لیکنی کارد خوشحال خان خټك له زمانی نه را پیل کیږی او تر نن ورځی پوری دوام لری . پښتو ژبه د فولکلور او شفا هی ادبیاتو خزانه ده . یو زیات شمیر لیکوالو او څیړو نکو د دغی خزانی خوری وری مرغلری ، غمی او نور قیمتی مواد را ټول کړی اورا- ټولوی یی خو اکثر څیړونکی د فولکلوری معلو ماتو د را غونډ ولو او تحلیل او ترکیب له میتود سره نا آشنا دی او له همدی امله ، دهغو لیکنی د علمی وثوق او اعتبار له پلوه دپوښتنی وړ دی .

په دیارلس سوه دوه پنځو سم کال کی د هغه وخت د اطلاعاتو او کلتور په وزارت کی عملا (فولکلورټولنه)جوړه شوه اود (فولکلور) په نامه یی د یوی مجلی په خپرو لوپیل وکړ* چی اوس د افغانستان ددمو کراتیك جمهو ریت د کلتورددولتی کمیټی د کلتور ریاست د خپروو نکی اور گان په توگه د(فر هنگ مردم) په نامه خپریږی. د (فولکلور) مجلی په خپرید لو سره دفو لکلور ټولو نی اوفولکلور پیژندنی په باره کی منسجم اوسیستما تیك کار پیل شو . په دی وروستنیو کلو نو کی د ا.د. ج.د. علومو اکاډ می اود کابل پو هنتون د ادبیاتو په پو هنځی کی هم دفولکلور په برخه کی آثار خپر - یږی خو د دغو ټولو زیار ونو او پلټنو سره سره د فولکلور پیژندنی یو زیات شمیر پرا بلمو نه دابهام په لړو کی نغښتی دی اود فولکلور

* د (۱۳۵۱) کال په ورو ستیوورځو کی د فولکلور ټولنی رئیس وټاکل شو خو نور تشکیلات یی نه درلودل نو په یوه حساب نومو ړی ټولنه په (۱۳۵۱) کال کی تاسیس شویده خو ماد علمی احتیاط له کبله د (عملا) کلمه ورسره ولیکله .

دمینه واالو تنده نشی ماتولی.

په پښتو ژبه کی د فولکلــور پیژند نی په برخه کی تر اوسه مــا کوم مستقل اثر نه دی لید لــــی له دی امله ، او په تیره د ځینــو فولکلور څیړو نکو او فولکلور ټولوونکــو په غوښتنه می د فو لکلور پیژندنی په نامه یو کتاب گوټــی ولیکه چی د (کابل) مجلی له خــوا د ضمیمی په توگه خپر یږی . مــازیار ایستلی دی چی فو لکلــور وپیژندل شی ، د فولکلور تیوریکی مسایل وڅیړل شی ، اود فولکلور ټولو نی میتود شرح شی .

په لومړی سر کی د فولکلــور ساحه ډیره پراخه وه خو او ســـ د فولکلور ځینی تیور یکی اړخونه د کلتوری بشر پیژند نی (انترو-پالوجی) ، اتنو لوجی ، اتنوگرافی د تمدن تاریخ او ادب پیژ ندنـــی د پوهانو له خوا څیړل کیږی . په ځینو هیوادو کی داسی تما یــل شته چی فولکلور یوازی د شفا هی ادبیاتو په مفهو م د خلکو د فرهنگ د یوه توك په توگه تر څیړ نــی لانــدی ونیسی په دی اثــر کی د فولکلور د تاریخی پس منظــرد په نظر کی نیولو سره فو لکلور د هغه په پراخه مانا استعمال شوی دی . په دغه اثر کی د فو لکلــور څیړو نکو ته لار ښوو نه شــوی ده چی د علمی نړی لیدله بریاو ښخه په استفا دی سره ، د فو لکلــور مترقی او پر مختلو نکو اړ خونو ته پاملرنه وکړی .

په دغه رساله کی به لوستونکی د فولکلور ټــو لو نی د میتود او د فولکلور پیژندنی د علمی تحلیل له ځینو پرا بلمو نو سره آشنـــــا شی اود مقدماتی پوهی له لاس ته راوړلو نه وروسته به دوی وکولی شی چی په ځانگړی ساحه کـــی خپلی مطالعی بشپړی کړی او زیاتی څیړ نی پکی وکړی . په در ناوی

داکاډ میسن کاندید محمد صدیــق روهی
دا . د . ج دعلومو اکاډمی
د ژبو او ادبیاتو دمرکز غړی

د فولکلور پیژندنه
لومړی څپرکی

د فولکلور لغوی مانا :

څرنګه چې د فولکلور کلــمــه دلومړی ځل دپاره د یوه انګر یـــز له خوا په انګریزیمتن کی استعمالشوی ده نو له همدیامله ، فولکلور انګریزی کلمه ګڼله‌کیږی د فولکلور (Folklore) لغت لــه دوو توکونو څخه جوړ شـــوی دی :(فولك) د خلکو په مـــا نا دی او (لور) پوهی او حکمت ته ویـــلکیږی . په دی اساس ، فولکلـــور د خلکو د پوهی په ما نا راځی . پهانګریزی ژبه کی د (فولك) دکلمی (ل) نه تلفظ کیږی یعنی په خپـــلهانګریزی ویو نکی د فولکلور کلمــه د (فوکلور) په بڼه تلفظ کوی خوپه‌نورو ژبو کی چی همدا کلمه یی‌په عاریت اخیستی ده معمولا (ل) هـم‌تلفظ کیږی او (فولکلور) یی لیکی او هم یی وایی .

فو لکلور ته‌په دری ژبه کـــی(فرهنګ عوا م) یا (فر هنګــك مرد م) اوکله کله (فرهنګ توده)وایی ، په ترکی ژبه کی ور تـــه (خلقیات) ویل کیږی . په ښښتـــوژبه کی د علمی او فرهنګی موسسو له‌خوا فولکلور ته کومه ټاکلی کلمه‌نه ده وضع شوی خـــو ځینـــو منفردو لیکوالو کله کله د فولکلورپر ځای د (اولس پوهی) کلمـــه استعمال کړی ده . په دغه اثر کید (فولکلور) بین المللی اصطـلا ح کارول شوی ده څکه تراوسه پوری‌یوه مناسبه کلمه زما له نظـره نه ده تیره شوی چی د (فولکلور) پرځای یی استعمال کړم .

اوس به د یوی شیبی د پا ره‌د فولکلور د کلمی د وو توکو نو (خلك) او (پوهی) ته یوه ژوره‌کتنه‌وکړو :

لومړی باید ووایو چې د فولکلور په لغت کې (لور) د عنعنوی او انیکدوت ډوله (Anecdotal) عامیانه پوهې په مانا ذکر شوی او له همدی امله له ساینتفیك او فلسفي پوهې سره توپیر لري . (لور) لرغونی آریایی کلمه ده چې ریښه یې په زړه او منځنی انګریزی کې Lar په هالندی ژبه کې Leer او په جرمنی ژبه کې Lehre د ښوونې

په مانا ده . نو هغه کسان چې (لور) د پوهې او حکمت په مانا ترجمه کوی باید دا تکی په پام کې ونیسي چې (لور) علمي پوهه نه ده ، بلکې له هغې څخه مراد عنعنوی ډوله عامیانه او تقریبا تاریخ وهلې پوهه ده چې د معاصرو پوهنو (ساینسونو) له پرنسیپونو او موازینو سره پوره سمون نه خوری د فولکلور اساسی صفت د هغه عنعنوی توب دی . هغه کسان چې د فولکلور تر اغیزی لاندی وا قع دی په نوښت کې ار زښت نه وینی د هغو په نظر زوړ ډیر اهمیت لری په دی تصور چې هغه د پیړ یو په اوږدو کې آزمو یل شوی دی . د مثال په توګه ، دوی د مترولوژۍ د پیشګو یی په نسبت پر خپلو عنعنوی تجربو زیاته تکیه کوی ، د رنځور تیا په وخت کې ډیلوم لرونکو ډاکترانو ته نه ور ځی بلکې له عنعنوی طب څخه استفاده کوی یا د دم او تعویذله لا ر ی د خپل علاج د پاره هڅه کوی . او داسې نور نود دغه ډول عنعنوی تجربو پوهې ته (لور) ویل کیږی په داسې حال کې چې د پښتو اودری په کلمو کې پوهه ، دانش ، او فرهنګ کټ مټ هما غه مطلب نه افاده کوی .

د فولکلور د کلمې بل توك د (خلك) مقو له ده چې ځینو هغې پر ځای د (عوا م) او (پرګنې) یا اولس کلمې را وړی دی . دلته د فولکلور په ار تباط د (خلك)مقوله یو څه توضیح غواړی :

دا چې وایی : «خلك د تاریخ جوړوونکی دی .» آیا د دی خبر ی مانا داده چې د نفوسو لاند ینی پوړ یا عوام د تاریخ جوړوونکی دی او که د (خلك)په مفهو م کې زیار ایستونکی روښنفکر ان او پوهان هم را ځی ؟ که روښنفکران او پوهان د (خلك) په کټګو ر ی

کی داخل کړو نو د هغو پو هه اوحکمت د عامیا نه پو هی سره‌جوت تو پیر لری . د علمی نړی لید لـه‌نظره، (خلك) هـم یوه ټو لنیزه ـ تاریخی مقو له ده . ((په معمو لی‌ما نا، خلك د یوه دولت یا هیواد ټول نفو س احتوا کوی خو پـــه‌دقیقه علمی ما نا ، خلك په‌تاریخی لحاظ د بد لیدونکی ټو لنی هغه‌ډلی‌او طبقی دی چی د خپل عینـــی مو قعیت له امله په یوه ټا کلـــی‌دوره کی د یوه ټا کلی هیواد پـه تکامل کی د مشتر کی و نــــــډی‌اخیستلو قا بلیت ولری.

(د«خلك» دکلمی په کارولو کـی‌مارکس پر طبقا تی تو پیرونــــو ټینگار ونه کړ بلکی په هغه کی‌یی‌مشخص عنا صر چی انقلاب بری‌ته رسو لی شی ، سره متحد کړل.) (د لنین کلیات ، نهم ټوك، ۱۳۳ مخ). د ټو لنپو هنی دمقو لی‌پـــه‌تو گه د خلك مفهوم د ټو لنـــی په ټو لنیز تر کیب کی بد لـــون‌منعکسوی : ځکه په لر غونی‌کمونی ټو لنه کی د «نفو سو» او «خلکو»تر منځ تو پیر اساسی اهمیت نـه در لود اما په انتا گونیستیك‌ټولنوکی دغه تو پیر ډیر مهم و ځکـــه چی د واکمنو او استثمار گرو ډلواو د خلکو د پر گنو تر مینځ ژور بیلتون لا پسی زیات شو. یوازی‌په‌سو سیا لیستی ټو لنه کی له فرد څخه د فرد د استثمار د لغوه‌کیدوپه صورت کی د (خلك) مفهوم یو ځل بیا ټول نفو س او ټول‌ټولنیزقشرو نه په غیږ کی نیسی . پـه خلکو کی د نفو سو د مشخصوډلود شاملو لو عمده معیار د ټو لنی‌له پر مختگ سره د هغو په عینی‌ډول‌سره ټاکل شوی مینه او د خپـل رسا لت په سر ته رسو لو کـــی‌د دوی د ونډی اخیستلو قا بلیـت دی. د ټو لنیز تکامل په بهیر کی‌کله چی انقلابی بد لو نو نه رامینځ ته کیږی، په خپله عینی وظیفی‌اودانقلاب محتوا تغییر کوی او لــــه همدی امله په ټا کلی مر حله کـی‌د خلکو د جوړوونکو ډلو تر کیب هم بد لون مومی . لنین په خپلـوآثارو کی دغو بد لو نونو ته بنـه ځیر و. د شلمی پیړی په پیل کی‌کله چی روسیه د آتو کراســــــی د غورځو لو له وظیفی سره مخامخ‌وه لنین ولیکل: ((هر کارگر چـی د ټو لنیز شعور خاوند وی په‌دی‌ښه پو هیږی چی د آتو کراسی پر

ضد مبارزه کوونکی خلك لــــه بورژ وازی او پرولتاریا څخه عبارت دی. (د لنین کلیات، اتم ټــوك ،۳،۵ مخ) ورو سته کله چی روسیه له سو سیا لیستی وظیفو ســـره مخا مخ شوه، لنین تا کید وکړچی د سو سیالیزم دپاره اودبورژوازی پر ضد د مبارزی په پړاو کی خلك له کار گرانو او نیستمنو بز گرانو څخه عبارت دی . په نتیجه کـــی ویلای شو چی د (خلك) په مفهوم کی مستقیم مو لدین - یعنی زیار ایستو نکی خلك او د نفو سوهغه ډلی شا ملی دی چی د استثمار له لاری ژوند نه کوی خو همیشه پردغو ډلو او طبقو با ندی منحصـــر کیدای هم نشی. په تیره که د نن ورځی په شرایطو کی چی دامپر- یا لیزم پر ضد او د سو لـــــی،دمو کرا سی او سو سیا لیزم دپاره پراخی مبارزی روانی دی، دغه ټکی په پام کی ونیسو....)) (۱)

ددی مفصلی یا دوني مقصددا دی چی د فو لکلور د کلمی په ژباړنه کی د (خلك) له کلمی څخه د (عوام) کلمه موزونه ښکاری په دی شرط چی د (عوام) لفظ دټولنی د نا لو ستو پر گنو په مفهـــوم استعمال شی. ددغی یادونی یوبل ضمنی هدف دا دی چی د خلکـــو فر هنگ د فو لکلور په نسبـــت پراخ دی په تیره که د خلکو پــه فر هنگ کی د پو ها نو او رو ښنفکرانو علمی بریاوی او فلسفی نظر یی هم په حساب کی ونیســـونو په هغه صورت کی د خلکـــو فرهنگ د تاریخ، ټو لنپو هنـــی،اتنو لو جی (کلتوری انتروپالوجی) د بحث مو ضوع گر ځی .

د فو لکلور اصطلا حی ما نا :

د فو لکلور په تعریف کی اساسی مقو لی دا دی : لر غو نی، عوام او عنعنه. ددغو درو مقولو له اورگانیك تر کیب څخه دا سی تعریف لاس ته را ځی : فو لکلور د عواموخلکوهغو عنعنو ته ویل کیږی چـــی د لر غو نو زما نو څخه را پا تـــی شوی او د اوسنی وخت له متداولو

1- M.Rosenthal and P.yudin (edit) A Dictionary of philosophy, ssəɹƃoɹd Publishers, Moscow, 1967

پو هنو، عقا یدو او چلن بیلگـــوسره یو ځه تو پیر لری. دفولکلور یو ځو تعر یفو نه دلته وړا نــدې کیږی :

۱ ـ د (لاروس) په فرا نسوی‌قامو س کی را غلی دی چی‌فولکلور په یوه ټا ټو بی (سر زمین) کی‌د خلکو د عنعنو، افسا نو،سندرو، او دودونو مجمو عی ته ویـــــل کیږی . (۱)

۲ـ (بریتا نیکا) دایرة المعارف‌لیکی: ((فولکلور د هغو اسطورو، افسا نو، کیسو، متلو نو، سندرو،د جشنو نو او اخترونو د بیلگواو نخاو ، روا یتو نو او حکمتونـــو،جادویی فور مو لو نو او خرافاتو یو عمو می نوم دی چی په نا لیکلی‌تو گه له پخوا نیو وختو څخه تر دی وخته‌پوری را رسیدلی‌دی. (۲)

۳ـ (امریکانا) انسا یکلو پیډیالیکی : ((فولکلور یو جنر یك‌نوم دی چی د عوامو خلکو پر هغـــوعنعنوی عقا یدو ، خرا فا تـــو ، کړو وړو، دودونو، او شعا یـــرودلالت کوی چی له څنډ نو وختـــو څخه تر اوسه پوری په جز ئـــی ،تعدیل شوی، او یا لاس ناخوړلی تو گه را پا تی شوی اودمعا صروپو هنو او د دین له منل شـــوو چلن بیلگو څخه دبا ندی واقـــع‌شوی دی . نکلونه، عنعنوی‌منظومی سندری، متلو نه او د مادی‌کلتورځینی خواوی هم په فو لکلور کی داخلی دی . (۳)

د فو لکلور کلمه د نړی په یـــوزیات شمیر ژبو کی په همدی بڼه منل شوی ده خو مفهوم یی له یوه‌ځا یه تر بل ځایه پوری یو څـــه تغییر مو ند لی دی. په فرا نسه،جر منی په تیره په سکا نډینـــاوی هیوادونو کی د فو لکلور په مفهوم‌کی د کورجوړولو عنعنوی سبکونه دکر نی لاری چاری او کر نیـــــزابزار، د اوبو لو طر یقی، اودمادی

---

۱ ـ پو ها ند شاه علی اکبـــرشهر ستا نی ، نمو نه ها یـــی از فر هنگ شفا هی هزاره گی ، ازنشرات شورای فر هنگی پوهنتون کابل، ۱۳٦۳ ، ص (الف) .

2- ((Folklore)) **Encyclo** Pedia Britannica. Vol. 9,**1970**

3- ((Folklore)) the Ency-clopedia of American**a** Vol. 11, 1961.

کلتور ځینی بر خی چی د انترو-پالو جیستا نو له خواهم څیړل کیږی، شا ملی دی. په شوروی‌تا جیکستان کی فو لکلور یا ((ایجاد یات شفا هی خلق)) د((فر هنګ مردم)) یو جزء ګڼل کیږی. د (ادبیات شفا هی مردم‌تاجیك) مو لفان (و. اسراری) او (ر. امانوف) په دی باره کی داسی‌لیکی : ((د خلکو شفاهی ایجادیاتو ته فو لکلور هم وایی. فو لکلورانګریزی کلمه ده چی د خلکو د حکمت او د خلکو د پو هی (خرد)په ما نا را ځی. د خلکو تر مینځ د ((فو لکلور)) اصطلاح زیا تـه‌استعما لیږی. سره له دی چی ددغی کلمی ما نا په ټولو هیوادونوکی یو شا نته نه ده لکه چی‌کلتور پیژندنی او انتو ګرافی (')* تـه‌هم فو لکلور ویل کیږی. دغه اصطلاح د لو مړی ځل دپاره‌انګریزتاریخ پیژ ندونکی (تامس) پیشنهاد کړه. نو موړی اصطلاح‌پراخ مفهوم لری چی په هغی کی مو سیقی ، نڅا ، رسا می، حکاکی‌زردوزی او داسی نور د خلکو ایجاد یات هم شامل دی. خو اکثردخلکو بد یعی شفا هی ایجاد یات د فو لکلور د اصطلاح په دایری‌کی را ځی. » (۱)

ددغه ورو ستی نظر خوا ته‌تمایل‌څکه زیات شوی دی چی دعنعنو ، دودونو، انګیر نو او د مادی کلتورځینی تو کو نه اوس په عمده‌توګه د کلتوری انترو پا لو جی له خواتر څیړ نی لاندی نیول کیږی. دځینو فو لکلور یستا نو په عقیده،د فولکلور پیژندنی خا صه موضوع عنعنوی ایستیتیکی مظاهر دی لیکن‌حتی په همدی ساحه کی دفولکلور او کلتوری بشر پیژ ند نی (انتروپا لو جی) تر مینځ ګډی پو لی‌شته لکه د جشنو نو، شعا یرو، اتنیکی‌نڅاو، او اولسی ډرامو څیړ نه . البته پر دی خبره تقر یبا ټول‌پوهان متفق دی چی اولسی‌سندری

---

* دا کلمه څو واره په همدی‌شکل‌لیکل شوی ده چی بنا یی طباعتی غلطی به وی ، سم شکل یی(اتنو ګرا فی) ده .

۱ـ و. اسراری ـ ر. امانوف ،ادبیات شفا هی مردم تا جیك ، از نشرات شورای فرهنګی‌پوهنتون‌کابل ، ۱۳٦٤ ، ص اول .

(دخلگو سندری)، نکلو نه، محلی‌افسا نی، خرا فات، متلو نـــه او چیستا نو نه د فو لکلور خا صـــی‌مو ضو عگا نی دی . (۱)

ځر نگه چی د انترو پا لو جـــی(بشر پیژ ند نی) او فو لکلور تـــر مینځ یو شمیر مو ضـــو عگا نـــی‌مشتر کی دی نو په لنډه تو گه‌به د انترو پا لو جی Anthropology او د هغی د ځا نگو په باب خبری وکړو. انترو پا لو جی یو دا سی‌علم دی چی د انسان له پیدایښت نه تراوسه پوری د هغه داورگانیک‌مو جودیت او کلتوری هستـــی او فعا لیتو نو په باره کی بحث کوی.

ځر نگه چی د انتر پا لو جـــی‌دځیړ نی ساحه ډیره پـــراخه ده نو د هغی تعریف او د ځیړ نـــی‌دمیتود پیژ ند نه یو مشکل کاردی انترو پا لو جی یو ژوند ټو لنیـــز(Biosocial) علم دی او په دغو ځا نگو ویشل کیـــږی :

کلتوری، فزیکی ، ارکیا لو جیکی،او لسا نی (ژبپو هنیزی) .

په کلتوری انترو پا لو جی کی‌د یوی ټو لنی د کلتور اوجوړښت په باره کی ځیړ نه کیږی اودکلتورد انکشاف بیلا بیل عوامل (لکـــه اقتصادی، تاریخی ، جغرا فیوی ،اجتماعی ، اروایی (سایکا لوجیکی) او نور تر بحث لاندی نیسی . په‌کلتوری بشر پیژ ند نه کی دکلتور مشخصات اوتحول‌ځیړ ل کیږی خوپه عمده تو گه د لر غو نـــو او نا متمد نو قبیلو او قو مونو ژوندته زیا ته پاملر نه کوی. کلتوری انترو پا لو جی د اجتما عی انترو پا لو جی او اتنو لو جی په نومونو هم‌یادیږی. اتنو گرافی داتنولوجی‌یوه مهمه څانگه ده. پـــه فزیکی انترو پا لو جی کی انســـــاند بیو لو ژیکی اورگا نیزم له پلوه

1—Joseph T. Shipley, Dictionary of world Literature, ‹ophical Library, N.Y, 1953, P. 162.

مطا لعه کیږی او د انسان پرمنشاءنژادی گرو پونو، انا تو میکـــی توپیرونو، وراثت، د بیو لو ژیکـــی‌او کلتوری پدیدو پر اړیکو، او پر اورگا نیزم با ندی د جغرا فیـــوی‌چا پیر یال پر اغیزه با ندی رڼـا اچوی . فز یکی انترو پا لو جـــی‌د Somaticcanth یـــا Somatology نو مونو هم یادیږی. دارکیا لو جی(لر غون پیژ ند نی) او ژبپو هنی ته لنیز او فر هنگی مسا یل هـــم‌د انترو پا لو جی له خوا څیـــړل کیږی . (۱)

دلته مو نږ دانترو پا لو جـــی‌په باره کی له زیات تفصیل څخـه ډډه کوو حو د مو ضوع دروښانتیادپاره با ید دو مره یادونه.وکـړو چی انترو پا لو جی له تاریخ سره‌په دی ټکی کی تو پیر لری چـــی هغه د تاریخی اسنا دو پر ځـــای‌دمخا مخ مشا هدی او تجر بی نه زیا ته استفاده کوی او تر ممکنه‌حده پوری د بشر تو لید اوفعالیت له نژدی نه مطا لعه کوی. انترو‌پا لو جی له سا یکا لو جـــی او فیز یا لو جی سره هم تو پیر لری‌څکه چی په انترو پا لو جی کـــی کو لکتیف تو پیرونو او تنوع تـــه‌پاملر نه کیږی .

ددی پور ته یادونو په اساســویلای شو چی انترو پا لو جـــی د فو لکلور څینی عنعنوی ساحـــی‌دخپلو څیړ نو په قلمرو کی‌داخلوی او دفولکلور دپاره یوازی دعنعنوی‌ایستیتیکی پدیدو څیړ نه پا تـــی کیږی. اما د فو لکلور پیژ ند نی‌په‌مطا لعه کی مو نږ نشو کو لای‌چی د دودونو، انگیر نو، خرا فا تو او‌عنعنا تو په برخـه کـــی دفولکلوږ- یستا نو هڅی له نظره وغور څوو.

د فولکلوری موضوعگانو تصنیف :

د فو لکلور د تصنیف ډو لو نه‌ډیر زیات دی او دتصنیفونو دډیر- ښت عمده علت دا دی چی څینـــی‌فو لکلوریستان د څینو نـــورو د تصنیف معیارو نه قنا عــــت‌بخښنو نکی نه گڼی . په رښتیا هم چی تصنیف تر زیا تی انــــدازی‌پوری یو اختیاری کار دی ، په‌تیره

1—"Anthropology" A Mo dern Dictionary of socio-logy N. Y. 1969

په تهو لنیزو پو هنو او لیبـــرال‌هنرونو کی تصنیفو نه یو له بلـه تو پیر لري. خو سره لـــه دی ،تصنیف هم ځا نته پر نسیپو نه‌او موازین لري. دمثال په تو گـــــه،تصنیف با ید د افرادو جا مع اود اغیارو ما نع وی، سیستما تیك اومنطقی وی، له واقعیتو نو ســـره توافق ولري، او دا سی نور. پـه‌هر تصنیف کی د تخصصـــــس د خاوندانو عندی تما یلات ډیر نقش‌لري .

دمثال په تو گه ، ادب پو هانوفو لکلور ته د بی سواده پر گنـو د ادبیا تو په نظر کتلـــی دی اودثبت شوی فو لکلور په برخه کی یی له هما غه تحلیلی تکنیك څخه‌کار اخیستی دی لکه په لیکلی‌ادب کی چی کار ورڅنی اخیستل کیږی‌دمقا یسوی ژبپو هنی څیړ و نکـو فو لکلوری مو ضوعگانی دژبپوهنی‌د نورمونو په اساس ویشلی دی. کلتوری انترو پا لو جیستان پـــه‌فو لکلور کی اولسی عنعنـــــی، د تهو لنیزو مو سسو سمبو لیکـــــه‌نما یند گی او د خلکو د ذهنیـــت کو نجی (کلی) مطا لعه کوی .

سا یکو انا لیستان له فولکلورڅخه داسی شوا هد را تهو لوی‌چی دهغو په مر سته د بشری اروایی‌فعا لیتو نو یو شا نته والی‌استنباط کیږی. پخوا نو فو لکلور یستا نوځپل مواد د مو ضوع په اسا ســـ تصنیفول او تراوسه پوری هم‌ددغه‌ډول تصنیف څخه کار اخیستـــــل کیږی. دمثال په تو گـــه، د ا.د.ج‌د کلتور د دولتی کمیټی د(فرهنگ مردم) د آمر یت په آرشیف کـــی‌فو لکلور په څلورو عمده ځا نگـو ویشل شوی دی :

۱ ـ شفا هی فو لکلور

۲ـ د خلکو تهو لنیز دودونه

۳ ـ مادی فر هنگ

٤ـ د خلکو هنرو نه . (۱)

ددغه تصنیف لو مړی نیمگړ تیادا ده چی : مادی فر هنگ پـــــه

---

۱ ـ ((یاد کردی از انواع‌گونه‌گون‌فو لکلور))، ظریف صدیقی ، مجله فر هنگ مردم، شماره ۳ ـ ٤ ،سال ۱۳٦٤ ، ص ۲۰۱

مقا بل کی با ید معنوی فرهنگ‌را غلی وای او د معنوی فر هنگ تو کو نه (شفا هی فو لکلـــور،دخلکو ھو لنیز دودونه ، او دخلکو هنرونه) د همد غه معنوی‌فرهنگ‌تر عنوان لاندی مطا لعه شوی‌وای.
دو همه نیمگړ تیا یی دا ده چـــی‌د شفا هی فو لکلور زیا ته برخــه (لکه منظوم او منثور شفاهـــی ادبیات) د خلکو د هنر و نــو ترسر لیك لاندی مطا لعه کیدای شی اویو ډول تدا خل پکی لیدل کیږی.
دریمه نیمگړ تیا یی دا ده چــــی‌دفولکلور ھو لی بر خی یکی نه‌دی معر فی شوی. څلورمه نیمگړ تیایی دا ده چی مو ضوع مبهمه ده‌او لو ستو نکی نه پو هیږی چی مثلادخلکو هنرو نه او شفاهی فولکلور پر کو مو شیا نو بحث کوی .

په دی تر تیب، هر تصنیـــف‌دمنلو وړ نه دی. زما په یاددښتو نو کی د فو لکلور زیات شمیــــــرتصنیفو نه شته چی په اکثرو کی یی تدا خل او بی انسجا می لیدل‌کیږی. مثلا د (فرهنگ مـــردم) دمجلی د (۱۳٦۰) کال د قو س اوجدی په گڼه کی فو لکلور په دغو څا نگو ویشل شوی دی : آداب ،رسوم، عقا ید ، عادات، افسا نه‌ها حکا یات، امثال، ترا نه هـــا ،اشعار عامیا نه .

په دغه څای کی (آداب، رسوم‌عادات) چی څینی یی په نورو کـــی متداخل دی ذکر شوی دی او پـه‌مقا بل کی یی د فو لکلور څینـــی مهمی مو ضو عگا نی (چـــــی‌فهر ست به یی ورو سته راوړل شی) له نظره غور څید لـــی دی.د(عقا ید) کلمه روښا نه نه ده چی څه ډول عقا ید ؟ ښکاره ده چـی‌علمی ، فلسفی او مذ هبی عقا ید په فو لکلور کی نه را څی . کیدای‌شوه چی (ترانه ها) هم د(اشعار عامیا نه) دیوه توك په توگه معرفی‌شوی وای .

په خپل‌اثر (د فو لکلور لار ښود) کـــی Sir. Georgh. Gomme فو لکلور په دی ډول تصنیف کړی‌دی :

۱ ــ عنعنوی روایتو نه : اولسی‌نکلو نه ، د اتلانو په باب‌افسانی، منظوم داستانو نه ، (ballads (چی پښتا نه سندر غاړي یــــی داستان بولی)، سندری او محلی‌روایتونه

۲ ــ عنعنوی دودونه : محلــــی‌دودونه ، د اخترونو او میلـــو دودونه، دمراسمو دودونه، اولوبی.

۳ ــ خرافات او انگیرنــــی :کوډی او جادو ، خرافی کارونه او خیالی شیان (Fancies)

٤ ــ دخلکو ویناوی : وجیزی ،عامیانه اصطلاحات او نومونی ، متلونه ، قافیی جنگول، کیســی(چیستانونه) .

دغه تصنیف که څه هم دمعیارونوپه لحاظ د پو ښتنی وړ نه‌ښکاری اما جامع نه دی . د فو لکلــوری‌مو ضوعگانو په برخه کی ډیری مختلفی ویشنی شته چی د هغو له‌جملی څخه په دوو مهمو تصنیفونو بسنه کوو .

په(۱۳۳۵) هش کال کــــی‌محمد قدیر تره‌کی له ترکی منابعو څخه په استفا دی سره په کابــل‌مجله کی د فو لکلوری موضوعگانو پو مفصل ویش وړا ندی کړی دی‌ورو سته سرور گویا له‌فرانسوی منا بعو څخه د (فو لکلور لاربښود)په نوم رساله په دری ژبه وژباړله. څر نگه چی د محمد قدیر تره کی،سرور گویا، او صادق هدا یـــت (ایرانی لیکوال) په تصنیفونو کی‌ډیر زیات ور ته والی لیدل کیږی کیدای شی چی دوی ټو لو له یوی‌منبع څخه استفاده کـــړی وی. دا دی د کابل مجلی تصنیف چی دلته‌یی د پښتو ژباړه وړا ندی کوو .

معنوی برخه :

لومړی: أدبیات
۱ ـ نظم : د شعر ډولو نـه ،طویل بحر، رنگا رنگ ملی سندرې
۲ ـ نثر : قصې ، حکمتو نه ،معماوی او کیسی (چیستانو نه)
دوهم : پوهنی
۱ـ طب : د زړو ښځو دمعالجې ډول، اغیزه لرونکی وابنه اوکانې، شکسته بندی ، د بسمل غو خول،او نور .
۲ ـ د مار، لړم، او غنـډل دچیچلو تداوی د گران بیه کا ڼـو او بو ټو په واسطه .
۳ ـ نجوم .
٤ ـ غر یبه علوم لکه دپیریانوپه حکم راوستل او نور .
٥ ـعامیا نه سا یکا لوجی .
دریم : دودونه او رواجو نه
۱ ـ اخترو نه ، مبارکی ورځی ،محلی بازارو نه ، میلی .
۲ ـ د زیږ یدو، مړینی ، واده په‌باب قو می رسمو نه .
۳ ـ د ما شو ما نو، ښځـو اوسړ یو ډول ډول لو بی او ساعت‌تیری او د هغو د مینځته را تلوپه‌باب روایتو نه .
٤ ـ مو سم پیژ ند نه ، دتقو یم‌حساب .
٥ ـ د حقو قی تعاملا تو پا تـی‌شو نی ، ننواتی او نر خو نه
٦ ـ خرا فات او ابا طیل
۷ ـ متلو نه او حکمتو نه

مادی برخه

۱ ـ د ودانیو او کورونو په باب‌عقیدی (؟)
۲ ـ خا ص انځورو نه لکـه دکا شی کاری .
۳ ـ د کور سا مان ، کا لـی اوگانې .
٤ ـ د جگړی، ښکار ، او لوکولوابزار او نور
٥ ـ د خلکو کسبو نه اوصنعتونه‌لکه د جولا، نداف ، بز گـر، ډم، کلال او نورو حر فی .
٦ـ نقا شی ، رسا می، مو سیقی‌ملی اتن ، ډهل .

۷ ـ دمحلي غذا ډولونه (۱)

د فو لکلور یو بل ډول تصنیـف(چي له بده مر غه ما خذ یی را نه ورك شوی دی) په دی ډول دی : ۱ ـ د خلکو بد یعی شفا هـــی ادبیات او ویناوی چي په هغو کیاسطوری ، افسا نی ، معمـــاوی ، ټوکی ټکا لی ، شوری او ډول ډولسندری، متلونه، ټکی (چیستانونه) قافیی جنګول ، ښکنځلی ،دټولنیزوډلو مخصوص اصطلاحات Jargons د حیوا نا تو شړل یا را غوښتل،ښیراوی، پیغورو نه ، کتری،لوړی (قسمو نه) او داسی نور راځی .

۲ ـ دخلکو دودونه چي ځینی یيپه دی ډول دی : د زیږیدو ، واده او مړ ینی مرا سم، میلی، اخترونه‌نذر، صد قی ، خال وهل، د ګاڼو استعمال، سینګار، پګاړه (حشر)،جر ګی ، نر خو نه ، اولسی طب، خرا فات (فالبینی ، کــــوډی اوجادو، شګون، ټوټکی ، به نظرکول د پیریانو ایستل، اونور)، دناستیولاړی آداب، او داسی نور .

۳ـ دخلکو کسبو نه چي په هغـه‌کی د ځنډ نو وختو نه را پا تـــی حر فی او کسبو نه او د هغو پـه‌ارتباط د حر فو د خاوندا نـو او کسبګرو د ژوند خا صی چلـــن‌بیلګی شیرل کیږی .

٤ ـ د خلکو هنرو نه (نیمه‌لفظی‌او غیر لفظی هنرونه) چي په دی کټیګوری کی مو سیقـــی (او دموسیقی آلی)، اتنیکی نځاوی (لکه اتڼ ، د ظا لبا نو ګډاوی)،ننداری(لکه د مداری ګری او شادی بازی ننداری)، د خلکو ډرامی (په‌پراخ‌میدان کی د ټوکیا نو او مسخره‌چیا نو اکټونه)، او داسی نـــــوزراځی .

۵ـ دخلکو دکار هغه بریاوی‌چی ښکـــلا یـیز ، ذ و قـــی او ایستیتیکی ارزښت ولری لکه‌ښکلیکا لی ، خوندوری غذاوی ، کوډلی، کورو نه ، سینګار شوی سمڅی،د ننداری وړ ودانی ، او ښکلـــی تو لیدات .

---

۱ ـ محمد قد یر تره‌کی، ((مردم‌شنا سی))، مجله کابل ، شماره ٦٣سال ۱۳۱۵

په دغه ورو ستې ویش کې هــمدخلکو بد یعې شفا هې ادبیـــات دخلکو د هنرونو یو توك دی او لههمدی امله ، کیدای شې چېدخلکو شفا هې ادبیات د خلکو دهنرونوتر عنوان لاندی مطا لعه شی ځینې فولکلور یستان د خلکو هنرو نـــهپه لفظې ، نیمه لفظې ، او غیرلفظې ډولونو ویشي. پهلفظيهنر کېسندری‌متلونه ، نکلونه ، ټکې(چیستانونه) ډول ډول او لسې قصې او نـــورڼراځی چې دغې برخې ته معمو لا شفا هې ادبیات ،فولکلوری ادبیات یاد ځینو پښتنو لیکوا لو پــــــه اصطلاح او لسې ادبیا ت هم‌و یل کیږی.

پهنیمه لفظې هنر کې د خلکـــوډرا مې ،اتڼو نه او شوری (چـــې ڼڅا او سندر ی دواړه په کـــــیراځی) دلوبو ، ټوټکواوجادو ځینې شکلونه او نور .

په غیر لفظې هنر کې د خلکـومستظر فه صنا یع ،خورا کو نـه، نڅاوی ، موسیقې او داسې نـورراځی.

دشفا هې ادبیاتوویش :

دفولکلور پیژ ند نې لهتاریخــیسیر څخه داجوتیږ ی چې دفولکلور سا حه ډیره پراخه ده، شفا هــیادبیا ت (یافولکلور یادبیا ت)د هغه یوه بر خه گڼله کیږ ی.څرنگهچې دفولکلور ځینې بر خېدکلتوری انتروپالو جیستا نو یا اتنولو جیستانو له خوا په علمې تو گه تر څیړ نې لاندی راغلې نو ځینـــــوفولکلوریستا نو یوازی دشفا هـــې ادبیاتو پهډگر کې څیړ نـــیترسره کولې او دغسې تما یـــــل مینځ تهراغې چې دفولکلور نوری برخې کلتور ی بشر پیژ ند نې ته وربرېږ دی . بنایې یوه بله وجهبهیې داوی چې ځینوپو ها نو دفو- لکلوریستا نو کارته په سپکــــــهسترگه کتل او داسې تصور یېدر- لود چې فولکلور له مبتذ لو او غیرعلمې مو ضو عاتو سره سر ا و کار لری نو فولکلور یستا نو خپلهپا ملرنه پر هغو بر خو چــــــې ایستیتیکې ارز ښت لری ، متمرکزهکړه. په ځینو ځایو کې فو لکلورد خلکو دشفا هې ایجاد یاتو پهمفهوماستعمالیږ ی .د(ادبیا تشفا هـــې مردم تا جیك) په کتا ب کېدفو لکلور په باب داسې لیکل شو ی دی:((ایجاد یا ت شفا هې خلـقرا فولکلور نیز مینا مند. فو لکلور کلمه انگلیسې و متضمن معنا یحکمت خلق و خرد خلق است . اصطلاح ((فولکلور)) در میان مردمازوسعت استعما ل بهره مند مـــې

باشد . باآ نکه معنای آن در تمام‌ممالك یکسا ن نیست. چنا نکــه کلتور شنا سی وانتوگرا فی (!)رانیز فولکلور مینا مند . این‌اصطلاح رابرا ی بار نخست تاریخ شنا س‌انگلیس مو سوم به تا مســـــس پیشنهاد کرد . اصطلا ح مذ کو رمفهوم‌و سیع دارد . طوریکه‌موسیقی رقص ، رسا می ، کنده کار ی، زردوز ی وامثال آ ن ،که از جملــه ایجاد یا ت خلق به‌شمار میرود نیزشا مل فولکلور است.و لی بیشتر ایجاد یا ت بدیعی شفا هی خلق رادر دایره اصطلاح فولکلور شا مل میساز ند . در فولکلور شنا سی‌تاجیك اصطلا حا ت ادبیات شفاهي خلق ـ ادبیا ت لفظی خلق،ایجادیات‌شفا هی خلق وامثال آن نیزو جود دارد ...

دانشی که ایجاد یا ت شفا هی‌خلق را مطالعه وتدقیق میکنــــد فولکلور شنا سی نا میده میشود.

فولکلور شنا سی بخشی‌ازادبیات‌شناسی است‌و به تاسی‌ازخصوصیت ومدلول خود به انتو گرا فی(کذا) بسیار نز دیك‌است . انتوگرافی(!) علمیست که در باره ز یســــــت‌وزند گی رسم‌و عادا ت اخلاق وآداب بحث می کند .... » (۱)

په دی ترتیب گورو چی‌دتاجیکی‌ادب پو هانو په نظر،فولکلور پیژ ندنه دادب پیژند نی یوه څا نگــه‌گڼله کیږی اودا خبره په دی دلیل ناسمه نه ښکار ی چی دنو مو ړوپوها نو له خوا فولکلورپیژ ند نه‌د خلکو دشفا هی ادبیاتو دخیړ نی په مفهو م استعمال شوی ده*.

۱ـو. اسرار ی، ر. امانو ف ،همان‌اثر ،ص. ۱ـ۲

* ددیر خله داصطلا حاتو دابها م‌په اثر منا قشی مینځ ته‌را ځی.له دی امله هر څیړو نکی ته لاز مه‌ده‌چی دخپل علمي ـ تحقیقی اثــــر دلیکلو نه م خ کی ، اصطلا حات‌اومقولی تعریف کړی. کیدا ی شي‌چی څیړونکی یوه اصطلاح په خا صــــ‌مفهو م استعمال کړی‌وی خـــــو اصطلاح بی له خا ص تار یخـــــی‌او منطقی ضرور ت څخه باید په‌جلا مفهو م استعمال نه شی او په د ی‌وسیله په‌ساینس کی دگډو ډ ی او انفرار دیت مخه‌و نیو له شی .

دشفا هی ادبیاتو دو یش پـــهبرخه کی گیدای شی له بیلا بیلـو معیارونو څخه کار وا خلو. ځینوفولکلور یستا نو شفا هی ادبیا ت په دوو ډولو و یشلی دی. لومړ ی‌دودیز (په مراسمو پوری تړلی) ادبیات چی په خا صو و ختو نواودتاکلو مراسمو داجرا کولو پــه وخت کی ویل‌کیږ ی . دو هم نا دودیز چی موسمی اوپه مو قعیت پوری تړلی ادبیات نه دی.

ځینو ادب‌پیژ ندو نکو شفا هــی‌ادبیا ت دلیکلو ادبیاتو په‌پیرو ی‌پر درو ژا نرو نو و یشلی دی:ایپیک،لیریك ، او ډراماتیک .

زموږ زیا ت شمیر لیکوا لـــوایپیك دحماسی په معنا راو ړی دی په داسی حال کی چی ایپیـــــك‌یوازی په ضمنی ډول دحما ســـی په معنا راتلای شی . دایپیك لغت‌دیو نانی ژبی له (ایپو س) څخـــه جوړ شوی دی . ایپو س (epos) په‌لومړی سر کی دکلمی په معنا و، بیاوروسته کلمه په‌کلام (و ینـــا)واو بنته او په پای کی دهمد غـی کلمی معناپرا خه شوه‌دداستا ناو همدا رنگه دکیسه ییز نظم په‌معنا استعمال شوه . نو له ایپیك څخه‌مراد داستانی شعر دی. څر نگه چی پخوا په داستا نو نو کی‌داتلانوحماسی بیانیدلی نواکثر به‌دایپیك دکلمی له او ریدو څخه حما ســی‌شعرونه تداعی کیدل .دیونا نـــی شاعر (ایلیاد) او (اوډیسی)دایپیـــك‌نظم ډیری پخوا نی او ممتاز ی‌بیلگی دی. خواوس چی دایپیك ژا نر په‌باره کی خبری کوو په هغه کـــی روایتونه ،حکایتو نه ، نکلو نـــه، قصی ، اسطور ی ، منظـــوم داستا نو نه او دغوته ور ته‌ایجاد- یات راځی . په‌پښتو کی دمحمدگل نوری (ملی هینداره) ،دملا نعمت‌الله او ملا احمد جا ن اکثر منظوم داستانو نه دایپیك ژا نر غـــو ره‌بیلگی دی. (قصص الا نبیاء)فو- لکلور نه گڼل کیږی ځکه چـــی‌دمو منانو په عقیده ، داربنتینـــی قصی دی اود خلکو ایجاد یا ت یی‌نه‌ش بللای .

لیریك (غنایی) ژا نر په هغـــوټولو سندرو او شعرو نو د لا لـــت کوی چی په هغو کی دشا عرباطنی‌احســا ت څرگند شوی وی .د لیریك کلمه دیونانی ژبی د Lyre څخه مشتق شـــو ی د ه. (لایر) دمو سیقی تاریز ه آله ده چی‌دهغی‌سره سندر ی ویل‌کیږ ی.نو لیریك

شعرو نه اکثر دسندرو په ډول له‌ساز سره ویل‌کیږي او له همدې امله‌یي (غنایي) یعني سندر یزبولي.دپښتو چار بیتي ، لنډۍ،سرو کۍ، بابولالي ، شور ی، اوداسي نو ردلیریك شعر نمو نې دي.داولس په خلکو کې دشعر مفهو م هغه‌مو زو ن او مقفی کلام‌و چې په لحن او بڼکلي آواز سره ویل‌کیږي‌اواکثر له تنګ ټکور سره ملګر ی وی.

ډراماتیك (تمثیلي) ژا نر لکه‌چي‌له‌نا مه څخه یي څرګند یږ ی‌تمثیلي بڼه لری. ډرامه یونا نی کلمه ده‌چی‌دلو بی او عمل مانا لری.په‌شفا هی ادبیاتو کې ډراماتیك ژانر ډیره‌ابتدا یی بڼه لری او اکثر دټو کواو سماعت تیرې په‌و خت کې‌دټوکمارانوله خوا ډرا می ښودل‌کیږ ی . په خوست کې د(چت) او (ګل‌خان‌پیر)اولسي ډرا می ډیرې جالبې او په زړه پورې وی .

دفولکلور ی موضو عګا نودمفصل‌لست‌دمعرفي کولو یو عمده مقصددا دچې دفولکلور ټو لوو نکي پاملرنه‌هغو مو ضو عاتو ته واړو له شی چې تراو سه پورې چانه دی‌څیړ لی‌او زمو نږ دټو لنې دژو ند تیاره ګوټونه رڼا کو لی شي .

دفولکلور اهمیت :

(ماکسیم ګور کی)په خپله‌مشهوره وینا کې چې دشو روی - اتحاد دلیکوالو د اتحاد یی پله‌لومړی کنګره (۱۹۳٤ کال) کې یی وکړه وو یل چې:((ددی تصو ربه‌ډیر مشکل وی چې یو دوه بول حیوان چې دخپلې بقا دپاره سختی‌هاې ځلې کوی په داسې فکرمشغول شي چې دکار له پروسې اودطایفی‌او قبیلې له پرابلمو نو څخه فاصله ولری . دابه هم مشکله وی که‌تصور وکړو چې (امانویل کانت) لوڅې پښې اود حیوانا تو پوستکي‌یي اغو ستي‌وی اود ((با لذات‌شی a thing-in-itself په فکر کې‌ډوب تللی وی .))(۱).

که مونږ دفولکلور دمنشا په باره‌کې مفصله څیړ نه وکړو دا به‌را ته جوته‌شي چې فولکلور دکار اوتولیدپه‌پروسه کې دعملي ژو ند له

1— Maxim Gorky, on Literature, Progress publishers, Moscow, PP. 228—29.

PROPERTY OF ACKU 2311

اړتیاوو سره په ارتباط کې مینځته‌راغلي دي اودزیار ایستو نکـــــو انسانانو دکولکتیف کاردآسانولو،پر طبیعت باندې دبرې مو ند لــــو دډبنمنانو دماتولو ، او د دوی د نـورو اړ تیاوو او ار مانونودپوره کولو په‌لاره کې یې‌دمرستندو ی په‌توګه انکشا ف کړی دی. په د ی اساس ، فولکلور دزیارایستو نکـی‌انسان د مبارز ی ،ارما نو نو ، غوښتنو ، انګیر نو ، برداشتو نو،اجتماعی سایکالو جی ، اود شعور دسطحې ښکارندو ی دی.فولکلور دخلکو دلاس ته راوړ نــــــو ، انګیر نو ، ارز ښتو نو ، او کړ ووړو هینداره ده .سره له دی چی‌په فولکلور کې توکې ، کوډ ی ، اودخرافاتو نور ډولونه هم دا خل دی چې‌که دغو پدیدو ته په ژور نظــــروکتل شي نو دلرغو نو انسانا نو جادو او خرافا ت هم دحیا تـــــی‌اړ تیاوو سره مستقیمه را بطه‌لري. دځینو خرا فی اړ خو نو په نفی‌کولو سره له فولکلور څخه‌دتربیتی مقاصدو او ایستیتیکي غو ښتنود پوره کولو دپاره هم ګټه اخیستـــل کیدای شی .

په داسی حال کې چی تاریـــــخ‌او ټو لنپو هنه دیوه ملت یاټو لنی دمو جودیت او حر کت‌یوازی‌بهرنی‌او قشری بڼه رانښیی فولکلور زموږ دهغو له روح او با طنی‌نړی سره آشناکوی اود خلکومفکور ی،ذوقونه جذبات او آرزو ګانی منعکسوی . دهغه په پراخ مفهوم سره،فولکلور دبشري ذ هنیت او احسا سا تـو ښیلګه ایزه څرګندونه اود عوا مـــو دژو ند داستان دی . له همدی‌امله،دخلکو د معنوی فر هنګ‌دپیژندنی دپاره له‌فولکلور څخه دیوی مهمې‌وثیقی او منبع په‌توګه کاراخیستل کیدای شی . کلتور ی بشـــــرپیژندنه ،ژبپو هنه ،ټولنپو هنــــه، ادبیا ت‌پیژندنه ، دتمدن تاریـــــخ‌او اقتصاد پو هنه دخپلو څیړ نو د پاره دفولکلور ی پانګی څخـــــه‌استفاده کوی . فولکلوری‌څیړ نو دنورو ټو لنیزو پو هنو دپاره‌دعلمی‌تحقیقاتو ور پرا نیستلی د ی .د هغو لرغو نو پیښو دتوضیح د پاره‌چی دلیك له ایجاد نه مخکی وا قــع شوی دی، دفولکلور ی موا دوتحلیل‌کلیدی اهمیت لري . دعلمی فلسفی بنسټ ایښو دو نکو کار ل‌مارکس‌او فریدریك انګلس دبشر ی‌تمد ن دانکشا ف دعمو می مسا یلـــــو،دخلکو د هنری فر هنګ دپیدا ښت

او پر مختیا ، په ایستیتیکـــــیارزښتو نو کی دکار دنقش دتوضیح دپاره له فولکلور ی منابعو څخـــهمرسته غو ښتی ده.

فو لکلور د خلکو د دو دو نــو،عنعنو اواخلاقی ارز ښتو نو په‌باب له اتنولوجی سره نږ دی‌اړ یکی لری. فولکلور دبشری مد نیـــت دتاریخ په روښانو لو کی ستـــره‌ونډه لری او لکه (ماکسیم گورکی) چی‌ویلی دی :((دفولکلوری‌معلوماتو لـه‌لاس ته را وړلو نه پرته دزیار ـ ایستو نکو خلکو دتاریخ‌پیژ ند نه‌نا ممکنه ده)) . دلیك دپیدا‌ایښت نه دمخکی دور ی په‌پیژ ند لو کی‌دفولکلور ی معلو ماتو تحلیل‌دمورخ دپاره لاره هواروی . حتی د لیك‌له‌ایجاد نه وروسته هم فولکلور خپل ارز ښت له لاسه نه ورکوی په‌تیره‌په دی دلیل چی لرغو نو اودکلا ـ سیك دور ی مورخانو دځینو نوپیښودتوضیح دپاره تقر یبا یواز ی د ټولواکانو او واکمنو طبقــو دژو نددحالا تو په‌بیانولو بسنه کړی ده اود خلکو داکثر یت ژو ند یـــی‌نه دی انځور کړی.

له دی امله ، کلا سیك‌تاریخو نه‌که هر څو مره دامانتدار ی پـــه روحیه او ابجکتیف ډول لیکل شوی‌وی لکه دقد نما هیندار ی په‌شا ن ټو له جا معه نه منعکسو ی.فولکلوردغی نیمگړ تیا په‌لیری کولو کـــی ستر نقش لری .نو له تاریخ‌سره دفولکلور زده کړه او مطا لعـــه ضروری ده . البته داټکی باید په‌پام کی‌و نیسو چی فولکلو رتاریخی پیښی په هنری بڼه انځو رو ی ،خپل عند ی تمایلات پکی گډو ی،د اتلانو او پیښو وا قعیت ته‌د خپل‌خیال په خم کی رنگ ور کوی ا و له دی امله ، تاریخ لیکو نکی وظیفه‌لری چی درنگو نو ، مبالغی ، او خیالونو داور یځو تر شا دحقیقـــت‌لمرو پلټی او فولکلور ی‌فاکټو نـــه تقطیر کړی.

له فولکلور څخه د ښکـــــلاپیژ ند نی (ایستیتیکس)د تیوری په‌رغو لو کی هم د مهمی‌سر چینی‌په‌توگه کار اخیستل شوی د ی. علمی نړی لیدښکلا دتاریخـــی‌ټو لنیز پر یکټس محصو ل‌بو لی او په دی‌برخه کی دخلکودایستیتیکی‌ارزښتونو دتحلیل له مخی ډ یـــرو مهمو نتیجو ته رسید لی دی . د ښکلا پیژ ند نی تاریخـــی‌ـټولنیز

نظر یې اکثر ی له فولکلور اواتنو ګرا فیك خیږ نو څخه استنبـــا ط شوی دی . په دی باره کـــــــــی د(چر نیشفسکی) ،(ګیور ګـــــــی پلیخانف) او نوروپو ها نوخیږ نی ډیری جالبی او په زړه پور ی دی.
اما د فولکلور ډیره مهمه بر خه شفا هی ادبیا ت دی. دیو شمیـــــر خیږو نکو په عقیده، شفا هـــــــی بدیعی ادبیا ت دځینو ښیګڼو پـــــه در لودلو سره د خوا صوله تخلیقی ادبیاتو څخه دزیا تی پا ملر نی وړ دی. داکتوبر دانقلاب لار ښو د ویلی دی چی :((په ملی فر هنګ کی که هر څو مره بیرته پاتی هـم وی دعاد لانه دمو کرا تیك فرهنګ عناصر شته . ځکه په هر ملت کی زیارایستو نکی او استثمار شو ی خلك شته چی دهغوی د ژو نــــــد شرایط هرو مرو دمو کرا تیکه او مترقی ایډیولوژ ی را مینځ تـــــه کوی.)) (۱).
دفولکلوری ادبیاتو مطا لعه له دوو جهتونو څخه دپا ملر نی وړده:
لومړی دا چی په فولکلور ی ادبیاتو کی دخلکو غو ښتنــــــــی، انګیر نی ،کړه وړه ،له ژو نــــــد څخه برداشتو نه ، دودونه ، ارز ـ ښتو نه ،ټولنیزه سایکالو جی اوملی کر کتر څرګندیږ ی، واقعیتو نه په کی په ریا لیستی بڼه انګازه کیږی او له دی امله دټو لنی دجوړ ښت او ما هیت او په مجمو ع کــــــی دتاریخی انسان دسر شت دپیژ ند لو دپاره دیوه مشال په توګه کار ورکوی .
دو هم داچی دفولکلور ی مو ضو عاتو ، ایماژو نو ، استعارو، تشبیهاتو ، اسطو رو او بد یعـــی مختصا تو څخه د هنری نو ښتو نو او تلمیحو نو دپاره زیا ته استفاده کیږی. دنړی یو شمیر ادبـــــــی شا هکارونه مستقیما له فو لکلورڅخه یاله فولکلور څخه په الهـــــام اخیستلو سره خلق شوی دی .دشکسپیر نا متو ډرا می چـــــــی د ها ملټ او اتللو په باره کی یــــــــی لیکلی دی ، لاډیرمخکی د خلکو په خو لوکی جاری وی .د(سروانتس)نا متو کیسه (رومان) چی د (دو ن کیشوت) په نا مه شهر ت لری او په هغه کی پر شوا لیه ګانو ملنډ ی

۱ ـ((مسایل عمو می فو لکلــورشناسی)) ، اجتما عی علــوم(مجله) کابل پو هنتون ، لو مړی ګڼـــه دیار لس سوه یو شپیتم کال، یو سلو څلور اتیایم مخ.

وهل شوی دی ، لەفولکلور څخه پەالهام اخیستلو سره لیکل شو ی ده.د(گو یته) نا متو اثر(فاوست) هم په اصل کی یوه فولکلور ی افسانه وه. دانتی ، میلتن،گور کی‌او نورو هم له او لسی افسا نو ، اسا طیرو او روا یتونو څخه الهام‌اخیستی دی . همدا رنگه مارکس او انگلس له فولکلور ی سو ژو اومقولو څخه د خپلو آثا رود هنر ی ښکلا دپاره دتلمیح په تو گــــــهاستفا دی کړی دی . دکمو نیســـت مانیفستو لو مړی جمله دفولکلوری‌ایماژ په گانه پسو لل شوی د ه، چیر ته چی دکمو نیزم د شبح پــهباره کی خبری کوی د مضمو نادبی غنا او سایکالو جیکی اغیزه ډیر • قوی شوی ده.

دکتور امیر حسین آریان پور پەخپل اثر (جا معه شناسی هنر)کی دعوا مو د هنراو فولکلور ی‌ادبیاتوپەباره کی ډیره جالبه او په زړ ه پوری لیکنه کړی ده چی‌لەمو ضوع‌سره‌د ارتباط له کبله بەیی یـــــوه برخه دلته رانقل کړو . په دی‌لیکنه‌کی دعوا مو دهنر ښیگڼی او خا- نگړنی شرح شو یدی . آریا نپورنیکی‌چی:

دعوا مو هنر دعوا مود فر هنگ(فولکلور) دنورو تو کونو پەشاند هنر پەرسمی تاریخو نو کی کو م‌مقام نه لری او پەندر ت سره یی یادونه کیږ ی تەبەوایی چی گویادهنر تاریخ فقط یو جریا ن دی‌اوهغه هم دخوا صو هنر .

اماد ژور فکر لرو نکی محققا نله دی څخه انکار نه کوی چی هره یوننیزه ډله خا ص ذو ق لری اولەهمدی امله دټو لنی ددوه گو نـــو طبقو پەتناسب با ید دوه متفاو تهنری جریانو نه هم مو جود وی. دتاریخ له ژور ی مطالعی څخــــەخر گندیږ ی چی دفر هنگ پـــــه تاریخ کی دخوا صو له هنر ســرەموازی همیشه دعوا مو هنر هـــم مو جودو خو البته په سا ده ، آرامه او غیر رسمی بڼه .

عوام په عملی توگه د ټو لنی‌دتولید څر خ گر ځو ی اوپەسختو شا قه کارونو بو خت دی. همدا سبب دی چی د دوی دافکا روبهیر دعمل له نړی سره تړلی د ی، کو نکلتیف خا صیت لری ، دعمـــــل بشپړوو نکی دی، د مبارز ی ا و دژو ند دارتقاو سیله د ه، مثبت‌د ی

خو شبين دی ، اميدبخښو نکـــــی‌او پېژره پور ی دی اود کار دباز دسپکو لو (له‌طبيعت‌سره‌دمبا رزی) بو زېو لنيز ژو ند دفشاردکمو لــــو (پر استبداد باند ی داعترا ضــــــس)دپاره مينځ ته راځی اودخو ند ا و النذ اذمنبع‌گرز ی . دعوا مـــــــوهنر هميشه سا ده دی ز يـــــــات تجمل او سينگار نه قبلو ی او دژو ند له حياتی اړ تياوو ســـــره بیو ستو ن لری. دعوا مو په‌ترانواو افسانو کی فقط هغه شيـــــــان بڼکلی دی چی ژوند ته گټه‌رسوی.عوام چی په علمی چارو کی تــــــر ستو نی ډوب دی بايد پرستو نزوبانډی دبری مو ند لو لاری چار ی ولټو ی او له همدی کبله د دوی هنر ريالستيك دی. ريا ليز م د فولکلور محور دی. دعوا مو هنر هميشه مثبت او له انسا نی‌عواطفو او ارما نو نو ځخه ډك د ی. کله چی په فولکلور کی عملی فعا ليت نتيجی ته ونه‌رسيږ ی نود تخيـــــل‌لمنه نيسی اماتوقف او تسليمی نه پيژ نی . دعوا مو خيال پالنه چی دخلکو دارما نو نو څخه نشات کوی په‌نهايت کی ممکن الوقوع‌اودتحقق‌وړ ده اوداختر اعاتو دپاره لا ر ه هواروی .(۱).

پخوا له دی چی دفولکلـــــــــورداهميت په‌باره کی دخپل بحـــــــث دروازه و ترو ديوه بل ټکی يادونه‌هم‌په‌کارده . دلويديځ په بور ژ وا ټولنو کی ځينی سا ينس پوها ن،هغه‌ټو لی سياسی او ټولنيزی‌نظريی دفولکلور تر کټيگور ی لا نـــــدی‌راو لی چی علمی اعتبار او صحت يی دعلمی ميتود دمواز ينو په‌اساس‌نه‌وی تاييد شوی او له‌وا قعيتو نو سره سمو ن‌نه خور ی .په‌همد غـــه‌دليل ، هغوی دلر غو نو حکيما نو ځينی نظريی (لکه دخلوروعنصرو نظريه اوداسی نور)فو لکلور گڼی. ددی په څنگ کی يوه بله افرا طی‌نظريه ټول قرار دادی مراسم ا و ارزښتو نه چی له منطقی ضرور تځخه نه‌و ی راپيدا شوی او سا ـ ينتيفيك بنسټ و نه لری ، دفو لکلور په کټيگور ی کی شا ملوی. ددغی ورو ستی نظريی له مخـــــی‌زمو نږ دژو ندوا گی دفو لکلـــــور (غير عقلا نی عنعنو ، تشر يفاتو،احساساتو ، او نه تو جيه‌کيدو نکو

۱ـ ا.ح. آريان پور ، جا معه شنا سی هنر، مو سسه‌نشرا تی ح.د.غ.ا، کابل ۱۳٦٤، ص صـــس۹٦ـ۹۸ .

ارزښتونو) په لا س کې دي،ساينس‌زمونږ دژو ندانه دتنظيم په لا رو چارو کې دیادونی وړ بر خه نه لری‌او په همدی‌اساس،فولکلور په يو ه يابله بڼه دبشری سلوك لاربښوونه‌کوی. د همدغو نظريو په څنګ‌کی، دنسبیت ګرو هنی Relativism پلویان په دی ټکی ټینګار کوی چی‌د انسان ټول معلو ما ت نسبی ا ومتحول دی ، مطلق حقیقت نشته او له همدی امله دنن‌ور ځی‌سا ینس‌دسباور ځی فولکلور دی.

دبورژوا ایډیولو ګا نو پور تنی‌نظریی دوی برخی لری. لو مړ ی برخه‌یی زیا ت بحث‌نه غوا ړ ی‌ځکه‌چی داصطلاحاتو په تعر یف پوری اړه پیداکوی اود اصطلا حا تو پــرقرار د ادی تعر یفو نو با ندی د صحت او سقم له‌نظره بحث کو ل‌چندانی ګټه نه‌لری .دمثا ل په‌توګه، په‌سکا نډ يناو ی هیوادو او تریوی‌انداز ی دشمالی اروپا په نو ر و هیوادو کی دفولکلور په‌تعر یف کی‌مادی اړ خ ته‌زیا ت وزن ور کو ل کیږی. خوك ویلای شی چی‌د هغوتعریف غلط دی ؟بالعکســــ،په ځینو ځایو کی شفا هی ادبیا ت‌دفولکلور سره مترادف ګڼل شوی دی . زمو ږ یو نا متو لیکوال ، اسطوره په فولکلور کی شا مله نه ګڼی اوداسی دلیل راوړ ی چی‌ګویافولکلور دخلکو دآګاهانه زیـــا ر محصول دی اواسطوره په غیـــــرشعور ی تو ګه تشکل کوی. البته پردغو مسایلو بحث کیدای شی خودغه‌بحث په عمده تو ګه دنو مو نو اواصطلا حاتو دتعریف پر محور راڅرخیږی ،اماپه دی برخه کـــــی‌د بورژوا ایډیولو جیستا نوادعاګا نی‌دفولکلور له اسا سی تعر یف‌سره سرنه خور ی . فولکلور دعوا مــوفر هنګ دی. داسمه ده چـــــی‌د (اپلاتون) او (ارستو) په شا ن دسترو فیلسو فانو یو زیات شمیر نظریی پراوسنیو علمی معیارو نوکره نه خیږ ی اود معا صرساینس له‌پر نسیپو نو سره یی نه شـــوعیارولی خو ددو ی نظریی هیڅکله فولکلور نه شی ګڼل کیدای ځکه چی په هغو کی مجرد فکر په ډ یر لوړ او سیستما تیك طرز سره په‌کار لویدلی دی اودبیسوا ده‌پرګنو له‌فر هنګ سره په‌یوه ردیف کـــی‌نه دریږ ی . ددغه ټکی یادو نه‌لازمه ده ځکه چی بور ژوا پو ها ن د خپل و خت پر ځینو متر قـــــی فلسفی نظریو باند ی هم‌دفو لکلورټاپه لګو ی .دمثال په‌تو ګه، مونږ

نه شو کولای دمیخا نیکی ماتریا ــلیزم ځینی پر نسیپو نه دیو څه
نیمګړ تیاوو ددر لودلو په سبب دفولکلور پهلست کیو نیسو .ددی
ټکی له یادو نی سره مو نږدبورژواایډیالوجیستا نو دنظر یی دو همی
برخی ته رسیږو او هغه داچی ددوی‌پهز عم ، دساینس ټول‌معلومات
چی دسنتیز (ترکیب) له لار ی لاس‌ته‌راغلی دی یو پهبل پسی تغییـــر
کوی(په تحلیلی معلو ماتو کـــی‌نوی خبره نشته ، داالفاظو په تغییر
سره دیوی مو ضو ع تکرار دی‌نوځکه دهغوی په نظر دبحث وړ نـــه
ګڼل کیږی) اود فولکلور بنه غوره‌کوی. دنسبیت دااصا Relativism
پلویا ن دمطلق حقیقت له شته‌والی‌څخه انکار کوی. دد غی مو ضوع
تفصیل له‌فلسفی سره اړه لر ی‌خودلته به له مو ضو ع سره دارتباط
له‌پلوه دنسبت داصا لت او نسبی‌او مطلق حقیقت په باره کی لنډ ه
شرح‌وړاندی کړو:

دنسبیت داصا لت تیوری پـــه‌مجموع کی په اګنو ستیك‌اوذهنی،
ایډ یالیستی سیستمو نو با ند ی‌تکیه کوی. ډیا لکتیکی ماتریالیزم
له‌یوی خوا دمتافز یك له اصو لـــو‌سره چی هر حقیقت مطلق او ابدی
ګڼی ، موا فقه نه‌کوی او له بلی‌خوادنسبیت داصا لت ایډیا لیستی
مفهومونه ردو ی چی حقیقــــــت‌یوازی نسبی ګڼی اودسا ینســـــس
انکشا ف ته په داسی نظر ګوری‌چی‌ګویایوه اشتباه له مینځه‌ځی اوځای
یی بله اشتباه ډکوی . علمی نړ ی‌لید حقیقت هغو معلو ماتو ته‌وایی
چی له عینی وا قعیتو نو ســــــره‌سمون‌ولری . خو څر نګه چـــــی
عینی وا قعیتونه تغییر کوی دهغوپه‌باره کی معلو ما ت هم‌تغییر‌کوی
اوداجریا ن همد غسی پسی روان‌دی.دمثال په‌توګه ،دافغا نستا ن
دلس کلونو مخکی کارګر له اوسنی‌کارګرسره توپیرلری ځکه چــــی
ټولنیز شرایط بدل شوی دی . برسیره پردی ، زمونږ پو هـــــه
اودوا قعیتو نو په باره کی‌معلومات‌انکشا ف کوی . دایوه دایمی‌پروسه
ده. په دی اساس ، زمو نږپو هه‌نسبی ده یعنی دزمان او مکا ن تابع
ده په داسی حال کی چی مطلـــق‌حقیقت(۱) دوا قعیت په باره کـــی
نها یی او بشپړو معلو ماتو ته ویل‌کیږی او (۲) په‌راتلو نکی کی هم‌د
بطلان کر بنه ور باندی نه شـــی‌ایستل کیدا ی . علمی حقا یق‌نسبی

دی په دی معنا چی په‌یوه ځل‌بشپړ او نهایی واقعیتو نه نه‌شی‌بښودلی اماکه چیر ی نسبی حقیقت په‌سمه‌توگه عینی وا قعیت منعکس کړ ی په دی صور ت کی نسبی حقیقت‌د مطلق حقیقت یو جز گڼل کیږی. نتیجه دا چی په هر نسبــــــــی‌حقیقت کی د مطلق حقیقت زړی هم شته او له همدی امله بشری پو هه‌هم نسبی ده او هم مطلقه . دا هم باید ووایو چی د ډیا لکتیکـــــی‌ماتریالیز م بنستیز اصول مطلـــق حقایق دی لکه دا چی :((ماده لـــه‌شعور نه مخکی ده))،((شعور د ماغزو خا صیت دی)) ((ماده پـــه‌زمان او مکان کی وجود لری)) او داسی نور .

ددی پورته خبرو په نتیجه کی‌ویلای شو چی دنن‌ور ځی‌ساینس په‌فولکلور نه‌بدلیږ ی‌بلکی‌دسا ینس‌په‌توگه به انکشاف کوی . په دی کی شك نشته چی کله کله فولکلورساینس ته‌ور گډیږ ی لکه‌د(ایتر) دمو جودیت نظر یه چی دنسبیت‌دنظریی له خواردشوه .د(ترمو جن) او(فلوجیتن) نو مونه دسا ینس‌له‌هیواد څخه په تبعید محکوم شول. ځینی نور ی نظریی په کافی اندازه‌تعدیل شوی خو دابه مناسبه نه‌وی چی دفولکلور اصطلاح دسا ینس له‌میرا ثسره خلط کړوبلکی بهتره‌به وی چی دعلو مو پاتی شو نی‌دعلومودتاریخ تر عنوا ن لاندی مطا لعــه کړو.

پو هیږم چی دراك لوستو نکی‌به‌په‌سترگو کی خاند ی اوله ځا ن سره به‌وایی چی ((آشنا اصلـــی‌مو ضو ع پرایښی ده ، پربله خوا روان‌دی)) دا اعترا ض تر زیا تی‌انداز ی وارد دی خو ددی پور ته ټکویادو نه دفولکلور زده‌کوو نکوته‌زیات بصیر ت ور په‌بر خه کوی‌او هغوی دی ته هخوی چی دفولکلورله ما هیت اود مغر ضو تیوریسنانو له‌ناوړ ه هد فو نو څخه ځا نو نــه‌خبر کړی.

دفولکلور داهمیت دخیږ لو پـــه‌تر څ کی که‌یوه بل ټکی تــــه اشاره ونه کړو زموږ څیړ نه بـــه‌ډیره نیمگړ ی پاتی شی او هغه د ټولنیز ی سایکالو جی په تشکل کی‌دفولکلور نقش دی .

فولکلور کولکتیف (جمعی)خاصیت‌لری . فولکلور نه یوازی د خلکود هلوځلو او ژو ند پیښنو په باره‌کی‌دمعلو ماتو منبع دی بلکی د هغه په

مړ سته دټولنو دملي خصلتو نـوپه‌باره کې هم جاج اخیستل کیدای شي. کارل مارکس اوفرریك انگلز په خپلو آثارو کې دفولکلور څخـه په استفادې سره دټولنیزو روا بطو،دګور نی او خپلوی داړ یکو ، دلوـ مړ نیو ټولنو اود منځنیو پیړ یودټولنو دحقو قی اواخلاقی نورمو نو په‌باره کې تصورونه حا صل کړ ی‌دی(۱).

څر نګه چې په لو مړ نیو ټولنواو قبیلوی ژو ند کې کنفور میز م اوفر هنګی تجا نس دټو لنیز ی سایکالوجی په‌تشکـ ل‌کی زیا تـــه اعیزه لر ی اود فیو ډالیز م په‌دوره‌کې هم فولکلور دملي کرکتـــــر، دودو نو او حقو قي اواخلا قـــي‌نور مو نو په‌رغاو نه کې بې اغیزی نه دی نو له فولکلور څخــــه دټولنیزی سایکالو جی دپیژ ند نی اودسیاسی هد فو نو دپرمخبیو لودپاره ګټه اخیستل‌کیږ ی .

څینی پو ها ن بې له دی چې‌دفولکلور مثبتو او تعمیری اړ خو نو ته ارز ښت ور کړ ی دفولکلـــــوربه مقابل کې حسا سیت لر ی اود علو مو دپر مختیا او ټولنیز ی‌ترقی‌په‌لاره کې یې ستر خنډ بو لی .
دمثال په‌توګه ، دوی وایي چې د کو پر نیك ، جیور دانو برو نـــو، ګالیله او داسې نورو پو ها نو اومفکرانو علمی نظر یې دفولکلو ر ی عقایدو سره دټکر کیدو په‌و جه تریوه‌و خته ور ټل شوی . جیو ردانو برو نو (۱۵٤۸ــ ..۱٦) له اته کاله‌بندورو سته دانکیز یسیو ن‌په‌حکم وسوزول شو. ګالیله هم دسو زولو‌تر تهد ید لا ندی را غی اومجبو ر شو چې دتو بې په ایستلوسر ه خپله علمی نظریه باطله‌و ګڼي .
په اویدیغ او ختیځ کې دعلـــــمدلاری شهیدا ن ډیر زیا ت دی چې دفولکلور څخه دسر غړو نی پــــه‌جرم قربانی شو ی‌دی.

همدا رنګه‌و یل کیږ ی چــــــی‌فاشیستا نو له‌فولکلور ی‌افسا نو اوروایتونو څخه په ناوړه‌استفا دی‌سره دنژاد ی تفوق اود جګړ ی د اوږ بلولو دپاره کار اخیستی د ی(وګ. دفر هنګ مردم مجله ، د دیار لس سوه خلور شپیتم کا ل‌دریمه ـ خلور مه ګڼه ، پنځــــــه اویایم مخ).

---

۱ ــ و.اسرار ی ، ر.ا مانو ف ،هماغه اثر ، پنځه ویشتم مخ.

ددغو خبرو په ارتباط با یـــــدیادونه وکړو چی دفولکلورپیژندنی پهنړ یوال سیمینار کی(ددیار لس‌سوه دری شپیتم کال د میزا ن ځلیرو یشتمه- پنځه‌و یشتمه) چی‌په‌کابل کی دایر شوی‌و ،دفو لکلور مختلف اړ خونه‌و خیړل شول اوداوږدو بحثو نو نه‌ورو ستــــــه‌د سیمینار دقطعنا می په دو همه ماده‌کی‌په دی باب داسی پریکړه‌وشوه:

((دوهمه ماده – دافغا نستنا ندخلکو فولکلور بیلابیل اړ خونه‌لری. مونږ د هغه مثبت ،دمو کرا تیک‌اوانسانی اړ خو نه تایـــــدوو او او تعمیموو یی اودمو کرا تیک ضداړخونو ته یی په‌نقادانه نظــــــر گورو.))

دلته باید دا ووایو چی پـــــرفولکلور باندی پور تنی‌اعتراضو نه په اصو لی توگه‌نه دی مطرح‌شوی.انکیز یسیون دپاپا نو او ارستو- کراتانو دگټو دساتنی دپاره جوړشوی‌و، نه‌یواز ی پوها ن بلکـــــی ډیر زیا ت عوام یی هم‌د خپلـــــوعقایدو پرېښود لو ته مجبور کړل. فاشیزم هم دامپریا لیستا نو د ډیکتاتور ی یو څر گندترووریستـــی، ارتجا عی او شوو نیستی شکل دی.کله چی امپریا لیستا نود((دمو – کراتیک)) میتودو نو له‌لاری خپـل‌قدرت نه‌شوای ساتلا ی‌نو دډیکتا- توری له میتود نه‌یی کارواخیست.په دی اساس ، فاشیز م دامپریا – لیزم دیوه جنا ح ایډیالو جی ده‌چی له‌فولکلور (دعوا موفرهنگــــ) سره په‌یوه قطب کی نه وا قـــــع‌کیږی .

اما هغه کسان چی له‌فولکلور څخه ناوړه استفا ده کوی هغو ی له ساینس ، تکنالو جی ، هنر اوفلسفی څخه هم دخپلو ناو ړ ه استعمار ی او استثمار ی مقاصدودپاره کار اخلی .

فولکلور داسی مثبت ،دموکرا تیك ، اوانسا نی اړ خونه لری چی له هغو څخه د خلکو تر مینـــــځ‌دمینی، تفا هم ، سو لی اوطبقا تی مبارز ی په منظور گټه‌اخیستلا ی‌شو. بر سیره پردی،فو لکلو ر د ایستیتیکی التذاذ یوه مهمه سر چینه اودبشری کړو وړو دپیژندلو گټوره وسیله ده . اما فولکلـــــو رپیژندنه یو علم دی چی ز یا رباسی تولی فولکلور ی پدیدی‌داوبجکتیف‌او علمی میتود په‌رڼا کی وڅیړ ی او مثبت او منفی ارزښتو نه یی‌یوله‌بله‌جلاکړ ی.

دوهم څپرکی

دفولکلور پېژندنې پس منظر

۱- پېلوېدیځ کې :

لومړی باید ووایو چې فولکلور، پیژندنه له فولکلور ټولونی سره تو پیرلری . په ځینو مواردو کې ددوا ړو تر مینځ تو پیر کول آسانه کار نه دی په تیره هغه و خت چې لیکوال په قصدی او سنجو لی توګه دیوه مرام له مخې فولکلور ی پدیدی معر فی کوی اود هغو پر ما هیت باندی بحث کوی . په دې څېر کی کی عمده هد ف،دفولکلور په باره کی دلرغو نیانو د څیړ نو یادونه ده خو بنایې چې د ځینو نا متو فولکلور ټو لوو نکو خدمتونه‌او هلی ځلی هم له نظره و نه غور ځوو.

دفولکلور داصطلاح وا ضع:

دفولکلور دکلمې وا ضع انگریزی لیکوال ټا مس W. J. thoms دی . ده په یوه لیك کی چې د Ambroise-merton په مستعار نا مه یې لیکلی و ، دلو مړی ځل دپاره دفولکلور کلمه استعمال کړه. د(ټامس) مضمو ن چې د اتلس سوه شپږ څلو یښتم کا ل په اگست کی په(ایتینیم) کی خپور شو ی دی په ضمنی او عبور ی تو گه دعا میانه پاتی شو نو Popular Antiquities دپاره دفولکلور Folklore اصطلاح وضع کوی. دلیکو نکی هدف داو چې په برتانیه کی دپخوا زمانو څخه راپاتی شوی خرافا ت،وجیزی دودونه ، منظوم داستانو نه اونوری عنعنوی پدیدی دی وڅیړل شی . دغی اصطلاح ډیر ژر دپو ها نوپام- لرنه ځان ته راواړو له اوپه چټکی سره په ټو لو اروپا یی ژ بو او د

اتلا نتیك دپوری غاړ ی پههیوادوکی باب شوه.

دفولکلور داصطلاح دو ضـــــعکوو نکی پهبا ب دغه معلو ما ت له (بریتا نیکا انسایکلو پیډ یا ، کال‌نو لس سوه اویایم) څخه اخیستل شوی دی .د(امریکانا انسایکلوپیډیا کال نو لس سوه یو شپیتم) کټ مټ د(بریتا نیکا دایرة المـعارف)مطلب تاییدو ی . (دنړی دادبیاتو قا موس) چی د دوه سوه پنځو س‌تنو ادب پیژ ندو نکو په همکار ی لیکل شوی اود(جوزف شیپلی)له‌خو' ایډ یټ‌شو ی دی په‌لږ تفاو ت یعنی د W. T. Thoms پرځای‌د W. J. Thomas په راو ړ لـــو سره همدغه مطلب تایید کړی دی‌خو په ځینو نورو منابعو کـــــی‌د تا مس پر ځای نور نو مو نه‌راوړل‌شوی دی . دایرا ن نا متو داستان لیکو نکی (صادق هدا یت) په‌خپل‌اثر(نو شته های پرا گنده) کـــی وایی چی دفولکلور، کلمه دلومړی‌ځل دپاره په اتلس سوه پنځه‌اتیایم عیسوی کال کی(امبرواز مور تن)فرا نسوی لیکوا ل استعما ل کړ ی ده. لکه څنگه چی (بریټا نیکاانسا‌یکلو پیډیا) لیکی (امبرواز میر تن) دیاد شوی (تا مس) مستعار نوم‌دی‌په دی برخه کی خبره له شك‌و تلی ده لیکن دتعجب خبره دا ده چـــی‌انگریز په فرا نسوی بدل شو یدی اود اتلس سوه‌شپږ‌څلو یښتم کا ل‌پر ځای اتلس سوه پنځه اتیا یم کال بنودل شوی دی . نا متـــــوفولکلوریست ابرا هیم عطا یــــی لیکی چی((حتی په اتلس سوه اته‌څلو یښتم کال کی دفولکلور کلمه خلکوته‌پوره آشنانه وه اویو آلمانی‌فولکلوریست دگریم په نا مـــــه په آلمان کی دخپلو فولکلوری‌موادوپر مجمو عه دفولکلور نوم‌کیښود او له دغه‌و خته په انگلستان او فرانسه کی دانوم او دغه کـــــار تقلیدشو))(۱) دعطایی نظـــــر د(ادبیات افغانی) پرحواله لیکـــل

۱ـ محمد ابرا هیم عطا یـــی،((په افغا نستا ن کی دپښتـــــو فولکلور ته لوړنی او څیړ نی دکارپر سابقه یوه کتنه))، دفر هنگ مردم مجله دریمه ـ څلور مه گنــه،دیار لس سوه څلور شپیتم کا ل، یوسلو دوه ویشتم مخ.

شوی دی (۲) . له قر ینی څخـــهښکاری چی دفولکلور کلمهله (گریم) نه مخکی هم استعمال شوی ده خو((خلکو ته پوره آشنانه وه))یعنـــی خلکو نیمگړ ی آشنا یی ور سرهدرلوده. په دی‌اساس (گریم)دفولکلور داصطلاح وضع کوو نکی نه دی . دلتهددی ټکی یادو نه هم په کارده چی دگریم ورونو (ویلهلم گـریـماوه لس سوه پنځه اتیایم- اتلـس سوه نهه پنځوسم او یا کوب گریم و لس سوه پنځه اتیایم – اتلس سوه دری شپیتم) دخپلو فلا لو –جیکی څیړ نو دپر مخبیو لو پهترڅ کی‌د Kinder او Haus-Marchen پهنو مو نو دښماپیر یو کیســـــ راغونډ ی او خپری کړی دی او دفولکلور پهبر خه کی دوی دگریم ورونو brothers Grimm په نا مهشهرت لری نو په دی اسا س ،د (ادبیا ت افغانی) لیکنه کرهکولوتهاړ تیالری.

دفولکلور پس منظر:

دفولکلور کلمه دنو لسمی‌پیړی له نیمایی نهورو ستنه ولی‌دو مره ژرعا مه شوه او پهلویهځوتو لنوکی له هر کلی سره مخا مخ شوه؟ کهچیر ی مونږ دنو لسمی پیړ ی‌دنیمایی جریانا ت په تاریخ کی‌پسی وپلټو نو دابهرا ته جوته شی چی‌داو خت دکار گرانو او زیارایستو- نکو پرگنو دوینښتیا او پا څو ن دوران دی. دفولکلور کلمی لـــه وضع کیدو نه لاپوره دوه کا لهنهووتیر شوی چی کارل مارکس ا و فریدریك انگلز (دکمو نیستےگوندمانیفستو) و لیکله اود اتلس سو ه اته څلو ینښتم کال پهپیلا مه کی‌یی‌له چاپه راوایستـه . کار گـــــر ی نهضتو نو اروپایی تر قی‌غو – ښتو نکی روښنفکرا ن او همدارنگه بور ژوا ایډ یولوجیستا ن دی تهوهڅول چی دخلکو پرگنی ، ددو ی سایکالوجی ،دهغو دکړو وړو ، انگیر نو او قوت سر چینــــــی وپیژنی. دلوړی طبقی د آدا بـــــواومشخصا تو په نسبت دعوا مود کر کتهر ، غوښتنو ، اوارما نو نودتشخیص او تحلیل خواته پا م واو ښت . همداو جه وه چــــی‌دسیاسی فعا لیتو نو تر څنگــــك

---

۲ – احتمال لری چی دکتا باصلی نوم به (ادبیات مردم)وی. دابر خه نورو څیړو نکو ته و ر پریږدم.

فولکلور ی او انتروپالو جیگــــیخیړ نو هم پرا ختیاو مونده .

اما ددی خبر ی ما نا دانه ده‌چی‌ګو یا لرغو نو فیلسو فانو او بشر دو ستو پو ها نو دخلکو دپرګنوپه‌کړووړو او هلوځلو باندی څه نه‌دی لیکلی او یایی هغو ته پا ملر نه نه‌ده کړی. له ډیرو لر غو نو تاریخــی زما نو څخه ځینو مور خانو او دعوا مو دفر هنګ څیړو نکو د خلکو د دو دو نو ، انګیر نواو شفا هی‌ادبیاتو په‌باره کی په منسجم یــــا پرا ګنده ډول یادو نی کړی دی .دابه‌له انصاف څخه لیری وی که د فولکلور ی مو ضو عګانو اومسایلوبه‌باره کی دلرغو نو حکماوو اوتاریخ لیکو نکو انتهر ست او علاقه مندی‌ته‌په ارزښت قایل نه شو . دمثال په‌توګه، دمور خانو پلار هیرود تس‌ډلیوی ، او پلینی په لرغو نی یونان او روم کی دخلکو عقایدو اودودونوته دتاریخی او کلتور ی مسا یلــو دروښانولو په منظور اشاری‌کړ ی‌وی. (دجر منیانو او انګریزانو په باب) دستر رو می‌مورخ(تاسیتوس) لیکنی د فو لکلــور او اتنو ګرافی یوه شتمنه خزانه ده او دده نوموړی‌اثر دیوه ادبی شا هکارپه تو ګــه شهرت لری .د(تاسیتو س) دزیږ یدو ځای او نیټه په یقینی تو ګه نه دی تثبیت شوی خو له ځینــــوروا یتونو څخه څرګندیږ ی چی‌دی به‌په پنځه پنځوسم میلا دی کال‌کی‌دنیاته راغلی وی . سره له دی‌چی دده‌په‌زما نه کی رومیانو ډیر ی سو بی کړی وی او امپرا توری یی تر فارس پوری غز یدلی وه خو د(تاسیتو س)پر ذ هن باندی یو ی ژور ی اندیښنی داضطرا بسیوری‌غور ځو لی و او هغه دا چی ښا یی په‌نږ دی راتلو نکی کی جر منیان‌اوانګریزا ن په خپل بر لاسی سره درو میانو امپرا تور ی ګډه وډ ه‌کړی ځکه چی دده په‌نظر جر منیا ن په‌فز یکی لحاظ غښتلی اوپه معنوی‌لحاظ زړه ور دی . ددوی ښځی هم غښتلا ی‌دی . تاسیتو س وایی چی‌جر منیا ن په‌سختو اقلیمی شرایطو کی‌ژو ندکوی او خپلو ماشوما نوته‌دساده ژو ند ، در ښښت او عز ت‌ـ النفس ، خپلوا کی خو ښو نی اودجګړ ی دفنو نو درس ور کوی.

همدا رنګه (تاسیتو س) دانګریزانوملی کړ کتړ او کلتور څیړ لی دی‌او په دی تو ګه یی دملتونو ددو دونوانګیرنو، کړو وړو او کرکتړ پــــه باره کی دفولکلور او اتنو ګرا فی‌دپاره زیا ت مواد برا بر کړی دی.

(دزیات تفصیل دپاره و گور ی: ادبی خیړنی ،دننگر هار پو هنتون خپرو نه ، ،دیار لس سوه شپیتم کال).

په اوو لسمه پیړی کی په اروپاکی دفولکلور تو لو نی په بر خه کی سیستماتیك او شعور ی کار پیل شوی دی John Aubrey پـه شپاړس سوه شپږ اتیایم ـشپاړس سوه اوه اتیایم کلو نو کی دخپل وخت یو زیا ت شمیر خرافا ت اودو دو نه و لیکل چی په اتلس سوه یواتیایم کال کی ور ته د چا پ زمینه برا، Popular Antiquities په نا مه د Henry Bourne په اوولس سوه پنځه اویایم کال کی خپور شو . په دی کتا ب کـــی دانگلستا ن دبز گرانو عنعنـــــی او مو سمی شعایر شرح شو یدی.همدا رنگه (جان براندږ) او نو رو پوها نو دفولکلور په باب آثــــار خپاره کړی دی . په نو لسمه پیړی کی جر منی پو ها نو (یا کو ب- گریم) او دده ورور (ویلهلم گریم) دفولکلور پیژ ند نی په بر خه کـــی تیور یکی څیړ نی وکړی.انگریزی پوه (تا مس رایټ) په خپل اثر کی دادبی نو ښت او په هغه کی د نکلونو داغیزی موضوع وڅیړله(۱).

د (و.ج.تا مس) په مشر ی پـه لندن کی دفولکلور ټولنی له تاسیس نه ورو سته فولکلور پیژ ند نه دپیره باب شوه او په یو زیا ت شمیـــر ارو پایی هیوادو کی دفولکلور څیړ نی مو سسی او مر کزو نه جوړ شول. دفولکلور ی موادو ټو لونه نه یوازی اکا د میك انتر سټ او علاقه مندی له مخی پیل شوه بلکی د هیواد پالنی او ملی تشخص احساساتو هم په کی مهم نقش در لود .فولکلور پستا نو زیار ایسته چی فولکلور ی اسناد او معلوما ت دور کید لوله خطرنه بچ کړی. یو شمیر رمانتیك لیکوا لو هم دماضی پسند ی د رو حیی په اساس له فولکلورسره مینه و ښودله ، دفولکلور لــــه شتمنی خزانی څخه یی ځلا نـــده غمی انتخاب کړ ل او خپل اد بی تخلیقا ت یی ور باندی ونبکول.

دفولکلور په بر خه کی دروس دانقلابی دمو کرا تانو څیړ نـــی د خا صی پا ملرنی وړ دی (دلته دفولکلور څخه مراد دعوا موشفا هی

1— "Folklore", Encyclopaedia Britannica, 1970

ادبیات دی). (و. گ. بیلینسکی) درو سیی دنو لسمی پیـــــــړ ی
دانقلا بی دمو کرا تانو دفولکلو ربیژ ند نی مو سس گڼل کیږي. ده
دعوا مو دبدیعی تخلیقا تو په برخه کی دسا مبر یستا نو اوپو شکین
عنعنه صیقل کړی او ځلانده کړی ده. په نو لسمه پیړی کی درو س
روښانفکره او متر قی قشر له خلکوسره دسمپا تی دخرگندو لو په ترڅ
کی دهغو دفولکلور اصیلو اودمو کرا تیکو ارز ښتو نو ته متوجـــه
شول ، دهغو مثبت او روښا نـــــهاړ خو نه یی له ایرو څخه پاك کړل
او تیور یکی بنسټو نه یی ور ته کیښنود ل. ویساریو ن گر یگوریویچ
بیلینسکی (اتلس سوه لسم ــ اتلس سوه اته څلو یښتم) چی پـــــــه
((احساسا تی ویساریو ن)) مشهورشوی و، ادبیا ت دسو سیولو جی
په رڼا کی و څیړل او خلکیتو ب یی دایستیتیکس الفباوبلله. بیلینسکی
دفولکلور کولکتیفی خا صیت داسی توضیح کړ چی که څه هم فولکلوری
هنر په لومړی سر کی دیو منفردشخص ابداع گڼله کیږی خو تر څو
پوری چی دټو لنی داحساسا تو، ذوق ، او ارما نو نو سره توا فق
ونه لری کولکتیف خا صیت نه شی پیدا کو لی اود فولکلور ی هنر په
تاریخ کی ځان ته ځای نه شـــــی نیو لی . البته کله چی فولکلور ی
اثر خلکوومانه نو دوی بیا په هغه کی تصرف هم کوی او ولسی کوی
یی. ده وو یل چی ادبیا ت بایدنه یوازی واقعیت منعکس کړی بلکی
باید له مترقی ایډیاوو څخه هـــــم اشباع شوی وی .(۱).

دروس انقلا بی دمو کرا تا نودمستبد ارتجا عی نظام دسا نسور
له امله خپلی ټو لنیز ی نظر یی دادبی څیړ نو په کپسول کی پوښلی.
په دی ترتیب ، دلو مړی نیکولا ی په دوره کی ادبی کره کتنی انقلابی
محتوا پیداکړه او دنړه هنر پرځای یی پر ټولنیزو پرابلمو نو، سیاسی
ریفور مو نو اودښوو نی اوروز نی پرمسایلو بحث کاوه. دغه عنعنـــه
د(نیکولا ی گا وریلو ویچ چـــــر نیشفسکی)(اتلس سوه اته ویشتم ـ
اتلس سوه نهه اتیایم) له خوا لانوره هم پسی وپالل شوه.(۲) چر ـ
نیشفسکی دشفا هي ادبیاتو اوښکلاپیژ ند نی په باره کی دیادو نی و ړ

1— Joseph T. Shipley, op. cit., P. 356.
2— Ibid, P. 356.

ليکني کړي دي. ده په دې تکــــــي ټينگار کاوه چې دعوا مو بد يعـــــي ايجاد يا ت بايد هغو په مشخصه تاريخي قرينه کې تر څير نې لاندې ونيول شي ، بالعکس که شفا هــي ادبيا ت له تاريخي ز ميني نه د باندې مطالعه شي خپل مفهو م او ارزښت له لاسه ور کوي . چې نيشفسکي يوه داسې علمي فرضيه و ړاندې کـــړه چې د خلکو هنر ی ايجاد يا ت له عملي ژوند سره په ارتباط کې مينځ ته راغلي دي . دده په نظر يو کې يو بل جالب ټکي دادی چې ايستيتيکي ايډ يالونه طبقا تي منشا لر ي او بنکلا ټولنيزه ـــ تاريخي پديده ده.دچې نيشفسکي دنظر يو ځينـــــي جهتونه ورو سته د(گيور گـــــي پلينخا نف) په وا سطه بشپـــــړ شول.

دفولکلور پيژ ند نې په با ب ديوی مفصلي تاريخچې ياببليوگرافي ترتيبول ځا نته جلاا ثر ايجابوی . دځينو نا متو فولکلو رپيژندو نکو له آثارو او افکارو سره به دفولکلوري نظر يو دتوضيح په و کخت کـــــي آشناشو . ددې بحث په پای کې به دعلمي نړی ليد دبنسټ اينبود ـــ ونکو اود اکتوبر دستر انقـــلاب دلار ښود ځيني يادوني چې لـــه فولکلور سره ارتباط لر ي،د لتـــه ذکر کړو اوپه همدی حسن ختام به بسنه وکړو.

دعلمي نړی ليد بنسټ اينبودونکو(کارل مارکس)او(فر يدريك انگلس) په خپلو آثاروکې اسا طيري څير ی اود خلکو حماسي تحليل کړ ی دی او له هغوڅخه يې دټو لنيــــــزومناسباتو ، دخپلوی د اړ يکـــــو شکلونه ، اود لرغو نو او منځنيوټولنو انگير نې (تصو رو نه ا ود تلقيا تو ټول) اود هغو حقو قي اواخلاقي نور مو نه استنباط کړ ی دی. دوی له سکا نډ يناو ی ا و اير لينډ ی سندرو او رو ســـي نکلونو سره آشناوو .(مارکس) د ځو انی په و خت کې دجر من د خلکو دسندرو مجمو عه راټوله کړ ی وه او هميشه به يې د پرگنو افسا نـــي او ترانې مطالعه کولې . ده به خپل بچيا ن په ځان راټولول او هغو ته به يې په ډير شوق او هيجان سره ديونان ،جر منی ، انگلستا ن ،او سلاويانو نکلونه ويل اوهم يې لاډ ی سره مينه در لوده چې فولکلوري معلو مات ـــسندر ی ، نکلو نـــــه اسطوری ، او نور دنورو له خو لې واور ی .انگلس په دی ځا طردخلکوله افسانو سره مينه ښکاره کو له

چې په هغو کې د معجزو نړۍ په داسې څرګنده تو ګه بیانیږي چې د کپیټالیستي له تیاره ژو ند سره هیڅ شباهت نه لري . ده لیکلي دي چې:((زه دخلکو له لرغو نوکتابونوسره د هغو دجذابیت او نفا ست له کبله مینه لرم.))(۱).

دپنځو س کلنې په عمر کله چې مارکس دروسې ژبې په زده کو لو پیل وکړ نو په هغولو مړ نیو آثا روکې چې ده د مطالعې دپاره مر لـــــي (انتخاب کړی) وو درو س د خلکوسندر ی او افسا نې هم شا ملـــــي وې.

د و.ای. لنین په عقیده ،په هرملي فر هنګ کې دننه دوه ډو لـــــه فر هنګو نه شته چې یو یـــــې داستثمار ګرې طبقې فر هنګ دی او بل یې دزیارایستو نکواوزبیښل شوو خلکو فر هنګ دی چې که هر څو مره بیر ته پاتې هم وي په هغه کې ددمو کرا تیك او سو سیالیستي فرهنګ عناصر شته .(۲)

لنین دفولکلور مطا لعه دخلکوداجتما عي سایکالو جي دپیژند لود پاره مهمه ګڼله.ده په خپلو آثا روکې متلونه ، مقو لې اود خلکـــــو تر مینځ معمو ل اصطلا حا ت ډیرزیات استعمال کړې دي .

داکتوبر دستر انقلا ب نـــــه ورو سته په شو روي اتحادکې ښایې ماکسیم ګورکې تر بل هر چـــــا زیات دفولکلور ی ادبیاتو شو قمن پاتې شوی وي . ده دشو روي اتحاددلیکوا لو داتحاد یې په لو مړ ی موسسه کنګره کې دفولکلـــــور پر اهمیت ټینګاروکړ او په خپلـــــه بیانیه کې یې دفولکلورپه ژند نې ځینې بنسټیز تیور یکې مسا یـــــل وڅیړل . ګورکې دبیلنسکي ، چر نیشفسکي ، دو برو لیو بو ف، او پلیخا نوف نظریې چې دادبیا تو اوفولکلور دمنشا او بشپړ تیا په باره کې یې لیکلي وې لا نوري هـــــم پسې غني او پراخې کړې(۳)

---

۱ ـ اجتماعي علوم(مجله) ،کابل پو هنتون ، دیار لس سوه یوشپیتم کال ، یو سلو اویایم مخ.

۲ـ اسراري ـ امانوف،ادبیات شفا هی مردم تا جیك،ازنشرا ت شورا ی فر هنګی پو هنتو ن کابل۱۳٦٤،ص ۳۸

۳ـ دزیات تفصیل دپـــــار ه وګورئ:

Gorky, on literature, op. Cit. PP. 228-30

د شمالي اروپا په هیوادو کې فولکلور پېژندنې زیاته پراختیا موندلې ده. په دغو هیوادو کې د عوامو د مادي فرهنګ بیلابیل مظاهر هم د فولکلور تر عنوان لاندې څېړل کېږي. د آلمان په دموکراتیک جمهوریت کې فولکلوري موزیمونه شته چې په هغو کې د کورونو سامان او لوازم، د کار افزار، او ډول ډول کالي، پسولونه او نور د خلکو لاسي صنایع ښودل کېږي. د کورونو د جوړښت سبک او د لرغونو ودانیو د جوړښت ډولونه، د بزګرانو او نورو حرفو د خاوندانو د کار آلات او افزار د فولکلور پېژندنې په ساحه کې راځي. په سکاندیناویې هیوادو او د شمالي اروپا په نورو هیوادو کې نه یوازې د فولکلور ټولنې په کار کې ډېر پرمختګ شوی دی بلکې د فولکلور پېژندنې په ساحه کې هم ډېر آثار لیکل شوي چې د هغو له جملې څخه په ناروې کې د هنریک ایبسن او په سویډن کې د هلتن کاوولوس لاکرلوف (اتلس سوه اوه پنځوس - نولس سوه څلوېښتم) آثار د خاصې یادونې وړ دي. هلتن کاوولوس لاکرلوف په نولس سوه نهم عیسوي کې د نوبل جایزه هم وګټله. ډنمارکي پوه (کیرستن سن) د لرغونې آریانا داسا طیر او نورو فولکلوري پدیدو په باره کې ژورې څېړنې کړې دي او په هغو کې یې دا ښودلې ده چې د پل صراط (آریایي - چنوات)، مهدي، شیطان او پرښتو نومونه له آریایي فرهنګ څخه د عبرانیانو فرهنګ ته ور غلي دي او د شکل له تغییر نه وروسته بیرته د آریایانو هیوادو ته راستانه شوي دي.

د فولکلوریستانو په کتار کې د (کارل کوهن) فنلینډي پوه څېړنو هم نړیوال شهرت ګټلی دی. د ده د کار زیاته برخه د افسانو تحلیل او بیا جوړښت ته وقف شوې ده.

د (مورګان) امریکایي پوه له نامه سره اکثر خلک آشنا دي. که څه هم لیوییس هنري مورګان (اتلس سوه اتلسم - اتلس سوه یو اتیایم) د فولکلوریست په نامه شهرت نه لري خو که فولکلور په پراخ مفهوم استعمال شي نو مورګان هم فولکلوریست بلل کېدای شي. مورګان او مارکس په یوه کال کې دنیا ته راغلي خو مورګان له مارکس (اتلس سوه اتلسم - اتلس سوه دري اتیایم) نه دوه کاله مخکې مړ

شوی دی . انگلس دمورگان په باب لیکلی دی چی هغه په ((خپله خاصه طریقه دتاریخ مادی مفهوم چی دمارکس له خوا کشف شوی و)) بیا کشف کړ (۱). دمورگان څیړ نو رښوده چی دتاریخ نه په مخکی دوره کی، دلومړی کمون ډیره اوږده دوره تیره شوی ده چی دتولید دوسایلو داشتراك په وجه، په هغه دوره کی طبقاتی تضادونه منځ ته وو راغلی . مارکس او انګلس دمورګان ډیره ستاینه کړی ده اوذ هغه له څیړنو څخه یی علمی استفاده کړی ده.

فکر کوم چی دنو مونو دیوه اوږده کړو نو لوجیك فهرست راغونه ول په مونږ دفولکلور ی ژوندیوو ارزښتمنو مسایلو له څیړ لو څخه لیری و ساتی نو له همدی امله ، په لویدیځ کی دفولکلو ر پیژندنی تاریخچه همد لته پرینږدم او په خپل هیواد کی دفولکلو ر ټولونی او پیژندنی پس منظرته یولنډ پیلوتی نظر اچوم.

په افغانستان کی :

ددی خبری اثبات چی ((په افغانستان کی فولکلور ی پدیدی شته او ی او شته دی)) دخلاصی دروازی دټکو لو مثال لری . اما د فولکلور پیژندنو نکو داستفا د ی دپاره په ځینی پدیدی معرفی کړو چی تاریخی او تیور یکی ارزښت ولری. دمثال په توګه ، په پښتنو نکلونو او اسطورو کی چی بی روحه شیان خبری کوی دلرغونی زمانی دانیمیزم ښکارا نی پاتی شوی دی. په ځینو نکلونو کی راغلی دی چی مثلا دتور دیو روح په مرغی کی و ، کله به چی دمرغی اورمین وایستل شو نو دتور دیو اور مړ به هم ماتیده . داعقیده ، دلومړی کمون له دوری څخه پاتی شوی ده چی دفولکلور دمنشا په بحث کی به په تفصیل سره شرح شی . همدارنگه په دی اسطوره کی چی وایی : ((په لرغونو و ختو کی د لمر نیکلی او سپوږمی تر مینځ جګړه وشوه څکه هری یوی یی ادعا کوله چی له هغی بلی نه ښکلی ده . لمرد سپوږمی پر مخ ایری ور وشیندلی او سپوږمی دلمر مخ په خاورو ولړه. لمر له خپل مخ نه خاور ی پاکی کړی او بیرته یی خپله طبیعی

1, A Dictionary of Philosophy, op. Ct., P. 300

بنسکلا ترلاسه کړه مگر سپوږ مۍله ډیره تاوه خپل مخ پا ك نه‌کړ او له دی امله تراو سه پور ی ددیږمخ داغونه لیدل‌کیږ ی)). یو ه لرغو نی عقیده بیان شوی ده .

دځینو کتبی اسنا دو په‌استناد، په آریاو یجه (ـ دآریاو جا ی)کی داسطورو او جا دو گر ی شته‌والی‌ثابتید لا ی شی .د (او یستا) په اوو لسم فرد کی له جادو گرا نـوځخه کر که بنود ل شوی‌ده (۱) صاد ق هدایت له دغی اود غســی‌نورو خبرو نه استنبا ط کوی چـــی:

((ول ی‌باید دا نست که یك‌قسمت‌این عادا ت و خرافا ت که امروزه‌در نظر جا معه ز شت و ناپسندمیایدبی‌شك فکر ایرانی آنهارا ایجـاد نکرده است بلکه در نتیجه‌معاشرت‌بانژاد ها ی بیگانه و به‌وا سطـــه فشار ها ی مذ هبی و خار جـــــی‌تحمیل شده است))(۲) .صاد ق هدایت دایرا ن ستر لیکوا ل دلته‌داتنو سنتر یز م ethnocentrism یعنی توکم لمانځنی تر اغیز ی‌لاندی‌راغلی دی چی په علمی لحا ظ‌د توجیه وړ نه‌گڼل کیږ ی .

په(ریگویدا) کی دنړ ی د پیدا ینبت اسطور ه راغلی ده .امداخبره جلبه ده چی په‌یوه مذ هبی کتا ب‌کی دپیدا ینبت (خلقت) په باب د اکثرو ستسیزم غبار خپور شو ی‌دی‌او اسطور ی پر جز می عقا یدو بناندی نه دی ولاړی .په (لسمـــه‌ماندالا ، ۱۲۹ سندره) کی‌د خلقت په‌با ب داسی بیان را غلی دی :

۱ ـ هغه‌و خت نه نیستی وه اونه هستی .
نه هواوه او نه‌آسمان چی له‌هغی‌نه‌پورته دی.

څه شی پټ‌وو، چیر ته ، اودچادحمایت په‌سیوری کی ؟
آیا نا پایاوه او به مو جـــو دی‌وی ؟

۲ـ په هغه‌و خت کی نه مړینه‌وه‌او نه همیشنی ژوند اونه د شپـی ور ځی نښه نښا نه .دخپل ځا ن‌په‌قوت یواز ینی فرد بی(دباد له) حرکته ساه ایستله .له ده پر ته بل‌شی وجود نه در لود .

۱ـ صادق هدایت، نیر نگستان،مو سسه چا پ وانتشا را ت امیر کبیر ، چاپ سو م۱۳٤۲، ص ١٤.
۲ـ همد غه اثر ،دولسم مخ.

٣- په لومړی سر کی تیاره په‌نیاره کی پته وه .
هیڅ مشخصه نښه نه‌وه ، هرڅیز ی او به‌وی.
هغه فرد دگر می په زور منځ ته‌راغی.
٤- په هغه فرد کی له هر څه‌مخکی غو ښتنه (خوا هش) پیدا شوه:
دالو مړی تخم‌و چی فکر دهغه‌محصول دی.
پوها ن چی په خپلو زړو نو کی‌دپو هی په‌مرسته څیز نه کوی دوجود قیدله نیستی (عدم) نه‌بو لی.
٦- څوک په یقینی تو گه‌پوهیږی‌او څوک دی چی هغه دلته بیان کړی؟
څیز نه پیداشو او په کوم ځای‌کی خلقت را مینځ ته‌شو ؟
آیا ارباب الانوا ع له خلقت‌وروسته راپیداشول ؟
نو څوک پو هیږی چی د خلقت‌سر چینه څیز ته ده .
٧ - هیڅوک نه پوهیږی‌چی‌خلقت له‌کوم ځا یه راو لاړ شو ی دی ؟آیاده ایجاد کړی دی کـه‌نه. هغه رب النوع چی پر لوړځای ناست او ناظر دی یواز ی هغه‌پوهیږی . یا داچی ښایی هغه به‌هم نه‌پوهیږی(١).

د(اویستا) په (بو ندا هیشن)کی‌دلو مړی انسا ن (کیو مر ث) یا (غر شاه) دپیدا ینښت اسطو ر ه دحضرت آدم (ع) دپیدا ینښت له قصی سره اود(ما نو) اسطوره د حضرت نوح (ع) له‌قصی سره ورته وا لی‌لری . (دمانو دکلمی‌ارتباط له ماهو (کښتی‌وا ن) ا و د انگریز ی له مین(سړی). سره فلا لوژ یکی څیړ نه غوا ړ ی).دکیومرث (گایه مر تن) یا(غر شاه)په‌اسطوره‌کی دتکا مل دنظریی ځینی بیلگی‌هم

١- گزیده سرودها ی ریگو یدا،ترجمه محمد رضا جلال نا یینی ، انتشارات امیر کبیر ، ایران١٣٤٨

لیدل کیږي چې فولکلور پیژندونکي یې باید په پام کې و نیسي.*
دلږ غو نو آریایي افسا نو په لړۍ کې دسا کې اتلا نو لکه زال، رستم، زرینه ملکه ، شیرك اوداسې نورو نږمونه دیادو لووړ دي .دکوشا ــ نیانو ددور ی د(ناگا) یعنې آ بې ازدها افسانه ډیر شهر ت لر ي چې په هغه کې د میتولوژ یکې څیړ نودپاره ډیر ارز ښتمن موادپرا ته دي لکه :دطبیعي پدیدو په مقابل کــې دانسان مبارز ه ، انترو پومورفیزم دتناسخ لومړ نی شکل ، اودا سې نور .
همدا رنگه ویل کیږ ي چې دلږ غو نو آریایانو له و ختو څخه ځینې منلونه او سندر ی هم پاتې دي چې دهغو څیړ نه او تحلیل ځا نگړ ی بحث غواړ ي . داسلام له خپر یدو وروسته زموږ په هیواد کې یــــو زیات شمیر افساني په نظم او نثرو لیکل شوي. دفردو سې شا هنا مه دفولکلور ډیره شتمنه خزا نه د ه.دفولکلور په اتنوگرا فیك اړ خ کې دابو ریحان بیروني (آثار البا قیه عن القرو ن الخالیه) ډیره ز ړ ه پوري کتا ب دی. دناصر خسر وپه آثارو کې هم ډیر گټور اتنوگرافیك معلو مات شته .
په پښتو ژبه کې دفو لکلـــــو رڅولو نی کار له خوشحال خا ن او دده له کور نی سره پیل کیږ ي . په(سوات نا مه) کې ده دیوسفز یو دوډونه ، انگیر نی ،او چلنبیلگـې په ژوره عالمانه تو گه څیړ لی دي.
(دتفصیل دپاره وگوری : اد بــې څیړ نی ، دننگر هار پو هنتو ن خپرو نه ، دیارلس سوه شپیتــم کال) دده (فا لنامه) د خلکــــــو دانگیر نو په باره کې یو مهم ماخذدی. خو شحال خان که څه هـــــم ظا هرا منظو مې افسانې نه د ي لیکلي خو خپلو زا منو ته یې په دې برخه کې سپار ښتنې کړي دي . صدر خا ن ختك دخپل پلار دغو ــ ښتنې په اساس ،د (آدم خا ن ا ودرخانی) دداستا ن په منظو مو لو لاس پوري کړ . دصدر خا ن دکارغټه ښیگڼه داده چې زیار باســــې

* که څوك غوا ړ ی په دی برخه کې مفصله څیړ نه و کړ ی نو له دغو منابعو څخه استفاده کو لی شي: او ستا ، تاریخ طبری ، مجمـــــل التواریخ ، دفردو سي شا هنا مــه دپو ها ند حبیبي د پښتوادبیا تو تاریخ(لومړ ی ټوك) ،دکو ثـــرغوریا خیل طو فا ن اوډ دو سپیـڅ شینوار ی (دپښتو داو لســــــې ادب لاری) او داسې نور .

خپل داستان دیوی ثقه او معتبری منبع په استناد و لیکی او په پا ی کې د(میرو) دزوی له خو لی نــــه روایت شوی بیا ن ته ترجیح و ر کوی. صدر خا ن پردغه مو ضو ع داسی رڼا اچوی:

تاتی نام یو یوسفزی و	حاجی خیل و ،بنه زلمی و
ماتری وکړ له پوښتنه	په دارنگ چې: ای داد منه
واقعه له مطر بانو	له یارانو قصه خوانو
په بل شان ومونږ ته کیږ ی	له تابل شان معلو میږ ی
ده وی ماله دی داستانه	تحقیق وکړ ډیر خو شانه
دمیرو قوال دپوره *	ماته شوی ده مز بوره
هغه ووی ، داتحقیق ده	نوره لیر ی له طریق ده

---

* پور دپښتو او دری مشتر که کلمه ده چې د(زوی) په معنا نارا ځی . د(تربور) کلمه په اصل کې(تره پور)ده یعنی دتره زوی . دلته یو جالب ټکی دادی چې صدر خان ختټــــك په تحقیقی مو ضو عاتو کی قو می تر بگنی یوی خوا ته پریږ دی اودی ته حاضریږ ی چې د یــــــوه یو سفز ی له خو لی نه قصه ولیکی اودیو سفز ی (آدم خا ن) اتلو لی (قهرما نی) وستا یی .ویل کیږ ی چې (آدم خان) په قوم میته خیل یوسفزی و اودجلال الدین اکبـــــر مغولی پاچا (نهه سوه دری شپیتم-یوزرو خوار لسم) په عصر کی ییژو ند کاوه. د (آدم درخانی) په نکل کی دشهباز خا ن ختټك نوم هم دځینو نکلچیانو له خو لی او رید ل کیږی. دخو ست داسمعیل خیلــه مشهور ټو کمار او نکلچی (ټیلی) شهباز خا ن دشو کمار او لا ر ی وهو نکی په نا مه یا داوه . د د ی علت دادی چې یوسفزیو له شهباز خان ختټك (دخوشحال ختټك له پلار) سره جنگو نه کړی دی نو ځکه دآدم درخو په نکل کی دده نوم په سپکه یاد شوی دی . شهباز خا ن ختټك لاری ساتو نکی و ، اوله احتمال نه لیری نه ده چې د آدم خا ن په قصه کی ده هم څه نقش در لود لی وی. شهباز خا ن د آکا خیلو یوسفزیو سره دجگړی په حالت کی په پښه کی په غیشی لگیدلی و اودهما غه ټپ له سببه مړ شو . صدر خا ن ختټك داامانتداری په خاطر د(تاتی)یو سفز ی له یادښتو نو څخه استفاده کوی.

دصدر خان او سکندر خان‌ختك‌نه‌نيو لی په‌بره پښتو نخوا کـــی دروښا نتيا (ياد مشرو طه‌غوښتنی‌دلومړی نهضت) تردوری پور ی‌او په‌لره پښتو نخوا کی دخدا يـــی‌خد متګارو تر نهضت پوری‌داستا- نو نه او افسانی فولکلوری بنـــه‌لری . حتی دمو لوی احمداو‌منشی احمد جان حکايتونه او کيسی هم‌دفولکلور په خم کی رنګ شوی‌دی.
دپښتو هنر ی ادبيا ت له سيـــدراحت الله را حت زا خيلی سره خپل فولکلوری رنګ بد لوی او په‌افغا نستان کی هم د داستان‌ليکنی نوی ژانر پيل کيږی .
دپښتنو دفو لکلور پيژ ند نی په‌برخه کی دانګر يز ختيځ پـــــوه (مو نټ ستهيوار ټ الفنستن) هڅی په خا صه تو ګه ديادو نی وړ دی. الفنستن او له ده ورو ستـــه‌بل انګريز (ميجر راور تی)روسی پوه (دور ن) او فرا نسوی پـــــوه(جيمز ډار ميستټر) په شعو ر ی‌او هد فمنده تو ګه دپښتنو د ملـــی‌کر کتر او ټولنيز ی سايکالوجی دپيژ ندلو په منظور د پښتـــــــوشفا هی ادبيا ت پلټلی او څيړ لی دی.
زموږ په هيواد کی دعلمی اوملی‌مقا صدو په اسا س دفولکلـــــور ټو لو نی هلی څلی دمحمود طرز ی‌له خواپيل کيږ ی. دطرز ی دد غی بدنی په اثر غلام محی الدين افغان‌دپښتو مشهور متلو نه را غو نډ او په سراج الاخبار کی يی چـــاپ‌کړل.
دکند هار دادبی انجمن ،او د کابل انجمن ادبی ، او پښتو ټولنی په اساسنا مو کی دفولکلور ټو لونی مو ضو ع ته‌پا ملر نه شوی ده. په دی لړ کی دکابل دانجمـــن‌ادبی له خواد (رهنمای فولکلو ر) خپر يدل يو اساسی کار ګڼـــــل‌کيږی .
په ديار لس سوه پنځلسم‌ه.ش‌کی دفولکلور پيژ ند نی په باره‌کی د(مردم شنا سی) تر عنوان لاندی‌دکابل مجلی په دری شپيتمه ګڼه، شپږم کال ، کی د محمد قديرتره‌کی‌مقالی د فولکلور ی مو ضو عګا نو په‌تصنيف کی دريسرج دپاره‌زمينه‌برابره کړه. ده په دری ژبه کی‌د فولکلور دپاره د(مردم شنا سی) کلمه مناسبه بللی ده او په‌تر کيه کی‌چی د(خلقيا ت)يا(حکمت‌عوام)او په ايران کی د(توده شنا سی)او

(فرهنگ عامه) کلمی دفولکلو ردپاره وضع شوی دی دقدیر تره‌کی پەنظر مقبولی نه دی .(دابایدوویل‌شی چی مردم شناسی له فولکلور پیژندنی سره یو څه ورته‌والـــی‌لری خو دفولکلور او مردم شناسی ترمینځ فاصله ډیره زیاته ده .لکه‌پخوا مو چی و یلی وو فولکلــور پیژندنه علم دی اما په خـــپله‌فولکلور علم‌نه دی).

د(مردم شناسی) په لیکلوسره‌محمد قدیر تره کی زمونږ په‌ټولنه کی دلومړی فولکلور پست لقـــب‌وگاټه. له دغی مقالی وروسته په دیارلس سوه شپاړ سم کی‌دسرورگویا پەزیار او ژباړ نی ســـره‌د (رهنمای فولکلور) رساله خپره شوه. ددی کار وا قعی انگیزه نه‌ده معلومه چی آیا (انجمن ادبـــی‌کابل) دخپلی پالیسی له‌نظـــره فولکلور ته توجه وکړه اوکه‌یواز ی‌دایی غوښتل چی دقدیر تره کی‌د معلوما تو ماخذو نه په‌گوته‌کړ ی.پویافاریابی په دی عقیده دی چی د قدیر تره کی دمقالی ،دسرور گویاد(رهنمای فولکلور)دژ با ړ نی اود صاد ق هدایت‌د (راهنمای گردآوری‌فولکلور) ترمینځ شبا هت دو مره زیات دی چی ښایی ټو لو له یو ی‌سر چینی څخه اوبه څښلی‌وی.(۱) نوموړ ی داهم وایی چی دفولکلو رپیژ ندنی کارپه افغا نستا ن کی‌له ایران نه مخکی پیل شوی دی اوددی احتمال هم نه‌شو نفی کو لی چی صاد ق هدایت له افغانی‌منابعوڅخه په الهام اخیستلو سره‌دایرانی فولکلور دټو لولو پەفکر کی شوی‌وی.

دپښتنو دفولکلور ټو لو نی په‌برخه کی محمدگل نوری‌د(ملـــی هینداری) په لیکلو اود ځینو نو روفولکلور ی موادو په راټو لولوسره ستر خدمت ترسره کړ. ده دکاریوه غټه ښیگڼه داده چی په‌فولکلور ټولنه کی یی دامانتدار ی خیا لساتلی دی . ده په دی باره کـــی داسی ویلی دی:

۱ــ پویافاریابی ((ویژه گـــی‌پژو هشها ی فولکلوری‌درافغـــا نستان))، مجله فرهنگ مردم ، شماره ۳ــ۴، سال هفتم ،۱۳٦٤ ، ص ۱٦٦ .

دامیانو خه لیکلی ماکیسی دی
دمینو ښی خو ږ ی ناری پکی‌دی
نه زیاد ت او نه کمبود می پکی‌کړ ی
د همهغه نکلچی دخو لی جملی‌دی
دا قصی خلك په ډول ډو ل کړینه
څوك وای داسی څوك وای داسی‌یی ناری دی
که‌څه زیات یاکم غلط درسی په‌سترګو
عفوه غوا ړ م ځکه داد بل د خولی دی
محمد گل نوری له دغه فخر بس‌دی
لڅی کړی یی دپښتو خد مت‌ته‌پښی دی

ویل‌کیږی چی د(ملی هیندار ی)په دو هم چاپ کی ځینی عا میا نه جملی دقلم دعفت په‌پلمه((اصلاح))شوی دی او اصل ته تغییر ورکړ شوی دی .دځینو (پوها نو) په‌نظردتصر ف یا حذفولو مو ضو ع‌ډیره جدی نه‌ګڼل کیده (چی‌یو مثال یی‌دحمید نیر نگ عشق او بل مثا ل یی دخوشحال رباعیات دی.) له بده‌مرغه ،په خپله محمدګل نوری هم نکلچیا ن‌نه دی معر فی کړ ی اوله‌موضوع سره یی پوره میتو د یك برخورد نه دی کړ ی. سره له د ی‌دهغه وخت په شرایطو کـــــی دده صمیمیت اود امانتدار ی خیال‌دقدروړدی.

دپښتو ټو لنی په جوړ یدو سره‌دپښتو فولکلور ته هم خا ص ځای ورکړ شو اودد غی مو سسی په‌اساسنا مه کی دفولکلور ټو لو نی مو ضو ع هم شا مله شوه . په اساسنا مه کی دفولکلور څخــــه مراد په عمده تو ګه لفظی فولکلور(شفا هی ادبیات)وو امادپښتنی دو دو نو په‌باره کی یی هم خپرونی‌کولی .ددغه و خت د پښتو پـــــه فولکلور ی څیړ نو کی داتنـــــو سنتریز م دځینو نښنا نو تــــــر سترګو کیدل کا ملا طبیعی اودفهم وړښکاری ځکه هر قوم د خپلـــی ویښتیا په‌لومړ یو پړاوو نو کی‌دخپل معنو ی فر هنگ ښیګڼو ا و مثبتو اړخو نوته متوجه کیـــــږی‌سره له دی ((طبیعی توب)) باید له ((حق په‌جانب تو ب)) سره یوشا نته او مترادف ونه ګڼل‌شی .

له دیار لس سوه پنځلسم ه.ش‌کال څخه تر دیار لس سوه یـــــو پنځوسم ه.ش کال پوری دفولکلورټو لونی او پیژ ند نی په‌بر خه کی

زیاتی مقالی او ځینی مستقـــل آثار چاپ شول چی دح.ر. پـــه (پښتو پانګه) کی دپښتودفولکلوری آثارو مفصل لست د مینه وا لـو کتنی ته انتظار باسی . امادفولکلو ری معلوما تو دتحلیل اود فولکلور څیړ نی دمیتودو لوژ ی په باره کی‌دننه په هیواد کی دیادو نی و ړ اثر نه دی لیکل شوی .دشوروی اتحاد ځینو پو ها نو لکه اسلانوف، عزیز نیالو ، دوو ریا نکوف ، لیبیدوف ، عبد الحفیظ غنی یو ف، او عارف عثمان دپښتو فولکلور په‌روسی ژبـه معر فـی کـــړی او تحلیلی لیکنی یی ور باندی کړ ی‌دی.

ددیار لس سوه یو پنځو ســـم‌کال ددلوی په میاشت کی داطلاعاتو او کلتور دوزار ت په‌تشکیل کی‌دفولکلور څو لنی تاسیس‌و منل شو اوپه دیار لس سوه دوه پنځو سم کال کی یی رسما په‌کارپیل وکړ. دغی‌څو لنی دخپل تاسیس په‌اومړیودرو میاشتو کی‌و کولای شول چی‌د (فولکلور) په‌نا مه مجله اود(قصه‌ها او افسانه ها) او (پښتنی ملی انهونه او نخاوی) په‌نا مه دوه‌اثره‌چاپ کړ ی .

دثور د ملی دمو کرا تیـــک‌انقلاب له بریا لیتوب وروسته د (فولکلور) مجلی نوم لومړی پـــه(فر هنګ خلق) او بیاپه (فر هنګ مردم) وا ړول شو . او س‌د(فرهنګ‌مردم) مجله په دوو میاشتو کی‌یو ځل دافغا نستا ن دد مو کرا تیک‌جمهور یت ددو لتی کلتوردکمیټی دکلتور ریاست د(آمریت فر هنګ‌مردم و بنیاد فولکلور افغا نستان) له خوا خپریږ ی .د(فر هنګ‌مردم) مجلی د خپل تاسیس کال دیارلس سوه اووه پنځوسم کال ښود لی‌دی‌او له د ی‌څخه ښکار ی چی دغه‌مجله د(فولکلور) د مجلی ادا مه نه ګڼله‌کیږی .سره له دی . د (فر هنګ مردم) په مجلی کی داسی‌عبارتونه هم‌ترسترګو کیږ ی :((در آغاز سال ۱۳۵۲ انجمن ادب و فولکلوردر چوکا ت وزارت اطلا عا ت‌وکلتور وقت تاسیس ګر دید . او لیـــن‌شماره مجله فولکلور که اکنو ن‌به نام فر هنګ مردم یاد و نشرمی شود در جوزاو سر طا ن همین‌سال انتشار یافت))(۱).

۱ـ فر هنګ مردم، شماره ۳ـ۴سال هفتم ، حمل ـ سرطان۱۳۶٤، ص ۱۷۰ .

اوس دافغا نستان دد موکراتیک جمهوریت دعلومو اکاډمی د ژبو او ادبیاتو په مرکز کی د فولکلور ډیپارتمنت دفولکلوری موادو په را غونډولو او فولکلورپیژندنی باندی کار کوی. همدا رنګه دکابل پوهنتون دادبیاتوپه پوهنځی کی دفولکلور پیژندنی مضمون تدریس کیږی . دکابل پوهنتون دفرهنګی شورا له خوا هم دفولکلور پیژندنی په ساحه کی ځینی کتابونه چاپ شویدی چی تیور یکی برخه یی لږه او د فولکلوری موادو برخه یی زیاته ده. په مجموع کی ویلای شو چی تراوسه پوری زموږ په هیواد کی دفولکلور پیژندنی په باره کی کومځانګړی اثر نه دی چاپ شوی .

دغه حاضر کتاب په دی لاره کی لومړنی کوشش دی چی د منابعو نشتوالی له امله دموڼف کار لهستونزو سره مخامخ دی. خو بیا هم زیاراېستل کیږی چی له خورووړو منابعو : انسایکلوپیډیاو ، ادبی قاموسونو ، سوسیولوژیکی قاموسونو ، متفرقو مقالو، اود کتابونو له ځینوفصلونو څخه په استفادی سره د(فولکلورپیژ ـ ندنی) په باب رساله و لیکله شی، د سمون او بشپړتیا کاریی نورو څیړونکوته حواله کوم . له بده مرغه، تراوسه پوری دفولکلوری معلوماتو دلیکنی په برخه کی میتودیک کار زماله نظره نه دی تیر شوی . فولکلوری لوونکی دمعلوماتو منبع ، راویان ،نکلچیان او نور نه معرفی کوی، دمعلوماتوداعتبار او باوری توب دپاره سامپل نه انتخابوی ، په همدی ترتیب هغه اتموسفیر ته چی معلومات پکی راغونډ شوی دی او همدا رنګه دریسرچ تکنیک او داسی نور و تحقیقاتی لوازمو ته اشاره نه کوی.په دی اساس ، زمونږ دفولکلور ټولونی مواد دقناعت وړ نه دی .داوضع باید هرو مرو تغییر وکړی، کهنه احتمال لری چی دمشکوکو موادو په ثبتولو کی دګتی پرځای تاوان ورینو.

دریم څپرکی
د فولکلور څیړنې نظریې

دفولکلوری معلو ما تو data له را غونډ ولو ورو سته د هغـود تحلیل او ترکیب پو ښتنه راو لاړه‌شوه. ان په اتلسمه پیړ ی کـــی فرا نسوی مفکر (ولتیر) ویلی ووچی دتاریخی معلو ماتو را غونډول هیڅ ارز ښت نه لری تر څو پوری‌چی ددغو معلو ماتو تر شا عوا مل او فلسفه‌ور سره شر ح نه‌شی .په‌نو لسمه پیړی کی د معلو ما تو د کره کولو او په سا ده تو آگـــــه‌تنظیمو لو په ځای دتحلیل ترکیب، او تفسیر عملیو ته زیاته پا ملر نه‌وشوه . په همدی اسا س ، په‌فو- لکلور کې لو نه پسی جو خت د فولکلور ی موادو دتفسیر اوتیو - ریزه کولو هڅی پیل شو ی . په‌لومړی سر کی د ټو لنیز ی انترو پالو جی او فولکلور څیړ نـی تـــرمینځ څرگند توپیر نه لیدل کیده. دوا ړو بشری کلتور مطالعه کاوه‌او دواړه د خپل و خت دتکا ملی نظریو تر اغیزی لا ندی را غلی‌وی. E. S. Hartlant و لیکل چـــی فولکلور هغه انترو پالو جی ده چی‌له‌تمدن نه دبیرته پاتی شـــو ی uneivilized انسا ن رو حیا تـــی‌څیړ نه پر مخبیایی .

دوخت په تیر یدو سره فولکلور یستا نو دخپلی مو ضو ع سا حه محدوده کړه او لفظی فولکلور ته‌یی مخه کړه . په لفظی فولکلور کی او لسی سندری ، نکلو نه، متلونه‌دپند خبری او کیسی (چیستانونه) مطالعه کیږ ی . په‌نیمه لفظـــــــی‌فولکلور کی ډرا می ، نڅا و ی ، دو دو نه ، خرافا ت او لوبی راځی.غیر لفظی فولکلور دکلتور دماد ی

ایږغ لګه دښکار او ګار افزار ، معمار ی او ښکلی هنرو ته احتـوا کوی.

دفولکلور دمنشا او انکشا ف په باره کی یو څو مهمی نظریی دادی:

۱ـ اسا طیری نظریه :

داسا طیری نظر یی له ور اندی کولو نه مخکی باید اسطور ه وپیژنو اود ایپیك ژانر له نورو ډو لو نوسره یی تو پیرو نه څر ګنـــــد کړو.

اسا طیر داسطور ی جمع ده .په انګریزی ژبه کی اسطوری تــــه myt او علم الاسا طیر تــــه my thos ویل کیږی .د myth کلمه دیو نانی ژ بی لـــه mythology څخه مشتق شوی د ه چی په لومړ ی سر کی دهر ډول کیسی په ما نا استعما لیده. خو ورو ستنه دهغی مفهو م له نکلو نو Folk-tales څخه تر یـــو ی اندازی پور ی جلا شو . په داسی حال کی چی نکلو نه زیاتره دتفنن او ساعت تیر ی دپاره ویل کیږ ی،اسطوری مقدسی کیسی دی چـــی عملی هد فو نه لری. دپر نسیـــپ له مخی اسطور ی دمافوق الطبیعـــی مو جوداتو ، اودپیښو او شیا نو مبدا او منشاء څر ګندو ی او په هغو کی دجها نی او دا یمی ارزښت لرو نکو پیښو په باره کی توضیحات ورکول کیږ ی لکه دارباب الانوا عو کړه وړه ، دځمکی او آسمان پیدا ـ ښت ، نری ته داور ، مرګ ا وداسی نورو پدیدو راتګ ، دښه او بدترمینځ مبارزه، له مړ ینی وروـــسته حالات او داسی نور .د لرـ غو نو و ختونو دپیښو په بیانو لوسره اسطور ی دمافوق الطبیعـــی مرئدی sanction دمنلو دپار ه زمینه برا بروی اود متداو لوشعایرو عنعنوی سلوك، دودو نو ،اوقبایلی تعاملا تو دتایید دپاره شوا هـــد او سابقه (یاتعا مل precedent پیدا کوی او په دی تو ګه دټو لنی یاقبیلی دیووا لی او استقرارسره مرسته کوی . په دی اسا ســـس، داسطور ی اصلی هدف توضیح اویاد استعجا ب درو حیی تسکین نه بلکی تلقین اودایما ن استحکام دی.اسطوره لفظی فولکلور دی او لــــه همدی امله دمذ هبی شعا یـــروسره چی عملی اړخ لری ،په خپل مفهو م کی توپیر لری .اسطو ری دتاریخ په لومړ یو پړاوو نو کی

دخیالی (فانتا ستیک) ایماژو نـــو(لکه ارباب الانوا عو ،افسا نو ی اتلا نو ،غتهو پیښنو) پهوا سطـــهدطبیعت او تهو لنی دپد یدودتوضیح او تعمیم دپاره را مینځ تـــــهشوی.

کهځه هم (افلاطون) داسطو روپهباب دفکر نیلی څغلو لی دی خود اسا طیر ی نظر یی بنسټایښنو دو نکی Euhemerus دی چی د قبل المیلاد په څلور؛مه پیړ یکییژو ندکاوه . ده وو یل چی د یونان ارباب الا نواع په اصلکـیبشر ی مو جودات وو چی د خپلـو قهرما نیو لهبر کته له انسا نیتځخه دالو هیت مقام ته پورتهشول لکه د مصر فر عو نا ن اود رو م امپراتوران (۱) .

پهنو لسمه پیړ ی کیداسا طیرینظریی نا متو استازی Max-Muller (اتلس سوهدرویشتم ـ نولسسوم)دی. ماکسمیو لر دآریا یی ژ بو د مقایسو ی څیړ نی په تر څ کی دینتیجی تهور سید چی میتولو ژ ی دژبو نارو غتیا اود کلما تـــــوپاتالوژ ی Pathology ده په دی مانا چی د هندو اروپا یی ژ بـــوویو نکی په ډیرو لر غو نو زما نو کی لهیوه ګڼ تاتهو بی څخه نو روسیمو ته ولیږ دیدل خـــــــــو ددغو خلکو په ژبو کی دوا حد ی‌پلر نی ژبی څینی آثار پاتی شول چی دو خت پهتیر یدو سره یـــیاسا طیر ی بڼه پیداکړه. دمثا ل‌په تو ګه ، په ابتدا کی یو اتل یا غیرعادی شانته سړی په نکلو نو کی یادیږ ی،څه موده ورو ستـــــه دده بشری هو یت او مشخصا ت‌د ابهام پهغبار کی پټیږ ی اوپه پای‌کی دمافوق الطبیعی ذا ت په شکل تبارز کوی‌په تیره که د اتل نوم‌دکوم حیوا ن له نا مه سره ور ته والی و لری.

دماکس میو لر نظر یی پهلومړیوختو کی ډیر پلویا ن پیداکړل . ددینظر یی ما هیت داو چیدطبیعتدپیښنو او قواوو پهبا ب له انګیر نو او عقیدو څخه دارباب الانوا عو پهباب اسطور ی پیدا شوی دی . اسطورو پیژ ندو نکو هڅه کوله‌چی دافسانو او حماسو له تل څخه

---

1. Joseph T. Shipley, op. Cit., P. 276.

دطبیعت دبیلا بیلو پیښنو (لکه تالنده او بر یښنا ، رڼا او تیاری، رمز لو ، تو فا نو نو او نورو) په باب دلر غ ونیانو انګیر نی اوبا- ړرونه سطحی ته راو باسی .دمثال په توګه ، دا ساطیری نظریی پلویانو له ښامار سره داتل جګړه دلمر اووړځی ترمینځ دجګړ ی په تو ګه تعبیرو له.

یاکوب ګریم Jacoh Grimm دژرمانیك کلتور دریښو دپیدا کولو په منظور داروپایی نکلو نو یوه په زړه پوری مجمو عه ترتیب کړه او غیر طبیعی او نا معقول عنا صریی چی په دغو نکلو نو کی لیدل ،هغه یی داسی تفسیر کړل چی نکلو نه په اصل کی کیسا نی مر موز ی کیسی allegories د ی چی مذ هبی معنایی ورو ورو له لا سه ورکړی ده او خیالی (فانتا ستیك) عنا صر یی دمبالغی په بڼه پا تی شوی دی *

کارل ګو ستا ف یو نګ C. G. Jung داسطور ی داروا یی(سایکا لو - جیك) ریښنو دڅیړ لو په تر خ کی دماکس میولر دنظر یی هغه بر خه چی په اسطو رو کی د((وحشی ،بی مفهو مه او احمقانه)) عنا صرو په توګه یادیږ ی ،په کافی انداز ه تو ضیح کړه .

اساطیری نظر یی سره له د ی چی دعلمی تفسیر له پیاوړ تیاسره مر سته وکړه خود ځینو دلا یلو پر بناله پښنوو غور ځیده .لو مړ ی دلیل به یی بنایی داندرو لا نګ Andrew lang انتقاد وی چی په څپلو څیړ نو کی یی داو ښودله چی اسطور ی یواز ی په آریا یی نژاد پوری اړه نه لری او دآنه شی کیدای چی تو لی اسطور ی د((ژبنی نارو غتیا)) دفر ضیی له لا ر ی تو جیه کړ و. دو هم دلیل یی دادی چی ددی نظر یی دپلو یانو تر مینځ دنظر توا فق Consensus نشته او هما غه یوه اسطور ه دبیلا بیلو میتولو ژیستا نو له خوا په مختلفو

---

* Allegory په لغت کی په مستتر ډول او تر پردی لا ندی دیوه مطلب څرګندولو ته و یل کیږ ی . په ادبیاتو کي الیګور ی رمز ی داستان دی چی دمجاز ی معناتر شایی حقیقی معناپټه و ی. دتمثیل له لاری حکایت هم ور ته ویل کیږ ی .((مخلوطه الیګور ی څبښ شوی افکار شرح کوی.))

ډولونو تعبير شوى ده . نو كله‌چې‌داساطير ى نظريې پلو يا ن‌په خپل
مينځ کې توافق ته‌نه‌و ى‌رسيدلى څنګه کيداى شي چې دعلمى نظريې
په‌بڼه دائبات په ډګر کې ودريږى.دريم دليل يې داو چې داسا طير ى
نظريې سايکالو جيکى مفسرا ن اسطور ه دانسا ن دسايکالو جـــى
محصول بو لى او له همدى سببه‌اسطورى ته ديو ى‌ابدى پد يدى‌په
نظر ګور ى . لومړ ى‌خو بايد داووايو چې دانسا ن طبيعت ياسا ـ
يکالو جي له تاريخي څو لنيزجريان‌سره اړه پيداکوى ، انسان کو م
ثابت‌اولايزاله طبيعت نه لرى.دوهم‌داچې اسطور ى دلرغو نيا نو په
ژو ند کې اغيزه در لوده ،لرغونيانوپر هغو عقيده در لوده خو او س د
سا ينس دانکشا ف له بر کته پراسطو روباندى باور کم شو ى‌دى
او لاپسى کميږ ى .څلورم دليل‌چې‌هغه هم د دريم دليل په شا ن دى،
دادى چې داسا طير ى نظر يــى‌پلويانو دټولو او سنيو افسا نـو
او روا يتونو منشا په لر غو نووختوکې لټو له اود خلکو نو ښتګر ى
او ايجاد ياتو ته يې لږ ارز ښــتـور کاوه په داسى حال کې چې هر
عصر له خپلو اړ تياوو او غوښتنوسره سم‌نوى آثار او افکار ايجادوى
زړى مفکور ى چې دنو ى عصـــراړ تياوو ته جوا ب نه شى ور کوى
دذهن له تحويلخا نى نه ددا غمـــه‌شيانو په‌توګه ايستل کيږ ى . د
روسيې انقلا بى دمو کرا تا نـــولکه چر نيشفسکى او دو بر ليوبوف
او نورو په اسطو ره يې نظر يـــه‌باندى د هغى دلر غو ن نمانځنـــى
دخصلت په خا طر حمله وکړ ه،هغوفکر کاوه چې دغه نظر يه‌بز ګرا ن
داو سنى ژو ند له شرايطواومبارزى‌څخه‌اغفالوى اوددوى پام تيرى‌زمانى
ته‌اړوى.

۲ ـ مقايسوى ـ تاريخي يـــاداقتباس نظريه :

فولکلو ريستا ن دنکلو نو ا واسطو رو درا غو نډولو په تر څ‌کې
دى ټکې ته متوجه شو ل‌چـــى‌دمختلفو مليتونو او قبيلو په روا ـ
يتو نو او افسانو کې يو له بلــه‌ډير زيا ت ور ته وا لــــــــى
ليدل کيږ ى . دوى د مقايسى لـه‌لار ى په اسطو رو او مذ هبى‌عقيدو
کې‌زيا ت مشابهتو نه ومو ند ل ا وداسى مفکوره راپيدا شوه چـــى
فر هنګى پديدى لکه دو نى‌دشاخونواو څا نګو په‌شان مستقله وده نـه
کوى بلکې دآسما ن داوريځو په‌څير له يوه‌ځايه بل ځا ى ته حرکت‌کوى

او ځینی ټوټی یی داور یځــــــوله‌نورو ټوټو سره گډ یږ ی . له‌دی
ځابه داقتبا س یا خپریدنی Diffusion
نظریه‌باب شوه . دفو لکلوری‌نکلونواو پد یدو له ور ته وا لـــــی او
مقایسوی څیړ نی‌څخه دا نتیجـــه‌لاس ته راغله چی دیو ریشیا ا و
افریقا (په تیره دافریقا دشما لی‌برخو) دفولکلور سر چینه یوه ده.
ځینو فولکلوریستا نو کوښښــــوکړ چی دپر تلنو په نتیجه‌کـــی
اصلی (اوریژ ینال) بڼه کشف‌کړی‌ځینو نورو دد غو پدیدو داصلی‌ځای
او منبع دموندلو دپاره هلی ځلـــی‌وکړی.دیو شمیر فولکلور یستا نو
په‌عقیده د هندخاور ه اود ځینـــونورو په‌نظرد (فرا ت) واد ی دد غو
پدیدو مبدا ده . که چیر ی‌دحضرت‌آدم (ع) دپیدایښت قصــــــه د
(کیو مر ث یا Gayamartan دپیداکیدو له اسطوری‌سره دحضرت
نوح(ع) د وخت‌د تو پا ن قصـــه‌د(مانو) دو خت دتو پا ن له اسطوری
سره ، دپل صرا ط په‌باره کی‌عقیده‌د(پل چنوا ت) له‌زردشتی عقید ی
سره ، اود پر ښتو او مهد ی‌آخرالزما ن په‌باب عقیده دزر دشتی دین
له‌پر ښتو او ورو ستی منجی(نجات‌ور کوو نکی) په‌باره کی له عقیدی
سره پر تله شی په هغو کی پــــه‌حیرانوو نکی ډول شبا هتو نه‌لیدل
کیږی . ډنمار کی او ستا پیژند ـونکی (کریستنسن) په خپـــــل
اثر (ایرا ن در عهد ساسانیان)کی‌داسی نظر څرگندوی چی یو زیات
شمیر اسطو ره یی او تیو لوجیکی‌مفهو مو نه او مقو لی دیهو د ی
سوداگرو په واسطه له آریا نی ژبوڅخه عبرانی ژبی ته ور انتقال‌شوی
دی. ((دروسی ژبی فولکلوریستان‌دجهانی فولکلور له پر تلینـــــی
او مقایسی نه ورو سته دی نتیجی‌ته‌رسیدلی دی چی درو سی ژ بی‌د
فولکلور یکو آثارو د مضمو نااوروح‌دوه دایمی بر خی دنړ ی دنو رو
او لسو نو په فولکلور کی موندل‌کیږی او پاتی یوه دریمه بر خه‌یی
هغه دعنعنی له مخی دو مره لرغونی‌نه ده او اکثر یی دهغه او لســـ

۱ـ څیړ نوا ل دو ست محمد دو ست ، دپښتو داو لسی اد ب
لاری ، پښتو ټو لنه ، کابل‌دیارلس‌سوه شپږ پنځوسم کال ، پنځه ـ
ویشتم ـ شپږ و یشتم مخونه .

دژو ند او ژ ږ ی‌پوری ا ړه‌لری))(۱) داسطو رو myths او افسانو Legends په نسبت‌نکلونه Folk-tales ژراوزیات خپرین ی ځکه چی نکلو نه‌داسطوروپه انداز ه په محلی کلتور پور ی تړلی Culturebound نه دی . د اسطو رو په خلاف ، نکلو نه لــه مذ هبی شعایرو ، دطبیعی پد یدودتوضیح او له تاریخ سره زیا ت پیو ندنه لری او له همدی امله‌دیوی‌سیمی نه بلی سیمی ته‌په آسا نی سره انتقالیدا ی شی .

په نکلو نو کی دا سی حا لا تاو پیښی بیانیږ ی چی اوریدو نکی ته نا آشنا نه ښکار ی . ښا یی عمده علت به‌یی داو ی چی نکلو نه دفیو ډالی او ماقبل فیو ډا لی ټولنودمناسبا تو په غیږ کی پالل شوی او په‌کافی اندازه سا ده اودفهم وړدی. په دغوکیسو کی عمده‌مو ضوع پر ستو نزو باندی بریا لیتوب دی‌چی کله په عاد ی ډول او زیاترمد مافوق الطبیعی یا مر موزو قوتونوپه مر سته حل کیږ ی اودناکا می

په‌صور ت کی ترا ژیك بڼه غور ه‌کوی . افسانی په اصل کی‌د ټاکلو سیمو داتلا نو کیسی دی چی پــه‌لوړی سر کی سیمه ایزخصوصیات لری خو ورو سته دانتقا ل په‌و خت‌کی د هغو شکلونه بدلیږ ی.افسانی زیاتره تاریخی رنګ لری اوپه‌همدی‌اساس دغه و جیز ه مشهــــو ره شوی ده چی په افسا نه کی تاریخ‌او په تاریخ کی افسانه شته.(ځینی کسا ن دغه‌و جیزه و یکتورهو ګوته منسوبوی) . افسا نی دانتقا ل یادو خت له تیر یدو ورو سته خپل‌اتلان مافوق انسانی مقام ته‌پور ته کوی. دا هم بایدووایو چی په ځینوموارډو کی دافسانو او نکلو نوتر مینځ توپیر مشکل بریښی ا وفو لکلوریستا ن کله یودبل پر ځا ی استعمالوی *خوپه عمو می صور ت‌افسانی تاریخی ډو له کیسی دی

---

* زمو نږ په هیواد کی لا تــــراو سه ادبی اصطلا حا ت کره شوی او معیاری شوی نه دی . نو دغلطفهمی دلیری کولو دپاره می اکثر وختو نه دانګریز ی ژبی معاد ل اصطلا حا ت راوړ ی دی خو لو ـ لوستو نکی‌و پو هیږ ی چی ماد غه‌اصطلاح په کوم مفهو م استعما ل کړی ده.

چې دهغو په با ب لیکلي اسنا د اوشواهد نه وي موجود او صحت اوسقم یې نه شي څیړل کیدای. په پخواو ختو کې افسا نې زیاتره داو لیاوو او بزر گانو په باره کې ویل کیدې . ددغو توضیحا تو نه ورو سته ویلای شو چې نکلو نه داسطو رو او افسانو Legends په نسبت دانتقالیدو دپاره زیــا ت استعداد لري.

داقتباس یا خپر ید نې (تاریخي-مقایسوي) مکتب نیمگړ تیا داده چې پر مشا بهتو نو باندې زیاته تکیه کوي ،دملي ایجادیاتو پراصا لت باندې ستر گې پټوي او له ملي -تاریخي قر ینې څخه یې لیر ي کوي. داقتباس دنظر یې نا متو مدافعان بنفیه ، ملیر ، بو کیف او نوردي. تیبور بنفیه Thedor-Benefey دمثال په توگه ، عقیده در لوده چې ټو ل نکلونه له هند څخه خپاره شو ي دي. خو ورو سته انترو پالوجیستانو دانظریه ونه منله او دایې و ښوده چې اکثري مفکوري چې په نکلو نو کې سره ور ته ښکار ي، مستقلي ریښې لري (ددې نظریې دلا یـــل به دبشر پیژ ند نې په نظریه کې شرح شي.)

تاریخي نظریه :

دهو مري ، آر تري ،شا هنامه یې دوله اتلانو په با ب مور خانو ، د دې اصل پر بنا چې ((تاریخ په افسانه کې او افسانه په تاریخ کې شته)) زیار ایستلی دی چې دهغو اصـــل او ریښې پیدا کړي. په دې برخه کې څیني کوښښنو نه نتیجې ته هم رسیدلي دي او داخرگنده شوې ده چې څینې افسانوي اتلان واقعــي شخصیتو نه وو خو ورو سته هغو ته داسې صفتو نه منسوب شول چې په دیوانو ، ښاپیریانو ، ا و ماورا ی طبیعي مو جوداتو پورې اړه لري. دمثال په توگه ، رستم دشا ـ هنا مې یو مشهور اتل هسې تش خیالي نوم نه دی . ورو ستیـــو څیړ نو ښودلې ده چې رستم دساکو دقبیلې یو پهلوا ن و . دده نو مپه بهمن یاشته کې دعر بو دتیر یو په مقابل کې دیوه مبارز اتل په توگه یاد شوی دی . همدا رنگه پــــه ((یاد گار زریران)) اود((درخت آسو ریك)) په قصیده کې دده نوم راغلی دی .د منځنې پارسي پـــه (شهنا مه ایرا ن) کې رستـــــم دسیستا ن وا کمن بلل شوی دی

چې دفراه او زابلستا نښارونه‌یې ودان کړی وو . (وګ.د پښتــــو داو لسی ادب لار ی ، لسم مخ).

په‌پښتو کې دآدم خا ن اودرخانی‌کیسه چې وروسته دنکلچیانو له‌خوا مبالغی پکې زیاتی شوی دی ،یوه‌رښتینی کیسه ده چې صدر خا ن خټك‌د(تاتی) یو سفری له خو لی‌په‌نظم کړی ده . داکیسه ورو سته په پښتنی قبیلوکی ډیره مشهور ه‌شوه‌او ځینو نکلچیانو هغه دافسا نی مقام ته‌ورسوله .*

*د خو ست مشهور ټو کمــــاراو نکلچی (ټیلی) به‌د(آدم خا ن‌او میرو ګی) په‌نا مه‌د غه کیسه په ځوشپو کی ویله . داوړ ی په شپــو کی به په لسګو نو ځوانا ن اوسپین‌ږیر ی په‌جمع (دیره) کی راغو نډ یدل ، په‌کټو نو کی به خلك‌ناست‌وو. څو تنه خو ش آوازه ځوانا ن به دنکل دنارو دغبر ګولو دپاره دنکلچی سره نږ دی کیناستل. کیسه به‌په ډیر هیجان ویل کیده . چلم‌به‌څکیده او اوبه به په خلکو پسی ګر ځیدی . کیسی به دسپیـــــدوتر چاو دیدو پوری دوام کاوه . (ټیلی) دقهرما نی نقش (میرو)ته‌سپارلی وو چی کله به‌یی د میرو ګل یاد میرو ګی په نا مه یاداوه‌چی‌آدم‌خا ن به له مشکلاتو سره‌مخامخ شو نو میرو ګی به دتوری په زورآدم‌خا ن خلاصاوه . میرو ګی به په یوازی ځان زر ګو نو میړو نو ته‌ماته‌ور کوله اودده آس (مجنو ن) به‌سل ګزه ټو پ و هلی شو.

(ټیلی) یوه شپه د آدم خا ن دوژل کیدو قصه وکړ ه . ټو لوخلکو وژړل . یوه سړی ته چی له ډیر ه‌غمه دشپی خوب نه‌و ،ور غلی سبا یی ټوپك راواخیست او (ټیلی)ته‌یی‌وو یل : تاو لی آد م خان مړ کړ آیا آدم خا ن دو ژلو سړی و ؟ په‌خدای که‌بی مړ ګه دی‌پرینږ دم.
ټیلی ور ته وویل :صبر که،بیځایه‌می مړنه‌کی ، هغه خود لوی‌پیر په دعابیر ته ژو ندی شو . نن شپه‌به‌که خیروی دده دبیاژ و ندی کیدو نکل درته‌و کم . په دی‌تو ګـــــه(ټیلی) خپل ځان دمر ګ له‌تهدید نه‌بچ کړو.

له دی خبرو نه دا هم جوتیږی‌چ ی‌عوا م خپل قهرما ن‌نه‌پریږدی چی له ماتی او نابودی سره مخا مخ‌شی .

دنو لسمی پیړی په ورو ستیوکلو نو کی تاریخی مکتب په‌روسیه کی ډیر اهمیت پیداکړ. فولکلو ریستا نو په نکلونو او افسانو کی ځینی تاریخی حقایق وموند ل اوله‌خپلو څیړ نو څخه یی یو څه مثبتی نتیجی تر لا سه کړی. اما ددو ی‌په‌کار کی دوه ډوله نیمګړ تیاو ی لیدل کیدی . یودا چی هغوی‌دفو لکلور په ما هیت نه‌پو هید ل او کمان یی کاوه چی فولکلور د ځا نګړ و وا قعیتو نو او ژ و نـــد پیښو یوو ځ، سوړ ، اوبیروحه انعکاس دی چی هنری ایجادیا ت په‌نیره تخیل او بیارغاو نه (یا زآنرینی) په هغه کی څر ګند نقش نه‌لری . بله دا چی ددوی په اند،فولکلور دلو مړ ی طبقی‌دروښا ن فکره قشر دکار او زیار محصو ل‌دی او عوا م د حماسو په‌جوړو لو او هنری تخلیق کی دیادو لو و ړوندوه نه لری . دتاریخی نظر یـــی پلو یانو تبلیغ کاوه چی عام‌وګړی‌دتخیل او نو ښت راو ستـــــلو استعداد نه لری او فقط دو مر ه کولای شی چی دنورو له خواجوړی شوی حماسی دخپلی پو هی په‌سطح کی‌و ساتی .

دتاریخی مکتب پلو یانو دشوروی‌اتحاد پر فولکلور یستا نو باند ی اغیزه کړی وه او حتی دشلمی‌پیړی‌تر دیر شمو کلو نو پور ی پـــه تعلیمی دستو رونو کی د هغو ی دافکارو اغیز ی له مینځه نــــه‌و ی تللی (۱) .

ځینی فولکلور یستا ن دتاریخی‌جغرا فیو ی میتود په باره کــــی خبری کوی . د دو ی په عقیده ، سره‌ور ته شفا هی نکلو نه پـــه درو لویو وچو (قارو) کی تــــــرسلګو نو پوری رسیږ ی.ادبی مورخ زیار باسی چ ی‌ددغو سره‌ور تـــه نکلونو نسبی‌شجره
Genealogical-tree
انځور کړ ی په داسی حال کی چی‌دشفا هی نکلونو مور خ کو ښښ کوی چی دو یش مر کز پیداکړ ی‌او له مر کز څخه دخپو وز مـــه جریانونو مسیر کشف کړ ی. یاپه‌بل عبار ت ادبی مور خ کرونو لو-

---

۱- اجتماعی علوم (مجله)،کابل‌پو هنتون ، دو همه ګڼه ،دیار لس سوه یوشپیتم کال .

جیکی تر تیب ته اهمیت ور کوی او فولکلوریست جغرا فیوی او افقی ویش تر خیړ نی لاندی نیسی .د تاریخی ـ جغرا فیوی میتـــو د نا متوبنسټ ایښودو نکی فنلیندی پو ها ن Kaarlekrohn او Antti-Aarne دی له همدی امله، کله کله تاریخی جغرا فیوی میتود د(فنلینډ ی میتود) په نا مه هم یادیږ ی . ددغه میتود څیړو نکو د خپلو تحقیقاتو دپاره له دوه سوه نه تر شپږ سوه پور ی ورته شفا هی نکلو نه کتلی ا و مقایسه کړی دی . (۱)

داحصائیوی او مقایسو ی کتنو له لار ی دیوه تیور یکی اصلـــی (اوریژ ینال) شکل یالو مړ نـــی بیلگی archetype در غولودپاره دستو نزوډ ك کارونه تر سره شوی دی . دلو مړ نی بیلگـــــی له رغوالو ورو سته د مختلفو بیلگو دپیدا کیدلو عوا مل (مها جر تونه، تجار ت ، ملی کر کټر ،جغرافیوی خصو صیا ت ، دو دونه، تولنیز ه سایکا لو جی ، دتولید ی مناسباتو شکل، دټولنیز انکشا ف سطـــح، او داسی نور) دیوی پیچلی پروسی او مغلقی شبکی په توگه څیړ ل کیږ ی . په دغه میتود کی، سره له دی چی له پرا خو معلوما تو اوقوی استدلال څخه کار اخیستل کیږی، داټکل او تخمین ونډه زیا ته د ه او په همدی سبب دیقین اوسا. ینتیفبك اعتبار سطحی ته نـــــه رسیږی.

٤ ـ دبشر پیژ ندنی نظریه:

دبشر پیژ ند نی (انترو پا لو جیکی) نظریه داقتبا س دنظریی په مقابل کی دیوه عکس العمل په توگه را ولاړه شوه . اندرو لینگ Andrew Lang په اتلس سوه اووه نوی یم میلا دی کال کی داساطیری نظریی دردو لو په تر خ کی دانترو پالو جیکی نظر یی دبنسټ پـــه ایښود لو کی هم مرسته وکړ ه. ده وو یل هغه څه چی دآر یـــن نژاد پا تی شو نی بلل کیږی هغه ته ور ته پدیدی تقر یبا په ټو لـــو ابتدایی ټو لنو کی شته .ددا سی پدیدو بیلگی حتی په هغو قبیلوکی هم لیدل کیږ ی چی له آریایا نو سره یی دو ینو اشترا ك نه درلود

1, Joseph T. Shipley, op. Cit, P. 208

او نه یی له هندو ـ ارو پا یـــی فر هنگ سره آشنا یی در لوده. د((پاتی شونـــو)) دکتور ین پر فولکلور یستا نـــو E. B. tylor ژوره اغیزه وکړه. د(تیلر) په‌عقیده‌دفولکلور ی آثارو ور ته وا لی‌چی په مختلفو ټو لنو کی لیدل‌کیږ ی‌علت یی دادی چی په مشخصو سره ورته تاریخی شرایطو کی سره‌ورته‌بشری روحیا ت را مینځ ته‌کیږی. سر جیمز جارج فریزر دنولس‌سوه‌یوځلویښتم ـ اااتلس سوه ځلو ر پنځوسم) په خپل اثر ((طلا یـــی څانګه The Golden Bough کی د مختلفو سیمو دقبیلو نکلو نه ا ودو دو نه راغونډ کړ ل اودمشـــا بهتو نو په مو ندلو سره دی‌نتیجی‌ته‌ور سید چی اکثر دو دو نه بی‌له دی چی په منشا اود پیدا ایښت‌ځای‌پسی‌یی‌و ګرځو په عمده ډ و ل د جها نشمو له بشری‌ذهنیت څر ګندوی دی. (فریزر) دا هم‌وښودله چی په معا صره بز ګری عنعنه کی‌دلرغو نی نبات پر ستی بیلګی هم شته. دنو لسمی پیړی په دوهمه‌نیمایی کی‌چی‌په‌یوه‌کرښیز (unilineal) ټولنیز تکا مل باندی عقیده عا مه شوه انترو پا لو جستا نو دا سی ګڼله چی ټو لی ټو لنی په‌پر له‌پسی‌تو ګه ددغسی ور ته پړاوو نو نه تیری شویدی .دفولکلور یستانو په‌نظر هم دلرغو نو یابر بر ی‌ټولنو کلتو ر دبشری مو سسو او تمدن‌په‌تکا مل کی لومړی ګام بلل‌شوی دی. دسره ور ته یاعین پد یـــدومو جودیت ددغی تیوری په اسا س توضیح کیده چی دبشری‌پر مختګ‌په ټاکلی پړاو کی‌هر چیر ته‌دعینی شرایطو سره متناسب دو دو نه ،عنعنی او انګیر نی مینځ ته‌را غلی دی. امادغی تیوری کله کله پـــــرمشابهتو نو زیاته تکیه کوله ا و اختلافونه یی له‌نظره‌غورځول(١).

انترو پالو جیکی نظر یه زیا ته‌میځا نیکی بر ښیی . په دی کی شک نشته چی کلتور یوه تار یخی‌پدیده ده اود هغه انکشا ف د ټو ـ لنیزو ـ اقتصادی فور ما سیونونو‌په‌واسطه ټاکل‌کیږ ی . په دا سی حال کی چی ایډ یالیستی تیور ی‌ګانی دکلتور له مادی بنسټ نه‌انکار کوی او هغه دنخبه ګانو elite دفکر محصول بو لی، علمی نړ ی

---

1. Encyclopaedia Britan niea 1970.

لید دمادی شیانو تو لیدته‌دمعنو ی‌کلتور دزیر بنا او سر چینی په نظر گور ی او له همدی امله ، کلتو ر دخلکو دپرگنو دفعا لیتو نوزیږنده گڼل کیږ ی . اماسره له دی چی معنوی کلتور اساسا دماد ی‌شرا یطو په‌وا سطه ټاکل‌کیږ ی خوددی‌معنا دانه ده چی معنوی کلتو رپه اتو ما تیك ډول مادی کلتورتعقیبوی‌بلکی معنوی کلتور یوه نسبـــی خپلوا کی لری اودنورو او لسونوله‌کلتور څخه متاثره‌کیږی . له دی امله ، دنورو کلتورونو له اغیز ی‌څخه انکار کول اود معنوی‌کلتو ر نسبی خپلوا کی له‌نظره غور ځول،انترو پالو جیکی نظر یی تـــــه میخا نیکی رنگ‌ور کوی . دا سی‌ښکاری چی سلیم عقل به په یوه اړخیز او افرا طی ډول نه دبشـــرپیژ ند نی نظریه تسلیم کړ ی اونه به دااقتبا س نظریه مطلقه وگڼی.

فنلینډی فولکلور یست انتی‌ارنی Antti-Aarne او امریکا یی فـــولکلـــوریســـت Thompson زیاړو ایست چی دا دواړه نظر یی سره پخلاکړی. دوی داو منله چی‌فولکلور هم ملی هو یت لری اوهم فولکلورونه دبین‌ق المللی فر هنگی‌تماسو نو په جریا ن کی یوله بله اقتباس کوی . دعلمی نړی لید له‌نظره ،دټو لنیز شعور ټو ل شکلونه په‌یوه یابله طر یقه اقتصاد ی‌منا سبا ت منعکسوی : ځینی یی لکه دشعور سیاسی او حقو قی‌شکلونه‌مستقیما له زیر بنا سره اړ ه‌لری او ځینی نور لکه هنر، فلسفه په‌غیر مستقیم ډول زیر بنا منعکسوی او نسبی خپلوا کی لری.

۵ـ دفولکلور منشا اوانکشا ف‌دعلمی نړی لید له‌نظره:

دفولکلور دما هیت اوانکشا ف‌څیړ نه ټواز ی دتار یخی ماتریالیزم دعمو می قوا نینو په‌رڼا کی علمی‌بڼه پیداکو لی شی . تاریخی ماتر یالیزم دټولنیز انکشا ف عمو می‌قوا نین اود خلکو په تار یخـــی فعالیتو نو کی ددغو قوا نینو د تحقق شکلونه تر څیړ نی لا ند ی نیسی . تاریخی ما تریا لیز م علمی‌ټولنپو هنه ده چی د مشخصـــو

سوسیولوژیکي څېړنو او ټولو اجتماعي علومو تیوریکي او میتو- دولوژیکي بنسټ تشکیلوي . له مارکس نه مخکې ، ټول فیلسوفان د ماټریالیستانو په ګډون ، د ټولنیز ژوند د درک او تحلیل په برخه کې د ایډیالیستي افکارو تر اغیز لاندې راغلي وو . تاریخي ماټریالیزم ، له یوې خوا ، د جهان (طبیعت او ټولنې) په باره کې یو جامع ، منسجم (Consisent) توحید شوی نظر وړاندې کړ او له بلې خوا یې د ټولنیز ژوند مادي بنسټ او قانونمند انکشاف توضیح کړ. له مارکس نه مخکې ماټریالیستانو خپل سوسیولوژیکي نظر یې د بشري فعالیت پر ایډیولوژیکي محرکاتو (motiues) باندې بنا کړی وو او ویې نه شو کولای چې د دغو محرکاتو مادي علتونه وڅېړي . همدا رنګه دوی د غټو شخصیتونو پر نقش باندې ټینګار کاوه او د تاریخ په جوړولو کې یې د خلکو د پرګنو نقش ته پاملرنه نه کوله . تاریخي ماټریالیزم ثابته کړه چې ټولنیزه ـ تاریخي پروسه د مادي عواملو په واسطه ټاکل کیږي . د میخانیکي ماټریالیزم په خلاف ، چې هغه د مفکورو ، سیاسي موسسو او سازمانونو نقش په پام کې نه ساتي ، تاریخي ماټریالیزم پر زیربنا باندې د روبنا یې موسسو او مفکورو متقابله اغیزه له نظره نه غورځوي.

د خلکو د فرهنګ (فولکلور) په برخه کې د علمي نړۍ لید دری اصله ډېر مهم دي: لومړی داچې فولکلور د ټولنیز تولید په پروسه کې عملي اړتیاوو ته د ځواب ویلو په ترځ کې مېنځ ته راغلی دی او له کار او تولید سره یې په لومړۍ مرحله کې مستقیمه رابطه درلوده او دوهم داچې فولکلور د پدیده په لومړي سر کې سینکریتیک رېښې لري. د سنکریتیزم (Syncretism) څخه مراد دادی چې د لومړي کمون په دوره کې چې هنرونه لا پیدا شوي و ، نڅا ، موسیقي او سندرې په یوه وخت کې اجرا کیدې او د هنر دغه څانګې یو له بله نه وې جلا

شوی . په څینو قبیلوی تو لنوکی لاتراو سه نخا ، ساز اوسندر ی سره یو ځای اجراکیږ ی . دریم اصل دادی چی دفولکلور منشا او انکشاف باید دانترو پولوژ یز م (مجرد انسا ن ، انسانی طبیعت ، غریز ی ، بیولوژ یکی خواصو) پرځای دټولنیز تاریخ په وا سطـــه توضیح شی .

داد فولکلور دځیړ نی دپاره یوځو بنستیز اصول دی . خوداټکی باید په پام کی و نیسو چی علمی ټړی لید دبنستیزو اصولو په چوکا ټ کی دننه دآزاد ی مباحثی اودتجر بو دغنی کولو او خلاقیت په لاره کی د پو ها نو څیړ نو او گرو پو نو ته زیا ت اهمیت ور کوی. علمی ټړی لید دگماتیز م اوروی ژیو نیز م دواړه ردوی اودتیوری او پره تیک پریووالی باندی ټینگار کوی. دفو لکلور ی مقولو دتوضیح په تر څ کی به زیارو ایستل شی چی دعلمی ټړی لید پر نسیبو نه په مشخصه توگه تشریح شی .

څاورمځېرکې: فولکلوری ټولی

میتولوژی Mythology

میتولوژی د اسطوروعمجموعی‌ته‌ویل کیږی او هم دعلم‌الاساطیر په معنا استعمالیږی. د (myth) کلمه دیونانی ژبی له (mythos) څخه مشتق شوی ده چی په‌لومړی‌سرکی‌دهر ډول کیسی په معنا استعمالیده خو وروسته د هغی مفهوم تغییروکړ او په هغه‌کیسه باندی اطلاق شوه چی منشاء یی‌هیره شوی وی، ظاهرا تاریخی‌وی مگر په اصل کی یوه عقیده، دوداودستور، موسسه یاطبیعی پدیده توضیح کوی. (دلته د موسسی‌کلمه د هغی په پراخ مفهوم‌استعمال شوی ده) اسطوره زیاتره له مذهبی‌عقایدو او شعایرو سره تړلی ده. په داسی حال کی چی نکلو نه‌زیاتره‌دتفنن او هنری التذاذ دپاره ویل کیږی اود خلکو دارما نو نو اوایه یالونو انگازه په کی څرگندیږی. اسطوری دمافوق الطبیعی ذوړا تواود پیښو او موجوداتو مبدا او منشاء بیانوی او په هغو کی‌دجهانی‌اود دایمی ارزښت لرو نکو پیښوپه باره کی توضیحات ورکول‌کیږی لکه د ارباب الانوا عوکړه وړه،د ځمکی او آسمان پیدایښت، نړی‌ته داور، مرگ او ور ته پدیدو راتگ، د خیر او شر تر مینځ‌مبارزه، له مړ ینی وروسته حالات او داسی نور. دلرغو نوو ختو د پیښو په بیانولو سره اسطوره د مافوق الطبیعی موئد (Sanction) دمنلو دپاره زمینه برابروی او ودمتداو لو شعایرو، عنعنوی سلوك، دودو نو، او منل شوو قبیلو ی تعاملاتو دتایید دپاره شواهد او تعامل (یاسابقه (Precedent) پیدا کوی او په دی‌و سیله د ټولنی یاقبیلی له استقرار سره مرسته کوی.

اسطوره دلر غو نی ټو لنــــیمشخصه (کر کتر ستیك) او دفو-
لکلور یو شفا هی شکل دی .(۱) *اسطوره هغه روایتونه دی چــید
تاریخ په لومړ یو پړاوو نو کــــیدخیالی Fantastic ایماژ و نو
(ارباب الانوا عو ، افسا نوی‌اتلانو،سترو پیښو او نورو) له لا ر ی د
طبیعت اوټو لنی دبیلا بیلو پد یدو دتوضیح او تعمیم دپاره په کار
اچول کیدل . دعلمی نړی لیـــدبنسټ ایښو دو نکو ویلی دی چی
ټو لی اسطور ی په خیال کی اودتخیل په مر سته دطبیعت د قواوو
دتسخیر ، تابع کولو ،اوما تی ورکولو په منظور جوړ ی شوی دی.
له همدی امله دطبیعت پر قـــــواووباندی دوا قعی بریا لیتو ب پــــه
پیلا مه کی اسطوری هم له مینځه ځی .(ك. مارکس او ف. انګلســس،
کلیا ت ، په‌روسی ژبه ،دو هــــمچا پ، دوو لسم ټو ك ، اووه سوه
اووه دیرشم مخ .دفلسفی دقا موس‌په‌حواله). دلرغو نو ټو لنود اندود
(دتفکر طرز) زیاتره اړ خو نه پــه‌اسطو رو کی منعکس شوی دي .په
اسطو رو کی ما فوق الطبیعی‌عناصرله ادیانو سره اړه لری اما پـــــه
اسطو رو کی اخلاقی او ایستیتیکی‌ارز ښتو نه هم شته. دمار کــس
په‌نظر ، میتولوژ ی((په ناآګا هانه‌تو ګه دطبیعت هنری بیار غاو نــه

1. M. Rosenthal and P. Yudin (ed.), A Dictionary of Philosphy, Progress Publishers, Moscow, 1967, P. 302

*د(دیدار باسپیده) دمو لــــــفلومړ نی جمله چي داسطو ر ی ا و
فولکلور په‌باب یی لیکلی ده له هرحیثه دغور او تا مل وړ ده. د ی
لیکی:((فولکلور یا فر هنګـــــــك مردم فرا یند ایجاد گر یناآګاها نه
توده ها ست ، نو عی هنر اســـتدر پهلوی اسا طیر که شکل نـــا
آګاهانه آفر ینش هنر ی ونحـــوه‌خا ص با ورانسا نی است .))
(ص . اول) دفولکلور آګا ها نه ،ایجاد ګری او اسطور ه دفولکلـــور
څخه بیلول دبحثوړ پو ښتنی دی.

(باز آفرینی) ده.)) د طبیعـــــت په‌مفهوم کی دټو لنی په ګډون ټو ل ماد ی شیان شا مل دی.(۱.)

ماکسیم ګور کی ، دشو رو ی‌ادبیاتو تر سر لیك لا ندی په خپله وینا کی چی دنو لـــس سوه څلوردیرشم کال داګست په اوو لسمـــه نیټه یی دشو روی لیکوا لـــــو دا‌تحاد یی په‌لومړی کنګره کی وکړه، دفولکلور په تیره د اسطور ی په‌باب‌یی مفصل‌بحث کړی دی او په هغه کی‌یی ویلی دی چی فولکلور ،دخلکوشفاهی اد بیات او د میتو لـــوژی له‌لار ی لاس ته‌را غلی معلو ما ت‌ټول دا خبره اثبا ت ته‌رسو ی چی فولکلور دپرا خو هنری تعمیمونو (generalizations) په وا سطـــه طبیعي پدیدی ، دطبیعت په مقا بل‌کی مبارزه ، او ټولنیز ژو نـــــد منعکسوی . دی لیکی :((د د ی‌تصور به ډیر مشکل وی چی دوه بول حیوا ن دخپلی بقاء دپاره دهلوڅلو په ترڅ کی په داسی افکا رو مشغول شی چی دکارله پرو سواودډېر او قبیلی له‌پرابلمو نو سره اړه‌ونه لری .دابه هم په مشکلـــــه‌تصور کړای شو چی اما نو یـــل کانت ، لخی پښې اودحیوانا تـــودپوستکو داغو ستلو په حالت کی د((شبی په خپل ذا ت کی)) لـــــه‌مفکوری سره ځان مشغـــــــول کړی.))(۲).

دګور کی په‌نظر، اسطو ر ی دزیار ایستو نکی انسان دهیلو ، ارما نو نو او له‌سختو فز یکـــــی‌کارو نو څخه دخلاصو ن دپاره‌دده دهلو څلو یو خیالی او ارما نیـــــزتجسم دی. هغه اړ تیاو ی چی اوس دټکنالو جی په بر کت په آسا نی‌سره پوره کیږ ی لرغو نیا نـــــو داسطور ی په څیره کی تمثیلولی.په دی اساس ، اسطور ه با ید له ټولنیز ژوند ، بشر ی اړ تیا وو ،غو ښتنو او ارماو نو نو سره په ارتباط کی وڅیړل شی .

په هره اسطوره کی تقر یبـــــادری‌اړ خو نه دپیژند نی وړ دی: جهانی ، عقیدتی ، او معر فتی .دجهانی (universal) څخه مراد

1. Ibid., P. 302.

2. Maxim Gorky, On Literature, Progress Pu blishers, Moscow, Year?, **PP. 229 - 230.**

دادی چی یو زیا ت شمیراسطور ی لــکه د ا نسـان د پـیدا ینبـت، دتوفا ن کیسه او داسی نو ر ی په اکثرو قو مو نو او تو لنو کی پـه مختلفو شکلو نو مو جودی دی .د(هر کو لیس) یو نا نی اتل کیسه چی یوه عجیب حیوا ن خوړ لی و،اودبحر رب النوع(پو زیدو ن) هغه ته نجات ور کړ د حضرت یو نســع له قصی سره ور ته وا لی لری . د (او جیبو) خلك، اواسکیمویا ن هم دغه شا ن اسطوری لر ی .

اسطوره یی معر فت البته لــه علمی معر فت سره پوره تو پیر لری خو په هر صور ت په هغه کی د پیښو دتو جیه دپاره کو ښښ شوی دی. زلز له ولی کیږ ی ؟څکه چی غوایی ځمکه له یوه ښکر نه بل ښکر ته غور ځو ی او تکان پیدا کیږی.وریځ دڅه دپاره ده ؟ وریځ دغلبیل په شان ده چی له آسمان نه راتوی شوی او به په څاڅکو بدلو ی. په آسمان کی بریښنا له کوم ځایــه کیږی؟ دا دیوی پر ښتی د مترو کی دګو زار رڼا ده چی ور یځی هری خواته بیا یی ، او دا ســی نور نور .

میتو لوژی د((شا عرا نــه فانتازی)) دپاره دڅانګو حیثیـت لری. په او سنیو ختـ کـــی ځینی ادب پیژ ندو نکی هغه شعر ته په ارز ښت قایل نه دی چــی اسطوره په کی نه وی او له اسطوری څخه د دوی مقصد خیال پالو نکی او ارمان پاروو نکی دور نما ده چی لوړ انسانی ایډ یالو نه پکی پالل شوی وی .

اسطور ی سمبو لیك خصو صیت لری په هغو کی دچاپیره جها ن په با ب مفهو مو نه شخصیــــت او انفراد یت پیدا کوی او په خاصو ایماژو نو کی څرګندیږ ی . پــــه اسطو رو کی فکر کوو نکی ایجنټ (Subject) له مو ضو ع څخه نه شه ی بیلیدا ی ، دشبهو دی او عقلا نی عنا صرو تواز ن پکی لیدل کیږی،دوا قعیت ایماژ په هغو کی لــه هیجانی انګیز نو سره یو ځای کیږی اودفکر پانګه پکی دبدلو ن پــه واسطه بشپړیږ ی.(۱).

1. ((The Origin and Early Forms of Verbal Art,)) Eleazar Meletinsky, Social Sciences, Vol. XVII, No 1. 1986, USSR Academy of Sciences.

فولکلور یستا نو او اتنو لو جیستا نو له بنایسته زیا تی مودی نه راپه دی خوا داسطو رواوشعایروتر مینځ داړ یک وپه‌ب اب تاو د ه بحثونه کړی دی. دشلمی پیړی په‌لومړی نیمایی کی دلویدیځـــــی اروپا یو زیات شمیر پو ها نـــو(هاریسن، راګلن، سیډنی هو ك ، ای جیمز او نورو) اسطور ی د شعایرو (rituals) انعکا ســـس وګڼه یعنی دا چی شعایر لـــــه‌اسطو رو نه وړاندی مینځ ته‌راغلی دی. ځینی نور لکه (کلو دلیوی ـشتراو س) ددی په خلاف،داسطوری پر قدا مت باندی ټینګار کوی . د ځینو په‌نظر داسطور ی اوشعا یرو دوړاندی وا لی ورو سته وا لـــــی‌مساله هما غه دچر ګی او هګــــی پوښتنه ده چی ((کو مه یوه مخکی‌پیدا شوی ده ؟))د (ملیتنسکی)په عقیده ، اسطور ی اوشعا یـــــر دلرغو نی هنرتیور یکی او عملـــــی (لفظی۔ او غیر لفظی) جنبـــــی‌تشکیلوی او باید چی دسنکریتیز م داصل پر بنیاد وڅیړل شی .

ددی مو ضو ع دځینو اسا سی مسایلو دطرح کولو په تر څ کـــی باید ددغه ټکی یادو نه هم وکړوچی‌د معتقد ینو په‌نظر اسطوره ، قصه بلله‌کیږ ی .دمثال په‌توګه‌د(کیومرث)اسطور ه د معتقد ینو په نظر یوه مذ هبی قصه ده او هغوی یی یوه‌رښتیا نی قصه بو لی . له همد ی امله، د اسطور ی داصطلاح پـــــه‌استعمال کی باید له احتیاط نه کار وا خیستل شی چی‌دمو منا نـــــوداحساسا تو دجریحه دار کید لو سبب ونه ګرځی . د ا ســـــلام پـــه‌سپیڅلی دین کی اسطوره دو همی او خیالی کیسو په معنا استعما ل‌شوی‌ده. په غیا ث اللغا ت ، المنجـــــد، مهذب الاسماء ، فر هنګ انندراج،منتهی الار ب ، او دا سی نو ر و قا مو سو نو کی اسطور ه‌د(افسانی،بی معناخبری ،چټیاتو ، او با طلو خبرو) په معنا راغلی ده. جـــلال‌الدین بلخی وایی :

که اسا طیر است وافسانه‌نژند نیست تعمیقی و تحقیقی بلند

دځینولغت پو هاو نو په نظـــــر،اسطوره په اصل کی یو نانی لفظ دی‌چی له (هیستور یا۔ تاریـــــخ‌خبر او هیستور ـ خبر تیا) څخــــه مشتق شوی ده . په انګر یز ی‌کی(هیستوری) تاریخ ته‌و یل‌کیږی. داسطور ی معاد له کلمه (myth) په‌لومړی سر کی دهر ډو ل کیسی

او حکایت په مغنا استعما لیده خوورو سته خصو صیت ور سره‌ملگری شو.

څرنگه چی په فولکلور کــــی‌داسطور ی له تحلیل نه یو زیا ت شمیر تیور یکی مسا یل را مینځ‌ته‌شوی دی او لاتر او سه دلرغونی فر هنگ دپیژ ندلو دپاره له هغی‌څخه استفا ده‌گیږ ی ، نو په دی باره کی ځینو مهمو پرابلمو نو ته‌اشاره و شوه.

۲ ـ جادو:

ددغو کړښو دلیکلو په‌و خت کی‌دنا متو فزیك پوه (ل.پانو ماریف) کتاب چی په دری ژبه د(درآنسوی‌کوانت) په‌نا مه ژباړ ل شوی دی، لاس ته‌را غی، ما غوښتل چی‌دعلمی‌میتود په‌با ب ددغه کتا ب لـــه وروستی برخی څخه استفا ده‌وکړم‌چی تصاد فا دجا دو په باره کی‌له یوی جالبی مسالی سره مخا مخ شوم . مو لف دعلمی میتوددحدودو (مرزهای روش علمی) ترسر لیك‌لاندی لیکی :

((انسان همیشه د ژو ند ا ومرگ ، خیر او شر، خدای ا و ابدیت ، دهستی دغایی هد ف اوپه‌نړی کی زمونږ دمقام ، غو ندی ((ابدی پوښتنو)) ته دځواب‌موندلوپه‌لټه کی مشغول پاتی شـــــو ی دی.

علم نه شی کولای چی د ژ وند د مانا په باب پو ښتنو ته ځـواب ورکړ ی هغه زیاتی متوا ضعا نـه‌وظیفی لري ... علم کولای شــــی یوازی هغه پدیدی وپیژنی چـــی‌دهغو خوا ص دشمیر په وا سطـه ارزیابی شی .د هیینو تیزور کاردریا ضی دفور مو لونو له لاری د توضیح وړ نه دی، که څه هم دهغه‌دتکراریدو نکو نتیجو په بر خه کی دشك ځای نه پاتی‌کیږ ی.د هندی‌مر تاضا نو بـــر یا وی یو عملـی وا قعیت دی چی څوځو وا رءازمویل‌شوی دی. لیکن دغه نادری پیښی‌د دقیقو پو هنو مو ضو ع نه شـــی‌کیدای څکه چی هغوی دعد دو نو او فور مو لونو په واسطه‌تر کمیتی‌بیان لا ندی نه‌واقع‌کیږ ی. همدارنگه دکلیپا تی پدیده تر څو پور ی چی‌دعلمی تجر بو په ذریعه تایید نشی موثقه نه‌گڼل کیږ ی .

زمونږ زمانه یوازی او یوازی هغسی دلایل قبلوی لکه په منځنیو پیړ یو کی چی یوازی پرنفوذ او اعتبار باندی متکی دلایل د منلـــــو وړوو.

له دی بابته باید خوا شینی نــه شو، ځکه ددی معنا داده چی جهان له هغه شکل نه چی علم یی وربخښی ځوځو ځله زیات غنی او پیچلـــی دی. مو سکا بنا یی مهم شی نه وی خوله بنه مرغه هغه له بل هیڅ شی سره د معاو ضی وړ نه ده .داځکی باید همیشه په یادو لرو ځو په علمی جها نبینی کی ډو ب نه شو،ځکه داسی پو هان شته چی ز یاز باسی جها ن د اعدا دو د بـــی انتها جدو لو نو په بڼه مجسم کړی او یو زیات شمیر دطبیعت وا قعی پدیدی فقط په دی دلیل چی د علمی وسایلو په واسطه نه شی تو ضیح کیدلی ، ردو ی ...))(١).

ددغو یادو نو په ارتبا ط دا خبره هم دغوروړ ده چی دعلمی تجر بو په تر څ کی دا سی پدید ی هـــم لیدل شوی دی چی بیانه دی تکرار شوی . په هر صور ت ، دد غـــو یا دونو اصلی هدف دادی چـــی زموږ جها ن ډیر پیچلی دی پـــه داسی حال کی چی علم یواز ی د کمیت په ژبه خبری کوی: انداز ه گیری یی آسانه ده اود نتیجو تکرار یی شکونه لر ی کوی . جا دودعلمی تجربی غیری ته ځان نه سپار ی او له همدی امله ، لږ ترلږه ،د هغــه پر صحت دتایید مهر نه شـــــی لگیدلی .

جا دو یوفن دی چی د مد عی له نظره ، دمافوق الطبیعی قوتو نو یاد انسا ن دمر مو زو اوناپیژ ندل شوو قو تونو په مر سته ، دیوه ځانگړی هد ف دسر ته رسو لو په منظور دځا صو شعا یـرو د اجر کولو له لار ی پر خلکو،حیواناتو،او نا مریی مو جوداتو باندی اغیز ه کوی. جادو په دی عقیده بنا شوی دی چی دانسا ن او چاپیره نـړ ی ترمینځ یوه مافوق الطبیعی را بطـه شته. د منځنیو پیړ یو تـــــر ورو ستی بر خی پوری جا دو د خلکو په ژو ند کی ستر نقشــــــــــ در لود . په او سنی زمانه کی جادو په نوی بڼه د (occultism) په لباس کی راڅر گند شوی دی .

١ــ ل. پا نو ماریف ،درآنسوی کوانت ، بنگاه نشریا ت ((میر))، مسکو ، تاریخ طبع ؟ ، ص ٣١٦ .

په لرغونو زمانو کې به‌خلکو اریانوو نکی عمل ته د جادو په‌نظر کتل . زمونږ په عصر کی‌دساینس‌او تکنالوجی په‌بر کتاریانوو نکی کارونه زیات شوی دی خو هـــراریانوو نکی عمل چی دتجربوی میتود په واسطه دتوضیح وړ نه‌وی‌خارق العاده پیښه یا جادو گڼل کیږی. دجادو او ساینس ، اودجادو او مذهب تر مینځ دتوپیر موضوع کله کله انترو پالو جیستان اوږدو بحثو نو تـــه را غواړی بنا یی په دی‌دلیل چی‌په لرغو نو زما نو کی علم ، جادو، او مذ هبی عقاید له‌یوبل‌سره‌داسی‌ترکیب شوی وو چی جلاکول یی آسانه نه وو . په همدی اساس،دجادو دمطالعی دپاره باید یو ځل بیا (سنکر یتیزم) ته مرا جعــــه‌وکړو.

په انگر یزی ژبه کی جادو ته(میجیك magic) و یــل کیږی چی دیو نانی ژبی له (mageia) اود لاتینی ژبی (magia) څخــه اخیستل شوی دی . خو همدا کلمه‌په اصل کی آریا نی اود افغا نستان او ایران له سیمی څخه اروپا تــه‌تللی ده او د(مغ) او (مجو س) له کلمی نه جوړه شوی ده .(مـــغ)په عا مه معنی دزر دشتی دین‌پیرو او په خا صه معنا زر دشتی مو بد(مذ هبی لار ښود) ته ویل‌کیږی. ځینو یو نانی لیکوا لو (مغان) دگلو سیانو (مجو سیا نو) په نامه یادکړل .دعیسو یانو په عقیــده،مغان دنجوم په کتلو سره‌دحضرت عیسی (ع) له تولد نه خبر شول‌اود احترا م داداکولو دپاره حاضر شول . له همدی امله ، په‌مسیحیت‌کی دجادو گرانوشته‌والی منل شوی دی خو هغوی ته یی د داســـــــی‌اشخا صو په نظر کتل چی دشیطان تر اغیزی لا ندی وا قع د ی . اروپا یان ز یان رسوونکی جــادو ته (تور جادو) او خیررسوو نکی جا دو ته (سپین جا دو)وا یی .نو دمسیحیانو په عقیده ، مغا نو دتورجا دو مشق او تمرین کاوه . اماپه خپله زر دشتیانو مغانو ته درناوی‌کاوه او جا دو گرا ن یی په سپکه یادول . دصاد ق هدایت په قول،زر دشتیا ن جا دو گر د دیو په‌نا مه یــادوی او دهغو دناوړه کــارونو‌مخنیو ی دپاره یو لړ دستو رو نــه ور کوی.(۱).

۱ــ صاد ق هدایت ،نیرنگستان،موسسه چا پ و انتشارا ت امیر کبیر ، چاپ سوم ۱۳۴۲ ،ص ۱۴.

دجا دو د منشاء په باره کـــــی‌نبایسته زیا ت بحثو نه شوی دی.
داکترو فولکلور پسنتا نو په نظــــر،دجا دو په مینځ ته‌را تلو کی دا ړتیاو
دپوره کولو ها ند دمما ثلـــــــت(انالوجی) مفکوره ، داینمیز م عقیده
اود خطر څخه دځان ساتلو غر یزه‌مهم عوا مل گڼل‌کیږ ی چی دلته‌به
په‌لنډه تو گه شر ح‌شی .
تر ټو لو دمخه باید ووایو چی‌جا دو دبشری اړ تیاوو او غوښتنو
دپوره کولو له داعیی سره مستقیم‌اړیکی لری . دلرغو نو زما نو زیار
ایستو نکو انسانانو دکارد آسانولو‌دمحصول دزیاتولو ،د څلور بو لواو
دوه بولو دښمنانو په مقابل کی دځان دسمبالولو ، او په‌ویروو نکی
چاپیر یال باندی دپری مو ند لواو‌نفوذ دپیدا کولو دپاره له جادو یی
الفاظو او حر کاتو څخـــــه کا راخیست . بدوی انسان چی دطبیعی
قواوو په مقابل کی ناتوا نه و، فکر یی کاوه چی ټول ویروو نکی شیان
روح لری او له همدی ځا یــــــه د(انیمیزم) عقیده راپیدا شوه، یعنی
داچی شیا ن ، نباتات ، اوحیوانات‌ټول دروح در لودو نکی دی‌او کولی
شی چی دانسا ن پر ژوند باند ی‌اغیزه وکړی. لرغو نو انسانانو د
طبیعت دقهارو قواوو دخو شحا له‌ساتلو دپاره هغو ته د خوشا مندی
الفاظ استعمالول ، هغو ته یــــــی‌قربانی او نذرو نه ور اندی کول ،او
دتسلیمی په‌توگه یی سرو نه ورته‌ټیټول . دقر بانی مقصد دااو چی:
((ما مه خور ه ، زما په عو ض دغه‌تیار حلال شوی حیوا ن‌وخور ه)).
لرغو نیانو حتی هڅه کو له چی پر‌ارباب الانوا عو باندی کو د ی‌وکړی
او تر اغیزی لاندی یی راولی‌دوی‌دلفظ په‌تاثیر پو هیدل او عقیده یی
در لوده چی ځینی کلمی جا دو یی‌قدرت لری په‌تیره که دغه کلمـــی
آهنگ در لودو نکی و ی بنکـــــلااواثر یی زیاتیږ ی . کلمی پــــــر
ارباب الانوا عو ، پیر یانو،انسانانواو حیواناتو باندی تاثیر کو ی .د
(کانی کاس) دقبیلی خلک په د ی‌عقیده دی چی که ببر ته (شو)
وویل شی هغه له مخی نه غر یږ ی‌او خپله لاره چپو ی .د (سو لکا)
دقبیلی خلک کله چی د دښمنـــــــــی‌قبیلی سیمی ته رسیږ ی نو د دی
دپاره چی د مخالفانو غړی سست‌اوکمزوری شی هغوی ته د(ور ستی

ونې) خطاب کوی څکه چې (ورسته‌ونه) دسقوط نښه ده .(۱)

دکلمو اهمیت دیو حنا انجیـــل‌له دغه عبارت څخه په ښه تو گه ځرگندیږی :((او په لو مړ ی سر کې کلمه‌وه ، کلمه له خدای‌سره‌وه، او کلمه خدای‌وه)). لر غو نـــــومسیحیانو عقیده در لوده چې‌حضرت عیسی (ع) په اصل کې یو مجسم‌لفظ و یاپه بل عبارت هغه‌کلمه وه چې په جسد بدله شوی وی . د مصر یانو رب النو ع (خرن (Khern نومیده چې دکلمې په‌معنا راځی(۲)

دمقد سو کلموو یل په‌و یو نکی‌کې‌یو سایکالو جیك قدر ت پیدا کوی اود فاعل اراده په مقابل طرف‌باندی‌هم‌اغیزه ښندی .*

دجادو دتحلیل په‌بر خه کې بایددانالوجی نقش له نظره ونه‌غورځول شی. پر جا دو باندی معتقد خلك‌فکرکوی چې:((سره ور ته شیا ن، شره ورته نتیجې لری ... "Like produce like..."

دمثال په‌تو گه ،په (عجا یـــب المخلو قات) کې لیکل شوی دی:

---

۱ ـ امیر حسین آریان پور ، جا معه شنا سی هنر، چـــــا پ رو تاسیو ن مطبعه حز بی ، کا بل۱۳٦٤ ،ص‌ص ۲۹ـ۳٤

۲ـ آریان پور، نو موړی اثر،دیرشم مخ.

* په‌وړوکوا لی کې زما مور ما ته‌اجازه راکړی وه چې پر غو مبسودم واچوم . کله به چې ماد قرآ ن‌شریف‌د(اذا بطشتم بطشتم جبا رین) آیت پر غو مبسو چف کړ مابه غومبسی‌نیو لی اود هغو لشې پر ماتا ثیر نه کاوه . زما یو همزو لی غو مبسی‌وچیچه اه وی‌ی وژل . ما د ساعت تیری دپاره هغه ته اجازه ور کړه‌چې‌د((مر دار خور ـ مر دار خور))په ویلو سره پر غو مبسه دموا چوی.مافکر کاوه چې هغه به حتمـــــا غو مبسه وچیچی خو په تعجب‌سره‌مې‌و لید لچې دهمد غو کلمو په چف کولو سره غو مبسی دی و نه‌چیچه. ورو سته ما ته وو یل شول چې ددم او تعویذ په مساله‌کـــــی‌اصلی رمز په ((اجازه)) کې‌نغښتی دی . بې اجاز ی څوك نه شـــــی‌کو لی چې مار یا غو مبسه و نیسی او که داکار وکړی نو هرو مرو چیچل کیږ ی . اجازه یعنی تلقین.

((که شو ك دتوتی غو ښه‌و خور یفصیح او زبور به شی)).داستراليا
خلك په دی عقیده دی چی که شو ك دزمری زړه وخور ی زړه‌ورېږی ی.
دامریکی اصلی او سیدو نکـــــی-(چی سور پوستا ن یا هند یا ن‌هم
بلل‌کیږی) دخپ ږن پو ستکی ا وپنجی دسینگار په توگه استعما لوی
او په دی باور دی چی ددغه خطرناك‌او زړه‌ور حیوان دپو ستکی پــــه
اغو ستلو سره د هغه زړه ور تیادوی ته ور انتقالیږ ی . لر غو نــو
انسانانو به (دپالیو لتیك په دو ره‌کی) دیوه حیوا ن دښکار کولودپاره
دهغه حیوا ن تصو یر ایسته او یوغیشی به‌یی ښوده چی‌د هغه په‌بدن
کی ښښ شو ی‌دی. په دی تو گه‌به‌یی حیوا ن ښکار شوی گاڼه .ددی
دپاره چی غله ژر لو یه شی او ښه‌وده‌وکړ ی نو ټو پو نه به یـــــی
اچول.

په او سنیو خت کی هم‌دټوټکواوانگیر نو له کتنی څخه خرگندیږی
چی داناپوجی نفوذ په فولکلور کی‌ډیر زیات او قوی دی. دمثال په‌توگه
ویل‌کیږ ی چی که هلك دلویا خترپه ور ځ‌دنیاته راشی حاجی‌کیږ ی.
دهلك دزیږیدو نــه وروسته‌که‌توره دده تر څنگ کیښودله شی،توزیالی
میړه به تری جوړ شی . که شو دنوروز په ور ځ ښه ډوډ ی‌و خوری
نودکال تر پایه به ښه غــــــــذاور رسیږی. ددی دپاره چی زیړ ی
تبه (ملاریا) پری شی نو یوبو ټی‌چی زیړ گلان نیسی . د نـــا روغ‌یا
دموو نکی شخص له خوا له بیخه‌ایستل کیږی او په دی تو گه د
ناروغتیا ریښی باسی .

په اکثرو ټوټکو او کو ډو کی داناپوجی او مما ثلت ښښا نی لید ل
کیږی چی په پښتنی کلتور کی د هغو څومثا لو نه په دی ډ و ل دی:

لومړی مثال : دکو می ښځــــیچې اولاد په نس وی او پس لهنهو میاشتو تیر یدو یی او لا د و نـــهزیږیږ ی دامیندوار ی ښځی مور او خوابنې ورته خپه وی چـــــی کومخطر ور ته پیدا نه شی . دوی په ملایانو او پیرا نو تعویذو نه کوی،نذرو نه و با سی ، او تو تکــــی ور باندی کوی چی یوه تونکه یی‌پهدی ډول ده :

یو نوی کلپ (قفل) وا خلی پهکوم مشهور رو حا نی شخص یی دم کړ ی. بیانو دغه دم شو یکلپیو پر هیز گاره ښځه په او داسه سره دامیندوار ی ښځی په نســـوو هی او له هغی وروسته یی‌پهکلی سره خلاص کړ ی . ما ښا م ته دخیرات په تو گــــه یوڅـــهخواړه جوما ت تهوړ ی .دد غی تونکـــــیمقصد دادی چی د کلپ لهخلاصیدو سره به دامیندوار ی ښځــــــیدمشکلاتو غو ټه هم خلا صــــــــه شی.

دو هم مثال : دکو می ښځیچیاولادنه پا یيږی او مر ی، په کلی مالت کی گور ی چی څو ك تیخورماشوم لری بیانو مو قع لټــــو ی چی دماشوم مور له سترگو پناهشیداچابکه ورځی پردی ماشوم ته تی ور کوی . دغهکار پهغلا کوی چیڅوكیيونهو ینی . دماشو م اصلی مور (چی اولادیی نه پاییږ ی) په د یعقیده لری چی که پردی ماشوم ته تیور کړ ی نود خپل ما شوم بلایی ضرور په هغه پردی ما شومور غور ځی او ددی اولاد لهبـلا ا و ناروغی څخه په امنکیږ ی .

دریم مثال : کله چی څو ك پهلیری سفر ځی نو یوموټی غله یی پهسر پا شی او اوبه ور پســــیشیندی . ددی تونکی مقصد دا دی

چې پەلاره کې دمسافر روزی بنده نەشی او وړی تــــږی پــــاتی نــه شی .(۱) .

په لرغو نو او قبیلو ی ټو لنوکی د مماثلت او ور ته وا لی مفکور ی ډیر نفوذ در لود چې تر یو ی اندازی پوری یی دقیا س او منطقی استدلال لەپیاوړ تیا سره هم مر سته کړ له. له انالوجی څخه او س هم پــــه ساینس کی په کنترو ل شوی بڼه کار اخیستل کیږی .د مثا ل په توگه درڼا او غــږ (Christian Huygens) تر منځ دګډو خوا صو دموند لو په مر سته درڼا دڅپو تیور ی وضع کړه او (جیمز مکسو یل) بیــــا دغه مفکوره د مقنا طیســـــــــی سا حی د مشخصا تو په بر خه کی تطبیق کړه (۲)

---

۱ ـ دغه مثالو نه دعز یز الله امر خیل د(ټوټکی) نو می رسا لی څخه را اخیستل شو ی دی.

2/ A Dictionary of Philos ophy, OP. Cit, P. 118.

دخلکو هنرونه

له هغه وخته را هیسې چې (و.ج. تامس) دفولکلور اصطلاح وضع کړی ده دهغې په مدلول کې له یوه ځایه تر بل ځایه او له یوه وخت نه تربل وخته پورې ډېر توپیرونه لیدل شوی دی. په فرانسه او شمال لویدیځه اروپا کې فولکلور دکورنو عنعنوی بڼې، دکرنې افزار او لارې چارې، داو بدلو طریقې، اودمادی کلتورهغه برخې چې اوس انتروپالوجې ته سپارل شوی دی، تر مطالعې لاندې نیولې. په انګلستان کې فولکلوریستان زیاتره د خلکو پر شفاهي یا لیکل شوو عنعنواوپه خاص ډول پرعنعنوی ایستیتیکي مظاهرو باندې څېړنه کوی. حتی په همدغه برخه کې هم دفولکلور او انتروپالوجی ترمینځ ګډې پولې شته لکه جشنونه، دودونه مراسم، اتڼونه، اود خلکو ډرامې چې کلتوری انتروپالوجستان او فولکلوریستان دواړه له دغسې پدیدو سره علاقه لری. د خلکو د ډرامې مضمون په فولکلور کې شاملیږی مګر دعنعنوی اکټ مساله لاپوره نه ده حل شوی. که عنعنوی اکټ فولکلوری موضوع وګڼو په دې صورت کې دشکو نتلا، او ډیپس، ها ملټ په شان د مشهورو ډرامو داکټو نو دتحول پیښې لیك (کرو-نولوجی) باید د فولکلور پیژندنې موضوع وبلله شی. (۱) خوښایي چې اکثر فولکلوریستان خپل ځانونه تخنیکی څېړنو ته وقف نه کړی بالعکس هغوی دخلکو دژوند له بدیعی او ایجادی آثاروسره مینه لری. دیوزیات شمیر پوهانو په نظر، فولکلورپیژندنه له کلتوری انتروپالوجی یا اتنوګرافی سره په دې ټکی کې توپیر لری چې فولکلورپیژندنه داتنوګرافیکو موضوعاتو ایستیتیکي اړخ نه مطالعه کوی. دمثال په توګه، دلرغونی زمانی څخه راپاتی شوی یو کور که تش د پناه ګاه په حیث دتاریخی انسان دفعالیت دلاس ته راوړنی په توګه ترڅیړنې لاندې نیول کیږی دا دانتروپالوجی (په تیره دلرغون

1/ Joseph T. Shipley, OP. Cit, P. 162.

پیژندنی) موضوع ده خو کـــه دنو موړ ی کور دمعمار ی د سبک
ښکلاوی ، سینګارو نه او نـــورهنری اړ خو نه تربحث لاندی را ځی
په هغه صورت کی دا موضوع دفولکلوریستانو دځیړ نی مشرو ع
قلمرو ګڼل کیږ ی ،د (Okavaq)
دقبیلی دشګو نقا شی چی دلرغونی زمانی څخه دعنعنی په تو ګه را انتقال
شو ی ده دقبیلو ی فو لکلـــوربیلګه ده .(۱) په دی خبره ټـــول
متفق دی چی او لسی سنـــدر ی،تکلو نه ،انګیر نی ، کو ډ ی ا و
ټوټکی ،او لسی افسا نی (Legends)متلونه ،او کیسی (چیستانو
نه) دفو لکلور اصلی مو ضو عګا نـــی دی.
دخلکو په هنرو نو کی د هنـرځینی معا صری څا نګی لکـــــه
سینماتو ګرا فی ،د معا صرتیاتر ډیزاین، فو توګرا فی ، علمـــی
داستانو نه (Science Fiction)دادبیاتو ځینی نور ژا نرو نـــه
(لکه لنډی کیسی ، او سنی ډرامه،ادبی مقا لی ،آتو بیو ګرا فی،تکلونه
اوداسی نور)، کلاسیکه مو سیقی،بالټ او عصری نڅاو ی نه دی شاملی
بلکی زیاتره شفا هی ادبیـــا ت(تکلونه ،متلونه ،او لسی سندری)
او ځینی نیمه لفظی پد یدی،د خلکو رواجی ، اتنیکی نڅاوی (لکه ملی
اتڼو نه ،دځینو اقشارو لکـــه دطالبانو اتڼو نه) او لاسی ښکلــی
صنعتونه دفولکلور په کتیګور ی کی راځی .
د خلکو د هنرو نو دتکا مل اوانکشا ف د مطا لعی دپاره با ید د
سنکریتیزم (Syncretism) اصل په پام کی و نیسو .دغه اصل دلومړی
ځل دپاره د (کارل بوخر (Karl Bucher) له خوا وړاندی شو . ده
په خپـــل نا متو کتا ب (Arbeit and Rhythmus)
کی داسی فر ضیه وړاندی کړه چی دبشر ی ژو ند په لو مړی وخت کی
کار، مو سیقی ،او شعر یو ځـــای اودیوه کـل په تو ګه مینځ ته راغلل.
دده په عقیده ،په دغه تر کیب کی دکارو نه تر ټو لو زیا ته اوبنیادی
وه چی له هغه سره په یووا لی کی آهنګ او وز ن راپیدا شول.روسی
پوه (الکساندر ویسیلو فسکی) دا خبره ور باندی زیاته کړه چی لرغونی
سنکریتیزم نه یواز ی دهنر پـــه ډولو نو کی بلکی همدا رنګه دشعر

1/ Ibid., P. 162

په ژانرو نو ـ ایپیك ،لیر یك ،او ډرامه ـ کی هم صدق کوی.(۱)
(ویسیلو فسکی) عقیده در لودهچی یو یك شعر دلر غوانی (Chorus)
له هیجانی چیغو څخه تکامل وکړاو ډرامه دشعا یرو او مذ هبـــی
مراسمو داجرا کولو نه رابیلهشوه.دده په نظر ،سندر غاړ ی دشاعر
سلف دی. (ایلیا زار میلیتنسکی)شو روی پوه، که څه هم پهمجموع
کی د (ویسیلو فسکی) نظر یه سمه گڼیخوردده ځینی یو اړ خیـــــز او
مبالغوی تو ضیحا ت یی دتا ملوړ گڼلی دی.
د(کارل بوخر) دنظر یی اهمیت په دی کی دی چی د هنر د منشاءپه
برخه کی یی د(انترو پو لوژیسم) پهنظریه سخت گو زاروکړ . هغــه
ټو لی نظر یی چی زیار با ســـیټو لنیز فعالیتو نه او ټو لنیـــــز
مناسبا ت د((بشری طبیعت)) د مقو لی لهلاری حل کړی (لکــــه
اگز یستنسیا لیزم ، پراگما تیزم،ټو لنیز داروینیزم ،فروید ، یز م ،
او نور) دانتروپو لوژ یسم تــــــرعنوان لاندی راځی (۲) دهنر پـــه
باره کی انترو پولو ژیسمدغریز ی پراصل باندی تکیه کوی اودانسانی
طبیعت محصول یی بو لی پدا سیحال کی چی د (گیور گیپلیخانف)
پهعقیده ،دهنر تاریخ دټو لنیزتاریخ پهواسطه دتوضیح وړدی. (۳)ددی
دپاره چی اوس دی خبری را لنډیکړو ددغی ورو ستی نظر یی تفسیر
داسی دی چی دلرغو نی انسانهنر(شعر ،انځور گر ی ، مجسمــــــه
جوړو نه ،اونڅا) دتفنن ، لو بــــو،ساعت تیر ی اود ((هنریغریزی))
دارضاء او تسکین و سیله نهو ه،بلکی دابزار جوړو لو ،دخورا ك
پیدا کولو ، او نورو تو لیـــــد یچارو پهشا ن پر طبیعت اوچاپیریال
باندی دبری موندلو وسیله وه.شعرلومړی دسندری په شکل دکار او
تو لید پهجریان کی له وزم وا ل(آهنگین)غږ څخه انکشا ف وکړ .
دکار او تولید پهو خت کی لــــــهمو زو نو حر کاتو څخه نڅا پیـــدا
شوه. نو موسیقی چی دکاردابزارولهغږ څخه را مینځ ته شـــــوه،

1) The origin and Early Forms of Verbal Art,))
Eleazar Meletnsky OP. cit, P. 110
2) M. Rosenthal and P. yudin (ed), A. Dictionary of Philosophy Progress, Pub lishers, Moscow, 1967 P.22

۳ـ گیورگی پله خا نوف، درباره ادبیا ت ، متر جم منو چهـــر
هزار خانی ، چاپ دوم، انتشارا ت رواق،تهرا ن ، سال طبع ؟ ص ۶۳.

سندری چی دکار پهو خت کی لــهآوازو نو اوفریادو نو څخه پیـــدا شوی، اونځا چی دتولید په جریانکی دمو زو نو حر کاتو څخه مینځ ته راغله په سنکر یتیك ډو ل د لومړنی هنر بنسټو نهکیښودل. په لرغو نی زمانه کی هنر له کارسرهمستقیمه اړه در لوده خوورو ستــه په طبقا تیټو لنو کیډ هنر او کارترمینځ رابطه ډیره پیچلی شوه ،ان تردی چی هنری تخلیقا تو یـــوهنسبی خپلوا کی تر لاسه کړ ه،او نه شوه کیدا ی چی هنری پدیدیهمیشه دااقتصاد ی عوا ملو پـــه بنود لو سره توضیح شی.دارسټوکرا تیکو ادبیاتو اړ یکیډ حیا تی اړ تیاوو پر ځای تر زیاتی انداز یلهتفنن او خوشګذرا نی ســـره ټینګ شول او له همدی امله پـــهطبقا تی ټو لنو کی ادبیا ت هم د طبقا تی علایقو پر محور څرخی.

د خلکو هنرو نه د خوا صو لههنرو نو سره ځینی څر ګنــــــــد توپیرو نه لری .د محتوا له پلوه،دخلکو هنرو نه ریالیستیك دیپهدی ماناچی په هغو کی دعوا موغوښتنیاو ارما نو نه اود هغو دساده ژوند څرنګوا لی انځورین ی .

دعوا مو په هنر کی فانتاز یاوخیالی شیان شته خو ددی ما نا دانه ده چی دغه شیا ن ددوی د هنـــرریالیستی جنبه کمزوری کو ی عوام هغه وخت دخیال پر ستیلمن‌نیسی چی ددوی اتلان له سختـــو او پیچلو شرایطو سره مخا مخ‌شی،په همدیو خت کی اسطوره اتلان‌له ستو نزو څخهژغور یاو خنهو نهلیری کوی. دعوا مو هنر مثبتــــی نتیجی لری اود خوشبینی لهرو حیینهډك دی. په هغه کی د خلکـــو ارز ښتو نه، دودونه ،اوانګیر نیدمثبتو نتیجو دلاس تهراو ړ لو دپاره لاره هواروی . دنکلونو او اسطورواتلان دربنتینو لی ، له ځـــا ن تیر یدنی ، پخی ارادی ، خیــــرغو ښتنی ، و فا ، او سپیڅلتو ب استازی دی.

دعوا مو په هنر کی دبورژوازیدهنر نارو غتیاو ی لکه پسیمیز م (بدبینی) ،له ژو ند څخه بیزاری،ځانوژ نه ،په الفاظولوبی ، مجر د آرټ ، فور مالیز م ، له ټو لنیزونور مو نو څخه دانحرا فستا ینه،

له‌وا قعیتو نو څخه تیښته، تکلف‌او تصنع او داسی نور په ندرت سره لیدل کیږی . ځینی پوهان دفولکلور ی هنر په ستاینه کی له مبالغی څخه کار اخلی خووا قعیت‌دادی چی د لوړی طبقی فر هنګ او د ارستو کرا سی ارزښتو نـــودعوا مو پر هنر باندی هم خپـــل سیوری غور ځو لی دی.دمشر توب‌دمو سسی در ناو ی اودشهزادګانو اتلولی او کارنا می دحاکمی طبقی دایه یالوجی پر تسلط باندی‌دلا لت کوی. په عمو می ډول ،په‌فولکلور کی‌دخیر او شر ترمینځ په مبارزه کی خیر بری مو می او که کله‌ناکله‌چی شر غلبه پیداکړ ی نو هغـــه دتراژ یدی بڼه غوره کوی چی په‌دی‌صور ت کی هم دخیر له قو تو نو سره همدرد ی او غمشر یکی پالله‌کیږی. له همدی امله ، لکـــــه چر نیشفسکی چی یادو نه کړی‌ده،دخلکو هنر ی ایجاد یا ت باید لـه تاریخ سره په ارتباط کی‌و څیړ ل‌شی . موږ ته نه ښایی چی دنن‌ورځی ارز ښتو نه او مفکور ی دقبیلوی او فیو ډالی ټو لنو پرارزښتو نو او مفکورو باندی ور تحمیل کړو.دمثال په‌تو ګه ، زمو ږ په هیوادکی دافغانستا ن دخلك دمو کرا تیك‌ګوند له‌جوړ یدو مخکی زمو نـــږ بز ګرانو یواازی دظا لمو فیو ډالانوپرضد مبارزه کو له خو زمو نـــږ او سنی باشعوره بز ګـــــر ا ن‌دفیو ډال پر ځای دفیو ډالیز م‌سره مبارزه کوی اود منفر دواشخاصو سره د مبارز ی مفکو ره د یو ه ناوړ ه ټو لنیز نظام پر ضددمبارزی‌په‌بڼه او ښتی ده . کوم طبقا تی شعور چی دنن ورځی ا فـــغا نـی‌بز ګر یی لری دپنځه و یشت کاله مخکی افغانی بز ګر له طبقا تـــی‌شعورسره جو ت تو پیر لری.

یو چاپه دی باره کی دطنز په‌تو ګه ویلی‌وو :هغو مره چی‌پخوانی نسلو نه زمونږ دافکارو او تجر بوپوروړی دی او زموږ تر اغیزی‌لاندی راغلی دی مونږ هیڅکله له هغوڅخه‌دو مره پورو ړی نه‌یو .

په دی برخه کی مثا لو نه ډیرزیات دی خو له فولکلور څیړونکو څخه دا غو ښتنه کیږی چی همیشه وا قعیتو نه په تاریخی ـ اجتما عی قرینه کی مطالعه کړ ی اواو سنی پر مختللی مفکور ی په لر غو نو انسانانو ورونه تپی . البته دا به هم اشتباه وی که ووایو چی تر شنـــه آسمان لاندی هر څه نوی دی او لرغونو پدیدو سره اړ یکی نه لری . لنډه یی دا چی فاکتو نه با ید د تاریخی شرایطو په رڼا کی تحلیـــل او تفسیر شی .

دفو لکلوری هنر یو بل صفت د هغه ټولنیز توب دی. په دی کی شک نه شته چی هر هنری فولکلور ی هنری اثر په لومړی سر کی د یوه منفرد هنر مند ابداع وی خوورو سته په ټو لنه پوری اړه پیدا کوی. خلک فولکلور ی پدیدو ته د مختلفـــوعوا ملو پر بناء تغییر ور کو ی او بیلابیل ورینتو نه (Variants) مینځ ته را ځی . دور ینت یو عامل هیره ده. دو هم عا مل یی د نو ښت او ابتکار سره مینه ده . دریم علت یی د هنر مند مهارت دی چی اصل ته زیاته ښکلاور بخښی ، یو څه پری زیاتوی یا یی کمو ی . څلورم علت یی بی مهار تی ده چی لو مړ نـــی شکل په سمه تو گه نه شی انتقا لولی . پنځم عا مل یی دعقا یـــدو او دو دو نو سره برا برونه ده په تیره که نکل یا اسطوره یا متـــل له کوم بل کلتور نه را غلی و ی . شپږم عا مل یی دیوه ټاکلی قشر ، ډلی ، یا جنس له نور مو نو یـــاذو قو نو سره دیوی هنری پدیدی عیارونه ده. مثلا په ځینو مواردوکی یوه ټو که چی دسړ یو تر مینځ داو ریدو وړ وی ښا یی په اصلی شکل ښځو ته دهغی اورول بی ادبی وگڼله شی نو راو ی یو څه تغیـیرپکی راو لی . اوو م علت یی دادی

چې بنايي راو ی ديوه لغـــــت يااصطلاح په اصلي مفهو م و نـــــه پوهيږ ی نود هغه (هغې) پر ځا ی بله کلمه ور اچوی . اتم دليل یې دا دی چې بنايي راو ی ته دنکل یا بلی فولکلور ی پديدی مثلا شعر يو ه برخه نا معقو له يا بې ارتباط ښکاره شي نود هغه اثر شکل ته تغييـــــر ور کوی . نهم دليل يې قبيلو ی وياړ نې او مفا خری دی چې د بهر- نيو اتلا نو ، ټو کيا نو او يا نورو ايجاد گرانو آثارو ته وطني ر نگ ور کوی داشخا صو او ځايو نـــــونو مو نو او ځينو نورو محتو يا تو ته تغيير ور کوی . لسم علت يـــــې جغرا فيوی او اقليمي دلايل دی چې ديوی سږی سيمې دبو ټو ، ژو يو، لبا س ، اقليمي مقولو ، ځايو نو او داسې نورو ته تغييرور کول کيږ ی لکه دو اور ی داو ريدو حاد ثه چې بنايي په عربستان کی دبارا ند او ريدو په پيښه بدله شي اود کوم حيوا ن نوم په اوښ واوړ ی.

(دودونه Customs)

د(پښتو-پښتو تشریحی قاموس) پهدریم ټوك کی د(دود) کلمه دا سی تشریح‌شوی‌ده . ((۱-رسم، رواج‌دستور ، عنعنه ، تړ ه ، ۲- هځوب، کلتور ، کلچر ،ثقافت ،فر هنګ .

خط و خال په ښه جمال با ند ی‌یو دود دی
نه چی‌حسن د خو بان په دامزید شو
غ.خ.)) (۱)

دلته‌د (دود) کلمه په لو مړی مانا یعنی درسم او رواج په مفهـــوم استعمال شوی ده . دو همه مانا یی‌دبحث وړ ښکاری ځکــه چی دکلتور مفهوم ډیر پراخ دی او په هغه کی‌دټو لنی ټول مادی او معنـــو ی ارز ښتو نه اود هغو دایجادو لو ،په‌کار اچولو ، او انتقا لولووسیلی چی دتاریخ په‌بهیر کی مینځ تـــه‌راغلی دی، تر مطا لعی لا نـــد ی نیول‌کیږ ی .(دود) دکلتور یو توك‌دی او په اصطلاح کی دچلن بیلګو (behavior patterns) هغــــــــی‌مجمو عی ته ویل کیږ ی چی پــه عنعنو ی ښه له یوه نسل نه بل‌نسل‌ته انتقالیږ ی او له فردی نا منظم چلن(سلوك) سره توپیر لری . که‌دځینو ټولنپو ها نو په اصطلاح‌فو-لکلور د خلـکـو له کـلتور سره‌متراد ف او یو شانته وګڼو نـــو

---

۱ -پښتو - پښتو تشر یحـــی‌قا مو س ، دریم ټو ك ، دـس د افغا نستان دد مو کرا تیك‌جمهوریت‌دعلو مواکاډ یمی ، دژبواوادبیاتو مرکز ، دژبپو هنی څا نګـــــی ،دیار لس سوه یو شپیتم کال .

(دود) د خلکو دکلتور پر یوه توك باندی اطلاق کیږی ټول کلتور (هخوب) نه احتوا کوی.

دود دچلن هغه ثا بت قوا عــــدا و ضوابط دی چی دزما نی په اوږدو کی تشکیل شوی او په یوه یابله ساحه کی دخلکو دژو ند لاری چاری تنظیموی (لکه دميلمه پالني ، واده، اخترو نو او داسی نور دو دونه.) دودونه دخلکو دتاریخ ، اقتصاد ی فعالیتو نو ، طبیعی اقلیمی شرایطو، ټو لنیزی وضعی ،مذ هبی عقا یدو، او داسی نورو عوا ملو تر اغیز ی لاندی انکشاف کوی .(۱).

په دود کی دټو لنیز فعا لیــــت هغه جنبی په حسا ب کی نه نیول کیږ ی چی دبیولوژ یکی عوا ملو په واسطه تټاکل شوی وی. دمثا ل په تو گه، خوړ ل دودنه دی خودوریجوپخول یو دود دی . دود له تړ ی (قــرار داد)، عنعنی (ترادیسیون)،او اخلاقی دستو رو نو (mores) سره لږ تو پیر لری . در نگـــــکاو قلم په ذریعه لیکنه یو دود دی خو په رسمی عریضه کی د غوښتنی لیکل تړه (کنوانسیون) ده.
اخلاقی دستو رو نه یا آدا ب همد(دود) متراد ف نه گڼل کیږ ی.سره له دی ، په قا مو سو نو کی ددغو کلمو تر مینځ توپیرو نه په د قت سره نه دی ثبت شوی دا ځکه چی په دودکی رواج، عنعنه ، تړه،آداب، نور ماتیف چلن بیلگی اونر خو نه(حقو قی تعا ملات) ټو ل په نظرکی نیول کیږ ی . خلك له دود څخـــــه سر غړو نی ته په ښه سترگه نه گوری . د دود ځینی بر خی مو ئده (Sanction) لری او له همد ی امله سر غړوو نکی ته جزاورکولــه کیږ ی . د دود څخه سر غړو نــه په ځینو نو رو مواردو کی مو ئده نه لری یوازی دشرم او خجا لت سبب گر ځی او سر غړوونکی پیغور متوجه کیږ ی. په قبیلو ی ټو لنو کی چی دژو ند چار ی په عمده تو گه دننگ دکلتور (Shame Culture) په وا سطه اداره کیږ ی

بی ننگی له مرگ څخه کمه نه ده لکه په یوه پښتو لنډی کی چی راغلی
یوه خوا مرگ بله خوا ننگ دی
مرگـ می قبول دی بی ننگی نه قبلو مـــه

---

sophy, Progress Publishedin A. Dictonary of Philo-
1/ M. Rosenthal and P. yu ... er, Moscow, 1967, P. 107

بې ننګه سړی په خپل کلي قوم کې درناوی او پرستيژ له لاسه ورکوي، څوك اعتماد ور باندې نه کوي، ناسته ولاړه ور سره کمېږي، او په ځينو وختو کې خلك مقاطعه ورسره کوي. په دې اساس، دود د ټولنيز کنترول وسيله ده او د خلکو ترمنځ پيوستون ټينګوي. د دودونو هغه برخه چې د حقوقو او وظايفو (مکلفيتونو) سره اړه لري د قانون په بڼه تبارز کوي. په صنعتي ټولنو کې د قانوني وجيبې او اخلاقي وجيبې ترمنځ کرښې روښانه نه دي خو په لومړنيو ټولنو کې د قانون او اخلاقياتو ترمنځ توپير هميشه آسان نه وي. اخلاقي وجيبه پر وجداني او سايکالوجيکي عکس العمل باندې پای ته رسېږي. په داسې حال کې چې د قانون وجيبې ترشا جزا او تعزير هم شته. ويل کېږي چې په لرغونو ټولنو کې د دغو دواړو وجيبو ترمنځ توپير نه و، يا ډېر لږ و.

دود ته په سايکالوجيکي اصطلاح (ټولنيز عادت) ويل کېږي او انتروپالوجيستان يې (کلتوري بېلګه) بولي. بيولوژيکي تفسير داسې دی چې دودونه په اصل کې انفرادي عادتونه دي چې د ګډ ژوند او اجتماعي معاشرت په ترڅ کې عام ښکاري. اما په عمل کې ډېر لږ پېښېږي چې انفرادي عادتونه په دود بدل شي بالعکس زياتره ټولنيز دودونه د انفرادي عادتونو د تشکل سبب ګرځي .(۱).

موقتي دودونه د فيشن (Fashion) په نامه يادېږي. فيشن، لکه ځيني خلك چې فکر کوي، پر دود باندې يو اضافګي يا سرباري شی نه دی بلکې په خپله د دود يو ډول دی.

دودونه کنوانسيوني (قرار دادي) دي- کنوانسيوني په دې مانا چې د مربوطې ټولنې له خوا منل شوي او عنعني يا عقايدو هغو ته د تقدس يا نيمه تقدس رنګ ورکړی دی. دودونه په غير رسمي توګه يعنې په خپله د خلکو له خوا (نه د کوم دولتي فرمان په واسطه) کنترولېږي. دودونه ستاتيك دي، ژر تغيير نه کوي، په شفاهي ميراث متکي دي، په طبيعي ډول تکامل کوي. سره له دې چې نوي دودونه

1/. Ency clopaedia of the Social Sciences, Vol. III., the Macmillan Company,N.Y. 1937.

په مختلفو وختو کې د مختلفو دعوامو په واسطه له عنعنوي دودونو سره ګډېږي خو په هر کلتور کې دچلن د مختلفو بېلګو دانسجام او دننه په سیستم کې د هغو دتلفیق کولو او توجیه کولو دپاره زیار ایستل کېږي. اما دعوامو فکري سیستم دعلمي او فلسفي سیستمونو په شان سختګیره او دقیق نه دی. لکه د موسیقي په یوه کمپوز کې چې بېلا بېلې وطني، شرقي او غربي آلې سره هم آهنګه کېږي او اوریدونکي ته ناآشنا نه ښکاري ، همدغسې د دود بېلا بېل توکونه هم دانسجام خوا ته تمایل پیداکوي.

دصنعتي ټولنو په نسبت په قبیلوي او فیوډالي ټولنو کې د دود قوت زیات دی همدا رنګه دښارونو په نسبت په کلیو کې دودونو ته زیات درناوی کېږي. په عمومي ډول ، دودونه دکار د ویش (عدم تجانس) ، راسیونالیزم (عقلاني سنجش) او علمي تفکر ، اود بیان او وجدان دآزادۍ په اثر بدلون موندلی شي. هغه دودونه چې دبشر له اساسي اړتیاوو سره نږدې اړیکي لري په آساني سره نه بدلیږي لکه ماشوم ته دتيور کول او داسې نور. ځیني دودونه دتاریخ په یوه ټاکلي پړاو کې دیوه ضرورت له مخې مینځ ته راغلي وي خو چې ضرورت له منځه ولاړ شي بیا هم تر ډېره وخته پاتې کېدای شي. دمثال په توګه ، ویل کېږي چې دعباسي خلیفه هارون ـ الرشید په زمانه کې ددې دپاره چې د مسلمانانو او عیسویانو ترمنځ توپیر وشي عیسویانو ته هدایت ورکړ شو چې په غاړه کې دستمالونه واچوي . د غو دستمالونو دنکټایي بڼه غوره کړه چې تراوسه پورې رواج لري او دنورو مذهبونو پیروان ـ بې له دې چې درواجیدو علت یې ورمعلوم وي ، دنکټایي تړلو د دود پیروي کوي.(البته دا یو روایت دی چې صحت او سقم یې جلاخېړنه غواړي خو د موضوع له روښانولو سره مرسته کوي.

په ملي او دموکراتیک نظامونو کې د دودونو هغه توکونه چې دموکراتیک ارزښتونه لري پالل کېږي او له ناوړه دودونو سره دمعقولو تدبیرونو په واسطه مبارزه کېږي.

دفولکلوری ادبیاتو مضمون اوشکل

دفولکلوری یاشفا هی ادبیا تودخصو صیاتو په باره کې ځینې د بحث وړپوښتنې شته . لو مړی به دفولکلور ی ادب داصطلاح په باره کې خبرې وکړو. (دپښتو داو لسی ادبلاری) لیکوا ل په دی برخه کې داسې ی لیکې :((کله کله داو لسی ادب نه مطلب یواز ی داو لس اد ب هم وی چې د(خلکو ادب)،(او لسی ادب)، (شفا هی اد ب)، (فولکلو- ریك ادب) او خپله د(فولکلور)په نا مه هم یادیږی.

((او لسی اد ب)) دټو لنیدادب هغه بر خه ده چې د خلکو په ژ به جاری،له یوی خو لی نه بلی ته انتقال شوی او لومړی جوړ وو نکی یې معلوم نه وی او نه د هغه په با ب ځوك فکر کوی .))(١) .

اکثرو پښتنو لیکوا لو د(فو لکلوریك ادبیاتو) پر ځای د(او لسی ادبیاتو) اصطلاح منلی ده که څــــه هم په (او لس) او (خلکو) کـــــې پو ها ن او نو ښتګره روښنفکران هم شا مل دی. (دعوا مو ادبیا ت) ډیره مناسبه کلمه ده ځکه چې دغه ډول ادبیا ت (دخوا صو له ادبیاتو) سره توپیر لری .سره له دی ، د اصطلا حاتو منځنه قرار دادی شکل لری مهمه خبره داده چې اصطــلاح په دقیق ډول وپیژند له شی .

د(شفا هی ادبیاتو) اصطــلا ح ځینو کسانو ته دا اشتباه پیداکوی چې که چیر ی دفولکلور ی ادبیاتو کومه برخه و لیکله شی نو بیا ځنګه کولای شو هغه (شفا هی) و بو لو ځکه چې شفا هی دتحریری په مقابل

---

١ ـ خیړ نوال دو ست محمد دو ست، دپښتو داو لسی اد ب لاری ، پښتو ټو لنه ، دیار لس سوه شپږ پنځوسم کال ، لومړی مخ.

کې استعمالیږ ی . (فر هنگ غمید ، چاپ پنجم ، ۱۳۵۰)دشفاهي ما نا داسې راوړی ده :

((شفا هي : (بکسر شین) سخني‌که‌رو برو و به لب و زبان گفته شود، زباني)). شفا هي هنر ته‌په‌انګریزی ژبه کی (Oral Art) ویل کیږ ی . اما د(شفاهي‌ادبیاتو)مقصد دانه دی چی که دلیکلوپه‌قید کی راشي نو لیکني ادبیا ت تر ی‌جوړیږ ی بلکی اصلي مقصد دا دی چی شفا هي ادبیا ت بیلا بیل‌ورینتو نه لری او دهما غه اد بی اثر مختلف شکلونه دورینتونو په‌نا مه د منلووړ دی. دمثال په توګه، د(رابیا او فتح‌خان) نکل د پښتنوپه‌بیلو بیلو سیمو کی په بیلو بیلو ډولونو ویل‌کیږ ی ، ځر نګه چی‌دانکل په‌تاریخی فاکتونو با نـد ی اتکاء نه کوی نو ځو ځ داعترا ض‌حق‌نه لری هر ډول (ورینت)دهماغه بل په انداز ه د او ر یـدووړ دی. ددغه نظر له منل کیدو سره جو خت یوه بله پو ښتنه راولاړیږی‌چی‌آیا داو لسی شا عرانو(لکـه محمد نور ، درمحمد ځاځی، حضرت‌ولی شینوار ی ، توکل ، محمددین، سیدکمال او نورو) سندری چـی‌غالبا ور ینتونه نه لری او لسـی (یافولکلوری) سندری ګڼل کـیدای‌شی ؟

(دپښتو داو لسی اد بلا ر ی)لیکوا ل په دی باره کی دا سـی نظر ځرګندوی :((داو لسـی ادب ځینو کتابو نو چار بیتی،بګتی لو بی ، د مروتو کسرو نه او نورهم داو لسی ادب په کتار کی در ج کړی دی. هغه که څه هم داوزانو او آ هنګو نو له مخی داو لسـی ادب سره اړه لری خو ځر نګه چی‌جوړوونکی یی معلوم اشخا صـو او په تاریخ‌کی معلوم شا عرا ن دی‌دهغوی آثار د دوی خپل ما ل دی او په او لسی اد ب‌کی نه‌شاملیږی،ځکه چی او لسی اد ب‌هغه ته وایی چی نسبت یی یوه معلوم شا عــر،لیکوال او جوړوو نکی ته‌نه‌کیږ ی او که‌نه، نو هغه بیا دلیکلی اد ب‌یوه‌برخه ده که‌څه هم دیوه نا لوستی او بیسواده شاعر اثروی .» (۱)

---

۱ ـ ځیړ نوا ل دوست محمد ـدو ست ، دپښتو داو لسی اد ب لاری ، پښتو ټو لنه ، دیار لس‌سوه‌شپږ پنځوسم کال ، اووه‌دیرشم‌مخ.

د(اولسی سندر ی) مو لف‌ددغه‌پور تنی عبار ت له نقلولو ورو سته خپل نظر داسی وړاندی کو ی : ((ددغه محترم لیکوا ل په‌نظر د غه ډول سندر ی (چار بیتی ، بد لی، بگتی ، لوبی ، داستان ، دمرو تو کسرونه ، مقا مو نه او آزا د ی خصو صی سندری) په او لسی‌ادب کی نه‌شا ملیږ ی ، او دلیل یی‌دادی‌چی‌و یو نکی یی معلوم دی .دد ی‌له پاره چی مونږ دغه خبره تر یوی اندازی روښا نه کړی شو ، نـــو لازمه ایسی لو مړی وپو هیږ و هغه ادبیا ت چی ښاغلی لیکوال‌یی او لسی بو لی څه خصو صیا ت‌لری، اود غه خصو صیا ت بیازموږ په دغو سندرو کی مو ندل کیږ ی‌که‌یه ؟

څکه دسندرو دعمو می خصو صیاتو څرگندونه دمو ضو ع پـــه روښانولو کی ډیر پدل لری. د او لسی سندرو دخصو صیا تـــو د معلو مو لو له پاره بل کتاب نه‌پلټم ، بلکی په خپله د پښتوداولسی ادب‌لار ی دکتاب پاڼی اړو م .دد غه‌کتاب په اته‌شپیتم مخ کی‌لیکل‌شوی دی:

(دپښتو او لسی‌اد بیا ت ا و سندر ی په عمو می ډول د غـــه خصو صیات لری :

۱ ــ دپردو ژبو له لغاتو اوالفاظوڅخه سو چه‌والی .

۲ ــ دنالوستو کسانو په ژبه‌اودهغوی د داخلی او خار جی‌احسا س او چاپیر یا ل ښکار ندو ی‌دتصوف‌او عر فا ن له روح نه په څنگ.

۳ ــ دعر بی او دری له عرو ضو‌او متر یکو خصو صیا تو څخه په څنگ او لیری .

٤ــ دښکلااو ښکلو مینه ور کی‌طبیعی رنگ لری ، او درو حی انحرسا ف سر حد ته نه د ه‌رسیدلی.

٥ ــ که‌رز می وی که‌بزمی‌دکوم‌واکمن‌اوبادار مدحه او ستا ینه نه لری.

٦ ـ مفهوم او مضمو ن په کی‌له قافیی ځخه نه دی قربان‌شوی، ایجازاواختصاریی‌لوی‌خصو صیـــت‌دی.

۷ ـ دتشبیه او استعار ی‌طرفین‌یی دخپل چاپیر یا ل‌مولود دی ،د ختا او ختن مبنك اود یمن لا لو نه‌نه لری ، کیفیت او کمیت یی دخپل چاپیر یال زیږ ندده‌ده.)

که‌څه هم دغه لوړ خصو صیا ت‌چی بنا غلی لیکوا ل داو لسی بی شا عره سندرو یا ادبیاتو ته پاره‌کښلی بنایی سل په‌سلو کی دمنلو وړ ونه بلل شی او پرځینو موادویی اعترا ض واردیږ ی ، خو زما دده له‌نظر یی سره څه کار نشتـــه‌داددو ی نظر دی . خو څه چی زه پری ویل غواړ م دادی چی همدغه‌خصو صیا ت چی محترم لیکوا ل او لسی بی شاعره سندرو تـــه‌ټاکلی په او لسی شا عر لرو نکو یا خصو صی او لسی سندروکی‌هم‌هو بهو د تطبیق وړ دی . د د ی مجمو عی سندر ی او نور ی پـــه‌سلگو نو او لسی سندر ی لکـــه چار بیتی ، لو بی ، بگتی ،داستا ناو نور دغه ډول خصا یصـــــ لری.))(۱)

د(او لسی سندر ی)لیکوا ل په‌دی باره کی مفصل غږ ید لی اود خپل نظر دتایید دپاره یی دنورو فوالکلور پیژندو نکو څخه هـــــم نقل قول کړی دی خو دده دنظـــراساسی ټکی دادی چی او لســـــی سندری ټاکلی‌معیارونه او مواز ین‌لری،په هره سندره کی چی‌نوموړی معیارونه او خصو صیاو ت مو جودوی نو هغه او لسی سندره ده که شاعر یی معلوم وی یا معلوم نه‌وی‌دادسندر ی ما هیت ته تغییر نه‌شی ور کولی . او س نو دا پو ښتنـــه‌راولا ړیږ ی چی که مو نږداو لسی

---

۱ ـزلمی هیواد مل ، او لســی‌سندر ی ، لومړی ټوك ،دافغانستان دعلو مو اکاډ می دژ بو اوادبیاتو مر کز ، دیار لس سوه یو شپیتـم کال ، اته‌و یشتم ـ نهه‌ویشتـــــم‌مخو نه .

شا عرانو سندر ی ، دکاکړوغاړی، دمرو تو کسرونه او داسی نور د
او لسی ادب له چوکاټ نه‌و باسو، هغو ته بایدیوبیه ل‌نو م و ضع‌شی
که‌نه؟ بله دا چی په دی صور ت کی‌نواو لسی اد ب‌ته‌خه‌پاتی‌کیږی ؟
آیا بهتره به‌نه‌وی چی پښتـــانه ادب‌پیژندو نکی دخپلو ادبیا تـــــود
خیړنی دپاره ، زمو ږ دادبیا تو دملی خصو صیاتو او ځا نګړ تیاوو
په‌رڼا کی جلا تصنیفو نه و ړا ندی‌کړی او یو جا مع او مانع ډیزا ین
یی ترتیب کړی. داچی وایو ادبیات‌دخپلی زیر بنا (بنسټ) په نسبت
نسبی خپلوا کی لری علت یی دادی‌چی دیوی تو لنی په ادبیا تو کی
فر هنګی مواریث او ملی کرکتـــرهم اغیزه لری.(امیر نیك آیین)په
دی باره کی داسی لیکی:((... هنراز پایه اقتصاد ی جا معه ، نسبت
به‌سایر اشکا ل ایدیولو ژی‌وآگا هی‌اجتما عی نظیرسیاست و حقو ق
دور تراست و تغییرا ت آن را نـــه‌بلا فاصله و نه مستقیما منعکـــس
میکنند ، بلکه این تاثیر باوا سطه‌است . در تحو ل و تغییر هنـــر
عوا مل و عنا صر دیگری نیـــزدید خل اند نظیر سنت های هنری
وضع عمو می سیا سی‌و رو حی‌جا معه و میزان تسلط سا یـــر
انواع آگا هی اجتما عی‌وغیره که‌همه این ها استقلال نسبی به‌تکامل
هنر می بخشد . رابطه هنـــــربا‌پایه اقتصاد ی را هر گز نباید
خشك ، مستقیم و میکا نیکـــی‌دانست ... از این روا ست که ما
طی تاریخ می توا نیم مشا هده‌کنیم‌که در بر خی کشور ها ی از نظر
اقتصاد ی عقب ما نده ، هنـــــرشگو فانی و جود داشته وبرعکس
دیده میشود که در بر خی کشورهای ازنظر اقتصاد ی‌پیشر فته ،
هنر دچار رکودبوده و به‌قهقرا می‌رفته است. همین خود نشا ن می
دهد که در جا معه طبقا تی هنر به‌هیچو جه مستقیما منعکس کننـده
سطح‌رشد تو لید و بیانگر در جه‌رشد اقتصاد ی نیست بلکه تما می
شرایط اجتماعی زندگی است که‌درآن‌باز تاب می‌یابد ... به ع لاوه

مداو مت و وراثت و سنـــــــت درابداع آثار هنری ، نقش مهمی در تکا مل هنر دارد.))(۱)

دهمدی خبرو په ادا مه‌کی‌نوموړی‌لیکوال داسی لیکی :((آثار هنر ی در مجمو عه ابداعا ت فر هنگـــی‌هر خلق، بیش از همه دارای خصلت ملی است . زیرا که و سایـــل-بیانی آن و شکلی که هراثر به‌خود می گیرد وابسته به خصو صیا ت‌ملی و زبان و سنت ها و آدا ب‌و تاریخچه قوام ملی است.))(۲)

ددغه اوږ ده اقتبا س څخه‌مقصددادی چی دپښتو او لسی ادبیا ت ځینی داسی څا نګړ تیاو ی لری‌چی‌نه‌شی کیدای دنورو ټو لنـــــــو په هنری قالبونو کی یی وا چوو . په‌لویدیځو ټو لنو کی یوزیات شمیر او لسی سندری (Folksongs) شته‌چی و یو نکی یی نه دی معلوم اما دپښتنوداکثرواولسی‌سنـــــد ر وویو-نکی معلوم اشخا ص دی چی که‌د هغو سندری داو لسی اد ب له مجمو عی نه‌وایستل شی نو داولسی ادب انځور به تت‌شی . دپښتود او لسی ادب یوه پیاوړ ی محقـــق

دپښتو او لسی سندری پر د وو برخوو یشلی دی: هغو سندرو ته‌یی چی شا عرا ن یی معلو م دی‌اولسی‌خا صی سندر ی او هغو ته چی شا عران یی نا معلوم دی عا مـــی‌او لسی سندر ی و یلی دی . دا مساله دلویدیځو ټولنو په فولکلورکی هم شته .

(دنړ ی دادبیاتو قا مو س) د او لسی سندری (Folksong) ترعنوا ن لا ندی لیکی :

اولسی سندری عمو ما په دو ه ډوله دی. یو ډول یی مشهو ر ی

۱- امیر نیك آیین ، ماتریالیسم‌دیالکتیك و ما تریا لیسم تاریخی، کتاب دو م :ماتریا لیسم تار یخی ،چاپ سوم ، انتشارا ت حز ب‌توده ایرا ن ، دیار لس سوه اته‌پنځوسم‌کال ، دری سوه دری‌څلو یښتم‌مخ.
۲ - همدغه اثر ،دری سوه‌څلورڅلویښتم مخ.

سندری دی چی‌شا عرا ن یی‌معلوم‌دی. دغه ډول سندر ی اکثـــری دهیواد پالنی په‌روحبه جوړ ی‌شوی‌دی لکه دغه امریکا یی سنـــدری: ((په‌ستو رو سینگار شوی‌بیر غ))،((ډیکسی))، ((ښکلی امر یکا))، یادغه او لسی سندر ی :((هغلته))او«اوږده اوږده لار» چی په لومړ ی نړیواله جګړه کی جوړی شو ی‌دی.ددغو سندرو شا عرا ن معلوم‌دی، دغه سندر ی په‌گډه‌ویل کیږ ی . سکاتلیند ی سندره ((الم لا نگـــث سین))، دج.هـ. پین سنــــــــد ر،(کور ، خوږ کور) اود (ستیفن ـ فوستر) سندری د(ستا تیك) ډول‌سندری دی ،

په دی توگه ، لویـږځ فولکلو ریستا ن هغو و لسی سندرو ته چی شا عرا ن یی مــــــــعلوم دی(ستاتیك) سندری وایی یعنی چـــی بدلون نه منی او شکل یی تثبیت‌شوی دی.

فولکلور ی ادبیا ت دخوا صـوله ادبیاتو څخه په خپل هنــــر ی میتود (اسلوب) کی هم جوت‌توپیرلری . په او لسی ادبیاتو کــــــــی چاپیره وا تعینو نه په سما ده ډول‌ښودل کیږی. دفولکلو ر په ییپیك (داستانی) ژ...ر کی دکر کتـــــــر...ن) سایکا لرجی ، فز یکــــــی یا ...ر چاپیر یا ل ، فیز یو نومی،ر...ری څخه دبا طنی حا لا تــــو مالو مول)، کره وړه ، فــــزیــــك(بدنی وضع او جوړ ښت) اوداسی نورپه پام کی نه‌بیول‌کیږ ی. فو لکلوری‌کیسی ...اتره د پیښو کیسی دی چی دکر کتر پر محــــــــوز راڅرخیږ ی او فیز یکی اخ و ډ ب یا ماوراء الطبیعی قونو نه ماجرا پای ته‌رسو ی . په داسی حال‌کی چی‌په تکلو نو کی دتفنن بر خــــــــه‌زیاته ده اود اوز گار و خت‌دتیرولو دپاره دسر گر می وسیله ده،قصی‌او حکایتونه زیاتره دیوه غر ضــــــــــ دپاره ویل کیږ ی او راوی غوا ړی‌چی دقصی یاحکایت په‌و یلو سره خپلی مد عاته یوه پښتوا نـــــــه‌پیداکړی.

دفولکلور په لیر یك(سندریز) ژا نر کی داستعارو ، طنز ،کنا یی، او اکثرو بدیعی صنا یعو اړ خ د خوا صو دادبیاتو په تنا سب کمزوری دی . البته دعوا مو پهشعر کی تشبیه گانی ز یاتی دی خو تشبیها ت یی ساده او زیا تر ه محسو س او ملمو س شیان افا ده کوی . او لسی سندری معمو لا پهوزم (غاړه، آهنگ) سره ویلی‌کیږی او چیر ته چی امکان و لری نـــومو سیقی همور سره ملگری‌کیږ ی. زمونږ د پخوانی نسل په تصورکی‌نه‌راتله چی‌سندره دی بیوز مـــه وویله شی . په‌کلی او لس کی‌پخوادشا عر او سندر غاړ ی تر مینــځ چندانی تو پیر نه‌کیده‌ځکه‌چـــی‌شا عرانو به خپل شعرو نه پهوز م ویل او یابه‌یی بل‌سندر غاړ ی ته‌ورزده کول چی په ښکلی و ز م‌یی ووایی .

دمضمو ن په لحاظ د پښتواولسی‌سندری ډیره‌زیاته تنوع لری چـــی خینو فولکلور پستا نو یی د غـــه‌ډولونه یادکړی دی : عشقـــــی سندر ی ، تاریخی سندر ی،جغرا فیوی سندر ی ، اجتماعی‌سندری ، اخلاقی ، دینی او ټو کی(فکا هی) سندری ، ویر نی ،ستا ینی،قصصی سندری او مقابلوی سندوی چی هره‌یوه یی دمو ضوع او محتوا په لحاظ مفصل بیان غواړ ی.

دفولکلور په ډراما تیك ژانر کی‌دصحنی ډیزاین ، مکیاژ،ډیا لو گ، اواکټونه ډیر سا ده دی . دلته هم‌دفولکلور ی ادب دنورو ژانرو نوپه شان فنی او تخنیکی مختصا ت پهضمنی او عبوری ډول دهد ف دپاره په‌کار اچول کیږی.

په عمو می ډول ویلای شو چی‌دفولکلور ی ادبیاتو په ژا نرو نو کی هنری اسلوب دهدف د تحقـــق‌دپاره له یوی وسیلی نه ز یــات

اهمیت نه لری په داسې حال کې‌چې دخوا صو په ادبیا توکې ډ یر
ځله فنی او بدیعی مختصـــــات په خپله غایه گرځی او یا دا چــی
شکل تهله مضمو ن نهزیات‌ارز ښت‌ور کول کیږ ی .

دخلکو په ادبیاتو کې رومانتیکی‌آرزو گانی د مبالغی په بڼــــه
تبلور مو می او ډیر ځلـــــــه‌دایستیتیك ایډ یا ل دتشکیلو نکو
اجزاو تر مینځ تنا سب په پام‌کې نه‌نیول کیږی . دمثال پــه توگه‌د
نکل دقهرما ن معشو قه دو مر ه ښکلی ده چی‌لیدو نکی یی په یوه
وار لیدلو بی هو ښه کیږ ی ،دنکل‌اتل په‌یوازی ځان یوه لوی لښکرته
ماته ور کولی شی ، دده آس زمری‌ته ماته‌ور کوی ، او داسی نــــور
نور .

دنکلو نو په معر ف ی‌کولو کی‌دنکل کولو شرایط او حا لا ت (د
نکلچی خای ، حر کا ت . تکیه‌کلام‌دو یلوو خت او مو قعیت ، داو ـ
ریدو نکو هو یت او پیژند نه ،د هغو عکس العمل ، او دا ســـی
نور).هم بایدو لیکل شی .

دپښتو په فولکلور یك ادبیا توکی دډراماتیك ژانر بیلگی ډیر ی
لږی دی، له دی امله‌په ایپیك ، لیر یك ، او ډراما تیك ژا نرو نو
باندی داو لسی ادب و یشنه تقلیدی‌بڼه‌لری چی جا مع او ما نـــع
تصنیف یی نه‌شوگڼلی .

پنځم څپرکی: د فولکلور څیړنې میتود

(دفولکلور څیړنې میتود) په ترکیب کې دری مفهو لې راغلي دي: فولکلور ،څیړنه او میتود .د فولکلور په باره کې مو پخوا یادونې کړې دي . او س به په لنډه توګه (څیړنه) او ور پسې (میتود) هم تعریف کړو .

څیړنه(تحقیق،ریسرچ) د علمي میتود په پیروی ، دیو ی ښې پیژاندل شوی مسا لې د حل په باره کې رښتینې ،ژوره ،عینی (ابجکتیف)، او سیستما تیکه پلټنه ده‌چې په هغه کې د وا قعیتو نو ترمینځ اړ یکې او تطبیقي موا رد‌هم تر از مو ینې لاندې نیول کیږ ي .د څیړنې ځینې خصو صیا ت په لاندې ډول دي:

۱ ـ څیړنه‌به دیوی ټا کلې مسا لې پرشاو خوارا څرخي.

۲ ـ په‌څیړنه کې به یوا‌بتکا ر او نویتو ب‌موجود وي.

۳ـ څیړ نه به‌یوی اړ تیا ته ځوا ب وایي او یابه دیوه ذهني استعجا ب پررو حیه با ندې‌ولاړه وي.

٤ـ څیړنه به له‌یوه آزاد فکر سره شروع‌کیږي دعندی‌تمایلا تو (ذهنیګرا یي) او تعصب له‌اغیز ی څخه به‌ساتل‌کیږ ي.

٥ ـ څیړنه به پرد غسې یوه ذهنیت متکي وي چې په طبیعت او ټولنه کې هره پدیده دیوه‌نظم ا و قانو ن‌پیروی کوی.

٦ ـ دڅیړ نې مقصد به د یو ی فرضیې ثابتو ل یاد قوا نینو او پرنسیپو نو رابر سیره کول‌وي.

۷ ـ په‌څیړ نه کې به‌علت‌اومعلول پلټل کیږي.

۸ـ په‌څیړ نه کې به له‌انداز ه کولوڅخه کار اخیستل کیږ ي .

۹ ـ په‌څیړ نه کې به د لاز م میتود او شعور ی تکنیك څخه استفاده‌کیږ ي .

۱۰ـ دخیړنی مو ضوع با ید د خیړنیوړ وی یعنی باید دا ســـی موضوع وټاکله شی چی د حــــل یاروښانتیا دپاره یی مواد، اسناد، اولازم‌معلوما ت لاس ته را تلا ی شی .

۱۱ ـ له داسی څیړنی څخــه باید په‌کلکه ډډه و شی چــــی د ټولنیز فساد اوبشری تبا هی‌سبب گرځی.

۱۲ـ دڅیړنی مو ضوع با یدڅیړو نکی له ذوق،دمعلو ما تـــو له سطحی او استعداد سره برابره وی.

دڅیړنی مو ضوع ډیر ځله د ورځنی ژو ند له اړ تیاوو څخه را پیداکیږی .کله کله دڅیړ نـــی مو ضوع دحقیقت دمو ند لو ا ود استعجاب او پلټنون د حســـــس د تسکین له لاری مینځ‌ته‌را ځی . په ځینو علمی ـ تحقیقی موسسو کی لکه دعلو مو اکاډ می،پوهنتو نونو، اود ریسر چ مرکزو نو کی کار کوو نکی مکلف وی چی علمـــــی څیړنی وکړی یاپه‌بله ژبه ،څیړنه ددوی اصلی وظیفه وی.

ددغسی تحقیقی مر کزو نـــو او موسسو دڅیړو نکو د پاره د څیړنی دمو ضوع انتخــــــا ب یوغټ پرابلم دی ځکه څیړو نکـــی باید دځپلی تحقیقی پــــرو ژی دضرور ت ، اهمیت او نو ښت‌څخه دفاع وکړی، دڅیړ نی ډیزا یــــن وړاندی کړی، دمعلو ما توماخذونه او منابع معر فی کړی، او یـــــوه مناسبه میتو دو لوژی وټا کی . له دی ورو سته څیړنه په خپل‌مسیر کی لویږی او ستو نزی‌کمیږ ی. متل دی چی :((بنه آغاز نیما یـی انجام دی.))

((دڅیړ نی دمو ضو عدموند لو دپاره لازمه ده چی څیړو نکـــی ځا نته دپو هنی یوه‌ځا صه ځا نگه وټاکی .ځینی کسا ن چــــــــی ((په هرڅه پوهیږ ی او په هیــــځ نه‌پو هیږی)) دڅیړ نی خلك نه‌دی. هرکله چی څیړو نکی یوه ځا نگــه‌وټاکی نوپه هغه ځا نگه کـــــــی تخصصی خپرو نی (کتا بو نه ، موقو ته خپرو نی ، کالنی ،دایره‌ـ المعار ف او نور) دی‌وگور ی . څیړو نکی ته به ډیر ژر معلو مـه شی چی کومی مسالی څیړل شوی دی اوکو مـی مسا لی زیا تی‌څیړ نی ته اړه لری .دڅیړنی دمو ضو عیوه بله منبع اداری کسا ن، څارو نکی،

دشر کتنو مشرا ن اوځینی نـــور اشخاص او موسسی دی.د اکثـر و موسسو اداره کوو نکی‌پو هیږ ی چی په کومو موضوعاتو کی څیړ نی ته اړ دی.))(۱)

میتـــــود : (Method)

میتود یونانی کلمه ده چی لاری‌اوطریقه ی‌ته‌ویل کیږ ی یعنی‌هد ف ته درسیدلو لاره یادیوه فعا لیـت دتنظیمو لو طر یقه .

له لرغو نو زما نو څخه تـــــر اوسه پور ی دمعر فت دحاصلولو دپاره ډیر میتودونه استعمال شوی دی لکه دصلا حیت میتود،دشخصی تجربی میتود ، دسلیم‌عقل (عا مـه ذهنیت) میتود ، شهودی میتو د، میتافز یکی میتود، علمی میتود ،او فلسفی میتود .ددی دپاره چی د علمی میتود په ما هیت‌و پو هیږ و په‌څولنډو جملو کی به نــــو ر میتودونه هم معر فی کړو:

دصلاحیت میتود د شخصیـــــت پرستی پراصل تکیه کوی . د دی میتود پلویا ن دیوی خبری د صحت او سقم دمعلو مو لو دپاره،دتجربی په‌ځای، دخپل‌پیشوا او مقتــــــدا نظریی ته‌رجو ع کوی اود هغـــــه نظریه په‌پتهوسترګو قبلو ی.دد غی نظریی نیمګړ تیا داده چی‌اشخا ص له‌سهو ی او خطا څخه خا لی نه دی ،داسی انسا ن‌نشته چی پـــــه ټو لو شیانو وپوهیږ ی او مطلـق حقیقت یی موندلی‌و ی. علم همیشه دانکشا ف په‌حال کی دی، علمـی میتود د دګماتیز م او شخصیـــــت پرستی سره موا فقه نه کوی .

شخصی تجربه هم همیشه د اعتبارو‌ړ نه ده . په داسی حال کی چی علمی تجر به تر کنترو ل‌شویو شرایطولا ندی یو سیستما تیـــک اوپلان شوی فعا لیت دی شخصـــی تجربه پر نیمګړو ، تصاد فی اوبی کنتروله لیدنو کتنو باند ی‌متکی‌ده. شخصی تجر به په هغه صور ت‌کی پرعلمی تجر به بدلیږ ی چی‌دټاکلو شرایطو لا ندی ضرور ی روا بطپه تکراریدو نکی ډول و لیدل شی ،څیلواك او بنتو نکی او تړ لـــــی او بنتو نکی دکنترول شو یـــــو اوبنتو نکو سره یو ځای‌ترازموینی

---

۱ ــ محمد صدیق‌رو هــــی،د څیړنی لاربنود ، پښتو ټو لنــــه ، دیاز لس سوه څلور پنځو ســــــم کال ، پنځه پنځوسم ــ شپږ‌پنځوسم مخونه .

لاندې راشي (ددغې موضوع تفصيل په تجربو بوي ميتود کي مطالعه کړی ع).

دسليم عقل ميتود په اصل کي هماغه دعامه ذهنيت ميتود دی. اما سليم عقل يا عامه ذهنيت دعلمي ميتود ځای نه شي نيولی. سليم عقل کله کله اشتباه کوی. تر څو پوری چې (ګاليله) دتجربی په واسطه اثبات نه وه رسولی عامه ذهنيت د(ارسطو) له دغې نظر يې څخه ملاتړ کاوه چې که له يوه عنصر نه جوړ شوی سپک او درانده شيان له هوانه ځمکی ته را خو شي شي درانده شيان به مخکي او سپک شيان به وروسته ځمکی ته راورسيږی.(ګاليله) د (پيزا) له برج نه سپک او درانده شيان همزمان راخوشي کړل او همزمان ځمکی ته راورسيدل. په هغه وخت کی عامه ذهنيت داو چې ځمکه ولاړه ده او لمر وربا ندی څرخيږی.((سليم عقل)) حکم کاوه چې هره ورځ لمر را خيږی او بيرته ډوبيږی. په او سنی وخت کی د (انشيتاين) دنسبيت تيوری يو ځل بيا سليم عقل حيرا ن کړ.راتلونکی نه ده معلومه چې سليم عقل به له څه ډول محير العقول واقعيتونو سره مخامخ شي.

دشهود ميتود هم دسليم عقل له ميتود سره شباهت لری په دی مانا چې ځيني حکمونه دومره څرګند او واضح ښکاری چې د ليل او ثبوت ته محتاج نه بريښي.شهود دهغه استعداد ته ويل کيږی چې حقيقت مستقيما بی له مقدماتی منطقی استدلال څخه درك کړی شي. دشهود دپلو يانو په نظر ځينی حقايق بديهی دی دااستدلال او تجربی زيږ نده نه دی .ددغه ميتو د نيمګړ تيا داده چې دپره تيك يا تجربی نقش په ځينو موا ردو کی نفی کوی . بله نيمګړ تيايی دا ده چې دتاريخ په اوږ دو کی ځينی بديهی حکمو نه وروسته غلط ثابت شول. دمثال په توګه ،د هيا ت علماو دکوپر نيك په ګډو ن د سيا را تو مدارو نه دايروی ګڼل . ددوی په نظر دايو بديهی حکم وخواو سنی پوها ن دغه حکم نه تاييدوی .

هيتا فزيکی ميتود د يواځ خيز توب او سبجکتيويزم له امله دځاږ وړنه دی . ميتا فزيکی ميتو دپديدی او شيان داسی ګڼی لکه چې هغوی

نهایی او بی تغییره وی، یو تربله اړیکی نه لری، او ددا خلـــــی تضادو نو تر مینځ د مبارزی له لاری د طبیعت اوټو لنی له انکشا ف څخه انکار کوی او له همدی امله، میتافز یکی میتود ته ددیالکتیکـی ضد میتود په نظر کتل کیږی . خو دا باید وویل شی چی میتا فز یـك ددیالکتیك ضد په مفهو م دلومړی ځل دپاره د هیګل له خوا استعمال شو.(پخوا میتا فز یك بله ما نا در لوده)خو ده دغه اصطلاح پــوره توضیح نه کړی شوه . وروستــه مارکس او انګلس میتا فز یکـــی تفکر دډیا لکتیکی ماتریا لیستــی میتود په مقابل کی ودراوه .

له مارکس نه مخکی فلسفی میتود هم علمی بڼه نه در لوده او ستره نیمګړ تیا یی داوه چی دتیور ی او پره تیك تر مینځ یووا لی پکی نـــه لیدل کیده . پخوا نی فیلسو فا ن په دی عقیده وو چی دفلسفـــی قلمرو له هغه ځایه پیل کیږی چیر ته چی دسا ینس سر حد پای تـــه رسیږ ی. په هغه و خت کی دفلسفی مهمی څا نګی دادی: انتو لو جـی (د خلقت د اسرارو مو ندنـــــه) اپیستمو لو جی (دمعر فت نظر یه)، منطق ، اخلا قیا ت ، ایستیتیکس (نقر یبی ما نا یی ښکلا پیژ ند نه ده) اروا پو هنه، ټولنپو هنه، اودفلسفی تاریخ. ځینو اخلاقی او ښکلا پیـز ارزښتو نه د(اکسیالو جی) یعنـــی ارز ښت پیژ ند نی تر عنوان لا ندی مطالعه کول . ټیلیو لو جی(هد ف پیژ ندنه) هم دفلسفی مهمه څا نګه ده چی په هغه کی به یی دکاینا تـــو او ژو ند دمینځ ته راتلو هدفو نه پلټل.

هیګل فلسفی میتود ته نوی رنګ ورکړ،له ماتی څخه یی وسا ته او دغه میتود یی د مشخصو علو مـــو له میتودو نو څخه جلا کړ. سره له دی، دهیګل دفلسفی ایدیا لیز م د میتود دنقش په مطلق کو لـــــو منجر شو اود عینی نړی قوا نین یی دمعر فت په قوا نینو کی خلاصه کړل . مارکسیستی ــ لنینیستـــی میتودو لوژ ی پر ډیا لکتیکی ماتر- یالیزم باندی بنا شوی ده چی هم د معر فت عمو می میتود احتوا کوی او هم دمیتودو نو دپیژ ند نی دپاره علمی تیوری وړاندی کوی .دد غـــه نړی لید په اسا س ،د معر فـــت میتودو نه دطبیعت او ټو لنی پـــر عینی قوا نینو بناشوی دی .

دمعرفت میتود یوازی په هغه صورت کی علم ی بلل کیږی چی په خپله دواقعیت عینی قوا نیـــــن منعکس کړی .(۱).

(ل. پانو ماریف) دعلمی میتو د په باره کی لیکی:((دعلمی میتو د ماهیت په ډیره ساده توګه بیانولی شو: دا داسی میتود دی چی دهغه په مرسته کولی شو دپدیدو پـــه باره کی داسی معلو ما ت تر لاسه کړو چی ازمویل کیدای شی ،ساتل کیدای شی ، او نورو ته ورانتقا ــ لیدای شی .

له دی څخه بلا فا صله نتیجـه لاس ته راځی چی علم، هر ډول پدیدی په کلی تو ګه نه څیړی، بلکـــــی یوازی هغه پدیدی مطا لعه کو ی چی تکرار یدو نکی دی. دعلم اصلی وظیفه دهغو قوا نینو پلټنه ده چی دهغو پر اساس پدیدی مینځ تـــه راځی . »(۲)

دڅیړنی مهم میتو دو نه :

دڅیړنی میتودو نه ډیر ډولو نه لری، خو په عمو می ډول دالا ندی دری میتودو نه ترټو لو اسا ســی ګڼل کیږی:

لومړی ــ تاریخی میتود :

دغه میتود چی د(هیستو ریز م) په نا مه هم یادیږ ی دشیا نو او پدیدو مینځ ته را تلل او انکشا ف لـــه تاریخی مشخصو تګا ګو نکو عوامل و سره په ارتبا ط کی تر څیړ نی لاندی نیسی . تاریخی میتود دهر ډو ل تغییر او بدلون دڅیړ لو سره علاقه نه لری بلکی یواز ی هغه عمد ه بدـ لو نو نه مطالعه کوی چی دشیا نو تګا کلی خوا ص او اړ یکی،د هغو ماهیت او کیفی مشخصـــــا ت څرګندوی ، هیستو ریز م د علم په یوه عمده پر نسیپ بدل شوی دی چی کولای شی دطبیعت او ټو لنی په باره کی یو علمی تصو یر و ړاندی کړ ی اود انکشاف قوا نین کشـــف کړی(لکه دډاروین د تکا مل تیوری)تاریخی میتود دډیا لکتیکی میتو د یو عمده او بشپړ وونـــکی اړخ دی. په تاریخی میتود کی باید دتار یخی او منطقی مقولو تر مینځ یووا لی او دتضاد عنصر په نظر کی وساتل شی .

---

1) "Methodology", **A Dictonary of philosophy. op.cit., PP.289—290.**

۲ــ ل . پانو ماریف ، نوموړی اثر ،

په‌تاریخی څیړنه کی هم معمو لا دنورو اجتما عی څیړ نو په شان‌یوه ټاکلی کړنلاره (پروسیجر) په پام کی نیول‌کیږ ی .ځینی تاریـــخ لیکو نکی شپږ او ځینی او‌وه‌گا مه‌ضرور ی گڼی ، لیکن په دغـــو ټو لو کی څلور گا مه مهم‌اواساسی دی په لا ندی ډول :

۱ ــ دپرابلم پیژ ند نه او د موضوع ټاکنه :

دڅیړ نی تر ټو لو بنه مو ضوع هغه ده چی نو ښت او ابتکاروولری. که‌نوی اسناد او شوا هد د یوی فرضیی یا تیوری له جوړو لوسره مرسته وکړ ی دغسی څیړ نـــه تاریخی اهمیت پیدا کوی‌اودلیکوا ل نوم ژو ندی سا تی . که مور خ یوازی‌نوی اسناد او شوا هد‌معرفی کړی‌یادپخوا نیو اسنا دو اومنابعوڅخه نوی استنتاج وکړی دا هـــم دو همه در جه اهمیت لری. که‌تیت پرك معلو ما ت سره راغو نـــه اوتنظیم شی دانو دریمه در جـــه اهمیت لری . که خبری ټو لـــی تکراری‌وی دابیایو ډوبلیکیشـــــن دی کوم ارزښت نه لری . تر ټولو بده یی داچی ځینی څیړو نکـــی په‌داسی لیکنو بو خت شو ی دی چی پخوا نیو له دوی نه په‌بهتـــره اسلوب او عالی سبك وړاندی کړی دی. دریسر چ‌مر کزو نه او څیړ- وونکی اور گانو نه باید دد غسی مبتذ لو مقالو او رسا لو څیړو لو‌ته‌موقع ورنه‌کړی څکه داد ابتذا ل‌او بی تفاو تی دعا مو لو دپاره‌خد مت دی نه دعلم او تحقیق دپاره .

۲ ــ دمعلو ماتو (Data) را ټولونه :

ر ښتونی مور خ دفاکتو نو پـــه څیړنه‌کی اصلی (اوریجینال)منابعو ته‌رجوع کوی او یوزا ی هغـــه مواد او اسناد راټو لوی چی‌مستقیما دده‌له مو ضوع سره اړه لر ی . البته که تاریخ لیکو نکی دځینـــو نورو ارز ښتمنو معلو ما تو ســـره مخامخ‌شو هغه معلو ما ت دی دیوه بل مقصد دپاره جلاو سا تی ا و دڅیړ نی له مو ضوع سره دی یـــی نه‌گډوی. ځینی څیړو نکی په‌دو هم یا دریم لاس منابعو تکیه کو ی او حتی د مسایلو په تحلیل اوتفسیر کی هم د هغو له عینکو څخه کا ر اخلی .تر څو پوری چی امکا ن ولری څیړونکی باید اصلی منا بع پیداکړی څکه ډیر ځله پیښیږ ی‌چی له ده نه مخکی څیړو نکی اصلی‌منبع په دقت نه‌وی کتلی ، غلط یاددښت یی اخیستی وی، ناسمه انطبا ع‌یی

اخیستی وی ، دغرض دپاره یـــی خبره تحریف کړی وی ، او یا یی له قرینی څخه دباندی اقتبا ســ کړی‌وی. داټول شیان پیښ شوی دی او پیښیږی .دمورخ د پاره د معلو ماتو درا غونډو لو پرا خــــه ساحه پرته ده :قلمی نسخـــــی ، شخصی یاد دښتو نه ، چا پ شوی آثار ، کتیبې ، مسکو کا ت،تاریخی انځورونه ، مجسمی ، لرغو نـــــی لوښی ، افزاراوآلا ت ،کنډوا لی ،کیندنی ، رسمی اسناد اوداسی نور دتاریخ څیړ نی مهم منابع گڼــل کیږی . مور خ له فولکلور څخه هم گټه اخیستلی شی.

۳ـ دلا س ته‌را غلو معلو ما تو ارزیابی‌اوکره کتنه :

څیړو نکی باید ثابته کړ ی چی‌دده دمعلو ماتو منبع ثقه ، اصلی او واقعی ده او وریپسی داهم با یـــد اثبا ت ته‌ور سوی چی دنو مو ړ ی منبع‌محتو یا ت سم او رښتینی دی. که معلو مات نیمگړ ی،مشکو ك ، او یاناسم وی او ثقه تو ب یـــــی دپوښتنی وړ وگر ځی نودڅیړو نکی خواری‌عبث او هدروولا ړه . لیکــن ددی خبری ما نا دانه ده چـــــــی څیړونکی دی له څیړ نی څخه ډډه وکړ ی بلکی هغه باید په صداقت اوشهامت سره ووا یی چی دده‌د معلو ماتو منابع کره شوی نه د ی او هغه فقط یوه احتما لی نظر یـــــه وړاندی کوی .دعلو مو دپرمختگ دپاره دیوی احتما لی فر ضیـــــی یانظریی وړ اندی کو ل نه‌یواز ی زیان نه لری بلکی گټوری نتیجـــی هم‌ور باندی بناکیدای شی.

٤ ــ دمعلو ماتو تعبیر اوتفسیر:

په څیړ نه کـ ی‌دغه پر نسیـــپ دخا صی پا ملر نی وړ دی چی وایی: ((هیڅ ډول څیړ نه له هغو دمعلو ماتو څخه چی ور باند ی بنا شوی ده زیاته صحیح او باو ر ی‌کیدای نه‌شی .)) په دی اسا ســ، مورخ چی هره فر ضیه یانظر یـــه (تیوری) وړاندی کوی با یددهماغه معلو ماتو پر بنسټ یی بناکړ ی‌چی‌دنو موړ ی فر ضیی‌یا نظر یی د اثبا ت اوملاتړ دپاره را غو نــــډشوی دی . کو م مور خ چی پــــــر خپلو معلو ماتو او اسنا دو باند ی‌تیوری نه بناء کوی دهغه سړ ی په شا ندی چی خښتی ، لر گی،سمنټ‌او داسی نور دودانی لوازم او مواد

یی راغونه کړی دی خو دو دانـیجوړولو ته اقدام نه‌کوی.دمعلو ماتو دتفسیر او په خپله دمعلو ما تـو ترمینځ باید نږ دی اړیکی موجود وی او له همدی امله، په تفسیرکی‌د تعمیم حدود باید په نظر کـــــی وساتل شی .

دتاریخ لیکنی یو غټ پرا بلم‌دادی چی اکثر تاریخ لیکو نکی د خپلـی نظر یی داثبات دپاره یوازی هغه وا قعیتو نه راغونډو ی چی‌ددوی دهدفو نو له‌تحقق سره مر ستـه کوی . په تاریخ کـ ی‌تصاد فی پیښی هم‌شته اودد غو تصاد فی‌پیښو له یوځای کولو څخه غلط‌تصو یر هم جوړ یدای شی .دمثال په‌تو گه ،د دو همی‌نړ یوا لی جگړ ی په باره کی ډیر زیا ت کتابو نه او مقا لی لیکل شوی دی خو که چیری د غه آثار یو تربله پر تله کړود هغـــو دتحلیل او تفسیر تر مینځ به ډیر زیا ت واټن و لیدل شی.بورژ وا ؤور خا ن دتاریخی پیښو په‌څیړ نه کی په پاز یتیویز م او امپریسیزم باندی اتکاء کوی په داسی حال‌کی چی علمی نړی لید دپیښو دڅیړ نی اوتفسیر دپاره له هیستو ریز م‌څخه چی دډیا لکتیکی میتود یو مهـــــم او بشپړوونکی‌توکدی ، کــــــار اخلی .

دوهم ــ سروی : (Survey)

سروی دڅیړ نی هغه میتود ته ویل‌کیږ ی چی او سنی و ضــــع څیړی او زیار باسی چی‌دڅیړ نـی دمو ضوع کم او کیف څا نته‌معلوم کړی. څیړ نپو ها نو سرو ی پـه پنځو برخوو یشلی ده.چی‌د هغو له جملی څخه تشر یحی او تحلیلـی‌برخی ترنورو زیا ت اهمیت لر ی نو دلته به دا دواړه بر خی پـــه لنډه توگه معر فی کړو:

۱ـ تشریحی بر خه :

دسروی او تاریخی څیړ نی‌ترمنځ توپیردادی چی تاریخی څیړ نی لـه تیرو پیښو سره اړه لری او هدف یی دادی چی دتیرو پیښو په‌څیړ لو سره داو سنی وضعی پس منظر اومینځ ته‌راتلو عوا مل روښا نـه شی په داسی حال کی چی سروی یوازی په ضمنی او عبوری تو گه‌د اوسنیو ضعی عوا مل په‌پام کـــی نیسی او اصلی هدف یی دڅیړ نی دموضوع هراړ څیز ه تشریح ا وڅرگندونه ده . سروی موضوعا ت

او مسایل لکه څنګه چې دي، همغسې یې بیانوي او په موضوع پورې تړلې ټول احتما لي او واقعیتونه راغونډوي. ویل کیږي چې سروې هغو مره ژوره نه ده لکه څو مره چې پراخه ده. په سروې کې دامکان تر حده ساملو وي څکه چې لوی سامپل وا قعیت ته نږدې بشپړ غوندی انځور وړاندې کوي. سروې ګانې معمولا حیاتي او عملي اړخ لري، دځینو اړ تیاوو په اساس پیل کیږي او دسمې پریکړې او معقول تصمیم د نیو لو دپاره معلومات برابروي. سروې دساحوي څیړ نې (فیلډ ریسرچ) یو ډول دی چې اکثرد یوې اجتما عي موسسې، ډلې، یاسیمې داو سنی حالت یا موقف دپیژ ند لو او څیړلو دپاره دیوه تنظیم شوي او پلا ن شوي اقدام په اساس سرته رسیږي. په عادي حالا تو کې سروې دعا مه ذهنیت دمعلومو لو اود مستهلکینو دنظر دپیژ ند لو د پاره په کار اچول کیږي. په علمي څیړنو کې سروې دځوا ب ور کوو نکو د لفظي سلوك دثبتولو دپاره دمر کې یاد پوښتني دتکتیکو نو په وسیله دمعلو ما تو دغونډو لو او له هغو څخه داستفا ده کولو میتود ته ویل کیږي. (۱)

که څه هم سروې دتجر بوي میتود په څیر په ژوره نه ده خو سره له دې په سروې کې هم دمعلو ماتو تحلیل، ترکیب، تفسیر، دمعلو ما تو ترمینځ اړ یکې اود هغو تطبیقي اړ خو نه په پام کې نیول کیږي. سروې هم دنورو څیړ نو په څیر دیوه ټاکلې پرابلم د حل کولو په منظور پیل کیږي او په تعمیم او تفسیر باندې پای ته رسیږي. لیکن په سروې کې معمولا کومه فرضیه نه وضع کیږي. په سروې کې دوه ټکي خا صه پا ملرنه غواړي: لومړی دسا مپل خو ښو نه (چې جلا تفصیل ته اړه لري) او دوهم د مناسب تکنیك انتخا ب.

ب- تحلیلي برخه:

په سروې کې له تحلیل او ترکیب دواړو څخه کار اخیستل کیږي خو څرنګه چې ترکیب زیاتره په طبیعي او پیچلو ټولنیزو پوهنو کې

1) Bernard S. Phillips, Social Research: Strategy and Tactics, the Macmillan company. N.Y., 1966, P. 107.

پکارېږي په‌سروي گې د تحلیـــل ونډه زیاته ده . سره له دې،داخبره بایدله یاده و نه‌باسو چې‌د تحلیل او ترکیب ترمینځ یوډیا لکتیکـــي ارتباط او یووا لی شته او یو له‌بله نه‌شي جلاکیدای . تحلیل‌او ترکیب، دهغو په پراخ مفهوم سره ،په‌ذهني یا وا قعي توگه پر اجزاوو باند ي دیود کل و یشني اود اجزاوو څخه دیوه کل بیا جوړو نی ته و یـــل کیږي . تحلیل او ترکیب‌دپیژ ندني (معر فت) په‌پروسه کې ډیره مهمه ونډه لري اودپیژند نی په هر پړ اوکې‌برخه اخلي. په‌ذ هني پړو سو کې تحلیل او ترکیب د فکردمنطقي‌میتودو نو په‌توگه‌و ظیفه اجرا کوي اودتفکیر له نورو عملیو (تجر ید ، تعمیم ، او نورو) سره په ارتباط‌کې دمجردو مفهو مو نو څخه استفا ده کوي. ځینې یو ها ن تحلیل ته‌دیوه معمو لی او بابیزه تکنیك په نظـــر گوري او وایي چې تحلیل نو ي معلو مات نه‌شي‌و ړاندې کو لی . داخبره سمه نه‌بریښي ځکه تر څو پوري چې دیوه‌کل اجزاو نه پیژندل شي مونږ‌دهغه په جوړ ښت ، د نو کو نو ترمینځ په تناسب، اودهغو ترمینځ په متقابلو اړ یکو نه شـــو پو هیدای . دا هم بایدووایو چې د تحلیل ارز ښت ترزیا تې انداز ي دځیړ نې دهد ف په واسطه ټا کل کیږي. په‌ځینو مواردو کې تحلیل‌د یوه مرکب شي دخوا صودپیژ ند لو سره مر سته نه شي‌کولی مثلا که مونږ دډوډۍ مالگه د هغې پـــــه په جوړوو نکو بر خو تجز یه کړ و لاس ته راغلي عنا صر به‌دما لگې‌د خوا صو دپیژ ند لو دپاره گټـــــور ثابت‌نه شي (که‌څه هم دما لگې د جوړولو دپاره د هغو داجزا ووپیژ-ندنه خا ص اهمیت لري)د تحلیلي سروي ځینې مهم موارد په لا ندې ډول ښودل کیږي:

۱- تکراري ـ استنادي څیړ نې :

په دې ډول‌څیړ نو کې د یـــوې پیښې دتکرار یدو په بر خه کـــي اسناد راغو نډیږ ي اود شمیـــر پوهني (احصا ئیې) له‌تکتیکو نو څخه په استفا دې سره دباور و ړ نتیجې ترلاسه کیږي .دمثا ل پـــه توگه ،امریکا یي‌اروا پوه (تار ن ډایك) دلغاتو دفر یکو ینسۍ(زیات تکراریدلو)په‌بر خه کې یوه مهمه‌څیړ نه وکړه او هغه لس ز ر ه لغتونه یې پیداکړل چې په ژبه کې‌زیا ت استعمالیږ ي . ده‌دهمد غو

ئلغتونو په اساس یوه ډکشنري ولیکله چې دڅېړ زده کوو نکو په تیره د تدریس په برخه کې دلو ست دکتابو نو دلیکلو دپاره ډ یـــره گټوره ثابته شوه. تکراري، استثنا د ي څیړ نې دتعلیمي نصا ب اود درسي مسایلو دتنظیم دپاره زیا تـــــي استعمالیږ ي. دمثا ل په توگـــه، څیړو نکې دسروې په وا سطـــه معلوما ت راغونډوي چې ماشوما ن په کوم عمر کې لیك زده کو لی شي، لهغه ډول شیا نو او لو بو سره مینه لري، څهو خت دشرم په مفهو م پوهیږي، څه و خت څه ډو ل استدلال کو لی شي او داسې نور. کله چې د زیات په مختلفو کلونو کې پــه اوسط ډول سره دماشوما نوذوقونه او استعدادو نه وپیژند ل شــــي تعلیمي نصا ب او درسي پروگرام اود تدریس میتود هم له هغو سره عیاریږي. لیکن څیړو نکې با یـــد دا قضاو ت وکړاي شي چې ډ یـــر پیښیدو نکې او مکرر کارو نه هرو مرو داما نانه لري چې گټور به هم وي.

دتکراري ــ استثناد ي څیړ نـــو یوه نیمگړ تیا داده چې ډ یـــر زیات و خت نیسي. مثلا (تار ن ډایك) دلس زره تکراریدو نکـــو لغتو نو دمو ند لو دپاره اووه ملیونه کلمې په یو څلو یښت مختلفـــو منابعو کې و پلټلې. (۱) پـــه دې وروستیو و ختو کې دد غې نیمگړ ـ تیا درفع کو لو لهپاره له کمپیو تر څخه کار اخیستل کیږي.

۲ ــ کتنه : (Observation)

دعلم یو مشهور تعریف دا سې دی چې علم هغې پو هـــــــــــــي او معلو ما تو ته ویل کیږ ي چې دکتنې او ازمو ینې له لاري لاس ته راغلي و ي. په دغه سا ده تعریف کې دکتنې اهمیت څرگند دی. دکتنې په مفهو م کې باید یوازې هغـــــه معلوما ت داخل نه کړو چې دباصرې دحس له لار ي حا صل شوي وي، بلکې کتنه دټو لو حوا سو فعا لیت احتوا کوي. بله دا چې کتنه فعاله او ارادي ده. علمي کتنه له عامیانه کتنې سره د د رجې په لحـــا ظ توپیر لري نه دنو عیت له مخــــي

---

1) George J.Mouly, the Science of Educational Research, American Book Company, N.Y.. 1963, P.284.

غا میانه کتنه نا منظمه اوذ پد یدی پر قشری اېخ باندی متمر گزه وئ په داسی حال کی چی علمی کتنه پلان شوی اودما هیت راسپړلــو تهوقف شوی وی اود یوی فرضیی پهرنا کی پرمخ درو می(که څه هم دغه فرضیه او مه او ابتدا یــــی بنه لری.)

په علمی کتنه کی باید د غـــه پرنسیپونه مراعات شی :

۱ ـ کیفی حالات دی په کمــــی مقدار و نو وا ړول شی چی پــه علمی اصطلاح دغی عملیی تهکمی کول (Quantification) ویل کیږ ی .

۲ ـ کتنه بایدعینی بڼه و لری له شخصی تمایلا تو او مخکینی موضعگیر ی څخه دی آزاده وساتله شی.

۳ـ کتنه باید سمهوی .

٤ ـکتنه باید داسی نتیجی ورکړ ی چی دباور وړ وی.

٥ ـ دکتنی لاس تهراو ړ نی باید داستعمال وړ وی.

دکتنی دپاره کله کله طبیعـــــی شرایط برا بر شوی وی لکـــــه ار شمید س چی دکتا فتدفورمول ،جیمز وا ټ دبخار دقوی ،اونیوټن دجاذبی دقانو ن دکشفولو دپاره له طبیعی شرایطو څخه الهام و نـــه واخیستل . په ځینوو ختو نو کی کتو نکی په خپله دکتنی دپارهزمینه برا بروی خو په دی صور ت کیهم کتنه باید تر ممکنی اندازی طبیعی بڼهولری. په ځینو مواردو کـــــی دکتو نکی دمو جود یت احسا س پر کتل کیدو نکی باندی اغیزه کوی اود هغه پهسایکالو جی او طبیعی سلوک کی تغییر مینځ ته راو لی . دمثال پهتوگه ،د تلویز یونعکاسان په هغهو خت کی نورما ل اوطبیعی عکسونه اخیستلای شی چی مقابل لوری عکاس ته متوجه نهو ی . پهداسی حالا تو کی کتو نکی تــه شایی چی دکتل کیدو نکو پـــــام ځان تهوانه ړوی . کله کله کتونکی دیوی ډ لی دمشخصا تو دپیژند لو دپاره ، په طبیعی بڼه ، له هما غه ډلی سره دیوه غړی په حیــــــث گډون کوی .

په دی صور ت کی کتو نکی اوـضاع په طبیعی بڼه گوری مگرددی ویره شته چی کتو نکی دی په نا آگاهانه تو گه دهما غه ډ لی تـر

اغیزی لاندې راشي او خپله بیطرفي له لاسه ورکړي. ځینو ټولنپوهانو دغلو او داسې نورو مجرمانو د ګرکتر دڅیړنې دپاره پریکړه کړې ده چې له هغوسره په زندان کې یوځای شي او خپلې څیړنې هلتــــه بشپړې کړي. که چیرې کتو نکي دهغوی سره نه یوځای کیږي بایدپه یوه منا سب ځای کې چې و نه لیدل شــي خپله څیړ نه تر سره کړ ي او که ولیدل شي باید ځان بې علا قــې او بې تفاو ته و ښیي.

دکتنې لیکنه هم خاص مهارت غواړ ي. کله کله دنوټ اخیستل ددې موجب ګر ځي چې کتو نکي ځینې دکتنې وړ پیښې ونه وینې لکه دفټبال او بو کسینګ دلو بو د ننداری په حال کې چې ځیــــنې فیصله کوو نکي شیبې د برې او ماتې سبب ګر ځي که راپور ټــر نوټ اخلې باید دستهینو ګرا فــي (مخفف لیکنې) له فن سره آ شنا وي. (۱)

۳ ــ تجربي میتود : (The Experimental Method)

ځینو څیړ نپو ها نو میتودو نه دزماني په لحاظ په دروډولو نــــو ویشلي دي: تاریخي میتود چــې د تیرې زماني حالات څیړ ي، توضیحي میتود (سروې، تشر یحي میتود) چې او سني وضع تشریح کوي، او تجربي (تجر بوي، تجر بتي) میتود چې دراتلو نکي وضعې پیشګو یي کوي، داو یش که څه هم کا مــلا بې ما نا نه دی خو دمیتودونو ویش دپاره سم معیار نه ګڼــل کیږي. دمثال په توګه، کارل مارکس دتاریخي ماتریالیزم دعمو مي قوا ــ نینو په کشفو لو سره وکولا ی شول چې دسو سیا لیستي ټولنیز ـ اقتصاد ي فور ما سیو ن (دکمو ــ نیستي اجتما عي ــ اقتصاد ي فور ما سیو ن لومړی فاز) دمینځ ته راتلو پیشګو یي وکړي. له بلې خوا تجربي میتود هم په او سني زما نه کې سرته رسیږ ي خودهغه په مر سته دتیرې زما نې حالا ت (لکه دهیا ت، جیو لو جي، ارکیا ـ لوجي او نورو پو هنو لا س تــــه راوړ نې) اود راتلو نکې زمانـې حالات په سمه توګه درک کید لی شي.

---

۱ ــ محمد صدیق رو هي دڅیړ نې لارښود، پښتو ټو لنه، کابل، دیار لس سوه څلور پنځو ســــم کال، یوسلویوولسم ــ یو سلو دیار لسم مخونه.

دتجر بی میتود په باره کی یو عام تصور داسی دی چی گو یا هغه یوازی د طبیعی پو هنو په‌سا حه کی استعمالیږ ی . اما وا قعیت‌دا دی چی‌ټولنیز ی پو هنی هم تـــر زیاتی انداز ی له دغه میتود څخـه گټه اخیستلی شی او عملا یی گټه تری‌اخیستی ده. خو دلته دد غـــه ټکی یادو نه په‌کار ده چی په‌ټولنیزو پو هنو کی تجربی میتود زیا تره له احصاییوی قانون څخه‌استفاده کوی په داسی حال کی چی طبیعی پوهنی په خپله بر خه کی لـــــه ډینا میك قانون څخه کار اخلی .دا موضو ع ژوره څیړ نه غواړ ی اود میتاتیوری له خوا تر بحث لا ندی نیول‌کیږ ی .(میتاتیوری هغـــــی‌تیوری ته‌ویل کیږ ی چی دتیوری-گانوپه باره کی بحث کوی).

تجربه دبشری ټولنیز- تار یخی پره تیك دیوه اړخ په توگه ،دپوهی سر چینه اود فرضیو او تیوری‌گانو دربنستینو لی (حقیقت) معیارد ی. په‌تجربه کی دڅیړ نی لا ندی‌پدیدی‌تر کنترول لاندی راځی ، پر هغو باندی عمل واقع‌کیږی ، دهد فـ‌دلاس ته‌راوړ لو دپاره نو ی شرایط خلق‌کیږی. یاپروسی ته د مطلو ب جهت‌پر خوا تغییر ور کول کیږ ی. په‌کتنه کی کتو نکی زیاتره نندارچی ته‌ورته دی پداسی حال کی چی په تجربه(ازمو ینه) کی دڅیړ نی‌لاندی پدیده دازمو ینـ ی‌په اثر لټ په‌لټ اړو ل‌کیږ ی ، لوری او لور نورته ټاکل کیږی ، او بهر نی عوامل‌تر کنترول‌لاندی‌نیول‌کیږی . وا قعی تجربه له ((ذهنی تجر بی)) سره توپیر لری په دی ما نا چی ذهنـی‌تجربه دشرایطو دبرابر تیا پـــــه صور ت کی دبیلا بیلو پد یدو د وقوع احتمالات د منطقی استدلال په مر سته تشریح‌کوی.

په دی ورو ستیو و ختو کی د انالوجی (ورته وا لی)په مر سته دماډ ل جوړو لو په‌کارکی هم ډیر پرمختگ شوی دی چی له دغه ډول تجربو څخه په سیبر نیتکس کی زیاو ت کار اخیستل کیږی.

دتجربی میتود هر اړ خیـــــزه تشریح دجلا رسا لی یاځا نگړ ی کتا ب دلیکلو غوښتنه کوی ، په‌دی صورت کی مونږ د خپلی مو ضوع څخه لیری پاتی کیږو اودا هـــــم څرگنده ده چی په فوالکلوری څیړ نو کی‌له دغه میتود څخه زیات کار نه اخیستل‌کیږ ی . سره له دی،دلته

په‌لند ډول دتجر بی میتود ځینـــی عمده خصو صیا ت ښودل کیږی.
په ټولنیزو پو هنو کی دتجربی میتود دتطبیق دپاره دری‌اسا ســی شرطونه په‌پام کی نیول‌کیږ ی :
کنترول ، گډوډونه(رانډو مایز ـ یشن) او بیرته اړو نه(ریپلیکیشن).
دکنترول مو ضوع په دا سی‌شکل بیانیږ ی : که هر شی مساوی‌وی نود(الف) دعمل په صور ت کـــی(ب) مینځ ته‌را ځی .دطبیعـــــی پوهنو په‌سا حه کی دکنترول‌مساله‌آسانه ده .دمثال په‌تو گه ، کـــه مقطر ی اوبه دبحر په‌سطح کی د سا نتی گرید دسلو در جو پـــــه حرار ت وایشول شی په بخـــــار بدلیږ ی . دلته (الف) حرارت ا و (ب)دبخار پیداکیدنه ده.دکنترو ل‌او ښتو نکی (متحو لین) مقطر ی اوبه، دفشار ټاکلی اندازه (دبحرسطح)، اود ایشیدو نکو او بو د تجربی‌په پیل کی د هغودحرار ت‌اندازه ده چی دغه شیا ن‌په‌آسا نی کنترو لیږ ی . لیکن په ټو لنیـــزو پوهنو کی چیرته چی موږ لــــــه انسا نـــا نو سره سرو کار لرودکنترول او ښتو نکی ډیر ز یا ت شمیا ن کیدای شی . دلته پـــــــه‌مشکله سره ویلای‌شو چی (که هر شی مساوی وی نو...)یوپو ها ند:ټو کو په‌لهجه وایی چی (هیڅ‌شی مساوی نه دی) یومثا ل به دلتـــــه‌کفایت وکړی: په‌یوه مجله کــــــی داسی فرضیه وړاندی شوی وه‌چی:((دتلویز یو ن جنا یی ښود نـــــو (فلمو نو ،ډرامو) دجنایتو نو لـــــه‌زیا توالی سره مر سته کړ ی ده))
اوداسی دلیل یی راوړی‌و چی اکثر خلك ددغسی ښود نو له کتلو نـــــه ورو سته دترور، غلا ، تیرایستلو، اودسیسو جوړو لو له چلو نوسره آشناکیږی.
ددغسی فر ضیی دملاتړ د پاره باید له تجربی میتود څخه مرسته وغوا ړو.یه تجر بی میتود کی باید هغه ټول او ښتو نکی(عوا مل)چی احتمالا دجنایت دزیا تیدو با عـث گرځی تر کنترول لا ندی‌و نیسو. اماپه عمل کی دد غو او ښتو نکو کنترول ډیر سخت دی ځکه‌دجنا ـ یتونو عوا مل ډیر شیا ن کیدا ی شی: لوږه او بیکار ی ، سا یکالو ـ جیکی حالات ، له جنایت کارا نو سره ناسته ولاړه، دکور نی فاسده روزنه ، ناوړه اجتما عی شرا یط (لکه په بور ژوا ټو لنو کـــــــی‌د کانگسترا نو له خوا دبلیك میـل یا نورو دسیسو له لاری جنا یت

ته دبې گناه کسانو راکښل)ا و داسې نور . طبعا ددغو ټو لـــو
او ښتو نکو کنترول (دخیړ نی له صحنۍ نه ایستل) تقر یبا ناممکن
ښکاری .

ددی دپاره چې مو ضو ع په ښه توگه روښانه شوی وی لا ز مـــه
بریښي چې د(او ښتو نکی)اصطلاح توضیح کړو . په تجر بی میتودکی
داو ښتو نکی (متحول) اصطـ لاح خاص اهمیت لری. هر ډول ذهنی
او ماد ی‌هستی یاپدیدی تــــــه‌او ښتو نکی ویلی شو. که مو ږ
داسې فرضیه و لرو چی:((اسپرین‌دسر خوږ له مینځه وړی)) په د ی
فرضیه کی (اسپرین) یواو ښتونکی‌او (دسر خوږ ی له مینځه تلل)بل
او ښتو نکی دی . د دواړوترمینځ یوه رابطه شته . دو هم اوښتونکی
په‌لومړ ی او ښتو نکی پور ی‌تړلی دی‌له همدی امله، په پور تنی‌فرضیه
کی(اسپر ین) خپلوا ک‌اوښتو نکی‌او(دسر خو ږی له مینځه تلل)
تړلی یاور پوری مر بوطاوښتو نکی‌دی. په‌تجر بی میتود کی دری‌ډوله
او ښتو نکی شته : خپلوا ک، تړلی‌اود کنترول او ښتو نکی . پـــه
فرضیه کی معمو لا دکنترو ل د او ښتو نکی نوم نه‌را ځی خو هغه
دخیړو نکی له خوا په پام کی‌نیول کیږی. مثلا کله چی (اسپر ین) د
سردردی ددوا په نوگه نارو غ‌ته‌ور کول‌کیږ ی او غواړ ی چی ددغه
دواتاثیر معلوم کړی نو با ید په‌دغه‌وخت دنورو دوا گانو، دم اوتعویذ
خا صو خوراکونو ، اوداسی نو روعوا ملو چی احتمالا دسر درد ی
دلیر ی کوالو باعث گر ځی لــــه‌استعمال نه ډډه و شی او تـــر
کنترول لاندی راشی . دکنترو ل‌څخه مراد دادی چی دخپلوا ک او-
ښتو نکی او تړ لی او ښتو نکی ترمینځ رابطه او تعا مل‌کشف شی
او کوم بل عا مل په کی دا خـــل نه‌شی .

گڼ وډونه‌هم په تجر بی میتودکی‌خا ص اهمیت لری . که چیـری
څر ك دگڼ‌وډونی په تکنیك کی اشتباه وکړ ی څیړنه یی له اعتبار

ښخه لوېږ ی . یو سا دهمثا ل:که څوك په افغا نستا ن کی پر کو ډو باندی دباور در لودو نکو دمعلوموڵو دپاره کابل پو هنتون دساميــــــل (نمونی) په‌تو گه انتخاب کړی او په دغه سا مپل کی لاس ته راوړ نی د افغا نستا ن دنفو سو په‌بر خه‌کی تعمیم کړی آ یـا دغـه څیړ نـــه په‌دېاوړ وی . طبعا ځوا ب یـــی منفی دی .ځکه په‌تعلیمیا فته‌کسانو نی ډیر لږ شمیر پر خرافا تو باندی عقیده لری . نو ددی دپاره چـــی سمه بیلگه انتخا ب شی با ید لـه گډوډو خلکو (تعلیمیا فته ، بـــی سوا ده ، ښار ی ،کلیوا لی، ا و نورو) څخه پو ښتنه و شی . د گډوډو نی تکتیك هم ځانته څیړ نه‌غواړ ی. که‌فرض یی کړی دڅیړو ـ نکی مقصد داوی چی آیا پــــــه‌تعلیمیا فته کسا نو کی هم څو ك په خرافا تو (مثلا کو ډو، ټوټکو ،انگیر نو ،د خو ب په‌رښتیاکیدلو، اوداسی نورو)با ندی باور لر ی‌نو ددغسی مسا لی دحل دپاره کا بل پوهنتون ،دعلو مو اکاډ می اوداسی‌نور علمی مر کزو نه دښه‌سا مپـل په‌تو گه ټاکل کیدای شی .

بیر ته اړو نه هم په‌تجر بـــی‌ښتود کی دیوی مو ضو ع هر ـ اړخیز ی څیړ نی د پاره‌استعمالیږی‌څیړونکی کله‌کله دعمو می تجر بی دننه‌ځینی نور ی وړی وړی تجربی تر سره کوی چی دی ته‌بیر تـــــه اړونه ویل‌کیږ ی.

دفولکلور څیړ نی میتـــــود او تکنیکونه :

په‌فولکلور څیړ نه کی له تاریخی‌میتود ،سروی او تجر بی میتودڅخه کار اخیستل کیدای شی. فولکلو ـ ریستا نو زیاتره له‌لومړ یو دوو میتودو نو (تاریخی میتودا وسروی) څخه‌زیاته استفا ده کړی ده. لـــه تاریخی میتود څخه دفو لکلـــــور دمنشاء ،خپرید نی ، او له‌ټو لنیز ژوند سره دفولکلور ی پد یدو داړیکو په‌با ب تیور یکی څیړ نـــی

را مینځ ته شوی دی . ســـــرو ی زیاتره دفولکلور ی موادو راغونډ-
ولو اوثبتولو ته‌و قف شوی ده.یاپه بله ژبه ، سروی تر زیا تی‌اندازی
فولکلور ټولونه ده په دا سی حا ل کی‌چی تاریخی میتود او تجر بـی
میتود له‌نظر یو او فرضیو سره اړه لری.

په او سنی وخت کی دفولکلو ر دتاریخی میتود پلو یانو دفولکلوری
پدیدو څخه یوازی هنری بر خـی دڅیړ نی دپاره پرایښی‌دی اود نورو
فولکلور ی پدیدو (لکه دودو نو ، انگیر نو ، خرافاتو ،فولکلوری‌طب،
کسبو نو او حرفو ، اود ماد ی‌کلتور اړخونو) څیړنه او گروین نه یـی
اتنوگرا فی ته ورسپار لی ده . (شو روی پو ها ن اتنو گرا فی په
پراخ مفهوم سره او فولکلور پـــه محدود مفهوم سره استعما لوی‌ددی
په خلاف دلویدیځو ټو لنو پوها ن داتنوگرا فی دڅیړ نی سا حه محدوده
گڼی او په فولکلور کی‌د خلکو د فر هنگ هر ډول پدیدی ترڅیړ نی
لاندی نیسی.)

دفولکلور څیړ نی تار یخی‌میتود:

یوزیا ت شمیر فولکلور پستنا ن باورلری چی فولکلور دپر گنـــو
دسایکالو جی اود عوا مو دکر کټر هینداره ده . ددوی په عقیده ،فو-
لکلور په یوه ټاکلی پړاو کی‌دټولنیز ژوند ما هیت دتاریخ په نسبت په
ښه‌تره بڼه خرگندولی شی‌څکه چی تاریخ یوازی بهر نی او قشـــری
پیښی بیانوی په‌داسی حال‌کی چی فولکلور دروح ژورو ته‌ورننوز ی‌او
دخلکو ارما نو نه،ذوقونه‌اوتصورونه ښکاره‌وی. فولکلور د خلکـــود
احساسا تو او انگیر نو تر جمانی کوی. فولکلور یست باید دظواهرو
ترشااواقعی مفهومونه او سمبولونه ولټوی دمثال په‌تو گه ،د ضحا ك
(اژدهاك) په افسا نه کی دحا کمی طبقی استبداد ،زبیښنا ك ، ا و د
قربانی غوښتلو نه مړ یدو نکـــی څنده بیان شوی ده.د(دمو کلس-
توره) دپاچها نو بی اعتما د ی او بدبینی خرگندوی .

د (اودیپس) په‌کیسه کی لـــه محارمو سره دجنسی مقار بـــت عقده څر گنده شوی ده.د(میډیاس) په‌کیسه کی (چی پاچا آرزو درلوده چی هر شی ته چی دده لا س ور ورسیږ ی هغه‌شی په‌طلا بدل‌شی). دحرص غندنه شو ی‌ده ،(د آشیـــل پونده)ددی نښه ده چی هرانسا ن دضعف ټکی لری ،او دا ســــــی نور نور .

له‌تاریخی میتود څخه پــــــــه استفا دی سره فولکلور پوها نــو په دی لاندی مسایلو باندی کـا ر کړی دی:

۱ ـ دفولکلور دمنشاء په بار ه کی دنو لسمی پیړی له نیما یـــی ورو سته زیاتی څیړ نی شو ی‌دی. په دی برخه کی دفرید ریــــــك انګلس‌نا متو اثر (د کور نـــــی، خصو صی ملکیت ،او دو لـــــــت منشاء) دمتر قی نړی لیدډېلو یانو له خوا دلاربنود په‌توګه‌وپیژ ند ل شو.دفولکلور په‌باره کی درو سیی انقلابی دمو کرا تا نو‌او ورو ستـــه ګیور ګی پلیخا نف او ماکسیم ـ ګورکی ارزښتمنی نظریی وړا ندی کړی چی داتنو ګرافی او فو لکلور پیژند نی پوهه‌یی لاپسی پرا خـــه او شتمنه کړه.

دفولکلور دمنشاء دڅیړ لو پـــه باره کی (لکه چی پخوا هم اشا ره ورته‌و شوه)دوه ټکی مخصو صـــا دیادونی وړدی: لومړی دا چـــــی فولکلور (سندری ،نڅا، جا دو او نور) دتولید په جر.یا ن کی‌د عملی او حیاتی اړ تیاوو دپوره کو لـــو په منظور مینځ‌ته راغلی او لـــــه تو لید سره رټ پیو ستو ن‌لری. دوهم دا چی دفولکلور ی هنربیلابیل ژانرو نه او ډولونه په‌یوه و خت او مختلط شکل‌رامینځ‌ته شوی ،دزمانی په‌تیر یدو یو له بله‌جلا شو ی او په مستقله توګه یی انکشاف‌کړ ی دی. څینی پوها ن‌د هنرو نـــــو همزما ن پیدا ینښت ته(سنکر ـ یتیزم)وا یی خو نور ددی په ځای‌د (سنکرو نیزم) یعنی همزو لتو ب اصطلاح غوره ګڼی .

دقبیلوی ژو ند له‌کتنی څخـــــه همدا اوس دا نتیجه لاس ته‌را ځی چی په قبیلو کی شعرو نه په غاړه (وزم ،آهنګ) ویل‌کیږ ی ، لـــــه سندرو سره نڅااو اتن اوموسیقی هم ملګر تیا کوی. اتن (اتنیکـــی نڅا) ځانته ناری لر ی او که نور سازونه ورسره نه وی د ډو ل

شته والی حتمی دی . کله کلـــه دډول دنشتوا لی په‌و خت کی یو تن په‌خوله ډول‌و هی او خو تنـــه ګڼون پکی کوی .

۲ ــ فولکلوریستا نو دمیتولوژی (اساطیرو) له څیړ نوڅخه دلرغو نو انسانانو د مبارزی ، انګیر نـــو، او ایډیالونو په‌باب ګټوری نتیجـــی ترلاسه‌کړی دی .ځینو پوها نو د اسا طیرو په تحلیل سره‌د هندو۔ اروپایی‌ژبو تر مینځ د خپلوی‌اړ یکی کشف کړل.

سر بیره پردی ،پو ها نو پـــه اسطو رو کی داتلانو له کارنا مـــو څخه دطبیعت او طبیعی پد یدولکه لمر، آسما ن،اور ،تالنده اوبریښنا تیاری ،ژمی او نورو په باب‌دلرغونو انسا نانو عقیدی او انـــګیر نی‌را۔ برسیره کړی. په اسطو رو کی د ابتدا یی ټو لنو تصورو نه چی د پیدایښت اود پیښسو دعلتو نو په باره کی‌یی در لودل ، په ښه توګه منعکس شوی دی . یو زیـــا ت شمیر فولکلور پو ها نو زیـــــار ایستلی دی چی داسا طیروسمبو۔ لیك او رمز ی اړ خونه تفسیرکړی اود هغو په مرسته د خلکوټو لنیزه سایکالوجی ، شعایر او دو دو نه، اودژوند نوراړ خونه وپیژنی .

۳ ــ فولکلو ریستا نو له‌تاریخی میتود څخه په کار اخیستلو سر ه زیار ایستلی دی چی دافسا نوڅخه ځینی تاریخی وا قعیتو نه‌راوباسی. دوی په دی باور دی چی((پـــه افسانه کی تاریخ او په تاریخ کی افسانه شته)). په رو سیه کـــی (ف.ی. بوسلایف) او دده‌پلو یا نو (او.ف. ملیر) ،(م.ن. پیرنسکی)، (ن.پ. دشکو یچ) او نو رو په دی برخه کی ځینی دیادو نی‌وړ نتیجی ترلاسه کړی.

دفردو سی دشا هنا می‌داتلا نو په‌باره‌کی هم په‌زړه‌پوری څیړ نـــی شوی دی .دمثال په‌توګه ،د(رستم) نوم په (بهمن یاشته) کـــــی د (رو ستتهم) په‌بڼه راغلی دی .همدا رنګه‌د(یاد ګا رزریران) او (در خت آسو ریك) په پارتیا نی قصیدو کی د(رستم) یادونه شوی ده.(رستم) ساکی اتل دی او ساك هم دپرو فیسر (مارګن سترنه) نارویژی‌پوه او(میکنزی) انګریز ی پوه په‌عقیده دپښتنو یوه ښا نګه ده.(۱) په دی حساب دشا هنا می اتل (رستم) پښتون و.

---

۱ ــ دپښتو څیړ نو دبین المللی مرکز دپرا نیستلو په سیمینارکی، دیارلس‌سوه خلور پنځو سم کال، دمارګن ستر نه او پرو فیســـر میکنز ی مقالی .

دپښتو فولکلور ځینې ځیړو نکی په دی عقیده دی چی دفتح خان بړیځی او آدم خا ن او درخا نی نکلونه په تاریخی پېښو ولاړ دی. فتح‌خا ن دشمس الدین پا چـــا (دګواریانو له مشر) سره جګړ ه کړی ده. خود غو ځیړو نکو دا نه ده ښود لی چی دګواریانو پا چـا شمس الدین څه‌و خت او چیر ته پاچهی کړی ده او په کو مـــو تاریخو نوکی‌یی نوم ذکر شو یدی. تش دیوه نوم او قوم یادو نه د تاریخی وا قعیت داثبا ت د پار ه کفایت نه کوی.

د همدی مو ضوع په ارتبـــاط، دفولکلوری آثا رو له ځیړ نو څخه دلرغو نو و ختو عقیدی او شعا یر چی په نکلو نو، متلو نو،یالنډ یو کی راپاتی شوی دی، استنبا ط کیدلی شی .د(انیمیزم) عقیده په اکثرو نکلو نو او روایا تو کـــی‌د پیژند نی وړده. دمثال په تو ګه ،د (لیان دبا ختر دپاچالور) په نکل کی‌د (اقشمه) جادوګر روح په‌یو مرغی کی ننوتلی دی، همدا رنګه‌د ګوربزو په فولکلور ی نکـــــل (جماله ښاپیر ی)کی هم د غــــه شان مطلب شته.(۱)

د(او لسی سندری) په سریزه کی دپښتو یوه نا متو فولکلوریست ددی لا ندی لنډ ی په‌باره کی :

سپوږ میه سر و هه را خیژه یارمی دګلولوکوی ګوتی ر یبینه

داسی عقیده څرګندو ی چی :
((دالنډ ی هغه‌و خت ویله شوی‌چی آریایانو به دسو ما دبوټی لو کاوه او نجو نو به دابوټی راټو لو لاو په‌ګډه به‌یی دسپوږ می د شپـــو انتظار یو ست او بیابه چی کله د سپوږ می را ختل ناو خته شو ل نو مینی به دخپل مین دلاس بـــچ کیدلو له پاره پر سپوږ می‌داپورتنی غږ کاوه)).

همدا رنګه ویل کیږ ی چی دا لاندی لنډی دغز نو ی سلطان‌محمود په‌وخت کی ویله شوی ده:

چی دخا نو لښکری را غلی
زه به ګوم لـته دخپل‌یار دیدن ته‌څمه

---

۱ ـ میر احمد ګوربز،دګور بزو فولکلور ، دفر هنګ مردم مجله ،

٤ ـ فولکلور یستا نو دنکلونو، اسطو رو، متلونو ، دو دو نو ،او نورو فولکلور ی پدیدو دلوړ نی ټاټوبی دمو ندلو دپاره ډیـــر ی زیاتی څیړ نی او پلټنی کړ ی د ی . ځینی قصی له سلو زیات‌ور ینتو نه (مختلف شکلونه) لری لکه‌دسندریلا کیسه . دپښتنو په مختلفو سیمو کی‌ځینی قصی شته چی په اصل‌کی هماغه قصه له یوه ځایه راو لا ړه شوی ده خو ورو سته کله یوه او کله بل قوم ته منسو به شوی‌ده.

دپښتنو ځینی قو مو نه دټو کـــو په‌جوړو لو کی‌خا ص شهرت لری لکه وردګ ، سبری (د خو ســـت اوسیدو نکی)، اڅکز ی، لغما نی‌او نور .نو اکثرقو مو نه ځینی ټوکی دور څر مه سیمی خلکو ته‌منسوبوی په داسی حال کی چی ښا یـــی منشاء یی په‌کوم بل ځای پوری اړه ولری .ددغو قصو د منشا پیداکول ډیره ستو نزه غواړی.

زمونږ په هیواد کی اکثری‌ټوکی ملانصر الدین ته منسو بی شو ی دی .دانده معلو مه چی‌څو مـــره ټوکی په خپله په ملا نصر الد ین پوری اړه لری .ځینی ټو کی پـــه آسا نی سره پیژند ل کیږ ی چی په ملا نصر الدین پور ی اړه نه‌لری لکه داچی:یوه‌ورځ ملا نصر الدین په الوتکه کی سپورو ،دنصوا رو ډبلی یی په‌کورکی هیر شوی‌و، نو کله‌یی چی نصوارو ته‌زړه‌و شو او ډبلی یی په جیب کی پیدا نه کړ نوپه پیلوټ یی غږ کړ: طیاره‌ودروه چی ډبلی رانه هیر شوی دی !

داقصه په ملانصر الد ین پوری اړه نه لری ځکه په هغه‌و خت‌کـــی الوتکه (طیاره) نه وه جوړه شوی. (په ضمنی ډول باید وو یل شی‌که کوم وخت داسی الوتکه جوړه شی‌چی په هواکی بریك‌و هی او ځای په‌ځای دریږ ی دغه ټوکه هـــــم خپل خصو صیت له لا ســـــه ور کوی.)

دپښتو ځینی فولکلوری نکلو نه دپښتنی کلتور هینداره ده خوسره له دی، دانه شی ویل کیدای چـــی ددغو نکلو نو ما یه دی نږه پښتنی وی اودنورو کلتورو نو دنکلو نو توکونه دی نه‌و ی‌ور ګډ شوی.

دلویدیځ فولکلور پیژندو نکـــو دنکلونو ډیر زیا ت‌ور ینتونه ر اـ غو نډ کړی اود تاریخی هیتو د په مرسته یی دځینو نکلونو منشـــاء پیژند لی ده. دپښتو نکلو نـــو ، قصو ، روا یتو نو ، متلو نـــو او لنډ یو په باره کی دد غســـی څیړ نی امکانا ت شته .

٥ـ ځینو فولکلور پوهانو لـه‌تاریخي میتود څخه په کاراخیستلو سره فولکلوری پدیدې دټو لنیز ـ اقتصادی فورماسیونونو د محصول په‌توګه ،دخپل و ختزیږنده‌وبللی او له تولیدی مناسباتـــو سره یې ددغه ډول پدیدو منطقـي‌اړیکی وخیړل . دبشرپیژندنې (انتروپالوجی) مکتب داقتباس نظریه ناسمه وګڼله ځکه چــــې‌د اقتباس نظریه ددې په ځای چې‌دهری ټولنې دکورني‌و ضع اوشرایط په‌پام کی‌و نیسي اکثر فولکلوری‌پدیدې یې دنورو کلتورونو د اغیز ی په اساس مطالعه کو لی‌اوداړو نده‌ی ټو لنی تو لیدی‌مناسباتو (زیربنا) ته‌یې لږه بها ورکوله . انتروپالوجیستانو په دې‌خبره ټینګار وکړ چې هره ټو لنه د خپل انکشاف په ټاکلی پړاو کی هرو مرو له زیربنا (بنسټ) ســـــره‌متناسبې رو بنا یې پدیدې هم له ځانه سره راوړ ی . البته دانترو‌ـپالوجی دمکتب ځینو پلو یانو د میخا نیکی تفسیر په‌و جه او د اقتباس دنظریې په قطعی رد ولو سره اشتباه ګانی وکړی خو په‌عین‌وخت‌کی یې دتاریخ دماد ی تفسیر دپیاوړ تیاسره مرسته وکړه.

٦ـ دتاریخي میتود په پیرو ی‌سره ،ځینو فولکلوریستانو دخپلو ټو لنو دفولکلور ټو لو نی ا و فولکلور پیژندنی تاریخو نه‌ولیکل او یایې په‌نړ یوا له سطح کــــې‌دفولکلور تاریخ‌وخیړه. دلوید یـځ ځینی‌پو ها ن دماقبل التا ریخ(دلیك‌دپیدا‌ینبت نه مخکی) دوره‌فولکلوری دوره بولی . دپاز یتیویز م پلویان‌دغه دور ه دتیولو جیکی دوری په نا مه یادوی چی انسانا نوپه د غه‌دوره کی ټو لی پیښی دمافوق ـ الطبیعی قو تونو دارادی‌محصو ل ګڼلی . ددوی په نظر ، له تیو لو ـ جیکی دوری نه ورو سته میتـــــافز یکی دوره او له هغی وروسته‌د «مثبت میتود» دوره مینځتــــــــه‌راغلی ده. ددغه نظـــر ، یوه عمده نیمګړ تیا داده چی دعلو مــــــوانکشا ف دسو بجکټیو یز م له‌لاری حل کوی اود تولید موډ (طر ز ، شیوی)ته دبشری معر فت‌دانکشاف له‌بهیر سره ارتباط نه ورکوی . ددوی په‌زعم ، دبشری پو هـــــې‌د انکشا ف پروسه یواز ی د مجرد فکر دانکشا ف تاریخ دی.دپاز ـ یتیو یزم پلویا ن دفولکلور مثبـت‌اړ خو نه په‌نظر کی نه نیســــی او هغه ته دعلو مو د مخنیوو نکی‌په‌ستر ګه ګوری.

۱۰ـ دنکلچیانو ، اتنیکی ډرا مه ښودو نکو ، او لوبغاړو دژستو نو، حرکاتو ،لهجې اودناستې ولاړ ې د چاپیریال په‌بار ه‌کې باید مفصل یاد دښتو نه‌وا خیستل شد ی.

۱۱ـ د فولکلور ټولوو نکی‌دپاره‌دسا مپل دانتخا ب اودسرو ې د تکنیکونو څخه سمه استفا ده‌لومړ ی‌درجه اهمیت‌لري .(په دی باره کی په‌ورو سته بحث‌وشي.)

۱۲ـ فولکلور ټولوو نکی چی په کومه سیمه ه‌کی څیړ نه کوی‌باید د هغه سیمی تاریخی پس‌منظر، جغرا . فیوی مو قعیت ،دخلکو دژو ند سطح، دسواد او تعلیم وضع ا و داسی نور معر فی‌کړ ی. هغه‌حق نه لری چی دیوی سیمه ی‌فولکلورله مقایسوی څیړ نی نه‌پر ته دنو رو سیمو دپاره تعمیم کړ ی او یا دپښتنو دیوی قبیلی فولکلور دټو لو قبایلو دفولکلور په‌نامه یادکړ ی.

۱۳ـ فولکلور ټولوو نکی با ید ورینتونه هم‌وښیی ، یواز ې په‌یوه ورینت بسنه ونه‌کړ ی.

۱٤ـ داسی تصورو نه شی چی‌گویا فولکلور ټولونه یواز ې په سا حوی ریسرچ پوری اړه لری .که‌څه‌هم سروی یاسا حوی ریسر چ دفولکلور ټو لونی دپاره اسا سی‌اهمیت لری خو کله کله د د ې ضرورت احساس کیږ ی چی بایدله‌لیکل شوو آثارو څخه هم استفا ده وشی . په دی‌برخه‌کی لازمه ده‌چی‌دڅیړ نی له‌عا مو اصو لو څخه گټه واخیستل شی . پر منظومو فو لکلوری داستا ن ونو بر سیره ، ځینی څیړ و نکی دشا عرانو په‌دیوا نو ‌نو او نورو آثارو کی‌د عا میانه فر هنگ بیلگی‌لټو ی. دپښتو دکلاسیکو شا عرانو له دیوا نو نو څخه ډیر زیات متلو نه‌را ایستل شوی دی.

۱۵ـ پوښتو نکی بایدسا لمیت، دعینیت خوښو نی ،او شخصی جذابیت خاو ند وی له خلکو سره په موثره توگه مفا همه او کتنه وکړا ی‌شی . هغه باید دبشر ی سلوك په‌رموزو پوه اود بار یکیو په مقابل کی‌حساس وی ، داعتمادپه جلبولو ،اود دوستا نه اړ یکو په ټینگولو کی‌خا ص‌مهارت ولری .هغه باید دپوښتیدو نکی (مقابل طرف) دعلاقی حد ودو‌پیژنی . پوښتو نکی با ید دو مره

کمزوری نه وی چی مقابل لوری دده په زړه و پوهیږی اود هغه په میل او خو ښه خبری وکړی. پخوا له دی چی په یوه مهمه سروی پیل وکړی فولکلور پوهانو نکی بایدمقدماتی څیړنی او تجربی له لاری ځینـــی دو همه درجه څیړنی ترسره کړی اودتجربی له حاصلولو وروستـه په خپله مهمه څیړنه لاس پوری کړی. مخکینی مقدماتی څیړنی ته په اصطلاح(پیلوتی مطالعه)وایی.دمبتدی څیړو نکو دپاره دغه ډول مطالعه ښایسته زیات اهمیـــت لری.

په دغو پور تنیو موادو کی چی ذکر شول یقینا ځینی مطا لـــب متدا خل او تکراری دی خوځرنګه چی دفولکلور پو لو نی له میتو د سره ډیر لږ کسان آشنا دی دځینو پکو بیاځلی یادونه زیان نه لری. ددی برخی په لیکلو کی له ما سره دفولکلور پوهانو نی لار ښودنه و، خو دڅیړنی له عمومی تکنیکو نو څخه په استفاده سره ،ځینی عمـــده پرنسیپو نه دفولکلور په ساحه کی تطبیق شول.

ج- دفولکلور پو لولو منابع:

هر ډول مادی او معنوی پدیدی چی دعوامو دچلن بیلګو اونورماتیف سلوك نمایندګی کوی دفولکلو ریستا نو دپا ملرنی وړګرځیدلی دی. لکه مخکی موچی وویل په ځینـــو هیوادو کی دعوا مو دف رهنګـــك مادی تو کونه لکه دخلکو اتنیکـــی لباس ، موبل ،دکور نور لوازم،د کر هنی او ور هنی افزار ،ارغونی ودانی چی هنر پکی مصرف شوی وی دفولکلور تر عنوا ن لا ندی څیړل کیږی. دآلمان په دمو کرا تیـــك جمهوریت کی فولکلوری موزیمو نـــه شته چی دکورسا مان او لوازم ، کالی، اوداسی نور په کی ښود ل کیږی.(۱)

همدا رنګه له تاریخی آثارو او پانیشو نو څخه دفولکلوری څیړ نو دپاره کار اخیستل کیدای شی اما دفولکلور پوهانو نی مهمه منبع په خپله خلك اود هغوچلن بیلګی (ټیپیک کړنلاری) دی. یوه پدیده هغه وخت

---

۱ - دډاکټرشرم مقاله چـــی د فولکلور پیژند نی په نړ یـــوال سیمینار کی (کابل - دیار لس سوه څلورشپیتم کال) و لوستل شوه او دسیمینار دمقالو په مجمو عه کی د(فر هنګ مردم) په مجله کی خپره شوی ده.

فولکلوریك خصلت پیدا کو ی چی ټیپیك بڼه‌و لري ، انفر ادی(ایډیو- سنگر یتیك) چلن او سلو ك فولکلور نه‌ګڼل کیږي.

دخلکو دچلن بیلګو او شفا هـي ایجادیاتو دمطالعي دپاره،دمو ضوع (یاپرابلم) له‌ټا کني ورو ستـــه د سا مپل (دټول نفو س‌شخـــــه‌د نموني) دانتخاب مساله را مینځته کیږي . هرڅومره چي سا مپل لوی وي‌هماغو مر ه‌دخیر ني نتیجه دډاډ وړوي. لیکن په‌عمل کې دټا کلـــي سیمې له ټول نف وس څخه‌دمعلوماتو راټو لول مشکل کاردی له همدی امله،څیړو نکي سا مپـــــــل انتخابوي.

دسا مپل څر نګوا لی دڅیړ نې‌د موضوع له‌څرنګوا لی سره مستقیمه رابطه لري . دمثال په‌توګه که موږ دماشوما نو دلوبو ډولونه څیړ وپه دې‌صورت کې دماشوما نو یوه ډله‌دسا مپل په‌توګه انتخابوو . کـــه مونږ د ولسي پریکړو اونر خونو په‌باره کې کره معلو مات را غونډوو په دې‌صورت کې طبعا له‌نر خیا نو سره خبري کوو یعنی له هغو کسانو سره چی دنرخ په‌باره کې تخصص لري. که هدف موديوه قـــــوم (مثلا دځدراڼو) دنر خ ونوپیژندنه‌و ی‌نود هماغه قوم نر خیا ن د سامپل په‌توګه خوښوو. که‌له ټولو نر خیانو سره لیدنه امکا ن‌ونه‌لري نود ګڼووډولو دپر نسیپ په‌اسا س‌دقوم دبیلو بیلو ټبرو نوله‌نرخیا نو سره ګورو دهغو له خولي‌معلو مات یاد دښت‌کوو ،دنظر توافق اوتو - پیرونه سره‌پر تله کوو اوداحصا یوی میتودپه تطبیقولو سره یـــوه عمو می نتیجه یاحکم راوباسو.

دپر نسیپ په‌لحاظ سا مپـــــل‌د افرادو جامع اوداغیاروما نع‌وي. اما که‌په‌سا مپل کې دټولو افـــــرا دو شا ملول نا ممکن یا مشکل وی‌نو لږ‌ترلږه باید دنفو سو ډښتو نـــي نماینده‌ګا ن ومرل شي .

دمرني (انتخاب) کارپه سلیم‌عقل پوري اړه لري . مشکله ده چـــي قوا نین او فورمولونه ټول جوا نب حل‌کړي.

په‌سا مپل کې شا مل کســـا ن باید په مفصله توګه معر في شي. دسا مپل دشا ملینو شمیر د ی ډښبودل شي .د هغو عمر،داستوګنی ځای ، دسواد درجه ، نســــب، ټولنیز- اقتصادی مو قف(طبقا تی منشاء) ، شغل او که سا مپـــــل‌غوښتنه کوله مذ هب، سیا ســـــی

عقیده ، مدني حالات اود ژ و ندنورخصو صیا ت دی په احصا ئیـــوی جدول کی توضیح‌شي . څیړو نکی باید په دغو خصو صیاتو کی مهم عوامل(چی‌پرڅیړ نه اغیزه کوی) تشخیص کړی. دمثا ل په‌تو گه، دوالو ر اخیستلو په مو ضوع کـــی بنا یی دتحصیل مسا له اهمیت‌ولری عوام بنایی ولور دپرستیژ سمبول‌وگڼی‌ا و تعلیمیافته کسان له د غه دودسره مخا لفت وکړ ی،همدغسی‌دخرا فاتو اوڅینو عنعنو ی دودونو په‌برخه‌کی دتحصیل سو یه مهـــم عا مل گڼل‌کیږ ی .په څینو نو رو مواردو کی‌طبقا تی موقف اوایدیو لوژی‌عمده نقش لری . په دی‌اساس دسا میل په مرنه (انتخاب) کی‌دڅیړو نکی هو ښیاری او یا بـــی احتیاطی پر نتیجه باندی خپلـــه اغیزه ښندی .

کله‌چی فولکلور ټولوو نکی‌د یوی‌سیمی د دو دو نو یانوروفولکلوری بډیدو په‌باره کی مقاله لیکی هغه باید په صرا حت سره یادو نه وکړی چی دغه مطالب یی دچالـــه‌خولی لیکلی دی: دشخص نو م ،د استو گنی ځای ، عمر، اجتما عی- اقتصادی موقف، اود هغه نـــو مشخصا ت دی معر فی کړی. امادیوه شخص له‌خولی نه دفولکلو ری بډیدو ثبتول دډاډ وړنه‌گڼــــل کیږی هغه باید ل ه‌ډیرو کسا نو نه پوښتنه ی‌وکړ ی ،په‌کومو ځایو کی‌چی‌نظرونه یوله‌بله اختلاف لری‌هغه دی وښیی اود احصائیی له لاری‌دی‌دغوتوپیرو نو اهمیت یا بــــی اهمیتی توضیح‌کړ ی.

کله‌کله فولکلور ټولوو نکی پـــه سا میل‌کی دننه دوی یازیا تی‌ډلی دمقایسی دپاره‌سره جلاکوی. مثلا هماغه یوه پوښتنه پنځوس تنـــو تعلیمیافته کسانو او پنځو س تنو بی‌سواده کسانو ته‌راجع کوی اود هغونظریی یاتلقیا ت د مشخصـــی موضوع په‌باره کی معلو موی.

د- دفولکلور ټولونی تکنیکونه:

دفولکلور ټولونی دری عمد ه تکنیکونه : مرکه، پوښتنلیك . او کتنه دی.

۱ - مرکه : (Interview)

په‌پښتو ژبه کی م رکه‌دجر گی په م انا هم‌راغی. خو دلته مر که‌د سروی دیوه تکنیك په‌تو گه هغو خبرو اترو ته‌ویل‌کیږی چی د یوه

ټاکلي هدف په رڼاکي دسمواو ياوري معنو ماتو دراغونډو لو دپاره
لهيوه يا ډيرو کسانو ســــــــره کيږي.

لهمرکي څخه دپو هنو په : ورو څا نګو کي هم کار اخيستل کيږ ي
پهتيره دارواپي درمل (سايکو تيراپي)، استشاري ، شخصيــــت
پيژندني ، سياسي تبليغا تـــــو پهبرخه کي مرکه ډيرهپکاريږي.
دفولکلور ټو لوني دپاره مرکه دهربل تکنيك په نسبت غورهښکاري.
دمرکي تکنيك کهڅه هم پر ځينـــو عمومي قوا عدو باندي ولاړ دي چي
پهښوونه او روزنه ، سيا ســــي پو هنه، ټولنپو هنه،وګړ پو هنه،
او فولکلور پيژندنه کي دد غـــو قوا عدو رعايت حتمي ښکار ي خوله
دي سره سره ،دعلو مو په هرهڅانګه کي مرکه ځانته جلاخصو صيت پيدا
کوي.دمثال په توګه ، پهښوونه او روزنه کي ديوه زدهکوو نکي دستو-
نزو دحل کولو دپاره پهلويديځـــو ټولنوکي يو (کو نسلر) ټاکل کيږي
هغهپه استشاره کي لهزدهکوو نکي سره مرکهکوي .خو په دي مرکه کي
زياتره زدهکوو نکي ته مو قع ورکول کيږي چي خبري وکړ ي .

دکو نسلر عمده نقش دا دي چي په ما هرانه تو ګه مر که دا ســـي
تنظيم کړي څو زده کوو نکي په خپله دخپلو ستو نزو او پرابلمو نوعلت
کشف کړي او ور پسي په خپله دحل لاره ور تهپيداکړ ي . امــــاد
فولکلور ټولوو نکي مر کــــــه دکو نسلر له مرکي سره توپيرلري.
دلته پوښتو نکي معلو مات راغونډوي اوښايي چي زياتي پوښتني وکړي.
کهپوښتيدو نکي لهموضوع څخــه بهر شي ښايــي پوښتونکي پهمودبانه
لهجه مداخلهوکړ ي . په دا سي حال کي چي په استشاره او همدا
رنګه (سايکو تيرا پي) کي پوښتيدو نکي ته موقع برابريږي چي پـــــه
اصطلاح دخپل زړه برا ســــــــــوباسي .

فولکلوري مرکه کله محدو دهوي يوازي د(هو)يا(نه) يادغه شا نته
کوم بل لنډ ځواب غواړ ي.پهځينووختوکي مر که آزاده وي. کــــــه
فولکلوريست غواړي چي د يو ي مو ضوع پهباره کي مفصــــــــل
معلوما ت پهلاس راوړي ښا يي چي آزاده مرکه دده مطلب پهښه تو ګه
ترسره کړي. اماکه فولکلو ر يست غواړي چي ديوه ټاکلي دود دښه -
والي او بدوالي پهباب عا مهذ هنيت ځانته معلوم کړ ي اومثبت يا منفي

نظریی په‌کاروی په دی صورت کی محدوده (پلان شوی) مرکه‌گتو ر ه بریښی . کله‌کله مبتدی مرکچی د پوښتنی په‌وخت کی اشتباه‌کوی .د مثال په‌توگه ، دالا ندی پو ښتنی‌وگوری :

– ستاپلار څوکلن دی؟(ښا یی دده‌پلارو فات شوی وی.)

– اولاد لری ؟هو . واده دی‌کړی دی؟ (بی‌نزاکته او نا معقو لـــه پوښتنه ده).

–ستا ددی خبری فلسفه څـــه ده؟(ښایی مخاطب دفلسفی په‌مفهوم ونه‌پوهیږی).

–ستاکچالو او منهی خوښیږ ی؟(دوی مفکوری په‌یوه جمله کـــی راغلی دی.)

– زلمی ښه‌سړ ی‌دی ؟(پرا خه‌پوښتنه ده ،مطلق ښه او بـــد نشته).

– پغمان ته موټر په‌څو مره‌وخت کی‌رسیږ ی؟ (کوم ډول موټر ؟)

– پر تا باندی احمد گران د ی که محمود ؟ووایه هو ، یا نه!(دلته هو‌یانه هیڅ مانانه‌لری) .

پوښتو نکی نه‌یواز ی دا چـــی باید ددغسی نیمگړو یاناو ړ ه‌پوښتنو له‌کولو څخه ډډه‌وکړی بلکی‌ښایی‌چی دمو ضوع په انتخاب کی دغو لاندی ټکو ته هم‌پا ملر نـــه‌وکړی:

۱ – آیاد څیړ نی مو ضوع کوم نوی معلو مات وړاند ی‌کوی او کـه دپخوا نیو څیړ نو تکرار دی ؟

۲– آیاد څیړ نی مو ضو ع پدی ارزی چی خلکو ته دمر کی دپاره مراجعه‌و شی ؟

۳ – پوښتیدو نکی ته باید د موضوع اهمیت څرگندشی. فوالکلور ټولو‌و نکی باید او ریدو نکی پـه‌ دی متیقن کړی چی دمر کی‌موضوع په دی ارز ی چی خبری ور با ندی‌وشی.*

٤ پوښتیدو نکی ته باید داڅ حاصل شی چی دمرکی له‌مو ضوع څخه ناوړه استفاده نه‌کیږ ی اوهغه ته‌کوم زیان‌نه متوجه کوی.

* پوښتیدو نکی دلته د هغـــه شخص‌په مفهوم را غلی دی چـــی پوښتنه ور څخه‌کیږی.

٥ـ پوښتیدو نکی باید احسا س وکړی چی پوښتو نکی ناچاره و د خپلو معلو ماتو دبشپړو لو دپاره ده‌ته مراجعه وکړی.

٦ـ پوښتنی باید ځرگنـــدی، بشپړی، اود منلو وړ وی.

٧ ـ پوښتو نکی باید له دغسی پوښتنو څخه ځان وژغور ی چی د عقایدو دتفتیش بڼه ولری او یا د پوښتیدو نکی په خصو صی‌ژو ند پوری‌اړه پیداکوی . البته پـــه پوښتنلیکو نو کی‌چی دپوښتیدونکی نوم او پته پکی‌ځرگنده نه‌وی دغسی پوښتنی چی دخلکو سیا ســـی تمایلات او عقیدی پکی منعکس‌کیږی طرح کیدای شی لیکن په داسی مواردو کی معمولا دمر کی لـــه تکنیک څخه استفاده نه‌کیږ ی .

٨ـ پوښتو نکی باید دپوښتنو روحیاتی ترتیب په‌نظر کی‌و نیسی.

٩ـ له مر کی څخه لاس تـــه راغلی جوابونه باید دتصنیـــف، تعمیم او تفسیر وړ وی . کله چی دکثرت (فریکو نسی) او تکرارمساله په مینځ کی‌وی باید دشمیرځیړ نی (احصایی)عملیا ت هم‌ور با ند ی اجراشی .

٢ ـ پوښتنلیکونه:

کله‌چی فولکلور ټولوو نکی له تعلیمیافته کسانو څخه معلو ما ت ټولوی هغه‌کو لی شی دپوښتنلیک له‌تکنیک څخه کار وا خلی . پوـ ښتنلیک دسروی یوه معمو لـــی وسیله ده . ویـﺉ ل‌کیږ ی چـــی پوښتنلیکونه دلومړی‌ځل دپاره‌په اتلس سوه اووه ځلو یښت م‌میلادی کال کی(هوراس‌من) استعمال کړل اوله هغی ورو سته یی روا ج‌وموند. سایی پوښتنه‌و شی چی مر که‌ښه ده‌که پوښتنلیک .په ځوا ب کی یی بایدووایو چی هریوتکنیک په خپل ځای کی ښه دی. په ځینو مواردو کی دمر کی تکنیک او په ځینـــو ځایو کی دپوښتنلیک تکنیک غوره دی. فولکلور ټولوو نکی بایدپخپله دقت‌وکړ ی چی دیوی مشخصـــی موضوع دځیړلو دپاره کوم‌یوتکنیک سم دی، کوم یو زیات دباور وړدی او پرکوم یوه باند ی‌عملی گټـــه مرتبه ده.

دپوښتنلیک گټی اوتاوانونه:

طبیعی ده چی‌دپوښتنلیک‌استعمال دبی‌سواده خلکو په‌برخه کی زیات مورد نه لری . دمرکی په نسبت ، پرښتنلیک داگټه لری چی په لږ مصرف او لږ کوښښ زیـــا ت ځوابونه لاس ته‌را ځی . دا سی

کسان شته چې دفا صلې دلیرې والې په نسبت موږ له هغو ســره مرکه نه‌شوکولی یایې کو لی‌شوخو دمسافر ت‌دپاره وخت او پیســی لگیږی ، په دی صور ت کـــی‌د پوښتنلیك استو ل گټه لری.

له پوښتنلیك څخه هغه و خت‌د مرکی په نسبت مطلو به نتیجه‌لاس ته‌راځی چې په‌سا مپل کی دشاملو کسانو نوم او پته چاته نه‌معلومیږی او یا پوښتیدو نکی ته‌پوره ډا ډ حاصل شی چې دده هو یت نه‌افشا کیږی. دغه ډول پو ښتنلیکو نو ته‌پوښت لشو ی‌کسان سم ځوا ب‌ور- کوی او حتی دخصو صـ یږ وند، رازونو او عقایدو په باره کی‌هـــم آزادانه څرگندونی کو لی‌شی . د پوښتیدو نکی دډاډ دپاره با یـــد پوښتنی په داسی ډول تر تیـــب شی چې دهغه دهو یت دپیژند لو نښی په‌کی نه‌وی . که‌لاز مه‌و بلل شی په ځواب کی یې یوازی دصحت نښی (چك‌مارك) او چلیپا غوښتل کیږی څو دلیك دځر نگوالی څخه‌د هویت دپیژند لو اشتباه پیدا نـــه شی.

دپوښتنلیك نیمگړ تیا داد ه‌چې پوښتو نکی دځوا ب ورکوو نکی‌د بی میلی او ځان تیرو لو حـــدود نه‌شی ټاکلی په داسی حال کی چې مرکه‌کوو نکی کولی شی دمقا بل لوری دشوق اوعلاقی اندازه ځا ن ته معلو مه‌کړی.

دپوښتنلیك یوه بله ښیگڼه دا ده‌چې ځوا ب ویو نکی ته فر صت ور کوی دځواب په‌باره کی غور او فکر وکړی مگرپه‌مرکه کی ځوا ب‌ور - کوو نکی که‌څه هم کافی معلو ما ت‌و‌نه‌لری په خپله بی خبری با ند ی اعتراف کولو ته چندا نی میل نه لری.

دپوښتنلیك ځوا بو نه متحد الشکل وی، په آسانی سره‌پر تلـــه کیدای شی او احصائیوی عملیـــی‌پر اجراکیدای شی په داسی حال‌کی چې‌دمر کی ځوابو نه همیشه متحد الشکل نه‌وی اودځوابو نومقا یسه یې‌گرانه‌وی.

دپوښتنلیك یوه بله نیمگړ تیاداده چې ځینی کسان له ځواب‌ور- کولو څخه ډډه کوی . که دځوا ب ویو نکو شمیر لږ وی نو ځیړ نه دخپل هدف څخه لیری پاتی‌کیږی. دمرکی په‌تکنیك کی مرکه‌کوو نکی کولی‌شی په مقابل لوری کی‌علا قه پیداکړی ،ځوا ب ور کولو ته یـــی

وهخوی . په‌پښتنو کی متل دی چی ((سترگی له‌سترگوشرمیږ ی)) یعنی لږ کسا ن به‌و ی چی له مرک ی کولو څخه‌ نټه‌وکړی.

دپوښتنلیك یوه بله نیمگړتیا داده چی کله‌کله ځواب ورکوو نکی دپوښتنی په مفهو م نه‌پوهیږ ی یاداچی له‌ځواب ور کولوڅخه ډډه کوی او یا((از برا ی‌خا لی‌نماندن عریضه))خالی ځای ډکوی په سم‌او ناسم پسی‌یی نه‌گر ځی،مقصد چی دپوښتنو نکی ((له‌شر څخه خـــلاص کړ ی.)) اماکه‌په مرکه کـــی‌مقابل لوری دپوښتنی په مفهوم ونه پوهیږ ی توضیح‌غواړ ی . د خبرو اترو په‌تر څ کی‌غلط فهمی له مینځه ځی . ددی دپاره چی په‌پوښتنلیك‌کی دغه نیمگړ تیا رفع شی کیدای شی دپوښتنلیکو نو له‌و یشلو نه مخکی یوه مقد ماتی پلټنه (پیلو تی مطالعه)ترسره شی اودډاډ لـــه حاصلولو ورو سته تول سا مپـــل ته‌پوښتنلیکو نه وو یشل‌شی .اما هغه کسان چی‌ځوا ب نه‌ور کوی له هغوڅخه د ی‌یو ځل بیا پـــه تشویقوو نکو الفاظو غو ښتنه‌وشی چی پوښتنلیك ته ځواب ورکړی.

دپوښتنو دباوری تو ب دمعلو‌مو لو دپاره لازمه ده چی هماغـــه پوښتنی په‌څه طر یقه بیر ته یو شمیر پخوا نیو ځواب‌و یو نکو ته ورکړی شی اوددوی بیا ځلـــی ځوابو نه له مخکنیو ځوا بو نوسره پرتله اود احصاییوی عملیی پـــه واسطه یی دباوری تو ب فیصد ی وټاکله شی .

پوښتنلیکو نه هم دمر کی پـــه شان آزاد او محدود ډولونه لری.د آزاد پوښتنلیك یوه ښیگڼه داده‌چی‌پوښتو نکی ته دځوا ب‌ورکوو نکی دخپلی خو ښی واقعی ځـــــواب‌څرگندیږی ،* او ډیر ځله پوښتو‌نکی‌ته داسی‌تیاره اړخونه هم‌روښانه‌کیږی چی پخوا یی په‌فکر کی نـــه گرځیدل . په داسی حال کی چی د محدودو پوښتنلیکو نو ځوا بو نه‌په

---

* یوځلی یو امریکا یی متخصص په‌ریاضی‌کی دیوه مصری ما شو م داستعداد دمعلو مو لو دپاره لـــه‌ماشوم نه پوښتنه‌و کړه:((که‌تاته دری پونډه درکړه شی په‌یوه‌پو نډ یی خرما واخلی څوپونډه به‌درسره پاتی‌شی ؟))مصری ما شوم په‌ځواب کی‌ور ته وویل:((زه خرما نه اخلم ځکه مونږ په خپله دخ رماو نی لرو)).

آسانی سره تصنیف کیدای‌شی د آزادو پوښتنلیکو نو تصنیـــف، تعمیم او تفسیر آسانه کـــــا ر نه‌دی .

۳ ـ کتنـــــه:

دسروی یوبل تکنیك کتنه‌ده. لکه مخکی مو چی وویل‌تکراری ـ استنادی څیړنی ا وکتنه دتحلیلـی سروی دپاره زیات اهمیت لری .په فولکلور پوهنه کی له‌کتنی څخه‌هم‌په زیاتو مواردو کی کار اخیستل کیږی.دعوا مو دفر هنگ پر مادی توکونو بر سیره دمراسمو،شعایرو جشنونو ، لوبو ، نڅاوو، او لسی ډرامو ، او نورو دمطالعی دپاره له کتنی څخه زیاته استفا ده‌کیږی. څرنگه چی دکتنی مو ضوع موپخوا څیړلی ده دلته په همدو مره یادونه بسنه‌کوو.

دفولکلور څیړنی تجربی میتود:

تجربی میتود په‌طبیعی پو هنـــو کی دډینا میك قوا نینو په بنهـــه تبارز کوی مگر په ټولنیزو پوهنو کی تجربی میتود زیاتره داحصا ـ ئیوی قوا نینو په‌بڼه څرگند یږ ی‌اود قطعی حکم یا فور مول پر ځای دلته د(زیا ت احتمال) اصطلاح په‌کاریږی . دا چی په ټو لنیـــزو پوهنو کی‌احصا ییوی قانون جاری‌دی بنیایی عمده علت به یی دا وی چی‌ټولنه له متفکرو انسانانو څخه‌جوړه شوی ده چی هغوی ارا د ه لری اود همد غی ارادی په درلودلو سره له غیرذیروح اجسا مو څخه دعکس‌العملو نو په بنود لو کـــی توپیر لری .

انسانان له ژو ند سره مینه‌لری خودځینو انسانانو چی حیثیت ا و پرستیژ ته‌صد مه رسیږ ی‌هلتـــه مرگ ته‌له‌ژو ند څخه تر جیـــح ور کوی .آیاټول انسانان یوشانته عکس العمل ښیی ؟ په دی برخه‌کی قطعی‌حکم نه‌شوکولی .

له‌بلی خوا ، دروز نی په نتیجه‌کی انسانی طبیعت تغییر کو ی اما فزیکی طبیعت (غیر ذیروح‌طبیعت) خپل سلو ك ته‌تغییرنه ور کوی .په دی اساس ، او ښایی دځینو نورو علتونو په اسا س ،پر خلکوباندی دتجربی میتود تطبیقول له هغه ډول‌نتا یجــو سره ، چی په طبیعـت کی له‌تجربی میتود څخه لا س ته راځی، ملگری نه‌کوی.

تجربی میتود دعلمی میتود دیوه توك په توگه، دیو ی فرضیی په بنه پیل کیږی او نتیجی ته ترسید لو پوری معمولا لاندی پړاوونه وهی:

۱ـ دپرابلم ټاکنه اوپیژندنه:

په تجربی میتود کی پرا بلم بایدد یوی فرضیی په بڼه افاده شی . فرضیه له کتنی یاپخوا نی تجر بی او عقیدی څخه نشات کوی. فرضیه باید دخیړنی له مو ضـوع سره اړه ولری او صحت یاسقم یی دتجر بی له لاری تحقق پیداکړی شی . که یو فولکلوریست غوا ړی پر یوه ناروغ باندی دپیریانو (یا نورو نــــــه لید ونکو اشباحو او اروا گانو)د کړو وړو اغیزه وخیړی نو په د ی صورت کی فولکلور یست با ید د مرموز اوخار ق العا ده قدرت خاوند وی چی پیریان اود هغو کړه وړه وگوری. سره له دی ، دیوه تـــن تجربه ، شخصی تجربه گڼله کیږ ی نرخو پوری چی دعلمی میتـــــود پر موازینو و نه تللهشی دتجر بی میتود ترعنوان لا ندی نه شـــــی راتلای. ن وهغه فرضیه چی دازموینی وړنه وی ، په تجر بی میتود کی ځای نه لری. دفرضیی په جوړو لو کـــی باید دسپماله قانون څخه (چی یو علمی قانون دی) استفا ده و شی یعنی ډیر مطالب په لږو ، سا ده او صریحو عباراتو کی افـــــا ده شی.

دفرضیی دافاد ی یو معمو ل شکل داسی دی:هرو خت چی دټا کلـو شرایطولا ندی (الف) ولیدل شی ورپسی (ب)لیدل کیږ ی . په هره فرضیه کی خپلوا ك او بنتو نکـــی (متحول) ترلی او بنتو نکی او د کنترول اوبنتو نکی (چی بنا یی شمیریی زیات)وی ت رتجر بـــــی لاندی راځی.

دمثال په توگه، که دچا زیړ ی تبه و ی نودزول دبوټی په ایستلو سره دده تبه پریکیږ ی .دلتـــــه د(زول دبوټی ایستل) خپلو ا ك او بنتو نکی او (دتبی پریکیدل) تړلی اوبنتو نکی دی. دکنترو ل اوبنتو نکی دډاکتر دوا، دم،تعویذ یانور څه کیدای شی . یعنی کـــه نارو غ ته دوا ورکړ شوی وی،موږ نه شو ویلای چی دنارو غ دښه کیدو علت (دزول دبوټی ایستنه) ده.

۲ـ داصطلا حاتو تعریف:

په‌پوهنیزو پو هنو په‌تیره پـــه فولکلور کی داصطلا حا تو تر مینځ توپیرونه لیدل کیږی .دمثال په‌توګه‌همدا دفو لکلور اصطلاح دروا خله چی‌خوك یی‌یواز ی دعوا مو دهنری فرهنګ په مفهوم استعمالوی،ځینی یی داو لسی ادب معادل له‌ګڼی،ځینی یی‌دخلکو دفر هنګ پر ما د ی او معنوی څو لوتوکونو باندی‌اطلاقوی.دځینوپو هانو په‌نظر ،دفو لکلو ر پیژندنی عنعنو ی مسالی او س داتنو ګرافی موضوعګا نی ګڼـــل کیږی. د(اتنو ګرا فی) اصطلاح هم په‌شوروی اتحادکی په‌یوه مفهو م او په انګریز ی ویو نکوهیوادوکی په‌بل مفهو م استعمالیږ ی . په غو وروستنیو هیوادو کی(اتنو ګرافی) دکلتوری او ټولنیز ی انتروپالوجی معادله‌ګڼله کیږ ی . ددوی په‌نظر، (اتنولوجی) تیو ریکی او(اتنو ـ ګرافی) تشر یحی‌بڼه لری ، پـــه شو روی اتحاد کی (اتنو ګرا فی) تشریحی اوتیوریکی دواړ ه جنبی احتواکوی اود(اتنولوجی)کلمـــــه چندا نی نه استعمالوی.(۱)

څیړو نکی‌ته بنایی چی په‌څیړ نه کی‌راغلی مهم اصطلا حات، په تیره هغه اصطلا حات چی بنا یی دغلط فهمی باعث وګرځی،په صرا حـــت سره تعریف کړ ی.

۳ـ دڅیړ نی‌پس منظر:

څیړ و نکی‌ته لازمه ده چی‌دڅیړ نی لاندی‌مو ضوع باندی پخوا نـــی لیکنی‌یادی‌کړ ی اوعمد ه نتیجی یی په‌لنډه تو ګه ولیکی څو په دی ترتیب سره دده خپله ونډه ا و دنو ښت اندازه معلومه شی .ددی احتمال هم شته چی پخوا په ټاکلی موضوع باندی چاکار نه وی کړ ی په دی صور ت کی‌دڅیړ نی‌اهمیت لا بسی زیاتیږی.

1/ Yu. V. Bromley, SovietEthnography; Main Trends, USSR Academy of Suences Moscow, 1976, P.7.

٤ـ دتجربی نخشه (ډیزاین):

په دی ځای کی دتجربی‌ځای ا و وخت توضیح‌کیږی .د معلو ما تو دراغونډولو اودسا مپل مشخصا ت معرفی‌کیږ ی . په‌تجر بی میتود کی څلور ډوله نخشی زیا تی‌استعما لیږی:

- دیوی ډلی نخشه .
- دموازی ډلی نخشه .
- داوړیدو نکی ډلی‌نخشه .
- او دعوا ملو نخشه .

٥ـ تجربه دی توضیح شد ی‌اود پخوانی پلا ن‌سره‌سم دی‌دتجر بی ټولی مر حلی وبنودل شی . د کنترول ،ګډوډونی ، اوبیر ته‌اړونی پرنسیپونه دی (چی مخکی بیا ن شوی‌دی)تطبیق شی . د میچی یـا اندازه کولو په صور ت‌کی‌دشمیر خیړ نی(احصائیی) عملیی هم‌تشریح کیږی.

٦ـ دخیړنی په‌پای کی لنډیز او نتیجه راځی . په‌لنډیز کی‌دخیړنی هغو ټولو مهمو اړ خونو ته اشاره‌کیږی چی نتیجه ور څخه‌اخیستل کیږی. نتیجه هما غه دفر ضیی د اثبا ت یا تردیدسره اړه لری . (تردید په‌ندر ت سره وا قـــع‌کیږی ځکه څیړو نکی هڅه کوی‌چی یو قانون کشف‌کړی. اماپه‌سا ینس کی‌تردید هم اهمیت لری.)

٧ـ که څه هم دنتیجی په‌بیانولو سره خیړنه پای‌ته رسیږ ی خـــو زیاتره څیړو نکی دنتیجی‌له‌بیانو لو وروسته یوڅه یادونـ ی‌لری:

الفـ دنتیجی تطبیقی او عملی‌اړخونه شرح کوی.

بـ په خپله څیړنه کی ځینـــی ضروری ټکی چی له ده نه‌پا تی شوی‌وی اوخیړنه یی اهمیت لری، نورو څیړو نکو ته دسپار ښتنی په‌ډول توضیح کوی.

ج- دنتیجی دتعمیم او تفسیر حدود تهاکل کیږی .څیړو نکی باید په دی برخه‌کی محتاط اوسی چی تفسیریی دنتیجی سره توپیرونه لری او یانتیجه په داسی تو گه تفسیرنه‌کړی ی چی دفاکتهو نو او معلوما تو په‌واسطه نه‌وی تا یید شوی.

په‌پای‌کی د دوو تهکو یادو نه‌لازمه بریښی . لومړی دا چی په‌فولکلور کی د تجربی میتود څخه زیات کارنه اخیستل‌کیږی او له دی امله،دلته په دی برخه کی یواز ی‌عمو می خبری وشوی . دو هم دا که څیړو نکی په‌رښتیا له‌تجر بی میتود څخه کا راخلی دزیات تفصیل دپاره دی(دڅیړ نی لاربنود دپښتو ټولنی چاپ ،دیار لس سوه څلور پنځوسم کال) وگور ی اویادی‌نورو منابعو ته مرا جعه وکړی.

که دلته دتجربی میتود له‌بیا نولو څخه ستر گی پټی شو ی وای ، دفولکلور څیړنی میتودو نه به‌په‌جامع ډول نه‌وای‌توضیح‌شوی. سره له دی څینی مهم‌پرنسیپو نه‌شرح‌شو ل او بنایی دلته دا سی تکی هم بیان شوی‌وی چی په نورو منابعو کی به‌نه‌وی راغلی .

شپږم څپرکی : پښتني فولکلور

د پښتني فولکلور ځانګړنې :

د پښتني فولکلور د خصو صیاتو په باره کې له لرغونو او ختو څخه تر نن ور ځې پورې ډېر مواد لاس ته راتلای شي . د پښتنو(پکت – پښت) قوم د ملي کرکټر په باره کې په (ریګویدا) او د (هیرودتس)په لیکنو کې یادونې شته .که (ساك)د پښتنو یوه څانګه وګڼو(١) نو ساکې افسانې د پښتني فولکلور ډېرې لرغونې بیلګې ګڼل کیږي .د(پښتو داو لسي اد بیاتو) لیکوال د(برا – ګینسکي) په حواله د ساکو د فو لکلور په باره کې ډېر په زړه پورې مطالب لیکلي دي چې له مو ضوع سره د ارتباط له مخې ددې مضمو ن یوه برخه دلته را اقتباس کوم:

((د ساکې اتلا نو په جمله کې یو هم رستم دی .د رستم نو م پـــــه (بهمن یاشته) کې د روتستهم پــــه نامه د عربو تیری کوو نکو سره د یوه مبارز شخص په حیث ثبـــت شوی دی. په (یاد ګار زریران)او (درخت اسوریك) پارتیاني قصیدو کې هم دغه نوم قید دی .د منځنـــــي پارسې په (شهنا مه ایران) کــــــې رستم د سیستا ن د وا کمـــن او د فراه او زابلستان د ښا رونو ودانوو نکی بلل شویدی .))

دلته ددې ټکي یادو نه بې ځا یه نه ښکاري چې په افسانو کې را غلې دي چې رستم ډېر غښتلی او کرو ړ و .کله به چې په ځمکه روا ن و نـــو پښې به یې په ځمکه ننوتې . کــــــه چیرې د فراه شګې په نظر کې و نیسو

---

١ – دا نظریه چې ساك پښتانه دي ډېر پلویا ن لري.نا متو ختیځ پوه (مارګن ستیرن) او انګریز ی ختیځ پوه (میکنزي) ددې نظر یـــې د اثبات د پاره کافي دلایل راو ړي دي. (وګ .د پښتو څیړ نو د بین – المللي مرکز د پرا نیستو نکـــــې سیمینار مقالې.)

چي هلته دسړي پښې دتګ پـــه‌وخت کي په شګو کي ننوزي، نود رستم په‌باره کي چي (رستم‌زابلي) ورته وايي دا خبره کا ملا طبيعي ښکاري او له‌جغرا فيو ي‌اوضا عو سره پوره سمو نلري.

(دپښتو داو لسي ادب لار ي) ليکوال ور پسي د(شيرك) په‌باره کي(چي دا په‌پښتنو قو مو نو کي يومعمول نوم دی) داسي ليکي:((د ساکو ډيري حما سي لر غ ونـــــو مور خينو په خپلو آثارو کي‌ساتلی دی‌چي يوه هم دشيرك حماسه ده‌چي بولبين (دګړی چلونه) په‌نا مه په خپل کتاب کي درج کړي ده.حماسه داسي ده:

((د هخا منشيانو پاچا لومړ ی‌دارا په‌خلاف دساکو دقيام (پنځه‌ـ سوه ديار لسم ق.م) په‌و خت کي يوساکي ميتر (اس سوار) په داسي

حالت چي غوږونه او پوزه يي غوڅ‌شوي وو دپار سيانو په سنګرور‌ـ ننووت .داسړی شيرك ن وميده . شيرك دخپل قوم دلاسه سخـــــت شکايت‌وکړ چي له ده سره يـــي داسي سخت چلند کړی دی .اود غچ اخيستلو دپاره يي‌پارسيا نوته دهغی لاري دښوو لو وعده‌ورکړ ه چي دساکو سنګرته‌تللی وه. لـــه اوو ور ځو سترې کوو نکی لار ‌ـ وهني ورو سته يي دپارسيا نـــو لښکري يوی‌وچي او سپيري دښتي ته‌وو يست .هلته معلو مه شوه‌چي شيرك په‌خپله ځان په دغه حا لت کړی او دارايي غولولی دی. کله‌چي دپارسيانو دلښکر مشران په د غه راز پوه شول دشيرك دوژلوګوانښ يي‌وکړ او ورنه‌يي وغو ښتل چـــي دوی بيرته‌له دښتي‌و با سي.شيرك له‌دغه‌کاره انکاروکړ اودورو ستـــي سلګي په‌وخت کي‌يي وويل:زه‌بر يالی شوم ځکه چي زماد هيوادوالو ساکو دبيوز لی‌نه پارسيانو کر که کوله، ماله‌تندی او لوږی ووژل)).

((نا متو ستيره ليکو نکـــــــي لوکيان (دو يمه ميلادي پيړی) د ساکو د دوستي پالني‌په‌با ب‌ډيري قصي ليکلي او ښرګندوی چي دغه روحيه په‌ساکو کي ډيره قوي وه. په دی ترڅ کي‌يي د غه ساکي متل هم اخيستی چي وايي: له دی‌زيات خجالت نشته چي په دو ستي کي ځوك خاين ښرګندشي.))(١) .

---

١ ـ دوست محمد دو ست ،د پښتو داو لسي ادب لاری، پښتو ټولنه ،ديارلس سوه شپږ پنځو سم کال، لسم ـدوولسم مخونه .

په همدې اثرکې دسیسلې د او سیدو نکې (دیو دور) قصه‌دساکو دملکې زرینې په‌باب لیکل شوې‌ده. (دیو دور) وایې چې دساکو ښځې ډیرې زړ ه‌ورې دې اوله‌نارینه ووسره یوځای په‌جګړ و کې ګډ و ن کوی .زرینه دساکو یوه ډیره زړه‌وره او توریالې ښځه وه چې‌د خپل هیواد استقلال یې‌وسا ته . او ډیر ښارونه یې‌ودان کړل . دد ې‌لـــه مړینې وروسته ددې قبر د هرم‌په‌ډول جوړ شو چې‌نږ دې څلورسوه پنځوس متره پراخ او یوسلــــــو پنځوس متره لوړ دی، اوپه سرېې دسروزرو مجسمه درولې ده .

په دې ډول ، دلرغو نو آثا روله کتنې څخه دپښتنو دفولکلور په‌باب دموادو دراغونډولو امکانات شته . د(ابوریحان بیرونی) له (آثار — الباقیه عن القرون الخالیه) او دده له‌نورو آثارو څخه د پښتنــــــود فولکلور په‌باب ځینې جالب ټکــــې را ایستلای شو.

(هیوان تسانګ) چینې زا یر په شپږ سوه دوه دیرشم میلا د ی‌کې افغا نستان ته دخپل سفر په تر څ کې دپښتنې سیمو دفولکلور په‌باب جالب ټکې بیان کړی‌دی. (بابر) هم دپښتنو د ملی‌کرکټر او فولکلور په باب ځینې یادونې کړ ې‌دی.دسیفی هروی(تاریخنا مه هرات)،دمسیحی سیاح(بصیرت نامه)(۱) د اخو ند درویزه (تذکرةالابرار والاشرار) هم دپښتنې فر هنګ په‌بار ه‌کې ډ یـر مطالب خو ندی کړ ی دی .

خوشحال خان ختك به ښا یې لومړ نی‌پښتون وی چې په‌آګا هانه توګه‌یې دخپ ل‌قوم دفر هنګې ا وسیاسی شعور دسطحی دلوړ ولود پاره دپښتنو فر هنګ په انتقاد ی‌ډول څیړ لی دی .په (دستارنا مه)کې یې دمشر توب دمو سسې شرا یط‌او پښتنې ای ډیالونه انځور کړ ی دی. په‌(سوات‌نا مه)کې ده‌دسوا ت دیوسفز یو اقتصاد ی چلند ا و فر هنګې ژوند ته ژوره کتنه کړ ی‌ده اود هغوی دروز نی او تنو یر په منظور یې ډیر ارزښت‌نا ك مواد وړاندې کړ ی دی.دخوشحال خا ن اجتماعی او کلتور ی تګلاره ا ود سیاسی مبارز ی‌عمده هدف ونه په دې ډول‌دی:

---

۱ ــ داکتاب دفقیر محمدخیرخواه په اهتمام دا.د.ج دعلو مواکا ډمی له خوا خپور شو ی‌دی .

۱ ـ پښتانه باید د نفاق‌او تربګنی فکرونه له مغزو و باسی . ددی په ځای چی‌په خپلو منځو کی یو دبل وینی تویوی باید دلود یانو ا و سوریانو دلاسه تللی وا کمنی‌احیا کړی. ددی په‌ځای چی په‌وړو وړو لاس‌ته‌راوړ نو قناعت کوی ښا یی چی‌لوړ او پراخ هدفونه په‌نظر کی ونیسی .

اوښی له‌باره سره کورته ورغلی په‌ولجه داوښی دغاړی دجرس‌دی

۲ ـ پښتانه یی‌په‌توره ګټهی مګر دعلم او پو هی دنشتوا لی‌په سبب یی‌بیرته بایلی . خوشحال له همدی‌امله زیار باسی چی‌د خلکو‌دسیاسی اوفر هنګی شعور سطح لوړ ه کړی.

۳ـ‌خوشحال په پښتنو کی‌دپیری‌اژ مریدی رواج ، دبی‌علمه اوبی عمله شیخا نو او پیرانو دپیرو ی، دخرافاتو او ناوړه دو دو نـــــو (لکه دلوڼوپلورل ، خو یندو لوڼوته په میرا ث کی‌برخه نه ورکول ،په غیر اقتصاد ی‌توګه دمر غا نو ا و حیواناتو له مینځه وړل ،دطبیـــــب په‌ځای کوډ ګرو ته مراجعه کول ، دور نداری ځا ن ته‌نکاح کول ، په قصاص کی دقاتل په ځای دبل‌وژل، او نور) کلکه غندنه کوی.*

٤ـ‌هرخوك باید ټو لنیزی ګټهی‌تر شخصی ګټو مخکی کړی.

٥ـ ټولنیز ثروت او عامه‌ملکیت ته‌باید زیان ونه‌رسول شی .

٦ـ‌خلك باید درشو ت ، فساد، اوبی عدالتی په مقابل کی مبــــارزه وکړ ی .

۷ـ پښتانه باید دپر د یـــــــو منصبونو ، زر ا وزورته سر ټیټ نه‌کړی.

۸ـ‌پښتانه باید دښځو حقو ق محترم وګڼی ،دهغوی تعلیـــــــم او تربیی ته‌پا ملرنه وکړی اودتجارتی متاع په‌توګه‌یی پ ه‌پیسو و نــــــه پلوری.

---

* ښایی داعترا ض په‌تو ګـــــه وویل شی چی‌په خپله خو شحا ل دشیخ‌رحمکار کاکا مریدو او(فال نامه) یی هم‌کښلی ده. خو دا باید ووایوچی د خوشحال مریدی‌دعوامو له مریدی سره جو ت تو پیـــــر در لود .(فالنامه) یی ښا یی دخپل تبحر دښود لو دپاره لیکلی وی‌نه دخلکو دتشو یقولو دپاره .

۹ـ خلك باید دهو لنیز تو لیدد پرمختیا دپاره دکسبو نواوهنرو ئو زده‌کړه وکړی، تجارت او نـو روحرفوته په سپکه سترگه و نـــــه گوری.

۱۰ـ دمریونو خرخلاو بدکارد ی له هغو سره باید انسانی سلو ك وشی او با استعداده خانه زا د مریونه دی و روز ل شی .

دپښتني فولکلور په‌بر خه کی د (مونټ ستهوارټ الفنستهن) کتـا ب (دکابل سلطنت بیان) یوه مهمـــه قیمتی خزانه ده چی تراو سه یـــی ساری نه دی لیدل شوی.الفنستهن (اووه‌لس سوه نهه‌اویام ـ اتلس سوه نهه پنځوسم میلا دی)دپښتنو دبیلو بیلو قومو نو فولکلور اود هغو ملی‌کرکتهرونه په مفصله تو گه بیان کړی دی. ده دپښتنو اوله‌دوی سره په ارتباط دنورو اتنیکی ډلو او همسایه‌گانو خویونه ، دودو نه، خیری ، کالی ،انگیرنی ،ټولنیزه‌او اقتصادی وضع ،ددوی‌خوراکو نه ، لوبی ، خرا فی افکار ، دادار ی‌طرز (قبیلوی دمو کراسی) ،شعایر ا و داسی نور په مفصله تو گه څیړ لی دی‌او حتی دبیلو بیلو قو مو ټیپیك عکسونه‌یی هم‌تهیه‌کړی دی. داکتاب چی‌د عینیت خوبند ونې په لوړه روحیه لیـکل شوی دی، دپښتنود ژوند هینداره ده. الفنستهن دپښتني فولکلور مادی توکونه لکه‌دکورونو دجوړ ښت طرز ، سا مان‌اوافزار دجنگ‌آلی او نور هم بیان کړ ی دی. په دغه‌کتا ب کی دټولنیـــزو طبقو، طبقا تی توپیرو نو اوکلتو رو نو په‌گډون تاریخی،جغرا فیوی، اتنوگرا فیکی ،اوسوسیو لوجیکی هر رازمو ضو عگا نی‌څیړل شوی دی. الفنستهن د پښتنو دکر کتهـــر په‌باب یو لنډیز وړاندی کړ ی‌دی اوپه هغه‌کی داسی وایی:((دپښتنو کرکتهرچی په‌یوځو کلمو کی لنډشی نوددوی عیبونه : انتقام، رخه،حرص چور او سر زوری دی ، خوله‌بلی خوادو ی‌په‌آزادی‌مین دی ، خپلو ملگرو ته‌و فا دار دی، په لا ســـں

لاندی خلکو زړه ستوا ندی‌لری ، میلمه پالو نکی دی ،زړه و زدی، سخت‌سری دی،کم خرڅه دی ، خواریکښ دی، احتیا طکار دی اود نوروګاو نه‌یو ملتو نو په تنا سب خطا(ایستلو) ،دسیسی او فر یب ته‌لږ متمایل دی.))(۱) (په اصل کی: دپښتنو کر کتر چی په کلمو یوځوکی لنډ شی ...)

(دکابل سلطت‌بیان) کی بـــه یقینا ځینی داسـ ی‌پدیدی بیا ن شوی وی چی اوس‌یی بیلګی نه‌لیدل کیږی (لکه ده‌ریونو شته‌والی) ، ځینو به یی بدلون موندلی وی(لکه‌دسفرکولو طرز) او ځینی به یی‌په خپل‌حال پاتی وی(لکه‌بدرګی) .

الفنستن په دی خبره ډیر تعجب کوی‌چی ځینی پښتانه له میلمـــه سره ډیر ښه‌سلوك کوی او تر څو چی‌یی‌و س رسیږ ی میلمه خوشحاله ساتی او درناوی یی کوی خو څـه‌وخت چی هماغه میلمه د دوی د حفاظت له حدنه ها خواته په‌لا س‌ورشی نو شکوی یی اوما ل‌یی‌تری اخلی. له دی څخه ښکاری چی د پښتنو میلمه پالنه دښه نیـــت او ښـر دو ستی زیږ نده نه ده، بلکی هغه دیوی سپیڅلی عنعنی او دپښتنولی کوډ ته د درناوی څخـه نشا ت‌کوی . ښایی دیوه‌پښتنا نه‌به کوم میلمه ښه نه ایسی، مګـــر پښتنو لـــــی هغــــه تـــه

---

۱ ــ مونټ ستوارټ الفنستن،دکابل سلطنت بیان ،لومړی ټو ك، ژباړو نکی م.ح. کاکړ اون.سو بمن دپښتوځیړ نو بیـ ن‌المللی مر کز ، دا.د.ج دعلو مو اکا ډمی،دیار لس‌سوه نهه پنځوسم کال، دو ه‌سوه څلورشپیتم مخ.

دستور ور گوی چی میلمه ترخپلیوسی خوشحا له وسا تی.(دلویدیخ ټولنپوها ن دپښتنو په شـــا نکلتور ته ((دننگ کلتور)) وا یی. پهپښتنو کی دپښتنو لی کوډ تـرحکو متی قوا نینو زیاته اغیـــزه لری.(پښتو) یا(پښتنو لی) هما غه(دننګ کلتور) سره معاد له کلمــه ده .)

دابه ډیره پهزړه پوری وی کـهدخیړو نکو یوه ډله د(الفنستن)په کتاب کی راغلی فولکلور له سرهپههماغه قومونو کی مطالعه کړی او وگور ی چیکوم دودو نه، عقید ی، کالی او افزار ،ټولنیز ی طبقـــی او قشرونه ، او داسی نور پـــهځای پاتی دی ، کوم یی له مینځه تللی دی اوپهکو مو کیبد لو ن راغلی دی .ځینی دودو نه یقینا له مینځه تللی دی. دمثال پهتو گه ،(دسفر کوالو طرز) تر عنو ا نلاندی لیکل شوی دی:((بنځی زیا تر مپهکجاوو کیسفر کو ی ، دپا چاځینی ماینی پهپیل سفر کوی او نوری یی پهیو رازډولیو کیسفر کوی.معلومه شوی چی په خپله پا چا پـــهپیل سفر کوی ...)) بنایی او س هم ځینی بنځی پهکجاوو کی سفروکړی خو دپاچا ماینی له دغه ډول سفرو نو نه خلاصی شوی دی . (دکابل سلطنت بیان) دمریو نو په باب هم ځینی یادو نی لری چی دتیر تاریخ الهروښنا نو لو ســــره مرسته کوی . دمریونو ســـــره دپښتنو سلوك ته چی په دی کتا ب کی کومه اشاره شوی ده ، دخو شحال خان ختك خبره رایادو ی چی په(دستارنا مه) کی یی ویلی دی:((بنه خانه زاد مریو نهغلامان لکه فرزندا ن هسی دی د هغـــوتربیت په مثال دفرزندا نـــــــو دی ...))(الفنستن)د(کروشینسکی)په حواله لیکی چی:((کومهو ضع چیپښتانه یی دجنګ دمقررا تو لهمخی لهجنګی اسیرانو سره کو ید نورو شرقی ملتو پهشان دو حشتاو بربریت بڼه هیڅ نهلری.دمریانو پهحیث داسیرانو خر څو ل د دویپهنظربشر یجنایت ګڼل کیږ ی او دوی ترینه کرکه کوی . بی لهکومشك شخه داسمه ده چی دوی لــه اسیرانو نه دنو کرو په حیـــــثکار اخلی ، خوله دوی سرهدخدمت پهوخت کی په زړه سوا ند یچال چلند کوی اوپهپای کی یی آزادو ی

هم. په دې ډول پښتانه له دې پلوه‌هم دنورو ښو روا جو په‌جمله ئې له‌شر قي ولسو نو سره تو پيـــرلري.))(۱).

دپښتنو دژوند دخرنگو الی،ملی‌خصلت ، او فولکلور په با ب په لویدیځ او ختیځ کې ډیروپوها نوخپل نظرونه ځرگند کړی دی .د پښتنو دويش دسيستم په باره کې‌دکارل مارکس يادونې اود پښتنود مې خصلت او ذهنيت په بـــاب‌دفريډريك انگلس ليکنه ددی‌نښانه ده‌چې ددغه میړ نې ،په‌پت‌اوخپلواکی‌مین اولس کارنا مو دنړی دستر و پوها نو او سیاستمدارا نوپاملرنه‌خپلې خواته اړولې ده.(اقبال)د افغانانو ملت دآسيا زړه بو لی اودزړه غور ځنگ پر ټو له قاره‌باندې مو ثر گڼي.

پښتنو د ملی‌کر کټراوفرهنگ په‌ب ب په‌لويديځ او ختيځ کې‌ډيری زياتې ليکنې شته چې دهغو را ټولونه او کره کتنه، حتـــــی‌د ببيلمو گرا في تر تيبول هم د يوه‌ځا نگړ ی اثر مو ضوع ده. کيدای شي چې‌په خپله دپښتنو ليکوا لوپه‌ليکنو کې داتنو سنټريـــــز م او نيشنليزم بيلگې زياتې وی ځکـــه‌هر قوم ، که هرڅو مره دځان په باره کې دعينيت خو ښو نی او بی‌طرفی ادعاوړاندی کړ ی ، بيا هم دبی غرضه نندار چې په تو گه نه‌شی پاتی‌کيدای ، خود پښتنو په باره کې بهر نيو ليکوا لو ډيـــری‌خيړ نی کړی دی چې اکثر يـــــې انگریزا ن دی. حتی انگریزا نو چی‌له‌پښتنو سره يې خونړی جگړ ی کړی دی دپښتنو ميلمه پالنه ، په نا موس باندی غير ت ، توره اولوړ همت ،پرخپل قوم وياړنه ، لـــــه‌خپلواکی سره مينه ،دپناه‌غوښتو- نکی دپت او سر ساتنه دعمـــــــده‌کرکټرو نو په‌جمله کې ياد کړ ی دی. (۲) البته دغو ليکوالو دپښتنود‌کرکټر ناوړه خواو ی لکه گو ند- يماری او تربگنی ، حسادت (چې‌دمشرانو عمر لنډوی)، بی علمـــــی، اوداسی نوری هم يادی کړ ی دی.

دپښتنو ځينو مشرا نو لکـــــه‌خوشحال خا ن خټك او عبد الغفار خان دخپل قوم ځينی خويو نه اوناوړه دودونه غندلی دی. عبدالغفار

۱ــ الفنسټن، همدغه اثر ، دوه‌سوه اووه پنځوسم مخ.

2/ Olaf Caroe the Pathans, Macmillan Co.Ltd., London. 1962 P.13

خان په (زما ژوند اوجدو جهد) کی داو لسی فر هنګ بیلا بیل ټوکو نه لکه کالی، ډوډ ی، اخترو نه، میلی ناستی ولاړه ، غم ښادی، خیراتو نه سخاتونه ، ډول ډول لو بی، انګیرنی دځینو قشرونو سلوك . او نور) په مفصله تو ګه بیان کړی دی .

په دی ورو سیو و ختو کی د افغا نستا ن ددمو کرا تیـــك جمهوریت دعلو مو اکاډ می دپښتو څیړ نو دبین المللی مر کز له خوا (دپښتنو ټولنیز ـ اقتصا د ی جوړ ښت) په نا مه یو ګټور اثـر خپور شوی دی چی په هغه کی دپښتنو دمعنوی فر هنګ توکو نه هم معرفی شوی دی اودفولکلور په باب یـــی ارزښتنا ك موادو راندی کړی دی. که څه هم داکتا ب په پرا ختیـــا او ټولنیزه انځور ګر ی کـــی د (الفنستن) په کتاب پسی نـــــه رسیږ ی خو په تیو ریکی لحاظ ژور اودراتلو نکو څیړ نو دپاره دبحث وړ مطالب وړاندی کوی .دغه پروژه دانقلاب په درشل کی بشپړه شوی اودانتقا لی دوری نه د مخکی ټولنی څېره رانښیی .ددغی پرو ژ ی د اعتبار او وثوق درجه به په هغــه صور ت کی په ښه تو ګه تثبیـــت شوی وای که هغی ته ور ته څـو نوری پروژی هم تر لاس لا نــــدی نیول شوی وای .

دپښتو فولکلوریك ادبیا ت :

فولکلوریك ادبیا ت په بیلا بیلو نومونو یادیږی لکه شفا هی ادبیات، عوا می ادبیات، او لسی ادبیا ت، وګړنیز ادبیات ، دخلکو شفا هی ایجاد یات ، فولکلور ، او دا ســـی نور . اکثرو پښتنو لیکوا لـــو د او لسی ادبیاتو اصطلاح زیا تـــه استعمال کړی ده . بنایی چـــی (عوا می ادبیات) به تر ټو لو زیاته دقیقه او صریحه اصطلاح وی ځکه چی دعوا مو داادبیاتو په مقابل کی دخوا صو ادبیات شته. د(خلك) او (اولس) په کټیګوری کی نو ښتګر روښانفکرا ن هم شا مل دی . دا چی وایی((خلك دتاریخ جوړ وونکی دی)) په دغو خلکو کی باید زیار ـ ایستو نکی روښنفکرا ن هم پـــه حساب کی نیول شوی وی .(د خلك دمقو لی په باره کی په لومړ ی فصل کی توضیحا ت ورکړ شوی دی). د شفا هی ادبیاتو په اصطلاح کی که (ستاتیك سندری) هم شا ملـــــی کړو یعنی هغه سندری چی او لسی شاعرانو ویلی اوددوی په نا مه ثبت

شوی دی، نودغه اصطلاح هم خپل‌صراحت (ددال او مدلول تر مینځ بشپړ مطابقت) بایلی ځکه چـــی‌شفا هی (نالیکل شوی، ژ بنی) ادبیات تغییر کوی او دانتقا ل پـه‌پروسه کـ ی‌کمښت او زیا تښــت یا او ښتو ن پکی‌راځی. بله داچی‌په او سنی‌و خت کی به دغســی فولکلور ی آثار ډیر لږ وی چی له‌ثبت کیدو نه پاتی شوی وی .ثبت شوی آثار ترزیا تی اندازی لـــه‌تغییراتو څخه په امن کی پاتـــی کیږی او ستا تیك خا صیت پیدا کوی. فولکلوریك ادبیا تِ یواز یٍ‌د فولکلور په‌نا مه یادول سم نـــه‌ښکاری ځکه دفولکلور داصطـلاح واضع(تامس) دغه کلمه په پراخ‌مفهوم استعمال کـړی وه او نورو فولکلوریستا نو هم دفولکلور ترعنوان لاندی دعوا مو دفر هنگــك مادی او معنوی توکونه تر بحـث‌لاندی نیو لی دی. نو که او ســں (فولکلور) یوازی فولکلور یــــك‌ادبیاتوته تخصیص کړو غلط فهمی راولاړ یږی. داهم بایده ووا یو چی‌د(عوا می ادب) اصطلاح هـــم د ځینو کسانو نه خوښیږ ی ځکه چی‌دتاریخ په اوږ دو کی ارستوکراتانو دوی ته په‌سپکه ستر گه کتلی دی او(عوام کالانعام) یی‌بللی دی . ددغه ذ هنیت بدلول و خـــــت‌غواړ ی . دلته به داکثرو پښتنو لیکوا لو په‌پیرو ی داو لســـی‌ادبیاتو اصطلاح زیاته استعمـــــال شی .

دپښتو داولسی ادب‌ژانرونه :

څرنگه چی په دی ورو ستیو وختوکی دژانر اصطلاح زمو نـــږد لیکوا لو له خوازیاته استعما لیږی‌اوبحثونه پی‌کیږی نو ښایی چی‌دغه اصطلاح یو څه تشریح شی .ژا نرفرانسوی کلمه ده چی‌په انگریز ی کی هم دفرا نسوی په شان تلفظ کیږی .

ژانر په‌لغت کی ډول ، صنف ، تیپ(بیلگی) ته‌ویل‌کیږ ی . په‌ادبی کره‌کتنه کی ژانر دادبی آثا رو پـر جلاتیپو نو یا کتیگور یو باند ی دلالت کوی چی دجلاوالی معیار یی‌فورم (شکل) یا تکنیك دی . یا په بله‌ژبه ، ادبی ژانرو نه د شکل‌یا تکنیك په اساس یو له‌بله‌بیلیږی. په دی وروستیو و ختو کی د ژانر اصطلاح په دقیق ډول نه‌استعما ــ لیږی خو له‌ږنسا نس نه ترنولسمی پیړی پوری ادبی‌آثار په دغوژانرونو

ویشل شوی وو: تراژیدی، کمیدی، ایپیك ، لیر یك ، او پاستو را ل. داسی گڼل کیده چی گو یا هـــر ژانر ځانته مشخص اصو ل ا و موازین لری. دادبی کره کتو نکی وظیفه داده چی و گوری شا عر یالیکوا ل تر کو مې اندازی‌پور ی دېاکلی ژانر قوا نین مرا عــــا ت کړی دی(۱).

په او سنی و خت کی ناو ل،لنډه کیسه ، ادبی مقاله او بنایی چی درادیو ـ تلویـزیو ن ډرا مې هم بیل بیل ژانرو نه وگڼـــــل شي .(۲) اکثر مشکلات له دې‌ځایه‌راولاړیږ ی چی‌مثلا ناول یو ژا نر دی، پیکار یسك ناو ل (یـ وډو ل‌اسپانوی ناو ل چی اتل یی غالبا یوما جرا غوښتو نکی بد معا شوی) هم‌یو ژانر دی. یادا چی غزل یوژانر دی ، عر فانی غزل هم ، یوژانر دی . په د ی‌ترتیب‌په‌ادبی تصنیف (ویش) کی دشمو ل ا و تضمن منطقی انسجام له مینځه‌ځی. لنډه یی داچی ادبی کره‌کتو نکی اوادب پوها ن ددغی اصطلاح پـــه استعمال کی له دقیق معیار څخه‌کارنه اخلی . یاپه‌بله ژبه ، دژا نر اصطلاح په‌کیف مایشا یی ډو ل پکاریږی. ادبی کره کتو نکی له‌یوی خوانه‌شی کولی چی په دې‌برخه‌کی‌پریکړه صادره کړی له‌بلی خوا ددغی فصیحی عنعنو ی اصطلاح‌پریښودلوته هم نه دی تیار .

ځینی ادب پو ها ن ادبی آثـــارپر درو ډو لو (انوا عو)و یشی : ایپیك (داستانی) ،لیر یك(غنا یی)،او ډرا ماتیك (تمثیلی) . هره نو ع ځانته اشکال لر ی‌لکه ډراما تیك‌نوع‌چی په‌تراژ یدی ، کمیډی ، میلو ډرامه ویشل شوی ده . هر شکل‌بیاپه ژانرو نو و یشل‌کیږ ی.مثلا لیریك شعر په غزل ، ربا عی ، قطعی او نورو شکلونو و یشـــــل

---

1) Joseph T. Shipley, (ed), Dictionary of World Literature, N. Y. 1953, P. 193.

2) Willian Flint and Addison Hibbard, A Handbook to Literature, the Odyssey Press, N. Y. 1960, P. 211.

شوی دی او غزل بیا په‌تصو فی ، اخـلاقی ، عشقی او نوروژانرو نو باندی‌ویشل کیږی .(۱).

لنډه یی داچی په اد بـــــی اصط لاحاتو کی دساینتیفیــــک اصطلا حاتو په شان عمو می‌موافقه‌زباته نه‌لیدل کیږی.

دپښتو په او لسی ادب کی‌دادبی انوا عو مساله چندانی‌نه مطر ح کیږی ځکه چی دډراماتیك نو عی مثالونه لږ دی . او لسی ډرا مه په خپله ابتدایی‌بڼه په او لس کی‌شته ځو فولکلور ته لوو نکو په‌دی برخه‌کی کارنه دی کړی(اوکه چاکړی هم‌وی زما له‌نظره نه دی تیر شوی). په دی حسا ب‌ډراما تیك نوع تقر یبا د نیشت برابره ده. په دی صور ت کی ، ددی ضرورت‌نه احسا س کیږی چی د پښتـــو او لسی ادب پر درونو عو وویشو.

برسیره پردی ، په ایپیك،لیریك‌او ډراماتیــك ډو لو نو (انواعــو) باندی داو لسی ادب ویشنه جا مع‌ انځور نه‌شی وړاندی کو لی ځکه‌چی متلونه ، چیستا نو نه، او ځینی نور ژانرونه په پورتنیو ډولونوکی نه‌ځاییږ ی. له دی امله،مناسبــه‌ښکاری چ ی‌دپښتو او لسی اد ب په‌برخه کی له ځا نګړ ی تصنیف‌څخه کار واخیستل شی . پـــــه لومړی سر کی ، دتصنیف د معیارپوښتنه راولاړیږی . یعنی دا چی‌د پښتو داو لسی اد ب دو یش دپاره له‌کوم معیار څخه استفاده‌وکړو. ښایی ،دهغه اهمیت له امله چــــی‌مضمو ن یی لری ، دیوه اد بی‌اثر مضمو ن دمعیار په‌توګه‌و ټا کو .داهم‌ویل‌کیږ ی چی‌لومړی مضمو ن تغییر کوی او ورپسی فورم هــــم‌قهرا بدلون مو می. دا خبره که‌څه هم په‌فلسفی لحاظ سمه ده خو د ادبیاتو دنسبی خپلوا کی په پام‌کی نیو لو سره،باید یادو نه وکړو چی‌په‌پښتو ادبیاتو کی ځینو شعر ی قالبو نوپه پیړیو پیړیو کی‌تغییرنه‌دی منلی اود هری تاریخی دو ر ی مفکوری او پیغا مونو ته یی‌په خپله‌غیږ کی ځای ورکړ ی‌دی.

۱ــ((ادبشناسی و بعضی‌مسایل‌مبرم آن)) دکتور اسد الله حبیب، لکچرها ی آمو زشی برای اشتراك‌کننده گان نخستین کنفرا نـــس سر تاسری نویسنده گان جوا ن ج.د.ا. پو هنتون کابل ،۱۳٦۲ ، ص ۱٦

٥ ـ په او لسی سندروکی اغلاق او تصنع ډیر لږ وی . کله کله شاعران دخپل علمیت او فضل دښودلو له پاره مغلق شعرونه هم وایی . لکه دمحمد عیسی داسندره:

یاستا سینه رنگینه یا نجم الثاقبین دی
یاته یی ماه جبینه یار جم الشیاطین دی

ځینی شعرونه د معما په ډول ویل شوی دی چی طبعا حل یی ډیر سوچ او فکر غواړی لکه دالاندی معما:

یو بل شی می لیدلی په نامه دی مسلمان
مونځ نه کوی قاضی پسی
په خپو کی دده خوله ده د غه ډیر دی پهلوان
مونځ نه کوی قاضی پسی
هرڅوک چی یی بیرون کړی پکی ښه کیږی مذکور
داړکه ده دنور .

٦ ـ او لسی سندری غالبا له موسیقی سره ملگری وی. که موسیقی نه وی ور سره بیا هم په وزم (غاړه، آهنگ) و یلی کیږی او ځینی برخی یی دیوی ډ لــی له خوا ورسره غبرگیږی.

٧ـ اولسی سندری ریا لیستی دی، دفورما لیزم او نړه هنر بیلگی په کی نه لیدل کیږی . په ځینو سندرو لکه ځنځیری چاربیتو کی شاعر دخپل مهارت دښودلو دپاره قافیی کتاروی اما سره له دی دریالیزم له چوکاټه نه دباندی نه وزی.

مثلا دالاندی نمونه و گوری :

کله به راوړی دواړه لبی دی رنگین، شیرین
سپین دی جبین، زرین، مخ دی ځلیږی
کله به راکړی دواړه لب شاتاو منهم ،صنم
مه کړه ستم، هردم ، په غضب ښوری
سری دی منگولی ، همیش وړی زړونه قلم ،قلم
اخلی قدم به چم ، ستر گی دی توری
په دردی پروت یم همیش غواړم ستا کرم ، محکم
لری کړه غم،الم ، که رب ته گوری
نن دی په غاړه باندی زا نگی لو نگین، رنگین
سپین دی جبین،زرین ، مخ دی ځلیږی

ترپایه

که مونږ دموضوع یا مضمون په لحاظ او لسی ادبیات وویشو نو بنایی چی زمونږ تصنیف دا سی شکل پیدا کړی:

عشقی ادبیات:

عشقی ناول، عشقی لنډه کیسه، عشقی نکل، عشقی لنډی، عشقی چاربیتی، عشقی رباعی، عشقی ټوکی، عشقی متلونه، او داسی نور.

اخلاقی ادبیات:

اخلاقی ناول، اخلاقی لنډه کیسه، اخلاقی نکل، اخلاقی لنډی، اخلاقی چاربیتی، اخلاقی رباعی، اخلاقی ټوکی، اخلاقی متلونه، اوداسی نور.

الیکن په ادبیاتو کی عمو می تمایل دادی چی تصنیف دشکل یا قالب په اساس تنظیمیږی. خو کوم تصنیفونه چی تراوسه شوی دی هغوی پوره سیستماتیک نه دی. په ځینو کی یی معیارته چندانی پاملرنه نه ده شوی.

دپښتو داولسی ادبیاتو یو نسبتاً جامع او سیستماتیک ویش (چی ترپخوانیو ویشو نوغوره بریښی) دزلمی هیواد مل له خوا په لاندی ډول پیشنهاد شوی دی:

اولسی ادبیات

لومړی ـ نظم:

الف ـ عامی سندری:

۱ ـ لنډی، ۲ ـ سروکی، ۳ ـ داتن ناری، ٤ ـ دماشومانو سندری، ٥ ـ دمیندو سندری، ٦ ـ تاریخی ناری، ۷ ـ دبی بی دستی سندری، ۸ ـ کیسی (منظومی)، ۹ ـ منظوم متلونه، ۱۰ ـ غاړی (کاکړی)، ۱۱ ـ برغازی، ۱۲ ـ سولی، ۱۳ ـ سلسلی، ١٤ ـ بلندی، ۱٥ ـ پړاکی، ١٦ ـ فالونه، ۱۷ ـ دبنادی بدلی، ۱۸ ـ ساندی، ۱۹ ـ چغیانی.

ب ـ خاصی سندری:

۱ ـ چاربیتی، ۲ ـ بدلی، ۳ ـ ږغونه، ٤ ـ دمروتو کسرونه، ٥ ـ بگتی، ٦ ـ لوبی، ۷ ـ داستان (بدله)، ۸ ـ مقام (رباعی)، ۹ ـ آزاد اولسی شعرونه.

دوهم ـ منثور اولسی ادبیات:

۱ ـ متلونه ،۲ـ نکلونـــه ، ۳ ـ وړی کیسی ،٤ـ ټوکـــی، ۵ـ بو لنی، ٦ـ تکیه کلا مو نه ، ۷ ـ روایات ، ۸ـ دعاوی اوبنیراوی، ۹ـ متشابهات ، ۱۰ـ رمزو نه ، ۱۱ـ کنایات .

په دغه ورو ستیو یش کـــی د تصنیف معیارونه په نظر کی نیول شوی دی * البته د مصنف لـــه توضیح ورو سته موږ پو هیدا ی شو چی د مثال په توگه ، تکیـــه کلامو نه او متشابها ت په کـــوم مفهوم سره په نظر کی نیول شو ی دی. که تکیه کلامو نه او متشابها ت په ساده بڼه وی نو هغوی د ژبپوهنی مو ضو ع گرځی اود جلا ژا نـــر په توگه نه شی معر فی کیدای. مثلا که شا عر دیار مخ له گل سره تشبیه کوی، دانو جلا ژانر نه دی. لیکن په هغه صور ت کی چی متشابهات دیوه ادبی ټیپ په بڼه په بشپړ و جملو کی راشی ، هلته دیوه ژا نـــر حیثیت پیداکوی . دسار ی په ډول په خو ست کی ځوانا ن دټو کو او ملنډو په توگه د متشابها تو په بڼه یوله بل سره سیالی کوی . یو تـــن وایی:((سترگی دی دا سی د ی لکه په یخ کی پچی))هغه بل ورته وایی: ((غوږونه دی داسی دی لکه د شیطان ببوزی.))

دغه ډول متشابها ت،همدا رنگه دځینو ټولنیزو ډلو خا صـــــس اصطلا حا ت دجلاژا نرو نو په توگه، تربحث لا ندی راتلای شی . دمثال په توگه ، کله چی چرسیا ن د چلم په څکولو پیل وکړ ی نو ځینی وجیزی وایی لکه:((چی چرس یی نه وی ، ترس یی نه وی ، چی بنگ یی نه وی ننگ یی نه وی ...)) ځینی فولکلو ریستان دغه ډول اصطلا حاتو تـــه (Jargons) وا یی .

په دی رساله کی ، اصلی هدف د ژا نرو نو دخصو صیا توڅیړ ل نه دی. په دی باره کی بنی رسا لی اومقالی لیک ل شوی دی.(د خلکـــو سندری) یوپه زړه پوری کتا ب دی چی مو لف یی په راغو نډولو کـــی ډیر زیارایستلی دی.(دپښتو د اولس ی ادب لار ی) د دو ست محمد

---

*داولسی ادب دویش په باره کی د معاو ن سر محقق زلمی هیواد مل مقاله تراوسه نه ده خپره شوی . ما دده په اجازه دتصنیف بر خـــه تری رانقل کړه.

۸ـ او لسی سندر ی‌د معلو ماتو او اطلا عاتو ور کولو ډیره ښه وسیله ده . انگریز ی ختیځ پوه (راورټی) دپښتو داو لسی سندرو په‌باره کی وایی :((پښتنا نه که څه‌هم ور ځپانی او نور ی خپرو نی‌نه لری مگر هغه سا ده او عا میانه اشعار اوبدلی چی په‌عام ډو ل د پښتنو دهر ی طبقی له خواو یلی شوی ، ددوی تاریخ او ورځپا ڼی بلل کیدای شی .))(۱).

(جیمز دار مستتر) هم(دپښتنخوا دشعر هاروبهار) په سریزه کی دغه مطلب ته داسی‌اشاره کوی :((پښتانه خپرو نی‌نه لري ، او لسی سندری دورځپا ڼی‌ځای نیسی اود سیاسی ژ و ند تو لی پیښی یی دخلکو سندرو ته لارمومی . په همدی توسن داو سنی افغا نستان په‌باب داسی تار یخی‌مطالب تر لا سه نه‌شو ل چی هغه دی له هغه لیکنو سره چی اروپا یانوکړ ی ډیر توپیرولری . دافغا نستان په‌با ب د اروپایانو لیکنی له‌تیرو تنو او ناسمو مطالبو ډکی د ی‌خو ددی سندرو له مخی‌دافغا نستا ن دخلکو رښتینی څیره اودپیښو اصلی‌ډول را ته روښا نه‌کیږی او موږ ته دپښتنو دزړ ه راز رابرسیره کوی.))

۹ـ او لسی سندر ی پښتا نه‌حماسه جوړ وو نکو اتلولی ته هڅو ی اود هغوی مورال پیاو ړ ی‌کوی .

دمیوند په جگړه کی دپښتنی‌ملالی دخو لی‌لنډ ی ډ وتار یخی اهمیت لری .ددغی لنډی په اوریدلوسره دپښتنو و ینی‌په جوش‌را غلی اوداستعمارپو ځ‌ته یی سخته ما تی‌ورکړه.

د(حیات افغانی) لیکوال وایی‌چی((دافغان او انگر یز په‌لو مړ ی جگړه کی (اتلس سوه نهه دیرشم ـ اتلس سوه دوه‌څلویښتم) دافغانانو دملی غور ځنگ لوی‌علت دعلماوو لارښوو نی اود شا عرا نو شعرو نه‌وو.))

پښتولنډی‌ځوانانو ته دتور ی‌او ننگ درس‌ور کوی پښتنه ښځه له هغه ځوان سره مینه کوی چی‌دښمنا مت‌خاوند وی:

سبا می ستا په ت ومتو ژنی
ځای دراستی دی چی منکر نه‌شی‌مینه

۱ـ (دخلکو سندری) په حوا له، یوڅلویښتم مخ.

خاوری به تاله خو لگی درکړم   په‌ډال دی نشته د مصری توری وارونه

سپینی چړی در پسی را غلی
چی‌له‌یاری می‌تو به ګار نه شـــی‌مینه

که‌تور اور بل می هیراتیږ ی
په‌پښتو ننګ دی جانا ن نه منع‌کومه

۱۰ــ په او لسی سندرو کی د ناروا او ناوړه دو دو نو او ستم‌پر ضد داعترا ض غږونه هم اوریدل‌کیږی .ځینو شا عرا نو دبډ ی‌خورو ملکانو او حاکمانو ، سود خو رو تاجرانو او فیو ډالا نو،اوداسی نورو کسانو ناوړ ه عملونه غند لی دی.داجباری واده اودولور ا خیستلو د دود پر ضد هم‌بنایسته زیا تـــی‌سندری جوړی شوی دی.

راغلی سوداګر زما دســـر د ی‌خریدار
چی‌ور می نه‌کړی پلاره ، قبو ل‌کړی می کو نډ تون دی

۱۱ــ په او لسی سندرو کی دپښتنی ټو لنی طبقا تی ژوند هـــم منعکس شوی دی. سلیمان لا یـــق‌ددی لنډی:

خدای دی زما کړه غو نډی‌منډی   لنډی کچر ډ ه‌چلوم تا به‌ساتمه

په‌تفسیر کی داسی لیکی :

((تاسی‌و ګوری چی څنګه دپښتنی‌ټولنی داستثمار شو یو محکو مـــو طبقاتو عا طفه ، ارما ناو بیوز لی په‌لنډی کی ځپی‌و هی. تاسی دساده زیارایستو نکی طبقاتی خیره د دی‌لنډی په‌ساده ژبه‌کی و ګوری چی څومره بی‌ریا ، بر بنډه اوصاد قانه‌جلوه لری او څومره وا قعی د ه.فقط دکلیو او کروندو زیارایستو نکی پوهیږی چی(غونډه منډه) څه راز صفت دی اودکلیوا لی عا شقا ن تندی داو بولوله پاره څومره اعجاز هستوو نکی تصو یر دی. دلنډ ی‌شاعر دخپلی ایډیا لی محبو بی د ساتلو دپاره دلنډ ی کچر پـــــرچلولو تکیه کوی یعن ی‌پرهغـــــه وسیله چی دده په‌طبقا تی مو قعیت‌کی مقدره او مقدوره ده))(۱).

دپښتو او لسی سندرو کی دطبقاتی امتیازونو پر ضد ډ یـــــر

---

۱ ــ((لنډی)) سلیمان لا یـــق، دپښتولنډی ، کتاب سر یز ه ، د ا.د.ج دعلو مو اکاډ می دژ بو ا وادبیاتو مر کز ،پښتو ټو لنـــــه، دیار لس سوه څلور شپیتم کا ل دوه پنځوسم مخ.

دوست اثرتیور یکی او تطبیقـــی مباحث لری ، داو لسی اد ب پیژندنی
په برخه کی گټور کتاب دی، دزلمی هیواد مل (او لسی سندری)یوجامع
اثر دی چی لیکوا ل یی دلیکلودپاره له یو سلو ډیرو ماخذو نو څخـه
استفا ده کړی ده .د(پښتو لنډی)دکتاب په سریزه کی د پښتولنډیو
په باب دسلیمان لا یق مقا لـــه یوه ابتکاری لیکنه ده چی په هنر ی
ژبه یی یو عالمانه تحلیل وړ اندی کړی دی اودفولکلور څیړو نکو د
پاره دلاربښود حیثیت لری. د فو لکلوری ادبیاتو په باره کی دابراهیم
عطایی لیکنی هم اکاډ میك ارز ښت لری. علی محمد منگل هـــم
دفولکلورپه برخه کی ډیر کار کړی دی. په لره پښتو نخوا کی د پرو-
فیسر سیال کاکړ کار او زیـــاردستا ینی وړ دی . داو لسی اد ب
دژانرو نو دپیژند نی دپاره دنو موړو محققانو له آثارو څخـــه
استفا ده کیدای شی . دابه لـــه انصا ف څخه لیری وی که دفو -
لکلور ی څیړ نو په بر خه کی داروا ښاد لوی استاد حبیبی لیکنی له
یاده وباسو .پ ه دی شیبه کی نورنومونه زما یاد ته رانغلل ښا یی
چی محترم فولکلور پوها ن به مـــاوبخښی .

دپښتو داو لسی ادبیا تـــــوڅا نگړنی:

په هغوو ختو نو کی چی پښتنوورځپاڼی او تبلیغا تی اورگانو نه
نه در لودل او لسی ادبیاتوداطلا عانو ، تبلیغاتو ، او تربیتـــــی،
معر فتی ، او ایستیتیکی هدفو نودپاره خدمت کاوه .(جیمز دار -
مستتر) فرا نسوی ختیځ پوه پـــه خپل اثر (دپښتونخوا دشعر هار و
بهار) کی دپښتنو داو لسی اد ب په باره کی داسی څرگندونی کوی:
((دخلکو له دی سندرو نه دپښتنود دو دو نو ،ورو نو او ژو ند په
باب لوی مطالب تر لاسه کیږ ی اوددوی د ژوند ر ښتینی ا نځوردی.
داوگړ نی سندری داسی شاعرا نوویلی چی لیك نه شی کولای، شا عر
په دی سر بیره سندر غاړ ی دی اوډوم (ډم) یی بو لی .دارو پا پـــه
تاریخ کی دگو لوایانو په و خت کی داډول او لسی شا عران مو جودوو.
درباری شا عرا ن دی د خلکـــــوشا عرانو ته هیڅ ارز ښت نه ورکوی
او دشاعر نوم نه پری ږدی. خود خلکو له دی شا عرانو سره داو -
ریدو نکو اکثریت مینه اوعلاقه لری.اود(میرا)غو ندی شا عرشعرونه هر

ځای‌ویل کیږ ی لەسندرو و یلو سره پښتانه مینه لری . د ر ی
پښتانه چی سره یو ځای شی یویی‌سندری وایی . ډیر و ختد شپی
په مجلسو په دیره‌کی یو تـــــــن‌ولاړیږ ی ، رباب را اخلی اوسندری
وایی. ښایی داسړی په ژو ندا نه‌کی لەزر گو نو ستو نځو سره
محا مخ‌وی،ښایی مجبوروی چی‌سبا ته لەساتو نکو نه دخلاصو ن لەپاره
غره ته و تښتی خو په هغه شپه‌کی‌سندری وایی.))(۱)

ددی ټکی یادونه پکار ده چـــی‌یواز ی پەحرفه یی سندر غاړو کی
ځینی د نسب په لحــــــــا ظ‌ډماز دی .(ډار مستتر) ورو سته‌دا
ډم لیکی‌چی ((یو شمیر او لســـی‌سندری دخلکو هغه شا عرا ن چی
اصل یی ډمان نه دی اود پښتنو دلویو ټبرو نو سره مربوط دی ،
جوړوی . البته داشا عرا ن هم‌اکثره‌کسب‌لرونکی او دوکاندارا ن دی نه
خانزاد گان . یونا متو شا عـــــریوتیل خرڅوو نکی دی چی محمد-
دین نومیږی اودکسب له مخی یی«تیلی» بولی . د سکها نو دسلطی
دوخت پەپیل کی دنوره دین‌پەنامه‌یوشاعر ډیر مشهور و چی بټیاری
یعنی بټگرو ، یو شا عرما لیـــــاریعنی باغوا ن دی او امانت‌نومیږی،
یوبل گازر یعنی دوبی دی اونوم‌یی‌عجم دی، مقصود گل جولا یعنـــی
او بدونکی دی . اصیل پښتو ن‌لەدی نەبده وړی چی دنورو په مخ‌کی
هنر ښوونه وکړ ی .د((میرا)) پلارپښتون و خو مور یی ډمه وه او په
کوچنیتوب کی‌دپلار له سیوری بی‌برخی شوی‌و.))

داچی دا رمستتر په خپل‌برداشت‌کی‌ترکومی اندازی حق‌پەجانب دی،
په دی باره کی قطع ی‌حکم مشکـــل‌بریښی . ښایی وو یل‌شی چـــی
(دارمستتر) یوەپیړی‌مخکی پەپیښورکی‌و اود هغه‌و خت شرایط بیل‌وو.
خوکەپه دی باره کی دپکتیـــــــااوننگرهار لەسپین ږیرو نەوپوښتو د
(دارمستتر) خبره نه تاییدوی چی‌وایی ټول‌سندر غاړ ی ډمان دی او
یاوو . په دی برخه کی‌د(الفنستن)څرگندونی هـ م‌دیادو نی وړ دی .
(الفنستن) له قصو او سند روسرەدپښتنو مینه په دی ډول‌تمثیلوی:
((ا ەډوډی نەورو ستە دوی‌کښینی‌او چلم‌څکوی ، اویاد قصی اوبدلو

---

۱ ـ جیمز دار مستتر، دپښتنخوادشعر هاروبهار، پښتو ټو لنه ،
دیڼز لس سوه شپږ پنځو سم کا ل، پنځلسم ـ شپاړسم مخونه .

غږونه پورته شوی دی چی یو ښوبیلګی‌یی د(او لسی سندر ی)له کتاب ښخه را اخلم.
(علی احمد) شا عر دخانانو ا وغریبانو تر مینځ د دو ستی پرضد وایی:

یوغیران آمد نشته سه ل‌رو پــی‌تاوان کوم
مانه بل احمق نشته هر سا عت‌ارمان کوم
بڼخه غریبه بڼه ده نه به لوردخان کوم
تل جنګ‌و جدل کوی خپل مــی‌بیګانه ګرځی
(دوه سوه یوولسد م‌مخ) .

یوبل شا عروایی :
زوروور اور اوبه‌و ی
دسره اور یاری بڼه نه‌وی
یاد ی‌سیځی یادی یو سی یابه‌تاکاندی ذلیل
ددریاب مخی ته مه ځه چـــی موجونه‌و هی میل
زوروور غره په تاج دی   غریب هر چیری محتاج دی
ته‌به‌ناست یی‌ور ته غلی د ی غږیږی بم و زیل
ددریاب مخی ته مه ځه چـــــی‌موجونه‌و هی میل
(دوه سوه دوولسم مخ) .

ملنګ جان وایی :
یوځلی ، دوه ځلی، او در ی‌ځلی‌خوخیر
تر څو به داناکام‌زه ستاله لاسه تیروم خا نه
څوبه مظلوما نوباند ی ته دظلم‌حملی‌کوی
څو به په‌پردوزامنوته مفتی میلی کــــو ی
څوبه زه زاری کوم او ته‌را تــه‌ګیلی‌کوی
څو به ته خفـــه‌اوزه به تا خوشحا لوم خا نـه
(دوه سوه دوولسم مخ)

(ثناګل)وایی :
نن دی په غاړه اچو لی تمانچـــه‌ده
عجب نوی نقشه ده، په خیرراغلی‌ملکه!
ته‌چی حکو مت ته شی روان   خلکوکورونه دی کړه ورا ن
یی معر فی دحکمرا ن

پټورته‌وایی چی او لس کـــی فقره‌ده
عجب‌نوی نقشه ده ، په خیـــر راغلی ملکه!
(دوه سوه شپاړسم مخ)

(ارسلا جان)وایی :
یو ټکی ترووپسی په کلـــــی گرځیدی‌نه‌شم
نن می‌کتغ نشته خدایه سپوره‌یی‌خوړی نه‌شم
(دوه سوه دری دیرشم مخ)

په همدی ډول دلوړی طبقـــــی‌دفساد او استثمار اودخوارا نـــو دژوند تصویر په ډیرو او لســـی‌سندرو کی‌ایدل‌کیږ ی .

داو لسی سندرو دخصو صیاتو په‌باره کی په‌یوه کتا ب کی دالاندی مواد هم بیان شوی‌دی :

١ ـ دپردیو ژبو له‌لغا تواوالفاظوڅخه سوچه‌والی .

٢ ـ ښکلا اودښکلو مینه‌ورکی‌طبیعی او فطری رنګ لری اودروحی انحراف سر حدته نــــه د ه رسیدلی.

٣ ـ که‌رزمی وی که‌بزمی دکو م‌واکمن او بادار مد حه او ستاینه‌نه لری.

٤ـ مفهوم او مضمو ن ور کی له‌قافیی څخه نه دی قربان شو ی ، ایجاز اواختصار یی لوی خصوصیت‌دی.

٥ ـ دتشبیه او استعار ی‌طرفین‌یی دخپل چاپیریا ل مو لود دی ،د ختا او ختن مښك او دیمن‌لالو نه‌نه‌لری.

څرنګه چی دغه پور تنی حکمونه‌په‌قطعی ډول بیان شوی دی له دی امله دتا مل وړ ښکاری . په‌لومړی‌ماده‌کی‌و یل شوی دی چی((دپردیو له‌لغاتو او الفاظو څخه سو چـــــه‌والی)) ددغه‌نظر پر ضد ډیرمثالونه وړاندی کیدای شی .دالا نـــد ی‌سندری و ګوری :

صبحدم صاف شر بت دلبان را
غنچه‌فم دفر قت می درما نرا
(او لسی سندری ، پنځه شپیتم‌مـــخ)
زهدو تقوی و ریا ضات له‌محبته‌زیږی
کبرو نخو ت او خود بینی له‌بدطینته زیږی
(اولسی سندری ، دری اتیایم مخ).
زړه‌به می څنګه قرار وکړ ی
چی شکر لب سیمین غبغب له‌مامهجور دی

ویلو دپاره یوه دایره جوړوی . بوډایا ن لوی قصه ویو نکی د ی.
ددوی قصی دپاچایانو او وزیرانو،دپیریانو او ښاپیریانو دی، خـــو
ډیری یی دینی اود جنګ په با ب وی.

دغه قصی زیاتره له غز لو اوناروسره ګډی شوی وی او تل دغیر ت
په ټکی ختمیږ ی . پښتانه له قصواو غزلو څخه ډیر خوند اخلی . څه
وخت چی یوه قصه‌ویله‌کیږ ی دو ی ټول چوپ ناست‌وی اود هغی‌په‌پای
کی‌ټول دستا ینی دپاره ناری‌وهی.((ای- شاباس)) . دد وی‌نږ د ی
ټولی غزلی د هینی په‌باب دی مګردوی نور ی بدلی هم لری چی پــه
هغوکی دخپلو قو مو نو جنګو نه‌اودانفراد ی مشرانو میړانه ستا یی.
له دغو غزلونه غیر ،ځینی کسا ن‌قصیدی او یادنا متو شا عرا نــو
شعرونه لولی ، نور یی شپیل ی، رباب ، کمانچه ،سر نده یاسر نی
وهی.غز لچیا ان معمو لا ربا ب یاسرندی سره خپل آواز ملګر ی
کوی . د دوی دنظموو یو نکی‌بز ـګران او شپانه او زیا تره کسبی
شا عران او کله‌کله دپخوا یا موجودوخت نامتو مصنفان دی .))

له دغویادو نو څخه جوتیږی چی‌او لس ی‌ادبیا ت دپښتنو په ژوند
کی مهمه ونډه لری . دخوا صو له‌ادبیاتو سره د مقایسی په‌صور ت
کی داولسی ادبیاتو عمده‌ځانګړ تیاوی دادی:

الف‌ـ‌د او لسی سنــــــد ر وخصو صیات :

۱ ـ داو لسی‌سندرو او زا ن او آهنګونه ملی خصو صیت لری ، د
نورو ژبو دعرو ضو اومتر یـــــك آهنګو نو اغیز ه‌په‌کی نه لید ل
کیږی. دپښتنو ملی سنـــــــدر ی‌دسیلابو نو دشمیر او فشار پـــــه
واسطه خپله موازنه ساتی .

۲ـ داو لسی سندرو لغا ت مانو س او آشناوی . که دیـــوی
سندری لغتونه غر یب او نامانوس‌وی په او لس کی ځانته لاره نه‌شی
خلاصولی مګر دا چ ی‌خلك تصرف‌پکی‌و کړی او لغتونه یی‌ور بد ل
کړی. داهم بایدوو یل شی چـــــی‌ځینی او لسی سندر ی د خپـــل
آهنګ یاوز م په‌بر کت دټو لنی‌له‌خوا منل‌کیږ ی که‌څه هم ځینـــــی
لغتونه‌یی ناآشنا او یا ځینـــــــی ترکیبونه یی مغلق وی. خوانا ن او
ماشوما ن کله‌کله داسی سندری‌هم‌له‌ځانه‌سره زمز مه کوی چی په‌مانا
یی چندانی نه‌پوهیږی .

خاطره:

یوه‌ورځ دسلمانی په دکا ن کی‌ناست‌وم . سلمانی قصه وکړه چی نن‌سبا داسندره ډیره زیاته‌اوریدل‌کیږی‌چی:

یوپلومی یار ، لو نګین می په دا بل‌پلو

لاوړوکیه ، دی پلو راواوړه

ده وویل ماپه‌یوه مجلس کی‌ددی‌شعر دمانا په باره کی‌له‌حاضرینو نه‌پوښتنه وکړه، چا یو څه ویل، چابل‌څه ، خو قناعت بخښنو نکی ځواب می‌وانه‌و رید .

پوه شوم چی سلمانی دغـــــه‌پوښتنه ماته هم متوجه‌کړی ده خو ځان می غلی و نیو او له‌یوی بی‌ماناخندانه‌وروسته چوپ پاتی شوم.

ددی‌مو ضوع‌د لیکلو په‌و خت کی‌ماله‌یو څو تنو ادب‌پوهانو نه‌دهمدغه پورتنی بیت ماناو پوښتله . دو ی‌ځوابونه راکړل خو د قطعی نظـــر له‌خرګندولو څخه یی ډډه‌وکړ ه . ورپسی می دیوی بلی مشهور ی سندری ماناو پوښتله :

زه‌به دی څنګه ټو لو مه زما نی تاوړی دانی‌کړی دی وړی وړ ی

چاویل چی د(زمانی) په ځای‌باید(جمانی) وویله شی . یوه بل ویل چی‌د(تا) په ځای (دا) بایدوو یـــل‌شی اود (جمانی)په نسبـــــت د زما نی کلمه درسته ده.

په هر صور ت ، مقصد دا دی‌چی دغه پورتنی سندری ټو لـــو اوریدلی وی خو په مانا کی ی ی‌نه‌یواز ی همفکری نه‌وه بلکی‌ځینـــو وویل‌چی په‌مانایی نه‌پو هیږو . ددی څخه نتیجه اخیستلای شو چی دوزم (غاړه ،لحن) ښکلا هم دیوی‌سندری عمر اوږ دوی مخصو صا که دیوی ښی سندر غاړ ی(یوه‌ښه‌سندر غاړی) له خولی نه او رید ل شوی وی.

۳ـ تشبیه ګانی یی سا ده او سمبولونه یی‌زیاتره محسو س ا و ملموس وی، استعاری ، کنا یی اوطنز پکی لږوی.

٤ـ او لسی سندری دکلیوا لو دژوند ذو قونه ، ایستیتیکـــــــــی ارزښتو نه، غوښتنی او ارما نو نه تمثیلوی.

(اولسی سندری، یو سلو شلور پنځوسم مخ).
دهن کوثردی دندان گو هر دی
پرسر یی شال دپیښبـــور دی
(اولسی سندری، دوه سوه نهم مخ).

په دوهمه ماده کی ویل کیږی چی ((ښکلا اودښکلو مینه ورکی طبیعی اوفطری رنگ لری اودرو حـــــی انحراف سر حدته نه دهرسیدلی)). دلته پوره نهڅرگندیږی چـــــی د((روحی انحراف)) څخه دلیکو ال منصد څه دی. که مطلب داوی چی لڅی خبری او بی حیا یی پکی نشته نو ددی دپاره مثالو نه شته چی حتی ځینی یی په کتابو کی دلیکلواجازه نه لری او ځینی چی لیکل شوی دی په هغوکی هم ځینی صحنی تمثیــــل شوی دی . که د((رو حی انحراف)) څخه مقصد ((همجنس باز ی))وی نوپه دی باب هم شعرو نه شته. دالاندی سندری وگوری :

شونډی می آبداری در کو مراته وگوره
مروند می نیسه یاره مهشر میږه لهپیغوره
عرض می درته دادی چی دا داوری لهکوره
راځه چی سره خملو په دی سره پالنگ قراری
راځه چی سره خملو په دا سره پالنگ دپاسه
سرکی لبا ن به درکړم یاره زهدزړهله خلاصه
سینه می بند پهبند ماتیږ یستا دلاسه
حسن می باغ ته می توتی گله پهگلزاری
(اولسی سندری ،اتیایم مخ)

دایوه سندره ده دمثال پهتو گهراوړل شوه ، نوری نمو نی همشته چی ښایی په خپله لیکوا ل ته هممعلومی وی . په دریمه ماده کـــــی (مادی داصل سره سمی نه دی خوعبارات یی داصل سرهسم دی)ویل کیږ ی چی((کهرزمیوی کهبز می وی دکوم وا کمن او بادار مد حـــه او ستاینه نه لری)). پو ښتنه دادهچی پهرزم ک یمعمو لا مشر توبد چا په غاړه و؟ دکار گرا نـــــو،بزگرانو که دامیرانو اوجنرالا نو؟ دچانو مونه په شعرونو کی را غلــی دی ؟پهرزمی شعرو نو کی پــــه لسگو نو نو مونه ذکر شو ی دی چی پهلوړه طبقه پوری اړه لر ی . خوشحال ،میرویس، احمد شـــــاه،وزیر اکبر خان، امان الله شاهخومره زیات پهشعرو نو کی ستا یل شوی دی. آیا هغوی دواکمنی طبقی نــــه

ووهمدا رنگه دخانانو او پاچایا نو پهستاینه کی بز می سندری همویل شوی دیچی زموږ دنسل ټو لــوکسا نو حتما او رید لـــــی دی. ددغسی ټولنی تصور به لــه ملمو سو واقعیتو نو څخه ډیرلیری وی چی ټول او لسی شا عرا ن یی دطبقاتی شعور خاو ندان اود خپــل وخت دواکمنانو او با دارانو پر ضددریدلی وی. ددغسی یو ټوپیا یی ټولنی دنشتوا لی دپاره کا فــــی شوا هد شته.(دبیلگی په ډول د پښتنخوا دشعر هاروبهار ننداره کړی)سره له دی ، باید ووایو چی اکثر او لسی شا عرا ن دزیار ـ ایستو نکو پر گنو داحساسا تو ترجمانا ن دی .کو می سندر ی چی دخلکو له غوښتنو ،ذوقو نو او د ټولنیز ژوند له واقعیتو نه وسره سمو نه لری، عمری لنډوی.

ددغو یادو نو مقصد دادی چی په هره ټولنه کی ښه او بدشته. حتیٰ د تاریخ په خاص مقطع کی وا کمنـــــه طبقه مترقی نقش په غاړه اخلی په داسی حال کی چی اولس د چټکـــو تحولاتو منلو ته نه وی تیار .دالاندی سندره هی دیرش کاله مخکـــــی اوریدلی وه :

امیرامان الله راغی ناوی ته خاونده خیر پیښ کی کلمی ته

داشعر د هغه و خت په باب و چی امیر اما ن الله دښوو نځیـــو د جوړولو دپاره تبلیغات کول اوعا مه ذهنیت دعصری ښوو نځیـــــو د جوړ یدو په خلاف و، نو او لســـــی شاعر په دغه سندره کی دخپل وخت ذهنیت منعکس کړ ی دی. اما هغه وخت چی امان الله د هیواد دبشپړی خپلواکی دبیاگټلو دپاره له استعمارسره جگړه کوله * اولسی شاعردده په ستاینه کی وایی :

باچاکړی غیرت په دین دپاك حضرت باچا دولایت
محکم یی سلطنت شه ر بـ دی ور کاندی دیدار غزاته شه ی تیار

---

* زه په دی باوریم چی د امیر عبد الرحمن او امیرحبیب الله په وخت کی له اولس سره دا احساس نه و چی گویا هیواد خپلواك نه دی. انگریز په فز یکی لحاظ حاضرنه و.خلك دپاچا یانوله تعهداتو نه نــه خبریدل . کله چی جنرال نادر پـــه پکتیا کی جنگ بس کړو او خلکوته یی داستقلال زیری ور کړ، نو یر کسان پوه نه شول چی جنگ دڅه د پاره و ، او ولی بس شو.

ليكوا ل‌په خلور مه ماده‌کی‌وایی‌چی((مفهوم او مضمو ن ور کی له قافیی شخه نه دی قربان شوی)).داحکم هم په قطعی ډول ویل شوی دی‌چی‌خینی و ختونه صدق‌نه‌کوی.دمثال په‌ډول داسندره والولی:

زه عبد الحنا ن مرید دشاه‌مردان
دکل‌جهان، هرآن- کوم صفت

اوس په‌کونړ یم اصلی ځای می‌دی لغمان مکان
لر مخپلوا ن شیخان- د لو ی‌زیارت

په‌شاعری کی زه توتی شیر ین‌زبان، خو شخوا ن
کوم بیان سندان - ډ ك دلغت

شیخ احمدخا ن له فیضه شوشعرمی جاری زاری
کوم خواری واری ، دیار پــــه‌درکی

وربسی‌لیکوا ل لیکی:((دتشبیه او استعار ی طر فین یی‌د خپل چا- پیریال مو لود دی ،دختا او ختــن‌مښك اودیمن لالونه نه لری.))

او لسی شا عرا ن دخپل کما ل‌او معلو ماتو دښود لو سره‌خا صه علاقه لری. داسمه ده چی ددو ی‌اکثرشعرونه له خپل چاپیر یا ل شخه الها ماخلی خودکوه قا ف،چین‌کشمیر ، هند ، ختن نو م ونــــه هم‌اخلی .

(محمد نور)وایی :
مښك دعنبر می ورته راو ړ ل‌له‌ختنه
وربسی‌ورك ومه یارا نو لــــــه‌وطنه

دازنگبار می دی جوړ کړ ی یارگردن ته
له هنده راغلل شنه تو تیا ندیار دیدن ته
(اولسی سندری ، اته شپیتم -نهه شپیتم مخونه) .

ددغو پورتنیو یادو نو ا صلـــی‌هدف داو چی خیړو نکی داحکامو په‌بیانولو کی بایدله احتیاط شخـــه‌کاروا خلی تر هغی‌قطعی حکمو نــه صادر نه‌کړی چی پوره یقین یی‌نه‌وی‌راغلی. په‌تو لنیزو پو هنو کی‌د (غالب احتمال) اصطلاح ډیرمعوزونه‌ده‌ځکه چی ټولنیز ی پو هنی‌زیاتره په احصائیوی قوا نینو ولاړی د ی‌او لکه مخکی مو چی اشاره‌ور ته وکړه ډینا میك قوا نین په‌طبیعـــی‌پوهنوکی دتطبیق وړ دی .

ب ـ نکلونه او قصې :

کوم نکلونه چې تراوسه پښتنو فولکلوریستانو ثبت کړي او خپاره کړي دي دیوه ورو کي سامپل په توګه تر یوې اندازې د پښتنو دنکلونو ځانګړنې څرګندوي. اکثرو پخو لیکوالو ښايي دنکلونو لیکنې ته څه اهمیت نه ورکاوه ځکه دهغوی په اند دعوامو په نکلونو کې د حکمت ، منطق او ادبي فنونو ونډه چنداني زیاته نه وه. ځینو به فکر کاوه چې دجادو او خرافاتو څخه ډکې کیسې چاته څه ګټه نه رسوي، دهغو دثبتولو پر ځای بايد هغو دمینځه وړلو دپاره مبارزه وشي. پر زیات شمیر روښانفکرانو دپیښور دقصه خوانی دتاجرانو له خوا چاپ شوي کتابونه دپښتنو دتنویر او بیدارۍ په لاره کې خنډونه ګڼل او هغوته يې دخرافاتو دځای په نظر کتل. لا تر اوسه هم په ځینو مرکو او مقالو کې دښوونې او روزنې دچارو مسوولان دفولکلوري نکلونو په باب دحساسیت له ښودلو نه ډډه نه کوي . له دې امله، له فولکلوریستانو پرته بل چا دنکلونو له راغونډولو سره مینه نه ده ښودلې .

کله چې دپښتو دنکلونو په باره کې خبرې کوو نو تر ټولو د مخه دمحمد ګل نوري (ملي هنداره) سترګو ته دریږي . دکتاب له سریزې څخه څرګندیږي چې مولف نکلونه دیوه اولس د ملي خصوصیاتو هنداره ګڼي نو ځکه يې د خپلو نکلونو دغه مجموعه (ملي هنداره) بللې ده . نوري دنکلونو په تحلیل کې پر جغرافیوي دټرینیزم باندې اتکاء کوي . که څه هم طبیعي چاپیریال دهنري فرهنګ د پاره بنسټ نه شي ګڼل کیدای خو دمحمد ګل نوري له خوا دنوموړې مجموعې دخپرولو په زمانه کې ددې نظر دهغه وخت دځینو نورو نظرونو په

نسبت پرمختللی و نو ځکه با ید بی اهمیته و نه ګڼل شی .په هغه وخت کی داو لسی فر هنګ په با ب تقریبا عام نظ رداسیو چی د هر قوم ملی ممیزا ت د هغه قوم لــه فطرت څخه رازیږیږ ی لکه ګویاچی دهر قوم او ملت سجایا اوخصلتونه په ازل کی ټاکل شوی وی .

نوری د (ملی هنداری)* پـــه سریزه کی لیکی:((په غر نی ملکو او ملتو کی داسی افسا نی میند لی کیږی چ ی دزړه ور توب اودلا وری اوبیری اوډار او غرور څخه ډکی وی او د هواری مځکی افسانی دعشق او بیلتون او بیوفایی وی، او د تودو ملکو او ځنګلو لرو نکو ملتــــو افسانی دشکایت ،ګیلی او مرور توب وی، نوله همدی امله همد غه افسانی دوګړو پیژندو نکو(پوکلور) یولوی مهم غړ ی بلل کیږ ی .

په دی پورته بیان کی شـــک نشته، ځکه تاسی وګوری او همد غه افسانی والولی !تاسی به بله نتیجه ځنی وانه خلی پرته له همد غــه دپښتنو دخصو صیاتو څخه چـــی خاص په دوی پوری اړه لری لکه عشق، مینه ، ورورو ګلوی ، زړه ور توب ، توره ، توریالیتو ب ، جنګیالی توب ، ننګیالی تو ب،عفت،دینداری ،نا موس داری وسیلـــه رحمی (صله رحمی) ،زړه سو ی، ډوډی ماری ، وفا داری او پر وطن ځان قربانول اونور...))(ملـــی هنداره، دفر هنګ ،ردم د مجلـــی نشریه ،دیار لس سوه دری شپیتم کال).

محمد ګل نور ی دکتاب په پای کی دعذر تر عنوان لاندی څو بیتونه لیکلی دی چـــی پـــه هـغو کی د نکلونو دراغونډو لو هد ف ا و د ثبتولو په برخه کی دمو لــــف دامانتدار ی رعایت ښودل شـــوی دی:

---

* دپښتو ځینی خاص نو مونه دمغیره (یا اضافت) توری په اثـــر تغیید رکوی .مثلا (ملی هنداره) په(ملی هندار ی)بدلیږ ی. که نوم په اصلی بڼه پریږدو په ګرامری لحاظ سم نه ښکاری او که تغییر ور کوونو داهم په ټوله مانا سم کارنه دی ځکه مونږ په امانت کی تصرف کوو.هیله ده چی ژبپوها ن په دی باره کی پریکړه وکړی.

دامیانو شخه لیکلی ماقصی دی
دمینو بنی خوږی ناری‌پکی دی
داپه ډیر زیارو زحمت ماغونډی کړی
چی‌راغلی می په‌وچولی خو لی‌دی
نه‌زیادت او نه‌کمبوت‌می پکښی کړی
دهم هغه نقلچی دخوالی‌جملی دی
دهرقوم‌رازمعلومیږی له‌قصوشخه
دهرچا هنداره‌خپلی افسا نی‌دی
که‌شوك نورخه‌اهمیت‌نه‌ورکو ینه
دتفریح اوساتیری دپاره بنی دی
داقصی خلق‌په ډول‌ډول کړینه
څوك‌وای‌داسی‌شوك‌وای داسی‌یی‌ناری دی
که‌خه زیات یاکم غلط‌درسی پـه‌سترگو
عفوه غواړم ځکه دادبل د خولی دی
محمدگل نوری له دغه‌فخر بس‌دی
لوڅی کړی دپښتو په خد مـت‌پښی دی

د(ملی هنداری) ځینی نکلو نه‌تقریبا خالص پښتنی رنگ لر یااو دپښتنی فر هنگ زیږ نده دی لکه‌دفتح‌خان بړیڅی ، ښادی او بیبو، مومن خان او شیرینو، او ځینی‌نورنکلونه . په ځینو نکلونو کی یی د نورو اولسو نو له‌نکلونو سره‌ورته‌والی لیدل‌کیږ ی خوبیا هم‌په‌پښتنی قالب‌کی اچول شوی دی. دد غـــو نکلونو مقایسوی‌څیړنه هم فولکلور- یستانو ته‌د زیات تحقیق د پاره انتظار باسی .

ویل کیږ ی‌چی د(ولسی‌نکلونه)په‌نا مه سیدعابدشاه عابد هـــم یو، مجمو عه خپره کړی ده چی‌د پښتوژبی اته فولکلور ی کیسی‌پکی ځای شوی دی. میر احمدگوربزهم‌دگوربزودفولکلور دمعر فی کو لو په ترڅ کی‌یو څو فولکلوری نکلونه لیکلی دی.(دفر هنگ مردم دمجلی خپرونه). له دی زیا ت د پښتـــونکلونو دخپروشویو مجمو عوپه‌باب معلو مات نه‌لرم.

دپښتو نکلونو دڅر نګوا لي‌په باب (مونټ ستوارټ الفنستن)
چې دنو لسمې پېړۍ په لو مړۍ لسیزه کې یې دپښتنو د هیوادبیل
بیل ځایونه کتلي دي ،داسې نظر ورکوي:((له ډوډ ی نه‌ورو سته‌دوی
کښیني او چلم څکوي اویاد قصې‌او بدلوویلو دپاره یوه دایـــــره
جوړوي . بو ډایا ن لوی قصـــــه‌ویونکی دي. ددوی قصې دپاچایانو
او وزیرانو، دپیریانو او ښاپیریانودي خو ډیر ی یې دیني اود جنګ
په‌باب دي .دغه قصې زیاتره لـــه‌غزلو او ناروسره ګډې شوي وي‌او
تل‌دغیر ت په‌ټکي ختمیږ ي.پښتانه‌له‌قصو او غزلو څخه ډیر خو ند
اخلي .څه‌وخت چې یوه قصه ویله‌کیږي ددوی ټول چوپ ناست وي او
دهغې په‌پای‌کې ټول دستا ینې‌دپاره‌ناري‌وهي:(اې شاباس)))(۱)

د پښتنې نکلونو د ماهیت په‌باره‌کې له ځینو عمومي نظرونو (لکه‌د
الفنستن، محمد ګل نوري ، اسلا نوف ، او نورو) پرته‌ځینولیکوالو
مشخص نکلونه څیړلي او تحلیل کړي دي (لکه د پښتو چاپي آثارپه
نامه مجموعه کې د جلات خان او شمایلې د نکل په زړه پوری تحلیل
اود ځینو نکلونو په‌باب دابراهیم‌عطایي لیکنې .)

د پښتو نکلونو د تحلیل په‌برخه‌کې باید دا څو ټکي په پام کـــــې
وساتل شي :

۱ـ دیوه عمومي او هر اړ خیز تحلیل دپاره باید لوی سا مپــــل
انتخاب شي . سامپل باید د دلا یلوپه راوړلو سره د پښتنې ټولنې د
محصول په توګه تثبیت شي‌نقل‌بایدد بلې ټولنې څخـــــه نـــه و ی
را غـــلی . د کو چنی سا مپل‌نتیجې باید په‌احتیاط سره تعمیـــم
شي ځکه کیدای شي چې ځینـــې‌نکلونه د کوچنی سامپل نتیجې رد
کړي.

۲ـ په نکلونو کې کله‌کله د ډیرولرغونو زمانو دودونه او عقیدې د
ځنځنې په‌توګه پاتې شوي وي پــــه‌داسې حال کې چې‌د نکلونو داتلانو

---

۱ ـ مونټ‌ستوراټ الفنستن، د کابل‌سلطنت‌بیان،دډاکترم.ح کا کړ
او نصر الله سوبمن ژباړه ،لومړۍ ټوك ، دا.د.ج دعلو مواکاډ مي د
پښتو څیړ نو بین المللي مر کز،دیار لس سوه نهه پنځوسم کال،
دوه سوه اووه څلو یښتم مخ.

نومونه بدل شوی وی . له هغو څخه تاریخی قیاس بنایی د ناســمو نتیجو د راوتلو سبب شي .

۳ – په نکل کی دیوی پدیـدی څرك باید د یوه عمومی جوړ بنت په بڼه تعبیر نه شي .دمثال په توګه، په نکل کی د سودا ګرد نامه را تلل د بورژوا طبقی د جوړ بنت په مانانه ده. یادا چ ی د مریی او مینځی نو ـ مونه هرو مرو د مریی توب داجتماعی اقتصادی د فورما سیون پر شته ـ والی دلالت نه کوی .

٤ــ د فولکلوری نکلو نــو (او همدغسی نورو فولکلوری پدیدو)په تحلیل کی باید تیوری پر واقعیتونو تحمیل نشی . دمثال په توګه ، یو لیکوال وایی : «موضع ګیری توده های مردم در ابداع داستان ها ی فولکلوری بر مو ضع ګیری طبقاتی آنها استوار میباشد. به همان سبب تیپ هایی راکه آفریده اند چګونګی شان از همان لحاظ مشخص مـــی باشد.» (۱)

البته ، علمی نړی لیدد هنــری پدیدو په باره کی دغسی قاطع حکم لکه چی لیکوال صادر کړی دی یو ګڼ خیز بولی . په دی کی شک نشته چ ی هنر (اود هغه له جملی نــــه اولسی ادب) رو بنایی پدیده ده خو دغه پدیده له خپل بنسټ (زیر بنا)سره مستقیم اړیکی نه لری اومونږ نشو کولای چی هر ادبـــی اثر داقتصا دی عواملو په اساس توجیه کړو او یا دعوامو اد ببات همیشه د هغود طبقاتی غوښتنو او ګټو ښکاـ رندوی وبولو . د مثال په توګه، که مونږ د پښتو نکلونه مطالعه کړو دا به راته جوته شی چی ددغو نکلونو اکثر اتلان د عوامو په طبقه پوری اړه نه لری ، که کوم وخت د بز ګر زوی یا ګوروان په خپلی اتلولی سره قدرت تر لاسه کړی دی نوداهیڅکله د طبقاتی مبارزی مانانــــه لری بلکی داد خلکو د داعیی څر ګند وی دی چی هیله لری دلوړی طبقی په کنار کی ودریږی او په انفرادی توګه خپل پخوانی موقف ته تغییر ورکړی .داتل د موقف له بدلیدلو سره د هغی طبقی موقف نه بدلیږی له کومی څخه چی هغه راپورته شوی دی .

۱ــ «ویژه ګیهای بدیعی ادبیات فولکلوری دری » مجله فرهنګ مردم شماره ۳، ٤ ، سال ۱۳٦٤ ، ص .(۸٦) .

څرنګه چې د نکلونو په تحلیل کې دغه ډول اشتباه ګانی زیاتـــی واقع کیږی دلته به په لنډه توګه هغه عوامل وښیو چې داولسی ادب د نسبی څپلواکی له توجیه کیدو سره مرسته کوی :

الف) په لرغونی ټولنه کې اد بیاتو له اقتصاد سره مستقیم اړ ـ یکی در لودل خو د کار له ویشس نـه وروسته دغه اړیکی پیچلی شول . امیر حسین آریان پور لیکی : « عدم تطابق مراحل سیر عملی و سیـــر نظری جامعه از زمانی آغاز شد که کار عملی از کار نظری جدا گردید و طبقات دو گانه اصلی پدید آمدند در جامعه متمدن ، بر خلاف جامعه ابتدایی ، وحدت عمل و نظر ازمیان رفته است. در جامعه ابتدایی . هنر مستقیما وابسته تولیداقتصادی بوده امادر جامعه طبقه ای متمدن ، بـــه سبب پیچیدگی تولید و جا مـعه وپیدا یشس سنن هنری ، هنر راه و رسمی مستقل از راه ورسم تولیداقتصادی جامعه یافت . »

علمی نړ ی لید دادبی پدیدو په تحلیل کی ایکونو یسم او شلیاتو ـ کوفیزم ردوی . (شلیا توکـــوف)زیار ایسته چې ادبی جریا نونه د اقتصادی عواملو په اساسس تشریح کړ ی اود هنر او ادبیاتو نسبـــی څپلواکی له نظره وغورځوی .

ب) په دی کی شك نشته چې دعوامو ادب دعوامود ذهنیت او ار ـ مانونو هنداره ده .

اما عوام تر زیاتی اندازی دټو لنی د مسلط کلتور یعنی د وا کمنی طبقی د کلتور تر اغیزی لاندی ر ـځی او هغه ور ته ارزښتمن ښکاری.

ج) دننه په طبقه کی هم دافکاروتجانسس او پوره هم آهنګی نه لیدل کیږی او له همدی امله د نتیجی په را ایستلو کی باید د قطعی حکمونو له صادرولو څخه ډډه وکړو .

د) ادبیات کله کله د یوی ټو لنی د ټولنیز ـ اقتصادی جوړښت په نسبت مخکی ځی او ځینی وختونه بیرته پاتی کیږی . دمثال په توګه ،

د لرغوني يونان ادبيات د مريي توب د فورماسيون په نسبت ډير مخکي وو په داسي حال کي چي په منځنيو پيړيو کي ادبيات له هغو سره سيالي نه شي کولی . په ايټاليا کي د رنسانس د دوري هنر ، او په فرانسه کي د روښنا نتيا دوري اد بيات ، په پښتو نخوا کي د خوشحال خان د کورني په زمانه کي ادبيات د دي موضوع د روښنا نتيا دپاره کافي دلايل برابر ولی شي . په دري ژبه کي هم له جامي نه وروسته (او په هنر کي له بهزاد نه وروسته) تر ډير وخته پوري لوی شاعران (او هنر مندان) پيدانه شول .

ه) له يوی طبقي نه بلي طبقي ته د قدرت د ليږدولو شعور د نولسمي پيړي له نيمايي نه را په ديخوا پيدا شوی دی . په دغه وخت کي چي طبقاتي شعور وده کوی فولکلوری ادب او له هغه جملي نه نکلونه ورو وروله موږ ه لويږی .له دی امله ،په فولکلور کي د طبقاتي مبارزي بيلگي په مستقيم ډول نه ليدل کيږی.

البته ، دخير او شر ترمينځ مبارزه اوپه ادبياتو کي د هغي انعکاس لر غوني ريښه لري . خلکو تل آرزو در لوده چي د يوه مستبد او ظالم واکمن له شره خلاص شي او پر ځای يي يو عادل او نياو من وا ـ کمن ودريږی ، که دغه ارمان د«طبقاتي موضع گيری» په مانا وی نو مثالونه يي ډير زيات دی .

سره له دغو پورته يادونو ،بايد داسي تصورو نه شي چي گويا او ـ لسي ادب مادی بنسټ نه لري او د کومي «جهاني ارادي » ، «مطلق روح» ياغريزي څخه نشات کوی . بالعکس ادبيات له خپلي زير بنا (تو ليدی اړيکو)سره نه شليدو نکي پيو ندلری خو په دی تفاوت چي د ادبياتو اړيکی له بنسټ سره پيچلي اوغيرمستقيم دی .

قصي :

په انگر يزی ژبه کي (Fiction) د هر ډول داستانونو او قصو دپاره عمومي اصطلاح ده په هغي کي رومان، ناول ، نکل(فولکلوری او د داستان)

ناولټ ، لنډه کیسه ، افسانه، قصه‌او حکایت شامل دی . په پښتو کی دغه اصطلا حات پوره نه دی تثبیت‌شوی . په لره پښتو نخوا کی‌لنډی کیسی ته افسانه وایی . په ځینو لهجو کی داستا ن‌ته کیسی وایی‌او په ځینو کی کیسی د لغـــز اوچیستان په مانا راځی .

زمونږ ځینو لیکوالو د (قصی)اصطلاح د ایټا لوی ژبی د (ناویله) په مفهوم کارولی ده .

ناویله لنډی ،منسجمی اوریالیستیك قصی دی چی د خلکو په خولو کی گرځی راگر ځی او دورځنی ژوند له مسایلو سره اړه لری . ځینی قصی د ټوکو ټکا لو ډیره لری او ډیر ځله د هغو یو له‌بله بیلول مشکل وی . له ځینو قصوځخه متلونه زیږ یدلی دی او ځینی یی دانیکډوت په ډول د انتقاددپاره‌استعما لیږی . ځینی قصی د ژویو په‌باره کی دی چی‌اکثری یی سمبو لیك بڼه لری . دغه ډول قصی تـــه حکایت هم وایی که څه هم حکایت‌هم هر ډول موضو عات احتــــوا کوی لکه‌د سعدی دگلستان‌حکایتونه‌د قصی اصطلاح کله‌کله د نقل په مانا هم استعمال شوی ده . نو د ټرمینولو جی په برخه کی د انسجام نشتوالی د نظرونو اختلاف ته زمینه‌برابر وی .

د نکلونو اهمیت :

نکلچیان زیاتره د پاخه عمر خا وندان وی . نجونو او هلکانو تـــه اکثر وختونه زړی ښځی نکل وایی.نکلونه اکثر د شپی په وخت‌له‌ډوډی خوړلونه وروسته پیل کیـــږی .نکلچی معمولا یو شپون لری چـــی «بنه ، بنه شا بسی ، او دتایید اوخوند زیاتولو د پاره نوری کلمی » ورسره وایی . شپون نکلچی پـــه‌شوق راولی . کله‌کله نکل په دا ـ سی وخت کی ویل کیږی چی خلك په کټونو کی پراته او ډیوه مړه‌وی شپون د دی دپاره «بنه ، بنه»وایی‌چی گویا هغه ویښ دی او نکل ته یی غوږ نیولی دی .

په هره سیمه کی حرفه یــــی نکلچیان هم وی چی د هغود نکــل اوریدلو ته ډیر خلك په دیره یـــاحجره کی را ټولیږی . په اوړی کی خلك دباندی په یوه میدان کی یادحجری په صفه باندی کښیني . ژمی کښیني . ځوانان وخت په وخت چلم ډکـوی(که څه هم اوس د چلمڅکولو دود کم شوی‌دی) اوپه جام کی او بـــه ګرځوی.

ځینی نکلچیان رباب (کله کلــه‌سرینده) هم له‌ځانه سره ګر ځوی دنکل دناری * په وخت کی یوه‌پنجه‌رباب ترنګوی . ځینی نور نکلچیا ن دناری د غبر ګوا ودپاره دری ،څلورتنه‌خوش آوازه کسان په خپــل څنګ کی کینوی اود نکلچی ســره‌همنوایی کوی . ځینی نکلچیا ن د خوش طبعی دپاره د نکل په مینځ‌کی یوه نیمه ټوکه یا قصه هم کوی چی د پاڅه عمر خاوندان یی خو ښوی خو هلکان ور ته داخلا لګری په نظر ګوری . ځینی نکلو نه څوشپی دوام کوی .

د نکلونو ویل کوم ټاکلی موسم نه‌لری خو په ځینو وختو کی‌نکلونه ډیر مناسب ښکاری . د ژمی پـــه‌اوږدو شپو او داوړی په‌وزګاروخت کی (چی اکثر خلك د غرمی خوب کوی) نکلونه ډیر ویل کیږی . پــه خوست کی د جـــــوارو د وږو ددسپینو لو په وخت کی دشپی‌له‌خوا هم نکل ویل کیږی او هــم جـوارسپینیږی .

محمد انور نومیالی هم‌د نکلونودکلتور په‌باب یوه په زړه پوری‌لیکنه کړی ده چی له موضوع سره دار تباط له‌مخی یی دلته را اخلم .

«کوچی او کلیوالی پښتانه چی‌کله‌دوزځی له کار وباره څخه‌وز ګارسی نوپه کوټه یا حجره او یا بانډه کــی‌سره کښیني او یو دبله لوبی یـــا قصی سره کوی . په دی قصو کی‌کله ناکله پخوانیو نکلو ته هم‌رون ور رسیږی ، دا نکلونه د پښتنــی روایاتو تاریخی میراث دی چـــی

---

* په خوست کی ناری ته(ټوپی)وایی . دلته فشار په لومړی سیلاب راځی او مفرد یی په ملینه «ی»،تلفظ‌کیږی .

پښتو پر پښتو یو تر بله رارسیدلی دی او دمیني ، میړاني ، اتلوالی او نورو ټولنیزو ښادیو او غمو نــــوروحیه ژوندی ساتي . په کـــلو او باندو کې ځینې شاعرمشربه اوخوږژبی کسان هم راپیدا کیږي چـــې هغه دانکلونه په ډیر ادبی سبــــکسره خلکو ته کوي دوی خپل اور یدونکي دتیری زمانی د خاطر اتوپه باب پر هیجان راولي اود نکل ماجرا د ژوندیو احساساتو په هینداره کی ور باندی وینی . دغه کسان زیا ــ تره نکلچیان بلل کیږي . څوك چی نکلچی ته د نکل په وخت کی ښه ، ښه وایی هغه ته د نکل شانه وایی نکلچي لکه یو خطیب غوندی دحا ــ ضرینو وضعه په نظر کی نیسي اوخپل آواز د نکل له احساساتي او هیجاني صحنو سره سم دیوه انګړ په توګه عیاروی اود نکل په روایت کې د ژوند ساپو کی د نکل دناری موقع چی را رسیږي ، نود نکل شانه پوښتنه کوي چی څه به یی ویلی وی نکلچی په جواب کی وا یی : هرڅه یی ویلی وی وا بـــی وری . بیانو نکلچی او یاد هغه ملګري چی ښه آواز یی وی ، په دی وخت کی د نکل ناره په خاص طرز او لوړآوان سره وایی . » (۱)

په دی وروستیو وختو کی دنکل ویلو دود بیخي لږشوی دی . لــه یوی خوا تلویز یونی ننداری ماشر مان مصرو فوی ، له بلی خوا لویان د نکلونو داوریدلو او ویلو په ځای دورځی له سیاسی اوټولنیزومسا ــ یلو سره زیاته علاقه ښیی .

اولسي ډرامه :

د اولسي ډرامي په باب پښتنــو لیکوالو له یوی عبوری یادو نی نــه پرته نور څه نه دي لیکلي . اولسي ډرامه د ډرامي یا تمثیل ډیرابتدایی شکل دی . زه د پښتنو دنـــوروسیمو داولسي ډرامو په باب څـــه

۱ــ «پښتو ادبیات» ، محـــمدانور نومیالی ، د امیر کروړ یاد ، د افغانستان د علومو اکاډمی د ژبواوادبیاتو مرکز ، پښتو ټولنه ، ۱۳٦٤ مخونه (٤٧٨ــ ٤٧٩)

نشم ویلای خودغه ډول ابتدایـــی ډرامی می په خوست کی لیدلی دی د ډرامی د کلمی په ځای بەدلتـــه د(ښودنی) کلمه مناسبه وی ځکەچی دغه ډرامی په فنی لحاظ ډیــــری ابتدایی دی . پەخوست کی داولسی ښودنی لوبغاړی یو مشهور ټوکماروچی د (جت) پەنامه یادیده ، اصلی نوم یی (عظمت‌خان) و. بـــل لـــوبغاړی مشهور اولسی شاعر (گل خان پیر) وچی شوری (خاص ډول‌شعرونه) بەیی ویلی او پخپله بەیی جوړولی .

دواده په شپه وروسته له هغی چی رابلل شوو کسانـــو به ډوډی وخوړه خلك بەپه یوه لوی میدان کی‌را غونډ شول په‌کټونو کی‌به‌کښینا- ستل . نور خلك چی ډوډی تەبه نەوورا غوښتل شوی له شاو خوا یا لیری سیمو څخه ننداری ته را تلل‌کەد کټونو شمیر بەکم وو خلك به د کټونو په ځکی په جوړټه (لوپټه،څادر) باندی کښیناستل . دمیدان په مینځ کی به لالټین او گیسو نەایښودل شوی وو .

د ننداری مراسمو څو بر خــــی‌در لودی . پەلومړی برخه کی بـــه ډمانو په زوره ډول (ډهل) واهـــه ،سر نی اوباجی (هارمونیه) بەورسره غږیدی حرفه یی گډه و نی (ناځگر) او شوقی گډه ونی بەډول ته گډ- یدل .

ځینو گډه ونو (لکه گل‌احمد) تەبەخلکو په درنده سترگه کتل ځکه هغود پیسو دپاره داکار نه کـاوه فقــــط خلك به یی خوشحالەساتل او مجلس بەیی تود اوه . گډەو نواوردی ځنی در لودی‌او په ژیږوغوړو یی غوړولی ، گډا به دوه دری‌ساعتەدوام کاوه . کله بەچی ډولونه غلی شول (جت) به میدان ته راووت.

ده چنگک چنگک بریتونه در لودل‌او پخوا له دی چی په ټوکو پیــــل وکړی د ده حرکاتو تەبه خلکوخندل‌دەبه کله کله دیوه مغرور سړ ی اکټ کاوه ، سر بەیی نیغ نیولی و ،او په خپلوبریتو بەیی لاس تیر اوه کله بەیی دیوه معیوب او یا غیـــر معمولی سړی د حرکاتو تقلید کاوه

له دی وروسته بهیی د (گل خـــان پیر) سره یوه خندوونکی پیښــــه تمثیلوله . (چت) په یوه نیم سړی کنځلی هم کولی . خو هغه پوهیده چی باید څنګه سړی انتخاب کړی. هیڅ وخت (چت) د ملنډو او ښکنځلو په مقابل کی حساسیت نه ښووده ځکه خلك پو هیدل چی دده ټـوکـی او ملنډی د ساعت تیری د پاره دی د چاسپکاوی یی غرض نه دی . که کوم سړی به خپه غوندی هم شو نو داد ټوکمار امتیاز ګڼل کیده چــی څوك باید عصبا نیت و نه ښیــی. (چت) په قوم اسمعیل خـــیل و، اسمعیل خیلو له ټنیو سر د سارا د ویشس په معامله کی دښمنی در ـ لوده او په دی مینځ کی خلـــــك سره وژل شوی وو .سره لـــه دی (چت) او ګل خان پیر به دواړه په مراسمو کی ټنیو ته ور تلل ، پر ـ ټنیو بهیی ټوکی جوړولی خو خلکو به ورته خندل او د دوی له ټوکو نه به یی خوند اخیست . په دغو ټوکو او ښودنو کی به اکثر واقعیتو نه هـم منعکس کیدل خو داد ټوکمارانـو امتیازو چی خلك د هغو خبری او ټوکی په خندا سره استقبال کړی.

د (چت) او (ګل خان پیر) د ښو دنو ځینی بیلګی په لاندی ډول ښودل کیږی :

۱ــ یو سړی چی د زړه ور توب اکټ کوی خپلی معشو قی ته بلنه ورکوی چی له ده ســــره و تښتی ځکه د نجلی پلار دی ته نه دی تیار چی خپله لورده ته ور کړی . (ګل خان پیر) شال پر سراچوی د ښځی نقش لو بوی (چت) ښځـــی ته د خپل زړه ور توب اکټو نه کوی ، په لاره کی د مرغی آواز اوریـــدل کیږی (چت) له ویری نه ضعف کوی داد یره ډارن سړی قصه ده چـــی تقریبا په نیم ساعت کی تمثیلیږی.

۲ــ (سنګیړی ملا) چی تعویذونه لیکی په خاصه لهجه خبری کوی . (چت) د سنګیړی ملا نقش لوبوی او ګل خان پیر د ښځی په لباس کی ده ته مراجعه کوی . (په لباس کی یوازی د زړوکی یا شال پر سر اچول کفایت کوی) ملا ښځی ته تعویـذ ور کوی او په مقابل کی ښځه ورته

وایي چې شکرانه یې څومره ده .د(سنګیړی) ملا ور ته وایي چې شکرانه یې هر وخت راکوه ، پـه‌اوږی ی یې‌هم راکوه په ژمی یې هم راکوه .

۳– د ځینیو قوم چې په للمه کې‌اوسیږی همیشه د باران په آرزو کې وی . یوځل‌یې‌خوب وینی اوډخوب‌له‌تعبیر ورونکی نه‌چې هغه هم تنهی دی پوښتنه کوی چې بیګا می پـه‌خوب کې یو پخوانی دوست ولید .

(چت) د خوب د تعبیرونکی په حیث ورته وایي چې «په للمه بـه باران وشی» یوبل تن وایي چـي‌بیګامی یو ځوك مړ په خوب لیده . (چت) ور ته وایي چې ؛

«په‌للمه به‌باران وشی »لنډه یې‌دا چې د هر خوب تعبیر په همـدی عباراتو کوی .

د ښودنی زیاته ښکلا د لهجی او‌حرکاتو د دقیق مراعات څخه راپیدا کیږی.

٤ – یوه سړی نوی واده کړ ی‌دی . په پاسنی منزل کې ټوله‌کورنی دناوی په ګډون پـه‌یوه کو ټه کـي‌اوسیږی .

میړه په دغسی‌شرایطو کی‌دناوی‌کټ ته‌نه شی ور تلای نو باید یوه چاره وسنجوی . هغه ده چې پـه‌لاندی منزل کې غوجلی ته ننوزی‌او دلرګی مټه (ستنه ، پایه)ټکوی. له‌پاسه نه غږ کیږی چې څه خبره ده دی خپلی ناوی ته خـطاب کوی :«ته‌نه پوهیږی چې په لاندی کو ټه کې غواوی سره دوربلی (یوله بله ښبتی) دی ؟.

۵– یو سړی چې په للمه کی او سیږی مندوزیو ته ځی . په لاره‌کی له‌یوه خوږ سره مخامخ کیږی چې‌یو څه او به‌یکی ښهیږی . د للمی سړی جرات نشی کولی چې لـه‌اوبونه یوری شی څکه دو مره اوبه یې په عمر کی نه دی لیدلی . یوبل‌سړی لاسں ور کوی چې له اوبونه یې یوری باسی . د للمی سړی چې‌جګ ګامو نه اخلی او لړز –

یږی څو قدمه وروسته ویریږی اودبیرته تللو په فکر کی وی . دغه صحنه په ډیر خندوونکی ډول او ماهرانه اکټونو سره د (چت) او گل خان پیر له خوا ښودل کیږی.

٦ ـ یو سپین ږیری چی‌کوراوربه‌لری په جوما تونو کی شپی تیروی تسپی سره اړوی د (الا الله) په‌ځای(انناهو) وایی او په خاصه لهجه خبری کوی. بل سړی له ده نه پوښتنی کوی چی کوم قوم ښه ډوډی در کوی ، هغه ور ته وایی‌چی‌ډډوال ځکه چی هغوی له سو کړك سره دبشکو (یو ډول سابه) او به‌هم ورکوی. بیاله ده نه دقومونو

د شجرو په باب پوښتنی کیږی.دی ورته وایی چی د پلانکی قوم نیکه‌د هغه بل قوم‌د نیکه مزدور ،پلانی قوم د(کاغډم)اولاده ده .پلانی قوم (هر کجا سپاهیان)دی یعنی‌له‌هر ځای نه راغلی ټبرو نه دی ، او داسی نور .په‌دغه صحنه کی (چت)د‌سپین ږیری سړی او (گل خان پیر) دپوښتونکی نقش اجرا کوی.

د (گل خان پیر) له مړینی‌ورو سته (چت) له ټوکونه استعفاء‌وکړه اود عزلت ژوند یی اختیار کړ . بیاد(چت) وراره (مربیك) د ټو کمارا‌و شوریگر (شاعر)په‌نوم زیات‌شهرت ترلاسه کړ . دده ټوکی بیباکه وی نود پاخه عمرخاوندان‌اودرانده خلك به‌ډیر نه‌ورته کینا ستل . (مربیك) هم ځینی صحنی تمثیلولی دی په‌یوه سترگه ړوند اود قواری په لحاظ دټوکو دپاره جوړ شوی و . په‌ټو کیانو کی د (ټیلی) مر تبه تر ټولو زیاته وه څوهغه به‌په ناستی‌خبری کولی او اکټونه‌یی کول.برسیره پر دی (ټیلی) ډیر نامتونکلچی هم‌و .

دواده دننداری په نورو برخوکی‌به اولسی سندر غاړو له هارمونیی او رباب سره سندری ویلی یا به‌شوریگر را پاڅیدل ، شوری به‌یی ویلی . کله‌کله به‌د شوریگرو ترمینځ مقابله شروع شوه او بالبدیهه شوری به‌یی جوړولی . په ننداروکی‌به‌یو یادوه ځله اتڼ هم کیده او په

دی ترتیب بەد سهار تر لمانځەپو. ری ننداره روانه وه. دسهار چای لەخوړلو وروسته بەتر غرمی پوری‌اولسی سندر غاړو غزل یاشوری ویلی او اتڼونه بەکیدل .

څرنگه چی د اولسی ډرامو پەباره کی پخوا څیړنی نه وی شوی نوځکه می په دی‌برخه کی زیات‌توقف وکړ . د اولسی ادبیاتو د نورو ژانرونو پەباب ښایسته زیاتی‌لیکنی شوی دی نود هغو له یادونی څخه تیریږم .

نتیجه او پیشنهاد ونه

څرنگه چی دفولکلور پیژند نی‌پەباره کی تر اوسه په پښتو ژبه کوم ځانگړی اثر نەدی خپور شوی(او که وی هم زماله نظره نه دی تیرشوی) نود دغه هدف د تحقق دپاره می د فولکلور تعریف ، د فولکلور پیژندنی موضو عگانی ، د فولکلور ټولونی لاری ، دم فولکلور څیړنی میتود ، د فولکلوری پدیدود تحلیل پەباب تیوریکی مسایل،او په ځینو برخو کی نا څیړل شوی موضو عات تر بحث لاندی ونیول دغه اثرد یوه مبرم ضرورت له خواډیکته شوی او په خپله ساحه کی پیلامه گڼل کیږی . ماد هنری ژبی‌داستعمال او حتی دلیك دود (املاء) دتوحید دپاره هم کافی فر صت ترلاسەنه کړ . څرنگه چی دغه کتا ب زیاتره درسی رنگ لری نود لو ستونکو د معلو ماتو د پاره بیلا ـ بیل نظرونه وړاندی شوی دی خوسره له دی ، دمولف خپل مو قف هم پکی څرگند شوی دی . که پەځینو مواردو کی دنامتو څیړو نکو نظریی نه دی منل شوی او انتقادور باندی شوی دی د هغو انگیزه یوازی اکاډ میك انتهر سټ دی ، دهغوی هڅی او کوښښو نه دستا ـ ینی‌او مننی وړ دی . پەدغه اثر کی‌بەهم طبعا نیمگړ تیاوی او اشتباه ـ گانی موجودی وی چی نور څیړو ـ نکی بەیی تکمیل او تصحیح کړی .
پەپای کی څو پیشنهاد ونه وړاندی‌کوم :

۱ـ په افغانستان کی د ثورملی‌دموکراتیک انقلاب د خلکو په مادی او معنوی ژوند کی ستر بدلون راوست . د فرهنگی انقلاب په نتیجه کی د خلکو د ژوند طرز ،دودونه ، انگیرنی ، هنر ونه‌اوارز- ښتونه د تغییر په حال کی دی .ځینی عنعنی له مینځه ځی خو فو- لکلور پوهنه ونکو د یوه ټاکلی پلان‌له‌مخی نوموړی درجه وظیفی ځانته نه دی ټاکلی. د دی ویره شته چی په‌راتلونکی کی به مونږ د خلکو دفر- هنگ د مطالعی په‌برخه کی له ډیروخالیگاو سره مخامخ شو .د فو - لکلور څیړنی مرکز ونه کولی شی‌چی په دی برخه کی گډ پلان‌طرح اوسرته ورسوی .

۲ـ فولکلور پوهوونکی باید دمتخصصانو په مرسته د فولکلور پوهنی له تکنیکونو سره آشنا شی‌په‌دغه موجوده اثر کی تر یوی اندازی دغه تکنیکونه ښودل شوی‌دی . د (فرهنگ مردم) له خوا چی کوم سیمینار جوړ شوی و ، دقدروړ دی خو عملی نتیجی یی تقریبا د نشت په حساب دی . ددغه‌سیمینار یو گډون کوونکی وویل : «مونږ بالا خره پوه‌نه شوو چی‌فولکلور څه‌شی دی . ځکه مختلفی نظریی وویل شوی چی یو له‌بله یی‌توپیر در لود . »اوس یوه بل سیمینار ته اړتیا حس کیږی .

۳ـد فولکلور او اتنو گرافی تر مینځ گډی پولی زیاتی دی . بهتره به داوی چی فولکلور پستان خپلی‌څیړنی پر هغو پدیدو متمر کز ی کړی چی هنری او ایستیتیکی اړخونه‌یی بارز او خرگند وی .

د دغی موضوع وروستی پریکړه‌داتنو گرافرانو او فولکلور پیژند - ونکو گډی غونډی ته انتظار باسی .

PROPERTY OF ACKU 23111

نومره : ٦١
دچاپ ځای: دولتی مطبعه
دچاپ شمیر : ٥٠٠ ټوکه